# په نړۍ کې عجیبه دوه سري ژوي

د ژويو دوه سره کېدل يوه جنېټيکي ستونزه ده چې په ژويو کې رامنځته کېدلی شي، په ځينو ژويو کې د دې موضوع رامنځته کېدل کېدای شي ډېره حيرانوونکې او نه تصوربېدونکې وي.

## دوه سره خوسی

دغه دوه‌سره خوسی په امریکا کې پیدا شوی دی، سره له دې چې دا خوسی دوه سرونه لري، د ده په اړه یوه بله د پام وړ خبره دا ده چې: دغه خوسی یوازې یوه جوړه سترګې او یو جوړ غوږونه لري، هو دا خوسی اوس هم ژوندی دی.




## دوه سری کربوړی

دغه کربوړی په چین کې دی، نور ژوي که دوه سرونه څنګ په څنګ لري، خو دا ژوی بیا د هغوی پر خلاف د بدن په پای کې یو سر لري، دغه حیوان له دې کبله چې پښې نه لري په ډېر کړاو حرکت کوي.

# مرغان

مرغان که په هر څه کې ناپوه ښکاره شي، خو تر ډېره د خپلو چرګوړو د ساتنې لپاره ښه پوهه لري، او د خپلو چرګوړو او هګیو ساتنه ورته ډېره مهمه وي.

آن په طبیعي ډول هم دېر مرغان په دې برخه کې بېلې ځانګړتیاوې لري. د بېلګې په ډول هغه مرغان چې د ځمکې پر سر خالي جوړوي د دوی ډېرو د هګیو رنګ داسې وي چې د ښکاریانو پام وروانه اوړي، خو کله چې خبره صحرایي چرګانو ته رسېږي بیا نو خبره بېخي بل ډول کېږي.

صحرایي چرګان په ګڼو ځنګلونو کې چې د هګیو ښکاریان پکې ډېر وي هګۍ اچوي، په هر ځای کې هګۍ اچوي خو هېڅ ساتنه یې هم نه کوي، د دوی د هګیو رنګ ډېر ځلېدونکی او سترګې راښکونکی هم دی. که له یوې خوا ورته وګورو داسې برېښي چې صحرایي چرګان ډېر ناپوه دي، د دوی د دغه عادت له مخې باید د دوی نسل له منځه تللی وای، خو په رښتیا دوی ډېر پخواني مرغان هم دي، په صحرایي چرګانو کې کورنی څه معنا نه لري او هر چرګ او چرګه کولای شي له یو بل سره اړیکې ټینګې کړي، چرګه هګۍ اچوي او ترې ځي، خو یو چرګ باید پیدا شي که هغه یې پلار وي او که نه وي چې د ۱۷ ورځو لپاره پر هګیو پرېوځي.

صحرایي چراګانې ډېرې د هغو نورو چرګانو تر څنګ هګۍ اچوي. د څېړونکو په وینا د دوی د هګیو ځلېدونکی رنګ د همدې چارې لپاره په درد خوري. ښه، نو کله چې دغه هګۍ ډېرې وي ښکاریان هم پر دې نه بریالي کېږي چې ټولې هګۍ وخوري. سره له دې که هګۍ سره نږدې ځای پر ځای شي ډېر امکان یې شته چې نارینه یې ژر پیدا کړي او پرې باندې پرېوځي.

## د مرغانو پیدایښت

د هغو مرغانو د هګیو د ننه چې د هګۍ اچونې له لارې بچي زېږوي درې ډوله مایع: سپین، ژېړ او نطفه پراته دي.

له دغې نطفې څخه چرګوړی پیدا کېږي، د هګۍ ژېړ د چرګوړي د یوویشتو ورځو خواړه دي. دغه خوراکي مایع داسې تنظیم شوې ده چې په دغه موده کې چرګوړی یوه دقیقه هم وږی نه پاتې کېږي، بلکه دا چې په دې موده کې د دغې ژېړې مایع یوه زره هم نه پاتې کېږي. د هګۍ وروستۍ برخه یو څه تشه ده، چې په هغو کې د چرګوړي د ساه اخیستلو (تنفس) لپاره یو څه هوا زېرمه شوې ده.

په رښتیا هم دا یو داسې قدرت دی چې د هګۍ دننه یې دومره هوا زېرمه کړې ده چې چرګوړی ترې د خپل ژوند د دوام لپاره کار واخلي؛ دغه قدرت یوازې او یوازې د لوی او حکیم ذات الله جل جلاله دی.

کله کله مرغان د خپلو نویو زیږېدلو چرګوړو په خوله کې خپله مښوکه نیسي او تر یوه وخته پورې هېڅ نه ښوري، که څوک یې ووینې داسې فکر به وکړي چې دغه حیوان یو بې مانا کار کوي، خو نه دی دغه چار د یوې بلې نقشې او بل مقصد لپاره کوي.

بله خبره دا چې کله د کورنیو چرګانو چرګوړي له هګۍ راوځي نو بڼکې او وزرونه لري، خو د نورو مرغانو لکه کوترو، بلبل او چوغکې او په ټوله کې هغه مرغان چې په هوا کې الوزي، د هغوی چرګوړي بیا د سرې غوښې د ټوټې په شکل چې وزرونه او بڼکې ونه لري له

هڅيو راوځي، او پلار او مور يې بايد تر يوې مودې پورې دوی ته ځانګړې خواړه ورکړي او د دوی څارنه وکړي، تر څو يې وزرونه راپيدا شي او د الوتلو توان پيدا کړي. دغه خپله يو نظم او ترتيب بيانوي، هغه داسې چې کورني مرغان الوتلو ته اړتيا نه لري، خو نور مرغان بايد په ورو ورو د الوتلو توان پيدا کړي. له دې کبله لوی حکيم جل جلاله د دغه مرغانو د خوړو برابرول د دوی د مور او پلار په غاړه وراچولي دي او هم يې په پيل کې د دوی د الوتلو اسباب دوی ته نه دي ورکړي چې خپل ځانونه وکړوي. نو دوی بايد تر يوې مودې پورې تم شي تر څو د الوتلو بشپړ اسباب او توان پيدا کړي.

## د نړۍ په تاريخ کې لومړني هوايي مسافرين

له نن څخه ۲۲۸ کاله وړاندې د ۱۷۸۳ زېږديز کال د سېپټمبر په ۱۹ مه اتين دومون ګلميفه د «مارسيال» په نامه يو تود هوايي بالون چې يو خوګ يوه د مرغابۍ او يو پسه پکې سپاره وو د فرانسې د پادشاه شپاړسم لويي او نورو ګڼو درباري ننداړچيانو په مخ کې د ورسای له ماڼۍ څخه هوا ته ولېږداوه. دغه درې ژوندي موجودات د نړۍ په تاريخ کې لومړني هوايي مسافرين ګڼل کېږي. د ځمکې د راښکون (جاذبې) پر قوې باندې د غلبې په موخه له تودې هوا څخه د بالون ډکولو مفکوره له دغه نېټې څخه يو کال دمخه د لومړي ځل لپاره د فرانسې د آنونای ښار د دوو کاغذ جوړوونکو (آتېن) او د دده د ورور (ژوزف دو مون ګلميفه) سره پيدا شوه.

توده هوا د بالون د ننه پراخېږي او له شاوخوا هوا څخه سپکه کېږي. لومړی ژوزف دومون ګلميفه پر کوچنيو بالونونو باندې دغه ازمېښتونه پيل کړل او ويې کولای شول چې د کارځای د کوټو تر چتونو پورې يې په هوا کې پورته کړي.

د مون ګلميفه وروڼو د ۱۷۸۳ کال د مې مياشتې په ۵مه د فرانسې د آنونای ښار د څارواکو په مخ کې د ۱۱ مترو په قطر يو بالون چې د کاغذ له ټوټو جوړ ؤ او په منځ کې يې نه سوځېدونکې واښه او توده هوا وه، هوا ته ولېږداوه. دغه بالون تر ۲۰۰۰ دوه زره متره په هوا کې پورته شو او يو ناڅاپه بېرته راوغورځېد. نو د مون ګلميفه وروڼو شهرت د فرانسې تر درباره پورې ورسېد.

آتېن او ژوزف لومړی پاريس او ورپسې د ورسای ماڼۍ ته ولاړل. آتين هم د شپاړسم لويي او درباريانو په مخ کې يو بالون چې درې مسافران: يو خوګ، يو پسه او يوه مرغ آبۍ پکې وو هوا ته ولېږداوه.

دغه بالون تر ۴۸۰ متره پورته کېدلو وروسته له هغه ځايه ۱۷۰۰ متره لېرې په يوه ارامه خوځښت سره د ووکرسون ځنګل ته ځېرمه را وغورځېده. په دې سفر کې مرغابۍ او پسه ژوندي پاتې شول خو خوګ مړ شو.

په دې توګه د ۱۷۸۳ کال د سپټمبر په ۱۹مه آتېن دومون ګلميفه د مارسيال په نامه له تودې هوا څخه ډک يو بالون چې يو خوګ، يوه مرغآبۍ او يو پسه پکې وو د شپاړسم لويي او د ده دګڼو درباريانو په مخ کې هوا ته ولېږداوه.

دغه درې ژوندي موجودات د نړۍ په تاريخ کې لومړني مسافرين دي چې هوا ته پورته شول. خو هو بدقسمته خوګ هم د نړۍ په تاريخ کې لومړنی هوايي مسافر دی چې په يوه هوايي پېښه کې مړ شو.

# د ژویو د پیدایښت عجایب

د پیشو ګانو نوي زیږېدلي پْشَنْګُوري[1] چې زیږي سترګې یې پټې وي او تر څه مودې پورې همداسې وي، خو د سپیانو د نویو زیږېدلو کونګریو[2] سترګې بیا دپیشوګانو پر خلاف د زیږون پر مهال لوڅې او رڼې وي.

دغه چاره هم د یوه ځانګړي نظم او سنجش بیانوونکې ده، د پیشو د ګېډې لاندې برخه له وېښتو ډکه ده، چې د تیونو نلونه د همدې وېښتانو په منځ کې پراته دي.

نو که د پْشَنْګُورو سترګې د زیږون پر مهال رڼې کېدلی، د شیدې رَوْدَلُو پر مهال به یې دغه وېښتو سترګو ته زیان رساوه. په داسې حال کې چې د سپی د ګېډې لاندېنۍ برخه د تیونو په برخه کې وېښته نه لري او د سپی کونګري ته د شیدې رودلو پر مهال څه ستونزه نه پېښېږي.

بله خبره دا چې د کَوْښَکو (سُوې)[3] لرونکو ژویو لکه: غوا، مېږو او آسونو وجود د غوږ له څوکو نیولې بیا د پښو تر کوښکو او د لکۍ تر پایه په وېښتو او وړیو پټ دی، خو د دوی د پښو دلومړۍ برخې څنګونه (تخرګونه) د یو انچ په کچه له وړیو او وېښتانو پاک دي، خو په اوښانو او زرافه کې بیا دغه دوه ځایونه هم وېښتان لري. د دغه تنظیم او جوړونې راز او د دغه کار حکمت داسې ښودل شوی دی:

کله چې د دغه ژویو بچي د مور په ګېډه کې وي، د مخې پښې یې د مخې خواته غځولې وي او سر یې د دغو پښو په منځ کې ایښی وي او بس د میندو په دغه دوه ځایونه چې وېښته نه لري د دوی د بچیانو له دوو سترګو سره موازي پراته وي، نو که یې وېښتان درلودلی د بچیانو سترګو ته به یې زیان رساوه.

له همدې امله الله جل جلاله د دوی د بدن په دغو دوو برخو کې وېښتان نه دي زرغون کړي. خو په اوښانو او زرافه کې بیا د دوی د غاړې د اوږدوالې سره سم یې سر د مخې تر پښو لږ مخته یا وړاندې وي او له مخکنیو پښو سره یې موازي نه دی او څرنګه یې چې سترګو ته زیان نه رسېږي نو تخرګونه یې هم په وېښتانو پټ وي. نو په دغه حساب ښه نه ده چې موږ هم د زړه له کومې ووایو: "فَتَبارَكَ اللَّهُ اَحسَنُ الخالِقین"؟.

## د مثل د تولید له رازه ډک کنټرول

په نړۍ کې د ځینو ژویو د مثل د تولید مخنیوی او د ځینو ژویو د مثل د تولید او نسل له ډېرېدلو سره مرسته یوه ډېره د فکر وړ موضوع ده.

دغه موضوع د لوی خالق جل جلاله یووالي او بې ساری حکمت راښیي، چې د نړۍ په مخلوقاتو کې د یوه دقیق نظم او حساب څرګندویه ده. دغه مهمه مسئله کولای شو په کبانو کې په ښه توګه وګورو. یو شمېر کبان د درې میلیونو په شاوخوا کې بچیان زیږوي چې د خلکو له خوا یې مصرفولو ته په پام له دغه ټولو کبانو کار اخیستل کېږي، خو د هغو ژویو او حشراتو د نسل د ډېروالي مخنیوی کېږي چې انسانانو او چاپېریال ته کومه ګټه نه رسوي.

---

[1]- د پیشو بچی (کوچنۍ پیشو)

[2]- د سپیانو بچي (کوچني سپیان)

[3]- سُم



په دې اړه که د مچانو پیدایښت ته پام وکړو: له ښځینه مچانو څلور کڅوړې راوځي چې په هره کڅوړه کې دېرش دانې هګۍ وي او له هرې هګۍ څخه یو مچ تولیدېږي. نو له دې سره که د الله جل جلاله د خلقولو تدبیر ته پام وکړو، د مچانو د دغه ډېر شمېر مخنیوی ډېر په آسانه کېږي، او هم له بلې خوا مچان دومره ډېر اوږد ژوند نه لري.

د ژویو د نړۍ په اړه یو بل عجیب حقیقت دا دی چې د آکسي کلوب په نامه یو مرغه چې کله د هګیو اچولو احساس وکړي نو د یوې ونې په شاخ کې ژور چاك جوړوي. او بیا خپل خواړه راغونډوي، داسې چې د خپل بچي لپاره د یوه کال خواړه چې د ونو پاڼې، غونچې او نور دي راټولوي او د چاك په وروستۍ برخه کې کښېږدي.

بیا نو هلته یوه هګۍ اچوي او پر سر باندې یې د لرګیو له خمبیرې[1] څخه دوه کلك بامونه جوړوي. بیا د خپل بل نوي زیږېدونکي بچي د یوه کال د خوړو او نورو ضروریاتو په راټولولو لاس پورې کوي، او په لومړي بام باندې بله هګۍ اچوي او په دې توګه څو طبقې جوړوي او د کار په پای ته رسولو سره په خپله مري.

له دغې نطفې څخه چرګوړی پیدا کېږي، د هګۍ ژېړ د چرګوړي لپاره د یو ویشت ورځو لپاره خواړه دي. دغه خوراکي مایع داسې تنظیم شوې ده چې په دغه موده کې چرګوړی یوه دقیقه هم وږی نه پاتې کېږي خو بله دا چې په دې موده کې د دغې ژېړې مایع یوه زره هم نه پاتې کېږي. د هګۍ وروستۍ برخه یو څه تشه ځای هم لري چې په هغو کې د چرګوړي د ساه اخیستلو (تنفس) لپاره یوه اندازه هوا زېرمه شوې ده.

په رښتیا هم دا یو داسې قدرت دی چې د هګۍ په دننه کې یې دومره هوا زېرمه کړې ده چې چرګوړی ترې د خپل ژوند د دوام لپاره کار واخلي؛ دغه قدرت یوازې او یوازې د لوی او حکیم ذات الله جل جلاله دی. کله چې بچیان له هګۍ څخه راووځي په داسې حال کې چې خپله مور یې له مخکې له لاسه ورکړې وي، د دوی د یوه کال خواړه شته او کار ترې اخلي. نو له یوه کال وروسته چې کله دوی د الوتلو او خپلواك ژوند کولو قدرت پیدا کوي، لومړنی د خپلې کوټې چت څیروي او ترې وځي، ورپسې دوهم، درېیم، څلورم او په همدې ډول پاتې نورې هم دغه کار کوي.

دغه مرغه یو داسې موجود دی چې نه یې خپله مور لیدلې او نه یې هم مور د دوی په لیدلو بریالۍ شوې ده، خو اصلي پوښتنه دا ده چې دغه بې وزله ژوی څه پوهېږي چې د ده نوي

---

[1]- د لرګي هغه مږده ګي چې په اوبو کې خیشته شي لکه(د اوړو خمبېره او نور...).

زیږېدلي بچیان داسې اړتیاوې لري؟ او دغه چارې چا ورښودلې دي؟ آیا له خپلې مور څخه یې زده کړي دي؟ هغه مور چې هېڅ یې نه ده لیدلې او یا دا چې د تجربې له مخې یې دغه څه زده کړي دي؟ په داسې حال کې چې د دوی په ژوند کې یوازې یو ځل دغه کار پېښېږي، ځکه چې دوی خو له هګۍ اچولو وروسته مري؟!

نو دا د الله جل جلاله هغه غیبي الهام دی چې د یوه ځانګړي تدبیر او حساب له مخې یې د آکسي کلوب مرغه ته د راتلونکي د فکر کولو توان او غریزه وربښلې ده.

هماغه حکیم الله جل جلاله چې هر ژوندي سري ته یې یوه ځانګړې غریزه ورکړې ده تر څو د هغو په وسیله د خپل ژوند اړتیاوې په ښه توګه پوره کړي. هماغه له فیضونو ډکه سرچینه چې «قَدَّرَ فَهَدى».

## تر زيږون وروسته نظم

له زيږون وروسته هم د ژويو ژوند د يوه نظم او تدبير سره مل وي. د بېلگې په ډول: کله کله مرغان د خپلو نويو زيږېدلو چرگوړو په خوله کې خپله مېښوکه نيسي او تر يوه وخته پورې هېڅ نه ښوري، که څوک يې ووينې داسې فکر به وکړي چې دغه حيوان يو بې مانا کار کوي، خو نه دی دغه چار د يوې بلې نقشې او بل مقصد لپاره کوي. په دغه وخت مور دچرگوړي په جاغور کې ساه پو کوي تر څو يې جاغور پراخه شي او ډېر خواړه پکې ځای شي. پر دې اساس کېدای شي چې دوی ته د مور د نه نه رسېدلو له کبله ماشيني چرگوړي هر ډول دانې هضم نه شي کړای.



### هضم

د خوړو د تېرولو يا مايعاتو د څښلو پر مهال د ژبې څوکه د پاسنيو غاښونو شاته د خولې له لږ برخې سره نښلي، تر څو په دې توگه خواړه يا مايعات په آسانی سره د ستونې له لارې د مرئ نل ته ورننوځي.

هو تر دې کار مخکې دخولې دوه غړي دغې مرحلې ته د لارې په جوړولو گمارل شوي دي. هغه دوه غړي ژبی[1] (هماغه مخروط ډوله پرده) چې د حلق په پای کې پرته ده او د خوړلو او څښلو پر مهال همدغه پرده د پزې پر سوري باندې کلکه نښلي، او بله هغه پرده ده چې د ساه اخيستلو (تنفس) د سوري پر خوله باندې غوړېږي او کلکه يې تړي، تر څو د هوا او پزې سوري ته خواړه يا اوبه د ننه نه شي. لکه څنگه چې د ناځاپې خندا له کبله دغه دوه گمارلي غړي يوې خوا ته کېږي او لږ خواړه يا اوبه د هوا يا پزې سوري ته ورځي، د زېرمې دوه گمارل شوي توکي[2] سمدواره په کار لاس پورې کوي تر څو د خوړو هغه ټوټې

[1]- کوچنی ژبه

[2]- مواد

یا اوبه ترې را وباسي. د زېرمې دغه دوه ګمارل شوي توکي ټوخی او پرنجی دي، ټوخی وچه غاړه[1] او هوا ساتي او پرنجی بیا د پزې د سوري ساتنه کوي.

کله چې خواړه معدې ته ننوځي او لوز المعدوي فعالیتونه پرې ترسره شي، تریخی[2] په ترشح پیل کویاو د معدې په دېوال کې میلیونونه غودې او لسګونه نور همکاره او همغږي لاملونه په کار پیل کوي، او په دې توګه خواړه نري او اوبلن کېږي. د معدې په پای کې یوه درځه[3] ده چې چې په مرتب ډول خلاصه او تړل کېږي، د پرانیستلو پر مهال لږ هضم شوي خواړه کوچنیو کولمو ته ورتوییږي.

خواړه وړو کولمو ته ځکه په ورو ورو ورځي چې پر دې نرۍ کولمه زور رانه شي او څیرې نه شي. نو وړې کولمې هم په خپل دېوال کې د خمل په نامه د ۲۵۰۰ غونډیو په وسیله له کېلېچونو وروسته ورننوتي خواړه د ډېرو کوچنیو سوریو له لارې چې د وړو کولمو په دېوالونوکې شته، بهر ته لېږدوي او نور ګمارل شوي غړي یې له تحویلۍ وروسته ینې[4] ته په واک کې ورکوي.

ینه یې د وینې په ډول نورو ګومارل شویو غړو ته توکو ته ورکوي تر څو یې دوی زړه ته ولېږي. ورپسې یې زړه په یوه غښتلي پمپولو سره د انسان د بدن ټولو برخو ته رسوي اوټول غړي او کارګرو برخو ته په عادلانه ډول خواړه ورکوي، تر څو په بشپړې روغتیا سره خپل ژوندپرمخ بوځي.

دغه وېش په هره دقیقه کې ۲۴ ځله ترسره کېږي او د بدن دهغو حجرو شمېر چې له دغه چارې ګټه پورته کوي لس میلیونه میلیاردو ته رسېږي. باید یادونه وکړو که څوک غواړي دغه عدد وشمېري نو درې سوه زره کاله به پرې تېر شي، ددغه چارې په لیدو سره بیا هم ډېره عجیبه دا ده چې د الله جل جلاله بنده ګان له الهي نعمتونو او قدرت څخه سر غړوي او غافلېږي الله جل جلاله په قران کریم کې انسانانو خبروي او فرمایلي یې دي:

اې انسانه ته د خپل لوی پروردګار پر وړاندې څه شي غولولی یې چې د ده نافرماني کوې؟ هغه پروردګار چې ته یې له یوې غیر محسوسې زرې څخه پیدا کړلې.

نو ستا غړي یې په مناسبه اندازه باندې جوړ کړل او هغه وخت یې تاته معتدل غړي دروبښل،او ته یې په بېلو خویونو (طبعو) او بڼو راجوړ کړلې چې د ده په حکیمانه اراده پورې اړه لري.

---

[1]- حنجره
[2]- د صفرا کڅوړه
[3]- دریڅه
[4]- ځیګر

## د سترګو عجایب

د انسان سترګې له دوو اړخونو د غړو جوړښت او ارواپوهنې له مخې کولای شو وڅېړو.

د اروا‌پوهانو په باور د سترګو د بېلابېلو حالتونو له مخې د یو کس روغتیااو ناروغي معلومولای شو.



سترګې هم د ننه او هم بهرنۍ اړخ ویني، هغه داسې چې کله یو څه ته په سرګو ګورو نو د هغو ظاهري برخه وینو، خو که یې سترګو ته وګورو بیا یې د بدن له ننه هم خبرېږو. سترګې ملګرتیا او دښمني راښیي، او کله چې د چا سترګو ته ګورو نو دده په ښه یا بد نیت او اراده مو پوهوي.

سترګې هم لیدل کوي او هم اوري. سترګې موږ په قوت او کمزورۍ پوهوي، او سوکالي او ستونزې راښیي. هیله من او ناهیلی راپېژني، سم او ناسم راته روښانه کوي، د یو چا په رښتیا او درواغ ، مړښت او لوږه مو پوهوي.

یو سترګور قاضي د تورن له سترګو ډېر څه ترلاسه کوي او د تورن له سترګو د پوښتنو، ګروېږنو پر مهال د ډېرو پوښتو ځوابونه مومي. او پولیس هم د مجرم له سترګو پټ رازونه راسپړلی شي.

کله چې ډاکټر د ناروغ سترګو ته په ځیر وګوري د ناروغ په ناروغۍ پوهېدلی شي. سترګې هم خبرې کوي او هم خبرې اوري.که څه هم دا د سترګو خپله دنده نه ده، او انسانان د ژبې او خبرو له لارې ډېر کارونه کولای شي. خو سترګې د خپلو ډېرو مسؤلیتونو سره سره انسانانو ته لوی خدمتونه کوي. د بشریت خالق له انسانانو سره د مهربانۍ او مینې له مخې د ده په سترګو کې دغسې ځانګړنې ایښې دي، تر څو انسان هوسا او سوکاله وي.

خو آیا تر اوسه مو د خپلو سترګو جوړښت ته پام کړی دی؟

د کامرو جوړوونکو تر اوسه پورې د رنګونو د دقیقې ښودنې لپاره ډېرې ستونزې او کړاوونه ګاللي دي، خو تر اوسه پورې یې هم انځورونو په هغسې واقعي رنګ باندې نه دي ثبت کړي لکه څرنګه یې چې سترګې ویني. په داسې حال کې چې انسان په خپلو سترګو د طبیعت رنګونه په ډېر باکیفیته او بې ساري ډول ویني.

د عکاسۍ کامرې له لېرې او نیږدې واټنونو څخه د عکس اخیستلو لپاره ځانګړې تنظیمات لري تر څو اړوند شی ښه ولیدل شي، خو سترګې په یوه چټک لید سره کولای شي لېرې او نږدې شیان په ښه توګه ووېني. سترګې په رڼا کې نه یوازې سپین رنګونه وېني لاچې ژېړ، سره، شنه او هر ډول رنګونه لیدلای شي. خو د عکاسۍ کامرې د هر ډول رنګونو عکس نشي اخیستلای، او دا د دوی د جوړوونکي کمزوري راښیي.

که د عکاسۍ کامرې د عدسیې دې محدود قدرت ته وګورو دا یې د جوړوونکی پوهه راښیي. نو د سترګو عدسیه چې ډېر بې حده قدرت لري د یوه ډېر پوه او پیاوړي جوړوونکي (خالق) شتون راښیي.

د عکاسۍ کامرې هر څه سرچپه ویني، پاس لاندې او ولاړ پروت ښیي. خو موږ په سترګو هرشي په خپل حالت وینو. ایا کله مو فکر کړی دی چې زموږ په سترګو کې چې کومې اوبه دي هغه څه ډول مایع ده چې د تودوخې په بېلابېلو درجو کې په خپل حال پاتې کېږي. په توده هوا کې په بړاس نه بدلېږي، او په سړه هوا کې نه کنګل کېږي. دا څومره لوی قدرت دی چې د طبیعت او مایعاتو د قانون پر خلاف یې داسې مایع جوړه کړې ده چې د تودوخې په بېلابېلو درجو کې خپل حالت ساتي؟!

## د زړه او سږو د کارونو عجایب

کله چې وینه له زړه راوځي د بدن ټولو حجرو ته خواړه رسوي، او پاتې شوني یې په تور بخن رنګ له بلې لارې زړه ته راځي. د هغو رنګ له دې کبله تور بخن دی چې په بېرته راتګ کې چټلی، کاربن ډای اکساید، او د کربنیک غازونه هم له ځانه سره راټولوي.

دغه وینې زړه ته تر رسېدلو مخکې د سږو په کڅوړو کې اچول کېږي، سږي یې هم سمدواره په یوه شېبه کې د یوه فشار، او انقباض او انبساط په وسیله ککړه وینه صافوي او هغه رڼه او له نورو شیانو پاکوي، بیا یې زړه ته لېږدوي، چټل توکي او د کربنیک غازونه د خولې او پزې له لارې د ساه ایستلو په وسیله راباسي. او ډېره عجیبه خو دا ده چې سږي په ۲۴ ساعتونو کې د لسګونو زرو لېټرو په شاو خوا کې وینه پاکوي او زړه ته یې لېږي. خو هو د انسان په بدن کې یوازې پینځه یا شپږ لېټره وینه وي، خو د پرله پسې پاکونې له کبله سږي په یوه شپه او ورځ کې د لسګونو زرو لېټرو په شاوخوا کې وینه صافوي.

خو په رښتیا که په نړۍ کې څوک وغواړي یوه داسې کارخونه جوړه کړي چې د خولې، مرۍ، معدې، کولمو، سږو، زړه، ینې، بډوډوا[1] او د بدن د نورو غړو چې په دغه یوه ډېر کوچني حجم کې ځای پر ځای شوي دي، عملیاتونه وکړي، نو تاسو فکر وکړئ چې په څومره حجم او مساحت ځای ته به اړتیا ولري.

[1]- توری یا ګرده

# مېږيان

حَتَّى إِذَا أَتَوا عَلَى وَادِي النَّملِ قَالَت نَملَةٌ يَا أَيُّهَا النَّملُ ادخُلُوا مَسَاكِنَكُم لَا يَحطِمَنَّكُم سُلَيمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُم لَا يَشعُرُونَ ( النمل: ۱۸)

تر هغه چې دمېږيانو وادي ته ورسېدل یوه مېږي(په خپله ژبه وويل): اې مېږيانو خپلو کوټنيو (کورونو) ته ننوځئ چې خدای مه کړه سلېمان او د ده لښکر به مو ونه ويني او بې پامه به مو تر پښو لاندې کړي. په دنيا کې زرګونه ډوله مېږيان شته دي چې د انسانانو په څېر دوی هم بېل بېل خويونه لري، د دې خبرې د لا روښانولو لپاره پر یوه برخه مېږيانو باندې خبرې کوو.

## کروندګر مېږيان:

د سايو په نامه يوه ډله مېږيان د خپلو ژورو کورونو تر انبارونو لاندې پاڼې اچوي او د چينجيو ځانګړي فضولات (غايطه مواد) هغو ته د سرې يا کوډ په بڼه استعمالوي. او په پای کې بيا د دغه پاڼو پر مخ باندې يو ډول مرخېړي را زرغونېږي چې مېږيان يې خوري. انسانان اوس اوس پر دې پوهېدلي دي چې مرخېړي په تياره کې ښه وده کوي،خو مېږيانو بيا د طبيعت پر دغه راز زرګونه کلونه پخو پوهېدلي دي.

## غلام لرونکي (باداره) مېږيان

هغه مېږيان دي چې غلامان لري، دوی تر ځانه بېوزله او کمزوري مېږيان خپل غلامان نيسي. نو د همدې لپاره دوی د نورو مېږيانو بچيان راتښتوي او لويوي، کله چې له دغو بچيانو مېږيان جوړ شي نو بيا خپلو بادارانو ته کار کوي او د دوی خبرې او امرونه ترسره کوي.

په ځينو مېږيانو کې د غلام نيولو بهير آن تر دې برېده ځواکمن شوی دی چې بادار مېږيان د دوی له شتون پرته آن يوه مړۍ خواړه هم ځانته نشي موندلای.

## سوداګر مېږيان

يو ډول ماشې د ونو پر پاڼو داسې ګبين (شات) باسي چې د مېږيانو په طبعه برابر دي، مېږيان دغه ماشې نيسي او خپلو کوټنيو ته يې بيايي، دوی ته پاڼې او خواړه برابروي ا داسې لکه شپون چې د مېږو پالنه کوي، مېږيان هم د ماشو دغسې پالنه کوي چې د دوی شيره او عصاره وخوري.

## غوښې خوړونکي مېږيان

په مېږيان کې تر ټولو ډېر وېروونکي مېږيان لښکري مېږيان دي، چې په تودو سيمو کې ژوند کوي او يوازې غوښه خوري. دغه مېږيان څو سانتي متره سورور او څو سوه متره اوږد لښکر جوړوي. په دې لښکر کې کارګر بچيان لېږدوي،د لښکر په سر او پای کې سرتېري روان وي. د دوی د پوځيانو په منځ کې يو ډول غټ مېږيان تر سترګو کېږي چې د لښکر صاحب منصبان دي، کله چې دا اوږد مزی روانېږي، نو بيا له اوبو او اور پرته يې هېڅ هم مخه نشي نيولای. کله چې اوبه ځُوندې او سېلې نه وي نو مېږيان د طناب په شکل له يوبل

سره ځانونه نښلوي او اوبو ته وردانګي په دې توګه د اوبو پر سر يو پُول جوړوي چې نور مېږيان له اوبو نه پرې تېر شي. خو هغه مېږيان چې له ځانونو څخه يې پول جوړ کړی وي په اوبو کې لاهو کېږي او دا يې د خپلو همځېلو لپاره يوه لويه سرښندنه ده.

## مېږيان څرنګه خبرې کوي؟

په خبرو اترو کې د ژبې درلودل يو حتمي شرط نه دی. له هرې وسيلې څخه چې د پوهولو لپاره کار واخيستل شي د ژبې حيثيت لري، او خبرې اترې چې په هر ډول وي بيا هم خبرې ګڼل کېږي. نو ژوي د ځانګړو حرکاتو له لارې يا د غږ او وينا له لارې خبرې ا ترې کوي او خپل مخاطب پر خبره پوهوي. چا په خپل غوږ باندې د مېږيانو خبرې نه دي اورېدلې، خو د دوی هغه خبرې اترې چې په ظاهري توګه د ښکرو له لارې ترسره کېږي تاسو څه نا څه ليدلې دي. مېږيان د تګ راتګ په حال کې که يو بل سره مخ کېږي د لنډې مودې لپاره درېږي او د ښکرونو په ښورولو يا د څپو په خپراوي يا په احتمالي توګه د غږونو له لارې چې مو ږ پرې نه پوهېږو له يو بل سره خبرې اترې کوي.

په دې خبره کې هېڅ شک نشته، کله چې مېږيان خوړو د موندلو په موخه د خوړو لويه ټوټه ومومي نو د لېږد لپاره يې لومړی خپله هڅه کوي، خو که پوه شي چې خپلې کوټنۍ ته يې نشي وړلای، خواړه پرېږدي او خپلې کور ته ځي. لږ وخت نه وي تېر شوی چې څو مېږيان په يو او بل پسې د خوړو ځای ته ځانونه راورسوي له يو بل سره مرسته کوي چې هغه خواړه تر ځالې پورې ورسوي. پوښتنه دا ده چې دغه مېږي خپل ملګري له دې خبرې څرنګه خبر کړل؟ خير په هر ډول يې چې کړي وي نو خپل هم ځېلي يې سره وپوهول، د مېږيانو په کور کې عجيبې او غريبې پېښې پېښېږي. له هغو څخه يوه د ماړه او شتمن مېږي څخه د وږي او بېوزله مېږي د مرستې غوښتنه ده، هغه داسې چې: مېږيان پر خپلو يو شمېر نورو مېږيانو باندې ګبين خوري چې د مربا د توبرې1 بڼه غوره کوي، بيا دغه مېږيان په يوه ځای کې راځړېږي چې د اړتيا پر مهال اړو مېږيانو ته ګبين ورکړي.کله چې مېږی وږی شي دغه ژونديو منګيو ته راځي د ښکرو په ښورولو او د اړتيا په ښکارولو سره ګبين غواړي. دغه خېټور (خوروړی2) د خپل ملګري په خوله کې يو څاڅکی ګبين ورڅڅوي او هغه هم مړوي. دا هم د مېږيانو په نړۍ کې يو ډول مرسته ده.

---

1- کڅوړه

2- ډېر خوراک کوونکی

## خطرناک ژوي

د دې ځمکې پر سر داسې ژوي هم شته چې انسانانو ته ضرر رسولای شي خو په دوی کې ځیني وژونکو ته چې تاسو کوم فکر کوي کېدای شي هغسې نه وي.

زمری، پړانګ، سپین کووسه او خوګ هغه داړونکي دي چې ډېر لږ د انسانانو په خوړلو لاس پورې کوي خو يو شمېر نور داسې ژوي هم شته چې دنړۍ تر نورو ژويو ډېر وېرووونکي او وژونکي دي. د لايوساينس پاڼې دوی پينځه ډولونه راپېژندلي دي:

### صندوقي سمندري ناوې (Box Jellyfish)

دغه سرېښناک وژونکی ساکښ د فوټبال د يوه پنډوسکي په اندازه دی، چې د څلور نيم مترو په اندازه تر شپېتو پورې ښکرونه لري. هر ښکر يې له ۵۰۰۰نېښ وهونکو حجرو څخه جوړ شوی دی چې د ۶۰ انسانانو د وژلو لپاره بسېدونکي زهر لري. تر اوسه پورې کره شمېر نه دی ترلاسه شوی خو کارپوهانو وايي چې هر کال د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر سلو زيات کسان د دغه صندوقي سمندري ناوې د چيچلو له



کبله مري. د امريکا د پوهنو د ملي بنسټ د څېړنو له مخې يوازې په فلپين کې هر کال د دغه ژوي په وسيله ۴۵ انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي.

## لوی آسیایي مار

سره له دې چې دغه لوی اسیایي مار تر ټولو ډېر زهرجن مار نه دی، د دغه ژوي د پېژندلو او راڅرګندېدلو د لارې چارو له کبله هر کال سلګونه انسانان مري. خو جالبه دا ده چې په نړۍ کې د مار د چیچلو له امله د انسانانو د مړینې کره او رسمي شمېره نه ده په ډاګه شوې. په ټوله نړۍ کې د مارانو له خوا د چیچل شویو انسانانو شمېر له ۲۰ زرو تر ۱۲۵ زرو پورې سره توپیر لري. ډېرې دغه مړینې په سوېلي (جنوبی) آسیا، سوېل ختیځه آسیا او د افریقا په سوېلي ښېدیاوو کې پېښېږي.




ځینې دغه لوی ماران خپل زهر د انسانانو سترګو ته وربادوي (ورشیندي) چې د سړي سترګې په بشپړه توګه ړندوي.

## لړم




له څېړنو سره سم لړمان په کال کې د خپلو ۱.۲ میلیونه نېښونو په وسیله ۳۲۵۰ انسان وژني، دغسې ډېرې مړینې په وروسته پاتې استوایي هېوادونو کې پېښېږي.د دغه حشرو د ورځې له خوا ورکېدل او د شپې له خوا بېرته راپیدا کېدل د داسې مړینو لامل کېږي. ۲۵ ډوله لړمان شته دي چې انسانان وژلی شي.

## ماشه

د دغه نوملړ تر ټولو کوچنی موجود تر نورو ټولو ډېر انسانان وژني. د ماشې یو چیچ (نېښ) ډېر وخت یوازې خارښ راپیدا کوي. خو یو شمېر نورې ماشې بیا د ملاریا په ناروغۍ اخته کوونکي وېروسونه لېږدوي. که څه هم د ملاریا له کبله د مړینو کره شمېر نه په ډاګه کېږي خو د نړیوال روغتیایي سازمان د څېړنو له مخې په ۲۰۱۰ کال کې د ۵۳۷ او ۹۰۷ زرو په شاوخوا کې انسانان د ملاریا ناروغۍ وژلي دي.د دې شمېر تر ټولو ډېر وژل شوي کسان د افریقا تر پینځو کلونو واړه ماشومان جوړوي.

## هاتي (فیل)

په ټوله نړۍ کې هر کال تر ۵۰۰ ډېر انسانان د هاتیانو له خوا وژل کېږي. په افریقا کې د مشرانو هاتیانو وزن د ۷.۲ ټنو په شاوخوا کې دی. چې دغه دروندوالی د دوی د اوسېدلو سیمې ته د نېږدې انسانانو دمرګ ژوبلې د پېښېدلو څرګند دلیل کېدلی شي.هو په دې برخه کې به له انسانانو هم نه غافلېږو، له ژویو څخه د ملاتړ د یوه بنسټ د رپوټ له مخې د انسانانو د له منځه وړلو د ګواښ درامنځته کېدلو له امله یوازې تېر کال لسګونه زره هاتیان ښکار او وژل شوي دي.

# د بدن د خبرداري نښې

د انسان په بدن کې د خبرداري د نښو د لېږد په موخه یو شمېر زړه راښکونکي او په زړه پورې لارې چارې شته دي، چې دا نښې په حقیقت کې د انسان د بدن دننه رازونه رابرسېره کوي.د بېلګې په ډول: پوهېږئ چې له ډوډۍ خوړلو وروسته خندا پر بدن باندې څه اغېزې پرېباسي؟ یا دا چې آیا پوهېږئ چې ستاسو په بدن کې د وېښتانو د ژر سپینېدلو لامل څه شی دی؟ د انسان بدن تل په هوښیارانه او فردي توګه په ډېرې ځیرکۍ سره د خبرداري نښې را څرګندوي. خو ډېر خلک بیا په ناپوهۍ کې د بدن د خبرداري دغو ډېرو مهو نښو ته پام نه کوي. چې په پای کې ناروغېږي.

د (ډېلي مېرور) ورځپاڼې په یوه رپوټ کې ډېرې جالبې او په زړه پورې لارې چارې راښوولې دي چې بې له شکه په ورځني ژوند کې ترې کار اخیستل کېدای شي او ګټورې به وي:

## د پښو د بندونو دردونه د کلسټرولي ناروغیو نښې دي

د متخصصانو په وینا د پښو د بندونو خوږېدل د وینې د کلسټرولو د سطحې د لوړېدو لومړنۍ نښې دي. په رښتیا کله چې کلسټرول د آشیل د پَلو (وژو) په ژېړه شاوخوا کې رامنځته شي نو دغسې دردونه رامنځته کوي.

د حل لاره: که د پښو د بندونو خوږ مو درې یا تر دریيو ورځو ډېر دوام وکړي، نو د معاینې لپاره یې ډاکټر ته ورشئ، په ځانګړې توګه هغه مهال خو ډېره هڅه وکړئ که په کورنۍ کې مو څوک د زړه په ناروغۍ اخته شوي.

## د سږو ښه فعالیت د آلزایمېر د ناروغۍ خطر راکموي

له څېړنو څرګندېږي چې د سږو د کمزوري او ناسم فعالیت له امله مغزونو ته لږ اکسېجن رسېږي، او په پای کې د عقل پر کمزورۍ او آلزایمېر باندې د اخته کېدو ګواښ زیاتېږي. که غواړۍ له دې ناروغۍ ځانونه وژغورئ نو ژوره ژوره ساه وکاږئ، په دې توګه که پینځه ثانیې ژوره ساه واخلو او پینځه ثانیې بیا ژوره ساه وباسو. نو سږي به ځواکمن شي او مغزونو ته به مو په بشپړ ډول اکسېجن ورسوي. که هر ورځ دغه چاره شپږ شپږ ځله تکرار کړئ نو سږي به مو شل په سلو کې غښتلي شي.

## تر ۳۰ کلنۍ مخکې د وېښتانو سپینېدل څه راښیي؟

که وېښتان له ۳۰ کلنۍ وړاندې سپین شي په تایراېډ ناروغۍ د اخته کېدو نښه ده. د تایراېډ متخصصان وایي چې د تایراېډ د غودو ناسم فعالیت د وېښتانو په زړي کې د رنګونو د تولید د غدې له منځه وړي.

## څه باید وکړو؟

که مو ویښتان په کم عمر کې سپین شوي دي او یا هم داسې نورې نښې لکه د وزن کمېدل، ستوماني او یا د میاشتنۍ ناروغۍ ستونزې درپېښې وي، هرومرو خپل ځان معاینه کړئ او د دې ناروغۍ څخه د پر وخت درملنې لپاره د غودو یوه ځانګوال (متخصص) ته ورشئ.

## د غاښونو د اوریېو ناروغي له وخت وړاندې زیږون ګواښ او شونتیا ډېروي

د ناروغ او مېکروبي کس په اوریېو کې پرتې باکټریاوې د دې لامل کېږي چې د امېدوارۍ په حالت کې د رحم خوله ژر او بې وخته پرانیستل شي.

**حل لاره:** هر ورځ د غاښونه په سپېنسي پاک کړئ، او همداراز امېدوارې مېرمنې د غاښونو د روغتیا لپاره په مرتب ډول د غاښونو ډاکټر ته ور شئ. څېړنې ښیي چې د اوریېو ناروغي له وخته وړاندې زیږون شونتیا ۷۰په سلو کې زیاتوي.

## د پښو تودې ساتل د یخنۍ وهلو مخنیوی کوي

که پښې سړې شي په پوزه کې د وینو واړه رګونه سره غونجېږي[1]چې په دې وخت کې د وینې د سپینو کرویاتو هموګلوبین په دې سیمه کې له میکروبونو سره له مبارزې لاس اخلي او بدن ته د میکروبونو د ننه کېدلو لاره خلاصېږي.  نو باید جورابې په پښو کړئ او ځان ډاډه کړئ چې د پښو په تودو ساتلو سره به ستاسو دبدن دفاعي سیستم په ښه ډول کار کوي.

## که له ډوډۍ خوړلو وروسته وخاندئ د وینې د قند اندازه به راټیټه شي

څېړونکي په دې باور دي چې د خندا هغه عضلې د خندا پر وخت د انرژۍ ترلاسه کولو لپاره د وینې له قند څخه کار اخلي، او دغه چار به ستاسو بدن د شکر، چاغښت او آن په ځینو چنګاښونو (سرطانونو) د اخته کېدو له خطره وژغوري. نو هر ماخوستن په ښه آرامه فضا کې پر ځای کښېنئ او تر یوه وخته د خپلې خوښې وړ کمېډي (خندوونکی) فلم وګورئ.

## د ګرځېدلو پر وخت خبرې کول د ملا دردونه راپیدا کوي

که د تګ پر مهال خبرې هم کوئ دغه چاره مو پر ځمکه باندې د قدم اېښودلو سره سم د ساه اخیستلو مخه نیسي.  دغه ناهمغږي د دې لامل کېږي چې د ګامونو ځینې ضربې زموږ ملا ودردوي.

سپارښتنه کېږي چې پر موبایل کې د خبرو پر مهال په یوه خوا کې کښېنئ او په ټلېفون کې خبرې وکړئ.

---

[1]- راټولېږي، راغونډېږي (د پړسوب په اثر راتنګ او راټولېدل)

## پر یوه او بله باندې پښې اړول به مو کمزوري او بې سدي له منځه یوسي

که د چټکو پاڅېدلو پر مهال مو سر وګرځېد، یا مو سترګې توربدلې، نو په دغه ساده حرکت سره په ډېرې چټکۍ مغز ته وینه ولېږدوئ او خپل ګنګستوب او کمزوري له منځه یوسئ. لومړۍ دواړې پښې پر ځمکه باندې کېږدئ. بیا مو یو ه پښه پر بله باندې کېږدئ نو په دې حالت کې چې څومره کولای شئ پر پښه باندې زور وکړئ. تر دېرشو دقیقو پورې دغه کار ته دوام ورکړئ چې وینه مو مغز ته ورسېږي او ښه شئ.

## چاغښت سرخوږی دوه چنده زیاتوي

د وزن زیاتوالی په سر کې د وینې وېښته رګونه التهابي کوي چې سرخوږی رامنځته کوي، که غواړئ دردونه مو کم شي نو خپل وزن کم کړئ او د سرخوږي د درملنې له پاره له طبعي کړنلارو کار واخلئ. هره ورځ د آرامولو درمل سرخوږی رامنځته کوي.

## د نارینه و په تناسلي غړو کې د ستونزو راتګ کېدای شي د زړه د ناروغیو نښې وي

وروستۍ څېړنې ښیي چې په نارینه و کې جنسي کمزوري کېدای شي د زړه د وینې د وېښته رګونو د تنګوالي له کبله وي. تاسو هم په انټرنېټي پاڼو او مشورو ډېر باور مه کوئ،د خپل ځان د بشپړې کتنې (معاینې) په موخه یوه ځانګوال ډاکټر ته ور شي کړئ او خپل ځان ډاډه کړئ.

## کړوپېدل، او ملا شاته ایستل مو د خوږو خوړلو ته هڅوي

ډاکټران پر دې باور دي چې قوز کول مغز ته د پوره وینې رسېدلو مخه نیسي او په پای کې د خوږو موادو خوړلو ته اشتها پاروي، نو د وینې د جریان په سستېدلو سره ګلوکوز چې د مغز تر ټولو مهم او اړین خواړه دي پوره نه رسېږي.

حل لاره: تل نېغ کښېنئ پښې پر ځمکه وغځوئ خپله شمزۍ (ملا تیر) شا لور ته وباسئ چې ګېډه مو ننوځي، داسې چې ملا مو د صندلۍ خواته ووځي.

## د زوکام درمل پر امېدوارۍ ناوړه اغېز ې پرېباسي

د یخنۍ وهلو هغه درمل چې د پزې د ترشحاتو د وچولو لپاره کارول کېږي، په همدې وخت د رحم د خولې مایع کموي او په پای کې د امېدوارۍ پر مهال ستونزې راولاړوي.

سپارښتنه کېږي چې د امپول (احتقان) ضد درملو پر ځای له معمولي درملو لکه وېکس څخه کار واخلئ.

# عجایب









"جیڅورن" د هالنډ هېواد د یوه ډېر ښکلي او آرام کلي نوم دی. نه یوازې دا کلی د هالنډ هېواد یو ښکلی کلی دی لاچې بې له شکه دا د نړۍ یوه بې ساري سیمه ګڼلی شو.

دا ښکلی کلی آن یوه کوڅه هم نه لري، دا ځکه چې دا کلی د اوبو پر سر جوړ شوی دی، او ښاریان یې په کښتیو کې تګ او راتګ کوي.




هېره دې نه وي چې د ایټالیا هېواد د "ونیز" ښارګوټی هم له دې کلي سره څه نا څه ورته والی لري، خو توپیر یې دا دی چې د ونیز ښار ښکلې او شین طبیعت نه لري.

د جیثورن اوسېدونکي بیا دا کلی د "شمالي ټوپېک" په نامه يادوي. د دې نامه د غوره کولو لامل سم نه دی معلوم خو د کلیوالو په وینا دا نوم ورته ډېر پخوا غوره شوی ؤ.

## پېښې

د امریکې د میسوري آیالت پولیسو یو نوی زلمکی چې ۹ کلنه نجیلۍ یې وژلې وه ونیو.



د پولیسو په وینا ۱۵ کلن آلیس د خپلو پوښتنو او ګروېږنو کې ویلي دي:"خپل ملګری مې ځکه وواژه چې وپوهېږم څوک چې نور وژني څه احساس لري؟"

ده د خپلو خاطرو په کتابچه کې وژنه هیجانوونکې او خوندوره ګڼلې ده.

د پولیسو پر خبره: ده د خپلو خاطراتو په کتابچه کې لیکلي چې خپل ملګری د چاړو په ګوزارونو وژلی دی او بیا یې سر له تنه ور جلا کړی دی.

د وژل شوي د بدن طبي پایلې ښیي چې تورن د چاړو په اتو ګوزارونو سره وژل شوی دی.

## د نړۍ نیکه

د فارس خبري آژانس د خبر له مخې: په هند کې د "رامپټ راجاو" په نامه یوه ۹۶ کلن بوډا د دوهم ځل لپاره واده وکړ، او اوس د یوه بچي پلار دی. دا خبر په ډېرو رسنیو کې خپور شوی دی، د خبري آژانس په وینا ټولو رسنیو دا کس د نړۍ تر ټولو مشهور بابا یاد کړی دی.



## د اوښکو پر ځای وینې او کاڼي

د یوې شل کلنې یمنۍ پېغلې له سترګو د اوښکو پر ځای شګې او وینې رابهېږي، او د خولو پر ځای یې له بدنه وینې راوځي.




شل کلنه یمنۍ پېغله "صبوره" چې کله ژاړي له سترګو څخه یې شګې راوځي او تر څنګ یې وینې ورسره بهېږي. همداراز د تروو اوبو پر ځای یې له بدنه وینې راوځي.

"صبوره فقیه" خپل دا حالت داسې بیانوي: له خپل واده څخه شپږ میاشتې وروسته هره ورځ د ۴ ساعتونو لپاره بې سده کېدلم چې دا حالت راپېښ شو.

تر بې سدې څه موده وروسته مې په نس کې پړسوب راپيدا شو چې د امېدوارو ښځو د وروستيو مياشتو په شان به ؤ. کورنۍ يې دا نجيلۍ روغتون ته بوتله چې تر بېلابېلو کتنو وروسته ډاکټرانو وويل چې د دې بدن ټپخې نورمال دی او د پېښو په اړه يې څه توضېحات نه درلودل.

دغې يمنۍ نجيلۍ وويل: تر سخت پړسوب وروسته مې له بدنه نور د خولو پر ځای وينې رابهېدلې او ټول بدن به مې په وينو ولړل شو.

دغه حالت د صبورې ګاونډيانو د وېرېدنې لامل شوه، دوی به ليدل چې د دې له سترګو څخه د ژړا پر مهال د اوښکو پر ځای په بېلابېلو اندازو شګې راتويېږي چې ځينې ځينې يې د مېږيانو په اندازه دي. بله دا چې دا شګې يې يوازې او يوازې له سترګو نه راوځي لا چې له غوږونو څخه يې هم راوځي.

د صبورې بله ستونزه هم د خوب په وخت کې د سترګو خوږېدل دي چې دا يې له کبله نه شي ويده کېدلی او ډېر تر ډېره تر ۲ ساعتونو ډېر خوب نه شي کولای.

## د خوګ دوه بچيان

"اورس" او "برنا" د سويس د پلازمېنې د ژوبڼ دوه ستوري دي. د خوګ دغه دوه کونګري د ډسمبر د مياشتې په پای کې د برنا د چمن (پارك) د سيندګي تر څنګ چې شپږ زره کيلومتره پراخوالی لري،زېږېدلي دي.



دا کوچني خوګان د هغه کوچنی وېب کامرې له لارې چې په دې ژوبڼ کې لګول شوې ده د انټرنېټ له لار په مرتب ډول ښکارېږي.

په دې توګه دغه خوګان نه يوازې په دغه ژوبڼ کې ډېر مشهور دي لا چې د انټرنېټ په نړۍ کې هم ډېر مشهور شوي دي. په فلم کې ښکارېږي چې دغه خوګان په ونه کې غار جوړوي يا د ګياوو او دېوالونو پر سر باندې ګرځي، د دوی شهرت هله ډېر شو چې د دوی فلم په انټرنېټ کې خپور شو.

او د نړۍ تر ټولو ډېر کليک کېدونکی فلم وګرځېد. د خوګ يو کونګری د خپلې خوښې غوټۍ د ترلاسه کولو لپاره ونې ته خېژي، داچې د ونې سر ته ورسېږي خوشاله وي چې د خپلې خوښې وړ غوټۍ ترلاسه کوي او خوري يې، په داسې حال کې چې ورور يې لاندې غوټۍ خوښوي، د بل ورور يې چې پام شی په ونه کې نښتی دی ډېر اندېښمن کېږي.

په دې فلم کې د خوګ دوه زړه راښکونکي کونګري په نرۍ ونه باندې خېژي، يو يې د ونې په سر کې بندېږي، په دې وخت کېد کونګريو مور د دوی د خوندي راټيټولو لپاره پر يوه کار پيل کوي.

د Berner Zeitung د رپوټ له مخې په پای کې د خوګانو مور د خپلو کونګريو چې په درې متره لوړه ونه کې بند پاتي دي، ونه د ځمکې خواته راکږوي او په دې توګه د خوګ

دوه کونګري له ونې څخه کښته رالوېږي که څه هم دوی ډېر وېرېدلي وي خو هر رنګ چې وي ژغورل کېږي.

## تر ټولو چټک مرغه

آیا پوهېدلاست چې د نړۍ تر ټولو چټک الوتونکی تر ډېر چټک ګاډي هم ګړندی الوزي.



دغه لاندې مرغه چې لاندې ښکاري د نړۍ د ټر ټولو چټکو لسو مرغانو له ډلي څخه دی.

شمالي مرغه (په ساعت کې ۱۱۳ کیلومتره)

دغه مرغه تر ټولو لویه مرغابۍ ده چې په اروپا او د امریکې په شمال کې پیدا کېږي. دا مرغه د اروپا او امریکې په شمالي او سایبیریا په ختیځ او د سیند غاړو په ډېرو سیمو کې پیدا کېږي. دا ډېر ټولنیز مرغان دي چې د سیندونو او سمندرونو په غاړو کې ژوند کوي.

## مچی ډوله مرغۍ

مچی ډوله مرغۍ د خپل کوچني بدن او د وزرونو د چټک خوځولو له کبله په همدې نامه باندې یادېږي. خو د تېروتنې له مخې د مچ خوړونکې مرغۍ په نامه پېژندل کېږي. داسې چې د دې شکلې مرغۍ خواړه د ګلونو د ګبین دي، خو حشرې نه خوري. د دې مرغۍ په اړه جزیات د دې د وزرونو د غوړولو له کبله په عکاسي کې ډېر مهارت او تجهیزات غواړي،له همدې کبله مچی ډوله مرغه د طبیعت د عکاسانو ډېره لېوالتیا ځانته وراړولې ده.



## د الوتونکو بیزوګانو یو نوی ډول

د لومړنیو ژوندیو بیزوګانو دا ډله له تې لرونکو څخه د ۸۶ میلونو کلونو شاوخوا پخوا د



ځمکپوهنې په کرتاسه دوره کې له نورو بیزوګانو څخه جلا شوې دي. د بیزوګانو دا ډول د پوزه لرونکو ګلایډرونو مرغانو یو ښه ډول دی. د بدن چاپېره پردې یې یو ژغورونکی چتر ورته جوړ کړی دی تر څو د ونې له یوه ښاخه تر بل ښاخ پورې تر ۱۵۰ مترو واټن پورې والوځي.

## د آرنولډا رافلېسیا (*ArnoldiRafflesia*) بوټی

تر ټولو لوی ګل د یوه عجیبه ګیاه چې بد بویه زنبق نومېږي دی، دا ګیاه د آسیا په



ځنګلونو کې را زرغونېږي. د دې ګیاه ګلونه قهوه يي او نارنجي رنګونه لري، او سپینې لیکې لري. د دې ګلونو اندازه د ۳۵ انچونو چې ۹۰ سانتي متره کېږي په شاوخوا کې ګلونه کوي. رافلیسیا یو

انګلي[1] (طفيلي) ګياه ده. دغه ګياه يوازې همدغه ګل دی، پاڼې او ډنډر (ساقه) نه لري. دغه ګل په خپل ځېرمه يا ګاونډيه ګيا باندې ځان نښلوي او د هغو له لارې خپلې اوبه او خواړه ترلاسه کوي. د غونچې کولو پر مهال ترې (د خوسا غوښې په څېر) بد بوی راوځي چې دغه بوی ځانته حشرات راکاږي او په پای کې د ګل منځ ګرد غوړېږي.

## ماندرين

دغه ښکلې مرغابۍ (ماندرين) يا چيني مرغابۍ نومېږي او د روسيې په سوېل، چين او جاپان کې پيدا کېږي.



تر ځو پخوا کلونو پورې د دې رنګينې مرغابۍ نژاد د لړېدو په لوري روان ؤ، له همدې کبله جاپان د دغه ډول مرغابيو ۳۰۰۰ جوړې په ۱۹۸۰ کال کې له هنده خپل هېواد ته راوړلې او له جاپانه هم چين او يو شمېر نورو هېوادونو ته ولېږل شولې.

[1]- انګلي هغه پرازيټونه يا ژوندي موجودات دي چې د ژونديو اجسامو د پوست دننه ژوند کوي.

## ګلابي سیندګی

د Retba سیندګی د افریقا د لوېدیځ په سګنال کې پروت دی چې د نړۍ د نورو سیندونو پر خلاف جلا رنګ لري. د دې سیندګي اوبه تروې دي، دغه رنګ یې د ډېرو پام ځانته وراړولی دی. دغه رنګ چې بېخي بل ډول دی څېړونکي



یې دې ته هڅولي دي چې اوبه یې و ازمايي او د دغه رنګ لامل یې ومومي.

## ځلوېښت څراغه(قندیل)[1] سوسن

د قندیل سوسن ګل د لومړي ځل لپاره په ۱۳۵۴کال کې د "لدربوري" په نامه د ګیاه پېژندنې دمرکز لخوا وپېژندل شو.



دا ګل له نیم تر یوه متره پورې لوړوالی لري، سپین

---

[1]- قندیل هغه څراغ دی چې په منځ کې یې څو څراغونه وي او د کوټې په چتونو کې راځوړند وي.

رنګ ورک کېدونکی ګلونه لري، چې پاڼې را اوښتې وي، غټې دانې لري. ځینې بیا داسې وایي چې د دوی سپوږمیز او ورک کېدونکی شکل یې د قندیل په شان دي. نو ځکه یې پرې دا نوم اېښی دی. خو نور کلیوال بیا وایي چې د قندیل سوسن له ګل څخه د شپې رڼا خپرېږي، نو له همدې کبله یې قندیل سوسن بولی. د ګیاه پوهانو په وینا دا ګل د رڼا راغبرګولو وړتیا لري.

دا ګل له جنېټیکي پلوه د ځمکې پېژندنې څلورمې دورې پورې اړه لري. دا ګل چې سپین سوسن په نوم هم یادېږي،

دغه ګل اوس مهال د ایران د داماش په کلي کې په ۴ هکتاره ځمکه ساتل کېږي چې ګڼ ننندارچیان یې لیدلو ته راځي. چې د ایران هېواد د چاپېریال ساتنې د سازمان له خوا ساتل کېږي او ایرانیان یې خپل ملي اثر او طبعي میراث ګڼي.

یاده دې وي چې دا ګل اوس د کمښت او لږېدو په حال کې دی.

## د نړۍ تر ټولو لوی د ولې بورا

د آتاکوس اطلس "Attacus Atlas" په نامه بورا انځور د ختیځې همالیا په زړه کې د "ساندش کادرو" لخوا اخیستل شوی دی چې ۲۵ سانتي متره اوږد دی. دا چې د دې حشرې



په وزرونو باندې ښه ډولې رنګونه دي چې د بېلابېل جغرافیوي رنګونه را ښایي، نو له دې کبله د آتاکوس اطلس په نامه یادېږي.

د دې ولې زیات عمر دوه اونۍ وي، دا چې د دغه حشراتو عمر لږ دی نو ځکه خو لېرې ځایونو ته نه ځي، او په ټول ژوند کې د دوی یواځنۍ موخه د یوې ولې بورا په توګه د مثل تولید دی.

د اطلس ولې د آسیا په سوېل ختیځو تودو او نیمه تودو ځنګلونو کې پیدا کېږي، همداراز د د مجمع الجزایر په "مالایا" کې ډېر پیدا کېږي.

د دې بورا چینجی باید د دغه لویو وزرونو د لرلو لپاره شپږ اونۍ پرله پسې خوراک وکړي. دغه بوراګان له بلوغ وروسته د دوو اونیو لپاره ژوندي وي.

څېړونکي پر دې باور دي چې د دغو حشرو پر وزرونو باندې وېرووونکې نښه د دې لپاره ده چې د ولې بوراګانو د ښکارچیانو په زړونوکې ډار او وېره واچوي.

د دغه حشرې ظاهري ښه دومره پاملرنه ځانته وراړوي چې چینایان یې "مار سرې وله" بولي، ځکه چې د دې ولو د وزرونو سرونه له خزنده ګانو سره ورته دي.

## دولفینونه څه په خوب ویني؟

د (رنا۱) او (پاریس ۱۳) د پوهنتونو پوهانو د دلفینونو د وړتیاوو په اړه د frontiers psychology په چاپي خپرونه کې د یوه نه تصورېدونکي کشف پایلې ښکاره خپرې کړې.



دا حیرانوونکې موندنه د فرانسې د ناس ښار د دولفینونو د ژوند کولو په یوه اکواریم کې پر پینځو بندي شوو دولفینونو باندې ترلاسه شوه. هره ورځ په دې اکواریم کې دولفینونه لویې لویې ننداري وړاندې کوي.

د ۲۰۰۹کال په فبروري میاشت کې یو لړ ننداري چې په یوه لیکه غږ به ترسره کېدلې، موسېقي، د سمندري چرګانو غږونه، شپېلۍ او کله کله د بوکام لرونکو نهنګانو غږونه خپرېدل.

د یوې میاشتې په شاوخوا کې څېړونکو د اوبو لاندې مایکروفونو په وسیله د دلفینونو د غږونو پر ثبتولو لګیا وو چې ویې لېدل دغه ژوي داسې غږونه باسي، ته به وایې چې د نهنګانو د غږونو پېښې (تقلید) کوي.

د frontiersin د رپوټ له مخې دلفینونه هم د نورو ژویو په څېر کولای شي د غږونو پېښې وکړي.

خو د دې اکواریم دلفینونه ډېر ځانګړي ښکاري ځکه تر اوسه یا تر دې د مخه لیدل نه وو شوي، چې دلفینونه دې په بند کې د یوې ځانګړې موخې له پاره د نورو ژویو د غږونو پېښې وکړي.

خو تر ټولو په زړه پورې خو دا ده چې دلفینونه په خوب کې د نهنګانو د غږونو پېښې کوي. دا په داسې حال کې ده چې ویل کېدل د اوبو په تې لرونکي د REM ډوله خوب نه لري.

دغه څېړونکو وموندله چې دلفینونه د په نیمه شپه کې د سهار تر ۳ بجو پورې همداراز د ورځې په اوږدو کې او کله چې په ورو ورو ډول لامبو وهي ویده کېږي.

د آرام په دې دوره کې د دلفینونو د شکېلیو او د عضلو ناڅاپي انقباض کمېږي، چې دغه د REM د خوب د مرحلې ځانګړنه ده.

د څېړونکو د دې فرضیې پر بنسټ دلفینونه کولای شي د خوب په اوږدو کې د وخې ځینې هغه ځانګړې پېښې چې د ورځې په اوږدو کې یې اورېدلې دي ور په یاد کړي.

## کږوپ شوی ځنګل

دا عجیب ځنګل د لهستان هېواد په لوېدیځ کې پروت دی، په دې ځنګل کې ونې په بېلابېلو



بڼو ونې شته دي. په دې ځنګله کې د نښتر شاوخوا ۴۰۰ ونې شته دي چې ټولې یې په یوه بڼه د ۹۰ درجو په زاویه باندې د شمال په لوري انحراف کړی دی. دغه ونې په ۱۹۳۰ زیږدیز کال کې هغه مهال چې دا سیمه د آلمان هېواد یوه برخه وه کرل شوې دي. دا ونې تر ودې څو کاله وروسته د انسانانو په وسیله په دې بڼه جوړې شولې. ډېر خلک پر دې باور دي چې آلمانیانو غوښتل چې له دې لرګیو څخه د کور د ډیکور یا رغونې لپاره کار واخلي نو ځکه یې د دغه ونو شکل داسې واړاوه.

## شمالي ساتونکې جزیزه

دغه جزیزه د بنګال په خلیج کې پرته ده چې ۷۲ کیلو متره پراخوالی لري. خو د پام وړ



ټکی پکې دا دی د دې ټاپو شا او خوا د مرجانو غونډۍ پرتې دي. دغو مرجاني غونډیو دې ټاپو ته تګ دومره ناشونی کړی دی، چې کابو ټول ټاپو په ډېره ټینګه توګه د ونو په وسیله پوښل شوی دی.

په دې ټاپو او ځنګل کې د (ساتونکو) په نامه قوم اوسېږي، چې شمېر یې د ۵۰ او ۴۰۰ وګړو تر منځ ښوول شوی دی. دغه وګړي له بهرنۍ نړۍ سره د اړیکو جوړولو لپاره کومه لېوالتیا نه لري. کله چې د ۲۰۰۶ کال د جنوري په میاشت کې دوه کب نیوونکي دغه ځنګله ته نږدې شول نو دغه وګړو پرې برید وکړ او ویې وژل. د دوی جسدونه هم دغو وګړو وسوځول، د هندوستان د سیندغاړې

ځواکونو ډېرې هلې ځلې وکړې چې د کب نیوونکو جسدونو د الوتکو له لارې ترلاسه کړي، خو د غشو له سخت باران سره مخ شول، او په شاتګ یې وکړ. کارپوهان په دې آند دي چې دا خلک په دې ټاپو کې له شته طبعي سرچینو او ژویو څخه د خوړو له پاره کار اخلي.

## سور ځنګل

دا ځنګل د چرنوبېل اتومي بټۍ ته په ۱۰ کیلومټرۍ کې پروت دی چې د ۱۹۸۶ کال د افرېل د میاشتې په ۲۶مه نېټه په بټۍ کې چاودنې دغه ځنګل ډېر ونړاوه. د دې ځنګل د ونو رنګ



له یادې پېښې وروسته په سوه او قهوه یي رنګ بدل او له منځه ولاړې.له دې ناروغۍ څخه د پاکوالي په موخه ډېرې ونې پرې او په ځمکه کې خښې شوې. د ځنګل ډېرې برخې له رېګونو او شګو ډکې شوې. اوس پکې یو شمېر د نښتر او ناجو پخوانۍ او نوې کښېنول شوې ونې تر اوسه هم شنې دي. د یادې بټۍ کابو ۹۰ په سلو کې وړانګې د دې ځنګله ځمکې ته ننوتې دي.

## له ونو ډک ځنګل

دغه ګڼ ځنګل د جاپان هېواد په شمال ختیځه سیمه کې په پوځي غره کې پروت دی. په دې



ځنګله کې ډېرې سمڅې او لویې لویې ونې دي چې دې ځنګله ته یې ننه کېدل له ګوابښ سره مخ کړي دي. دلته ځناور نشته او یوه غلې سیمه ده. دا ځنګل ځکه ډېر مشهور دی چې یو خو ښکلې منظره لري او له بلې خوا ډېر ځان وژنې پکې کېږي. په دې وروستیو کلونو کې په جاپان هېواد کې د ځان وژنې

وروستۍ سمې شمېرنې نه په ډاګه کوي. خو په ۲۰۰۴ کال کې چارواکو له دې ځنګله څخه د ځان وژونکو ۱۰۸ جنازې را وایستلې. د شمېرنو له مخې په نړۍ کې امریکې د سانفرانسیسکو د (سروزرو د دروازې) تر پله وروسته دا دوهم ځای دی چې ډېرې ځان وژنې پکې کېږي.

## د هویا باکیو (*Hoia-Baciu*) ځنګل

دغه ځنګل د رومانیا په هېواد کې پروت دی چې د برمودا د مثلث په نامه مشهور دی.



د سیمې د خلکو په وینا کله چې یو شپون له خپلو ۲۰۰ مېږو سره په دې ځنګله کې ورک شو نو دا نوم پرې کېښېښودل شو. د سیمې خلک دې ځنګله ته له دې کبله نه ننوځي چې که هغه ځای ته چې شپون او د ده مېږې د وروستي ځل لپاره لیدل شوي وو ولاړ شي نو دوی به هم ورک شي. ځینې خلک چې دې ځنګله ته ننوتي دي په بېلابېلو ناروغیو لکه: سوي، د عصابو ناځاپي فشارونو باندې اخته شوي دي. په ۷۰ یمو مېلادي کلونو کې په دې ځنګله کې د ډېرو ناپېژاندو مرغانو هلډوکي، بڼکې او نور تر سترګو کېدل. دلته چې څوک ورغلي دي عجیبې او غریبې رڼاوې یې لیدلې دي چې تودوخه نه لري. په دې اړه له څو کلونو راهیسې څېړنې کېږي.

## د وودا پخوانی ځنګل



د ۲۰۱۲ زېږدیز کال په فبروري کې امریکایي او چینایي پوهانو د چین په شمال کې د یوه لوی ځنګل پاتې شوني وموندل چې د ایرو تر یوې پوړندې

سطحې لاندې ښخ شوی ؤ. پوهان باور لري چې دا ځنګل هم د روم د پومپي د ښار په شان دیوې سختې اورغورځېدنې له کبله چې په ۱۰۰ کیلومټری کې ورته پرته ده تر ۶۶ سانتي متره ایرو لاندې شوی دی.

په دې ځنګله کې د داسې ګیاوو بېلګې شته چې کلونه کلونه ورک او له منځه تللي وو او د نړۍ په یوه ګوټ کې هم نه ترسترګو کېدل. پوهان باور لري چې په دې ځنګله کې د لا زیاتو څېړنو په ترڅ کې به ډېرې نورې نمونې هم ومومي.

## شپه بلېدونکي مرخېړي

دا مرخېړي په برازیل کې پیدا کېږي چې ډېره رڼا لري او په شپه کې د لیدلو وړ دي. د



مرخېړیو له ۵۰۰ ډولونو څخه چې تر اوسه پورې پېژندل شوي دي ۳۲ ډولونه یې په دې شکل دي، او له ځانه رڼاخوروونکي شي.

## د *Vibrio Harveyi* باکټریاوې

دا باکټریاوې په سیندونو او اقیانوسونو کې لامبو وهي، پخواني پوهان په دې باور وو چې




دغه رنګه موجودا مرجانونه دي چې د سیندونو په تل کې اوسېږي. خو په ۲۰۰۵ کال دا باکټریاوې د لومړي ځل لپاره وپېژندل شوې. دوی تر ټولو لوی

ټولې د ۲۵۰ کیلومټره شعاع په اندازه لېرې پراته دي. دا په دې معنی ده چې ډېر شمېر یې په دغه ځای کې ځای پر ځای شوي دي.

## مرکب کبان

کله به مو داسې فکر کړی وي چې یوازې ځینې کوچني موجودات له ځانه رڼا خوروي. خو نه دلته به ځینو داسې لویو ژویو ته اشاره وکړو.



ځینې مرکب کبان هم له ځانه رڼا خورولی شي. دغه کبان د سمندر په ۱۹۰ تر ۳۵۰ متره ژوروالي پورې ژوند کوي، دغه راز کبان ډېر د چاپان د شاوخوا په سیندونو کې لیدل شوي دي.

## سمندري مرجانونه

سمندري کبان هم له ځانه رڼا خوروي. داډېر ښکلي موجودات دي له دې کبله د نړۍ د ډېرو ښکلیو موجوداتو په ډله کې حسابېږي. دا مرجانونه د خپلو ځانګړو غړیو له لارې یوه ډېره اندازه کلسیم وباسي چې د رڼا د منځته راتګ لامل کېږي. خو په ځینو کې بیا په لاس وهلو سره رڼا پیدا کېږي.



## د شپې ځلېدونکي چينجي

داسې چينجي خو به هرو مرو ليدلي وي چې په ونو کې ځوړند وي او په شپه کې ډېر ځلېږي. هو په نوي زيلاند کې يو بل ډول چينجي هم ډېر ليدل شوي دي چې د انرژۍ د سوځولو له لارې رڼا توليدوي.



## وحشي پيشوګانې چېرته پيداکېږي؟

### وحشي يا صحرايي پيشوګانې:

وحشي پيشوګانې چې تر کورنيو پيشوګانو دوه چنده غټې دي ډبلې لکۍ لري،په بې ونو او هم په ګڼو ځنګلونو کې ژوند کولی شي. د ونو په سوريو او تر کمرونو يا ډبرو لاندې ژوند کوي. د شپې له خوا ګرځي د پسرلي په لومړيو کې د يوځای کېدلو له وخت پرته نور ټول وخت يوازې ګرځي. کوچني تي لرونکي لکه: صحرايي او معمولي سوېې، الوتونکي او موږکان خوري په ډېر بې ډوله توګه ښکاروي، له همدې کبله هغوی د ځنګلونو لېرې غرنيو سيمو ته تښتي. دا ډول پيشوګانې د اروپا په جنوبي او مرکزي برخو او همدارنګه د سکاټلنډ په شاوخوا کې پيدا کېږي.



## په تي لرونکو کې د حنجرې ډېر چټکې عضلې په آسمان ځکالو کې دي

د ډنمارکي څېړونکو د څېړنو له مخې آسمان ځکالو سربېره پر دې چې تي لرونکي دي، د حنجرې عضلې يې زښته ډېر چټک حرکات لري.



د څېړونکو په وينا د دغه تي لرونکو د حنجرو حرکت دومره چټک دی چې په يوه ثانيه کې له ۱۶۰ تر ۱۹۰ جير جيرونه باسي. د دوی دا ځانګړنه د يوې غبرغبرګونې دستګاه په توګه کار کوي چې ټاکلی ځای پيدا کوي او په ښکار کې ورسره مرسته کوي.

په هغه فلم کې چې له دې آسمان ځکالو څخه ډک شوی دی ښيي چې دغه تي لرونکي په يوه جيرجيري لنډه لمنه پيل کوي، چې ښکار ته ورنږدې شي د جيرجيرونو ددغه لړۍ تکرار نور هم زياتېږي.

څېړونکو د آسمان ځکالو په عضلو باندې يو ماشين او يو قوي مونيټور ونښلاوه چې د دوی عضلې به يې د خمولو لپاره پارولې. دوی وموندله چې د آسمان ځکالو عضلې ۱۸۰ هرتزه او کله کله آن تر ۲۰۰ هرتزه پورې منقبضې او منبسطې کېدلای شي.

پوهانو دا هم وموندله چې د آسمان ځکالو د حنجرو عضلې د انسانانو د سترګو تر عضلو ۲۰ واره چټکې دي چې تر اسکلېټي لارښودو حنجرو ۱۰۰ واره چټک حرکت کوي.

## تورې کرګدنې بېخي له منځه ولاړې

د لوېديځ تورې کرګدنې چې Diceros bicornis longipes نومېږي له ۳تر ۳،۸ متره اوږدې، د اوږو په برخه کې ۱،۴ تر ۱،۷ متره لوړې، له ۸۰۰ تر ۱۳۰۰ کيلو وزن، دوه ښکرونه چې يو يې ۵۰ تر ۱۳۰ سانتيو او بل يې له ۲ تر ۵۵ سانتيو پورې لوړ وو د آفريقا په لوېديځ د ساوانا په دښتو کې يې ژوند کاوه.

د د چاپېريال ساتنې د نړيوال اتحاديې (IUCN) د څېړنو له مخې اوس په هېڅ ژوبڼ او آن ټول طبيعت کې د دغه کرګدنو نمونې پاته شوې نه دي.

همداراز د د مرکزي او شمالي افريقا د سپينو کرګدنو د له منځه تللو خبر هم ورکړل شوی دی.

## دوه میلیونه او پینځه سوه زره کلن موجود

بَبر زمریان هغه ساکښان دي چې د دوه میلیونو او پینځه سوه کلونو په تېرېدو سره یې هېڅ بدلون نه دی کړی.



څېړونکو د زمریانو په یوه پخواني اسکلېټ باندې له څېړنې وروسته چې د چین په شمال ختیځ کې موندل شوی دی، وښوده چې چې د دوه میلیونو او پینځه سوه زره کلونو په تېرېدو سره بیا هم دغه ډول زمریان نه دي لوی شوي، او په بدن کې یې هېڅ بدلون نه دی راغلی.

څېړونکو پر دغه اسکلېټ باندې له څېړنې وروسته څرګنده کړه چې د موندل شوي زمري د کوپړۍ اندازه د ننیو زمریانو تر کوپړیو وړه ده چې اندازه یې یو جګوار کېږي.

د پړانګ له خوا د تمساح د ښکار کولو انځور



# د نرم تنانو یا مولوسکا ډله

که څه هم پلن چینجي یا نماتدونه د نوعې د شمېر له مخې تر بندپایانو وروسته د ژوندي‌سرو دویمه ډله کې راځي، که د نوعو راز-راز توب ته هم وګورو، دا ځای به نرم تنان ونیسي.

د نرم‌تنانو په غړیو کې د ژوند د لارو راز-رازوالی او د ژوند رنګارنګې بوختیاوې او شکلي توپیرونه ډېر لېدل کېږي،تر دې چې د دې ځانګې د ځانګیزې او ټیپیکې بېلګې په توګه یې د یوې نمونې لوستل او څېرنه ډېر ستونزمن کار دی.

## د نرم تنانو ځانګړتیاوې

نرم‌تنان د پروتوستومونو یوه بله ډله ده، چې ټاکلی بند-بندوالی نه لري. د دې ژوندي‌سرو بدن پر دوو اصلي برخو وېشل کېدای شي، یوه احشایي برخه چې په جوت او ټیپیک ډول د یوه دایمي احشایي پوټکي په وسیله پوښل شوې ده او بله د سر-پښو برخه ده چې د احشایي برخې د ګېډې په برخه کې ده. یاده دې وي چې نه‌بند-بندوالی (که څه هم د نرمتنانو په لومړنیو نوعو لکه نیوپلینا او کیتونونو کې لیدل کېږي) او د بدن وېش‌قابلیت پر پاس دوو برخو، لامل شوی دی چې ډېر ژوند پوهان پر دې ګروهمن وي چې نرمتنان د پلنو چینجیو ته ورته یوه نیکه څخه رابېل دي چې د هاضمې کانال پراخوالي یې یوه احشایي برخه رامنځته کړې ده.

سر په مخه کې دی او له پاتې سر-پښو برخې څخه توپیرېدای نه‌شي؛ خو تل پر حساسو برخو لکه ښکرونو یا تنتاکولونو او یا سترګو سمبال دي.

خوله په سر کې راغلې ده، داسې ژبه یې ده چې پر مخ یې د (کیتون او پروتین له جنسه ټینګ شوي) ټینګو شویو غاښونو پټه ډوله مجموعه د سور په لیکو (یانې سوهانونه یا رادولا) شته. د سر-پښو ټوله برخه په صدف کې ننوتلای شي او یوازې د اړتیا پر مهال راووځي.

د پوښتورګو او احشاء (احشایي برخې) پر مخ داسې پوټکی دی، چې یو څه د سر-پښو پر برخه هم غځېدلی دی او ان کله-کله یې څنډې یوه او بل ته رسېږي.

دا پوټکی کوټ (جبه) یا مانټل نومېږي او صدف ترشح کوي. د صدف وضعیت د نرمتنانو ډلبندۍ ښه بنسټ ګڼل کېږي، داسې چې صدف په یو شمېر کې بېخي ساده او مخروطي ډوله دی، په ځینو کې پېچلي او په نورو کې بیا دوه پَلې دي، څرنګه چې په ځینو کې شنلي او نښتي دي او یا بېخي له سره نشته. د کوټ او بدن ترمنځ د کوټیزې کندې په نامه فضا ده، چې د بدن د ډېریو مهمو غړو ځای دی. له هغو ډلې اوبسږي یا تنیدیومونه (د نرمتنانو ځانګړي اوبسږي) یادولای شو چې په دې کنده کې دي او شمېر یې تر پینځو جوړو (د صدفیانو په یوه ټوټه کې)، تر دې بېخي ډېر (د صدفیانو په ډېرو ټوټو کې) او په ډېریو نرمتنانو (لکه حلزونونو او لومړنیو دوه‌پله‌یانو کې) یوه جوړه دي. هر تنیدیوم داسې محور لري چې تارونه یا اوبسږې صفحې د هغو په هره برخه (لکه د وزر ولۍ/ریښې سینګار) کې دي او د شا یو اصلي رګ ناولې وینه د تصفیې لپاره هغه پلو ته راوړي او د شا یو اصلي رګ پاکه وینه یا اُکسیجن له هغه څخه زړه ته ورستنوي. د دې اوبسږیو د تارونو مخه یا صفحې پر باڼوګانو پټې دي، دا باڼوګان داسې سره اوډلي دي چې د هغو په دایمي ګوزارونو

سره، د پاکو اوبو یو جریان د وینې جریان د لوري پر خلاف رامنځته کېږي، د تارونو یا مجاورو صفحو ترمنځ د اوبو بهیر د ګېلډې له خوا شا پلو ته دی.

دا ډول جریانونه (متقابل جریانونه) یوازې او یوازې په نرمتنانو پورې اړه لري. تنیدیومونه د اوبو پر بهیر سربېره د خوړو د جریان په روانولو کې هم ونډه لري.

عمومي کنده کمېږي او د زړه چاپېر فضا (پریکارډ کندې) پورې رالنډېږي او د تناسلي غدو چاپېر فضاوې او دوې مجراوې یا سلومي لولې (د دغو ژوندي‌سرو بډوډې/پوښتورګې) دي – که څه هم په ځینو نرمتنانو – نیوپلینا- د شا دوې پراخې سلومي کندې لیدل کېږي او د عمومي کندې کمېدو ته په پام، له استثنایانو (ځینو سر-پښویانو) پرته د وینې ګرځېدو پرانیستی/خلاص سیسټم لري او په بدن کې یې له وینو ډکې فضاوې تر سترګو کېږي. زړه تر ډېره له یوه بطن او دوو دهلېزونو جوړ دی چې بطن ته لار لري. د اُکسیجن وینه له تنیدیومونو او پوټکي څخه دهلېزونو او له هغو څخه بطن او له بطنه اصلي سرو رګونو ته ځي.

هله بیا د دې سرو رګونو له لارې د لامبوزنو غړو په لوري له وینو یا هموسلو ډکو کندو کې مختنه ځي. د تور رګ وینه توررګونه تنیدیومونو خوا ته روانوي. په واقعیت کې وینه د ولاړو-اوبو سکلېټ یا هېدرو سټاټیک نقش لوبوي.

هضمي سیسټم جوړښت راز-راز جوړښت لري، خو په مشخص ډول له خولې پیلېږي د خولې کندو ته رسېږي چې د هغو په تل کې پر باڼوګانو پسوللې ژبه ده او د ادنټوفور Odontophore په نامه یو ساتونکي غضروف ورسره مل دی. بیا مری او تر ډېره یوه ګونځه خوله، معده (چې تر ډېره پر باڼوګانو پټه ده او هضمي غدې ورغلې دي)، کولمه، ښی کولمه او مجرج دي.

دفعي سیسټم له دوو سلومي لولو څخه جوړ دی چې پوښتورګي نومېږي او اضافي توکي له تر زړه چاپېرې کندې اخلي د پلې کندې ته یې ورتویوي. په ټېټو نوعو کې جنسي غده د زړه چاپېره کنده کې دي او جنسي خیري په هغه کنده کې تویوي، پوښتورګي جنسي خیري او سلولونه د پلې په کنده کې ورتشوي.

په تر ګردو ساده نرمتنانو کې عصبي سیسټم تر مرئ چاپېرې یوې عصبي کړئ (یا د مرئ چاپېره یو شمېر عصبي غوټو) او دوو اوږدو جوړه عصبي مزیو چې د ګېلډې مزی، پښه او د اړخونو مزي، غړیو ته عصب ورکوي؛ خو په ډېرو نرمتنانو کې عصبي چټلی د جلا غوټو په توګه متمرکزې شوې دي.

دې غوټو ته سري غوټې Cerebral Ganglia اړخیزې یا پلوري Pleural G، پلهٔ یې Pallial G، پښنی Pedal G او احشایي Visceral نومونه اخیستل کېږي.

د مثل تولید یې یوازې د جنسي نوعې دی، ډېر یې جلا جنسه هم دي (ځینې یو جنسه دي خو په دې ډله کې، څرنګه چې جنسي ناولتیاوې له ګډې غدې څخه په یوه مهال نه رامنځته کېږي، معمولاً له نورو سره القاح کوي). په ډېرو نرمتنانو کې د ژوند پړاو له قارچونو سره مل او ناسیده دی. لارو لومړی پړاو، لارو ګرځوونکي یا ترو کوفور او دویم پړاو لارو، ولیجه یې لارو Veliger څرخ ډوله یا پکه لرونکي دي چې یوه کړئ باڼوګان لري. کله-ناکله د لارو په پړاو کې انګلې دي (د یونیونیده کورنی Unionidae).

# په ښکتنۍ ډله کې ډلبندي

## د ښکت‌ګېډو یا ګاستروپودا Gasrtopoda ډله

د دې ډلې په غړو کې چې که پوټکی ولري، هغه معمولاً سره کلېچ (تاوراتاو/پېچلی) وي. د کلېچتوب Tortiin له کبله بدن خپل یووالی له لاسه ورکړی دی. ځینې یو جنسه یا هرمافرودېټ دي، دا ډله پر دریو ښکتنیو څانګو وېشل کېږي:

### مخته‌اوب‌سږیو یا پروزوبرانشیا *Prosobeanchia* ډله

تر ګردو ساده ښکت‌ګېدي دي، د دوی واړو ګډه وجه دا ده چې د پلې کنده یې د بدن په مخه کې بهر ته لاره لري او اوبسږي چې د دې کندې د ننه دي، د زړه مخته پراته دي. په لارو (او ښايي نیکه یا نیا) کې د پلې کنده د بدن شاته وي؛ خو په بلوغ کې په مخ یا د سر پر سر وي.

دا کلېچوالی ۱۸۰درجې دی او د ساعت د عقربې د حرکت پر مخالف لوري او په دوو پړاوونو کې پېښېږي: لومړني ډېر چټک او د لارو پوټکي له ښي اړخ څخه رابېلې یوې عضلې د انقباض په پایله کې چې د بدن په ساره پرته د ه، تر مخالف لوري (کیڼ اړخ) پورې غځېدلې ده، پېښېږي او دومه یې ږخه او د تمایز د راپیداکېدو په پایله کې رامنځته کېږي.

دا کلېچوالی ټول پاسني او د سر شاته غړي اغېزمنوي او د دوی د ځای پرځای کېدو ځای بدلېږي او ان د عصبي سیستم کلېچوالی د S په بڼه دی او د کیڼ اړخ ځینې غړي لکه دهلېز او پوښتورګی شنل کېږي او یا کوږت/ګرده‌سره له منځه ځي.

د اوبسږیو مخه کابو تل (له پوښ وره یا اپرکول) پوښ لري او دوه جنسه دي. د دې ښکت‌ډلې تر ټولو پېژندل‌شوې نمونه (پوټکي لرونکي) سمندري حلزونونه Sea-Snails دي.

### د شاته‌سږیو یا اپیستوبرانشیا *Opisthobranchia* ډله

له مخته‌اوبسږیو څخه رابېل شوي دي. که څه هم د کلېچوالي لږ یا کوږت له منځته تګ له امله په دویم ډول دوه اړخیزه قرینه لري،خو د (یوه اوبسږي وجود، یو دهلېز او یو پوښتورګی) ډېرو داخلي غړو نه جوړه توب په خپله له مخکنۍ ډلې څخه د هغو رابېلښت راښیي. ان په ځینو لومړنیو اوبسږیو کې له منځه تللي او دویمو اوبسږیو یې ځای نیولی دی. دا یو جنسه ژوندي‌سري یو ډېر شنل شوی داخلي پوټکی لري او یا یې نه لري. تر ګردو یاده نمونه یې بې پوټکي سمندري حلزونونه Sea-Slugs ده.

### د سږي‌لرونکو یا پولموناتا *Palmonta* ښکت‌ډله

سږي‌لرونکي هم له مخته‌اوبسږیو څخه رابېل شوي دي او د دې خبرې دلیل هم د ځینو غړو جره توب (د یوه دهلېزاو یوه پوښتورګي شتون) او هم د کلېچوالي شتون دی چې د ځینو غړو په اړه (په تېره عصبي سیستم د عصبي غوټو او د مری چاپېر غوټو غونډېوالي ترمنځ د اړیکو لنډېدو له کبله) نېردې له لاسه وتلې او یو ډول نږدېوالی/یووالی پکې لیدل کېږي. د

دې ښکت ډلې غړي اوبښري نه لري. خو د هغوی د پَلمې کنده يو ډول عروقي/رګ وال دېوال لري او د سږي هومره دنده سرته رسوي.

د دې ژوندي سرو پوټکی پوښ نه لري. د وچې اوسېدونکي (ځينې په دويم ډول اوبو ته ورستانه شوي دي) او يو جنسه دي. تر واړو يادې نمونې يې د وچې او خوږو اوبو (پوټکي لرونکي) حلزونونه Land and aquayic-snails او د وچې (لغړ/بې پوټکي) حلزونونه Land-Slugs دي.

- ښکته تېرو (پله سي پودا/Pelecypoda ډله يا دوه پله يان (بايوالويا Bivalvia)
- د ښکت سرو يا سېفالوپوداCephalopoda
- د نوتيلوسونو nautiloidea ښکت ډله
- د آمونېټونو Ammonoidea ښکت ډله
- د دوه اوبښريو Dibranchia ښکت ډله
- ښکت بېړۍ ناويا ډله (سکافوپوډا Scaphopoda)
- يو ټوکه صدفو ډله (مونوپلاکوفورا Monoplacophora)
- د بې صدفو ډله (اپلاکوفورا Aplacophora)
- ډېر ټوکه صدفو ډله (پولي پلاکوفورا Polyplacophora)

## د ښکت ګېډو ډله

د شکت ګېډو ډله د نرمتنانو تر ګردو متنوع ډله ده او ځينې تر ټولو لومړني نرمتنان (ځينې د اوبو اوسېدونکي ښکت ګېډي) او ځينې تر واړو بشپړ (ځينې د وچې اوسېدونکي ښکت ګېډي) پکې راځي. د دې ژند سرو صدف يو ټوک او معمولاً مخروطي ډوله دی، چې احشايي برخه يې چاپېره کړې ده. عضلاتي سر-پښې معمولاً دوه اړخيز نږدېوالی لري؛ خو دا نږدېوالی د احشايي برخې د کلېچوالي له کبله، په احشايي برخه کې ليدل کېږي.

ښکت ګېډي د پوټکي (پلمې) او يا د پلمې کندې له لارې چې د سږي دنده ترسره کوي، ساه‌خلي. جلاجنسه يا يو يو جنسه (هرمافرودېټ) دي او په يو شمېر پکه والو کې مسقيم ژوند دی.

## باغي حلزون

فعال موجود له ظاهري اړخه يو پښې-سر برخه لري چې په مخنۍ برخه کې يې ده او دوې جوړې ښکرونه (لومړۍ جوړه حسي او دومه سترګې) له نورو برخو رابېل دي. يو چاک ډوله سوری لري او د پښې-سر تر مخنۍ برخه لاندې دی او جوت نه ځرګندېږي. غوښنه پښې چې دوه اړخيز نږدېوالی لري له سر سره ټاکلې پوله/بريد نه لري.احشايي کوټ شوې برخه له اعماء او کلېچ شوې احشاء څخه رغېدلې، يوې مارپېچ ټوټې صدف چاپېر کړې ده. د احشايي کوټ پوښونکې پله په لاندينۍ څنډه کې لږ پرېږه ده (بې له يوې برخې چې د سږي سوری يا نوموستوم Pneumostume نومېږي، چې د بدن په ښۍ برخه کې ده) او دا برخه د پَلمې پرېږه برخه نومېږي. په نوموستوم کې پله د بدن له دېوال سره نښتې نه ده او د پلمې کنده له رګن(عروقي) او هوا ډک دېوالګي سره، د بدن له دېوالګي څخه پله لېرې شوې ده.

دا کنده ژوندي‌سري ته د سږي نقش لوبوي، د کنډې دېواله رګونه د هوا په مرسته اُکسیجن اخلي. اُکسیجن زړه ته ځي او سره رګونه يې د بدن نورو برخو ته لېږدوي. توره وينه هم زړه ته رادرومي او د جريان د بدلېدو لپاره له زړه څخه کنډې ته ورځي.

تناسلي سورى کوچنى دى او د سترګې ښکر ستنې ته نږدې په ښي اړخ کې دى. يوازې د ميتيازو او سورى او مخرج کنډې ته ورخلاصېږي او داسې پراته دي، چې مخرج د سږي سوري لږ شاته او ادراري سورى تر مخرجه لږ پاس دى.

په دې ژوندي‌سري کې يوازې د سږي سورى، اداري سوري او مخرج له بهره نه ښکاري.

## پوټکى يا صدف

په ډېرو ښکت‌ګېډو کې پوټکى پېچلى جوړښت لري. هغه د يوه تش مخروط غونډې دى، په مرکزي برخه کې يې د کوچنى شمزۍ يا کلوملا Columella په نامه يو د ننه تش محور شته چې تر ډېره د يوه لاندينې سوري له لارې بهر ته لاره لري. د دې پوټکي پر ننني فضا ورو-ورو ځړېدلي نوک يا څوکې Apex ورزياتېږي او ډېره فضا يې د لاندينې پاى خوا (حجرې يا خونګى[1] Chamber) له څلورمې يوې برخې نيولې ده چې بهر ته د يوې خولې يا دريځې څخه لاره لري. سر-پښې برخه يې د يوې شمزي عضلي په وسيله له کوچنى شمزۍ يا کلوما سره نښتى دى، د آرام او خطر په شېبو کې په صدف کې ننوځي. که پوټکى داسې په لاس کې ونيسو چې څوکه يې پورته او د حجرې خوله زموږ په لوري وي، که د حجرې خوله د کوچنى شمزۍ په ښي اړخ کې وي، پوټکى ښي خوا ته او که په کيڼ لوري کې وي، کيڼې خوا ته تاوېږي.

کلېچ شوې احشايي برخه، له يوه پر بانوګانو لږ او سم پوښلي اپيتليوم (په بې پوټکي ډولونو کې، ګردەسره بانه‌لرونکو) څخه رغېدلې پَلې پوښلى چې پر يو حجروي عدو ښه موږ دى. د دې غدې ترشحات د پلې پر مخ ورتوپېږي. د پلې خلاصه مورګه/څنډه پر رنګونو پټه ده، د موکوسي يا مخاطي او آهکي غدې لري. د (جېې) د دې پوښ اصلي دنده د صدف ترشح ده چې په ډېرو ښکت‌ګېډو کې ليدل کېږي. پوتکى له ګڼو لايو څخه جوړ شوى چې د هغو تر ټولو د ننه برخه يې (پله)، پاتې غلافونه د جبې له ګرېوانه جوړ شوي دي.

دا غلافونه له بهره د ننه خوا ته داسې پراته دي: د پريوستراکم Periostracum غلاف چې د کونکيولين Conchiolin په نامه کيتيني ته ورته ښکر مادې له جنسه دى، د پرېسماتيک Prismatic غلاف چې په کونکينولين کې سولول شوو ګڼو آهکي منشورونو څخه جوړ شوى دى، د ملغلرې مور غلاف Mother of peerl or nacre يا نکر چې يې جنس له پرله پسې آهکو او کوکيولين څخه رغېدلى او چې د لمر رڼا ته مخامخ شي يوه جلا ځلا لري. تر ټولو ننني غلاف په خپله پله ده.

---

[1] – وړه خونه/کوټه

## هضمي کانال او اړوند جوړښتنونه

له خولې راپيلېږي، چې د سوري په بڼه د بدن په مخه کېد د زيزي په وروستی برخه کې د خولې کندې ته لار لري. د خولې کندې په تالو کې د فک په نامه يوه کلکه ميله او په تله کې يې ژبه ده چې په پاسنی خوا کې يې کوچنی سوهان/سوان يا رادولا موندل کېږي. کوچني سوهانونه له د (له کيتين او پروټين څخه راټينګ شوي جنسه) کوچنيو غاښونو له عرضي کتاره جوړ دي او يوې تړلې سوهاني کڅوړې ته لار لري. د دې غاښونو حرکت له پاسنی ژامې خواړه ټوټې کوي. د خولې په کنده پسې نری مری ده چې پر يوه اوږده او ستره برخه يانې کونځه پای ته رسېږي. د کونځې خولې سره مخامخ د زياړو/لاړو دوې غدې ليدل کېږي چې ترشحات يې د مری مخنی برخې ته ورځي. دا غدې موکوسي ترشح کوي چې کابو له اوبو ډکه ده او زيات ډوله انزايم لري. حلقوم همداراز د هضم غدو ترشحات راټولوي. دا ترشحات شاته ګرځي او سيتاز غوندې يو ډول قهوه يي رنګه انزايم پکې دي چې سلولوز هضموي. د دې انزايمو د ترشح پر ځای تر اوسه څېړنې کېږي او دا چې آيا له هضمي غدو څخه ترشح کېږي او يا که د حلقوم شا اوخوا ترشح شويو انزايمو يوه برخه ده، خبره لا ګونګه ده.

تر حلقوم وروسته معده، بيا کلېچ کولمې دي چې د پلې په کنده کې نوموستوم ته نږدې پر مخرج پای ته رسېږي. د هضمي سيستم دا وضعيت هغه ژوندي سره ته لويه ګټه ده چې ځان په پوټکي کې ساتي چې يوازې له يوه سوري څخه بهر ته لاره لري. په ډېرو ښکت ګېډو کې د کولمې شااوخوا يوه ستره قهوه يي رنګه هضمي غده ده چې هغه له برخې-برخې شوو لولو له يوې ډلې څخه جوړه ده چې د حجرو په يوه وړې ډوله مجموعه پای ته رسېږي. په نظر کې نيول شوې حجرې درې ډلې دي: يوه ډله د انزايمو ځانګړې هضمي حجروي بهرنی ترشح کوي. بله دله د مايع خوړو په جذبولو سره د ننه حجروي هضم کوي او بله وروستی ډله کلسيم ترشح کوي. ټول هضمي سيستم په هموسل کې ور غوپه شوی دی.

## د وينې جريان سيستم

ښکت ګېډو په خپل بشپړاند بهير کې يو دهلېز له لاسه ورکړی؛ زړه يې يو دهلېز او يو بطن لري. د تورړګونو اکسيجن لرونکې وينه (د سږو يا پله يي کندو له تورړګونو څخه) دهلېز ته راځي، له دهلېزه بطن او له بطنه دوو اصلي ايورتونو ته بهېږي: يو ايورت مخته تللی چې لومړی سر او بيا د بدن شاته په هغو کې پښو ته وينه رسوي او بل ايورت شاته تللی او د اعماء او احشا ډله خړوبوي. وېښته رګ نشته. له بلې خوا هموسل، د وينې اصلي تورړګونه د تصفيې لپاره د پلې کندې ته لېږدوي. تنفسي رنګه کڅوړه هموسيانين نومېږي او نيلي وينه پکې وي. د زړه چاپېر يوه پرده هم پکې ده چې له سلومه جوړه ده.

## د دفعې سيستم

يوازې يو پوښتورګی دی چې د يوه سوري له لارې د زړه‌چاپېرې کندې ته لار لري.دفعي ماده د وچې د ژوند په پړتله اوريک اسيده او لږ اوبه دي.

## د مثل تولید سیستم

باغي حلزون نر-ښځی یا یو جنسه یا هرمافرودېټ ژوندي‌سري دي، یوه نر-ښځې غده Bvotestis لري، یا ګډ دي. دا غده په یوه او بله پسې نارینه او ښځینه سلولونه رامنځته کولای شي او د ګډې مجرا په نامه مجرا له لارې پر آلبومن غده پای ته رسېږي. د دې غدې په ځای کې مجرا لږ ارته کېږي، د لقاح کوټه‌ګی جوړوي، چې د سپرم اخیستونکې کڅوړې یاّ سپرماتکا په نامه کښته‌کڅوړې ته لار لري. دا ژوندی سری له خپل یا د خپل همنوع له سپرمه کاراخیستای شي او خپلې هګۍ امېندوارولای شي. د تناسلي سیستم اړوندې برخې زیاتې دي. د سپرم پرې کوونکې یا سپرم مېډکټ لاره د یوځای کېدو له شېبې پرته، نوره تل له هګۍ غوځوونکې یا اُویدکټ لارې سره نښلېدلې ده. د متقابل یوځای کېدو په شېبه کې چې د مثل د تولید یا بلاربېدو معمولي بڼه ده، د یوه فرد سپرمونه د سپرمي لارې څخه د سپرم لرونکې کڅوړې یا سپرماتوفور ته چې د تناسلي سیستم په نورو برخو کې د لکۍ (تاژک) یا فلاجېل اواپې فالوس Epiphallus په نامه جوړېږي، ورننوځي. جنسي غړی یا پېنېس هم په سپرم ونج (د سپرموادل-بدلولو) کې نقش لري. تر یوځای کېدو وروسته ځینې سپرمونه د یوځای کېدو کڅوړې Bursa of Copulatarix ته ورځي او پاتې یې سپرماتکا ته ننوځي. تر جوړه کېدو وروسته د یوځای کېدو کڅوړه به سپرماتوفور او سرباري (اضافي) سپرمونه هضم کړي. ګوت ډوله غدې د تناسلي سیستم د نورو اړوندو برخو او د موکوس ترشح کوونکې دي. د ډارټ Dart په نامه یوه کڅوړه یا د یوځای کېدو د سیخونو لرونکې کڅوړه  کې آهکلې او منشور ډوله سیخونه شته چې د یوځای کېدو پر مهال د مثل تولید لپاره د مقابل فرد د بدن ننه ته ور غورځي.

## عصبي سیستم

عصبي غوټې داسې سره نښتې چې جلا-جلا یې پېژندل ستونزمن دي. دوې سرنی غوټې له یوې پښنۍ غوټې سره لاندې او دوې اړخنۍ او یوه منځ‌ګېډې غوټه سره نښلي. د منځ-ګېډې غوټې په دوو خواوو کې، دوې اړخنۍ (احشایي غوټې) شته. پر سر باندې زیات شمېر غوټې پیداکېږي، چې له سرنۍ غوټې سره اړیکه لري. ټول بدن د لامسې او نورو حسونو سره یو رنګ حساس دي، خو په واړو حسي غړون کې دوه حسي ښکرونه او د کېمیایي حس ځانګړي موندونکي، دوه د سترګو ښکرونه او د دوو سادو سترګو لرونکي چې د محدود لید لپاره مناسب دي او د تعادل حس دوه اړوند غړي یا اتوسېسټونه Otocysts دي، چې د پښنیو غدو Pedal Glands لاندې پرتې یادولای شو.

## حرکت او د مثل تولید ډول

په مرطوبه هوا کې د شپې مهالې پر سینه ښوېږي. که ژوندي‌سری پر یوه ښیښه یې پانه وخوځېږي، د حرکات لیکه یې د مخته رواني څپې غوندې لیدل کېږي. دا لیکه د پښې په نیمه مخکې برخه کې ده او مجرا یې تر خولې لاندې بهر ته لاره مومي. په ژمي کې د پښنیو غدو د ترشحاتو په مرسته، د اېپي‌فراګم Epiphragm په نامه زرکاڼی (د زر معلوموولو کاڼی) پاڼه یا مخ پرده رامنځته کېږي، چې د صدف حجرې خوله بندوي. دا پاڼه یا پرده لومړی کلسیمي سلفېټ بیا کلسیمي کاربونېټ وي اوکلکېږي، که څه هم د ساګازونو د بدلولو لپاره سوري لري، د بدن د اوبو د لاسه ورکولو او د ژوندي سري د پایښت لامل کېږي. سپرماتوفور چې پر آله پاس غدې برخه کې او اپي فالوس جوړېږي او سپرم لري،

مقابل فرد ته لېږدېږي. سپرمونه د سپرم اخیستونکې کڅوړې یا سپرماتکا ته ورننوځي. تر بلاربېدو وروسته په سوریو کې یا پر ځمکه یو بوغبند (غلاف) اچول کېږي، څو اوني وروسته له هګۍ څخه ځوان حلزونونه سرونه راباسي.

## د نیګارا د ځړوبي پر سر په طناب باندې سړی تېرېږي

نېک والندا د نیګارا پر ځړوبي باندې د ۲۰۰ متره اوږده طناب چې دوه انچه پلن اچول شوی و تېر شو او ویې کولای شول چې د لومړي کس په نامه چې دغه چاره یې ترسره کړې ده خپل نوم ثبت کړي، کله چې له دغه ځړوبي څخه تېر شو نو د سختو دوړو او ټُندو بادونو









شتون یې په دغه لاره کې د ځان پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ په ګوته کړ.

د نیګارا ځړوبی له دوو لویو او یوه کوچني ځړوبي څخه جوړ شوی دی چې دوه یې لوی او بل یې کوچنی دی خو والندا وکولای شول چې تر ټولو پر لوی ځړوبي باندې په ۲۵ دقیقو کې تېر شي. دا ځړوبي چې د نیګارا پر راده باندې پراته دي په امریکا او کاناډا کې د نیویارک ایالت په پوله د نیاګارا فالز او انتاریو د ښارونو تر منځ پروت دی. لوی ځړوبی یې د کاناډایي یا د آس د نعل په نامه پېژندل شوی دی او کوچنی ځړوبی یې بیا د امریکایي ځړوبي په نامه یادېږي.

د نیګارا ځړوبی د لوړوالي له کبله نه لا چې د پلنوالي له کبله مشهور دی. په منځني ډول په هره دقیقه کې ۱۱۰ زره متره مکعبه اوبه تویېږي. والندا چې له دې ځړوبي څخه تېر شو د کاناډا ځمکې ته ننوت هلته د سیمې چارواکو د تګلیک یا تېرېدلو سند ترې وغوښت، خو له ده سره نه ؤ، خو کله چې د سیمې مامور ترې د کاناډا خاورې ته د ننوتلو دلیل وپوښت، ده په ځواب کې ورته وویل: زما موخه د ټولې نړۍ وګړو ته د هیلو ښښل وو.

## په نایجیریا کې د ادرار یا میتیازو په وسیله برق تولیدېږي

که څه هم د نایجیریا اقتصاد د ودې په حال کې دی خو تر نیمو زیات وګړي يې برېښنا ته لاسرسی نه لري او د نورو برېښنا يې هم له ډېرو پرې کېدلو سره مخ ده، د دورو، آیناآدبولا، آکیندله آبیولا او ۱۴ کلنې فالکه اولوواتوین او ۱۵ کلن بلو انیولای دغه لاسته راوړنه د نایجیریا په لاګوس کې د افریقا د چارو جوړوونکي Maker Faire Africa نندارتون کې وړاندې اکړه، په دې ۲ نوښت کې په یوه الکترولیټي حجره کې ادرار اچول کېږي چې هغه يې بیا په نایتروجن، اوبو او هایدروجنونو باندې تجزیه کوي. هایدروجن د اوبو په یوه ډبه کې د تصفیې له پاره اچول کېږي او وروسته د غاز یوه سلنډر ته لېږل کېږي.



تر هغه وروسته دغه ګاز د سلنډر له منځه د مایع بوراکس یوه سلنډر ته ورځي چې له هایدروجن څخه د رطوبت د له منځه وړلو له پاره کار اخیستل کېږي. په پای کې دغه تصفیه شوی غاز جنراتور ته لطېرل کېږي. د جوړوونکو په وینا یو لېتر میتیآزې شپږ ۶ ساعته برېښنا تولیدولی شي. که څه هم دغه سیسټم یو اړخیزې ډېرې خوندي لارې لري، خو د هغو د پراخ خرڅلاو له پاره لاپرمختللو پلانونو ته اړتیا ده.

## کوپر د نړۍ تر ټولو د لوړې ونې خاوند سپی

«کوپر» د (لوړې ونې سپي) تر عنوان لاندې له خپل پخواني سیال څخه یوازې د دوو سانتي مترو په شا او خوا کې لوړ دی. هیله يې داده چې د خپلو لوړو پښو د لرلو له کبله د ریکارډ خاوند شي.



د دغه پینځه کلن سپي خاوند وویل: د نړۍ وال ګینس د ریکارډونو د ثبت مسؤلینو د کوپر ونه کچ کړله چې

کېدای شي په دې نامه: د نړۍ تر ټولو د لوړې ونې د سپي سرلیک د (اېلي نووې) یوې سپې چې ۹۰ سانتي متره لوړه ونه لري وګاټه) ثبت کړي

## فضا ته د پیغام مخابره کول

که څه هم دا یو عادي وخت ښکاري خو اوس د(SETI) د سپوږمکۍ د موندلو لپاره ډېره پراخې هڅې روانې دي. او دا یوه علمي څانګه ګرځېدلې ده، دغه څانګه له نجوم، فیزیک، کېمیا، معلوماتي ټېکنالوژۍ (IT) او چاپېریال ساتنې څخه جوړه شوې ده، پخوا به د (SETI) د څانګې څېړونکو د مصنوعي سېګنالونو ته چې له فضا څخه راتلل د اورېدلو لپاره له راډیویي تلسکوپونو کار اخیست. همداراز د لېږد د لارو د لټون په وخت کې یې لېږ شمېر لیزر لرونکي هم دي.

هر پیغام باید په ښه ډول راپرانیستل شي، پخوانیو انسانانو هم پخوا فضا ته پیغامونه لېږلي دي خو تر اوسه په دې هڅه کې دي چې په فضا کې خواره سېګنالونه ومومي. په ریښتیا کله مو فکر کړی دی داسې هم کېدای شي چې د دې مقالې د لوستلو په لړ کې څېړونکی ویجر یو داسې پیغام درته راولېږي چې له ژوندیو موجوداتو او فضایي سپوږمکیو سره د چلند یادون پکې شوی وي؟ آیا دداسې خبر په اورېدلو سره خوشحال شوي یاست.

## په افریقا کې د غټ تنو او پردیو موجوداتو هدیره

د مرکزي افریقا د رواندا د کیګالي ښارته نږدې په یوه ځنګله کې د انسان پېژندونکو یوې ډلې یوه پټه او له رازه ډکه هدیره ومونده، د دغه موجوداتو پاتې شوني له انسانانو سره بېخي لږ ورته والی لري. د څېړونکو د ډلې مشر په دې باور دی چې کېدای شي دا د کومې بلې سیارې موجودات وي چې په کومه پېښه کې په ناڅاپي ډول مړه شوي دي.



## یوه عجیبه او غریبه فتوای

شېخ علي ربیعي په یوه فتوای کې ویلي دي: "ټولو ښځینه مامورینو ته واجب او ضروري ده چې خپل مدېر ته درې ځله شیدې ورکړي،تر څو یې د مور حکم خپل کړي، او په دې توګه وکولای شي د هغوی تر څنګ کار وکړي."

دا حکم نه یوازې دا چې مستند دلیل ورسره نشته اویوازې او یوازې د مفتي خپله پوهه، فکر او علاقه ده، لاچې که له هره اړخه ورته وکتل شي د مخاطب له ملنډو او خندا پرته به بله هېڅ معنی او پایله ونه لري.



د دغه لوی شېخ موخه به کېدای دا وه چې غوښتل یې په خپل د ې کار سره مسلمانان او نامسلمانان هېښ پېښ او په تعجب کې واچوي تر څو د ټولو پام ځانته ورواړوي او په دې توګه د اسلامي نړۍ ترټولو مشهور مفتي وي چې یوه عجیبه او غریبه فتوای یې صادره کړې ده.

## مشهور پیری نیوونکی

فرارو یو مشهور پیری نیوونکی (جن ګیر) دی چې د (هرمس ورور Hermes brohter) په نامه مشهور دی، له شلو کلونو راهیسي په دې چارو بوخت دی او له دې لارې د ژوند اړتیاوې پوره کوي.

دی ډېر ننندارچیان لري چې ډلې ډلې په لیکو کې ورته ولاړ وي. لویېس روبایو د فرانسې د خبري آژانس عکاس له کلمبیا څخه د هرمس ورور د پیري نیونې د خرافي مراسمو انځورونه راټول کړي دي.








 

ځينې شيان او کارونه چې سرچينه يې معلومه نه وي او له بېلابېلو وسايلو څخه په کار اخيستلو سره ترسره کېږي، چې موخه يې د خلکو غافلول دي،خارق العاده ګڼل کېږي چارې ګڼل کېږي. کله کله به مو اورېدلي وي چې يو شمېر وګړي د غير شرعي رياضتونو او د نامشروع بدني او فېزيکي ستونزو او کړاوونو په ګاللو سره داسې چارې سرته ورسوي چې نور ورته ګوته په غاښ پاتې شي. داسې وګړي مرتاض بلل کېږي. له لاس لګولو پرته د شيانو خوځول، يوازې هغوی ته په کتلو سره ځينې چارې ترسره کوي، د دې چارو په کولو سره غواړي چې خپل جيبونه ډک کړي يا د عامو خلکو په منځ کې ځان مشهور کړي. اسلام انسانان له دې کارو څخه منع کړي دي او د دوی سطحه يې ډېره ټيټه ښوودلې ده، چې دا د الله ج ولیانو له کرامت او د الله ج د پيغمبرانو له معجزو سره ډېر په ټکر کې دي. د لوستونکو په ذهنونو کې به داپوښتنه هرومرو را ولاړېږي چې هغه کارونه چې مرتاضين يې کوي له معجزو سره څه توپير لري؟ يوه عالم ورته داسې ځواب ورکړی دی:

   

د دې پوښتنې تر ځوابولو د مخه بايد کوډې يا سحر په لنډه او پراخه ډول سره وپېژنو. خو دا چې څه مهال رامنځته شوی دی دقيقه نېټه ورته ټاکلی نشو، خو دومره ويلای شو چې: سحر په اصل کې هر هغه کار يا شی چې سرچينه يې ناځرګنده وي، له بېلابېلو وسيلو څخه په کار اخيستلو سره ترسره کېږي، او د خلکو د غافلولو او غولول لپاره ترسره کېږي چې په ټوله کې خارق العاده کارونه دي.

کله کله له دغه چارو په ګټې اخيستلو سره ډېرې قوي او درنې مسئلې په عوامو کې خوروي چې ريښتيا نه وي. او کله کله بيا له چل او ګوتې يا په اصطلاح چشم بندی څخه

کار اخلي. په دې توګه  ليدونکي په دې شيانو باندې بوختوي، ورپسې په ډېرې چټکۍ او مهارت سره ځينې شيان ځای پر ځای او وَرَکوي (ورك کوي)، چې د ليدونکو دغه ځای پر ځای کولو او وَرَکولو ته هېڅکله هم پام نشي. بلکه هغه له عادت څخه ډېره لوړه او خارق العاده چاره ګڼي.

دوی کله کله د شيانو د ناپېژندل شويو فزيکي او کېمياوي خواصو  يا د هغو اړوندو مسلو لکه له بېلابېلو زاويوڅخه د نور د ځلېدلو له څرنګوالي څخه کار اخلي. داسې چې ليدونکي د هغو له رازونو نا خبره وي او هغه خارق العاده چارې ګڼي.

لنډه دا چې دوی له ارواګانو د اړيکو له لارې او د شيطانانو په مرسته دغه خارق العاده چارې ترسره کوي. او دا هر څه په ټوله کې د سحر د کليمې معنی او مفهوم راښيي.

نو د مرتاضانو دغه چارې چې په غالب ګومان د درنو تمرينونو او د جسمي او وروحي ځواکونو په تمتيا او تمرکز سره ترسره کوي د سحر يو ډول ګڼلی شو. که څه هم کله کله دا چارې د سحر په وړاندې خارق العاده کوي. په هر صورت کېدای شي ځينې خلك دا چارې ترسره کړي، خو مهمه داده چې د معجزو، کوډو، او د مرتاضانو خارق عادتونه هم په پام کې ونيسو، تر څو يې د نبيانو عليهم السلام له معجزو سره توپير ښه په ډاګه شي.

دلته د ځينو دغو توپيرونو ته ورګورو:

معجزې الهي قدرت دی، په داسې حال کې چې ساحرانو او متاضانوسحر او خارق عادتونه بشري ځواکونه دي. نو معجزې ډېرې لوېې وي او محدودېږي نه، خو ساحرانو او مرتاضانو سحر اوخارق عادتونه محدود دي. په بله وينا دا خلك يوازې هغه څه ترسره کوي چې دوی تمرين پرې کړی وي، او تر سره کولو ته يې تياری نيولی وي، خو که د هر کار خبره ورته وشي نو بيا يې نه شي کولای. او تر اوسه پورې يوه کوډګر او يوه مرتاضې هم نه دي ويلي چې ووايي: هر څه چې تاسو يې غواړئ زه ورته چمتو يم، چې ويې کړم، ځکه چې يو يې په يوه ځانګړې او خپله ځانګه کې تمرين کړی وي او پرې پوهېږي. که کوم زده کوونکی يې دا تمرينونه ښه زده نه کړي نو کېدای شي په هغو ننداړو کې چې د خلکو په مخ کې جوړېږي ښايي ترسره نه شي کړای او رسوا شي.

- معجزې چې د الله ج له لوري راځي، هغه ځانګړې زده کړې او روزنې ته اړتيا نه لري، الهي معجزې هر کله او بې له کوم تمرينه ترسره کېدلای شي، په داسې حال کې چې خارق عادتونه هغه بشري چارې دي چې دوخت په تېرېدلو سره ورو ورو زده کېږي او په سم لاسي او ناڅاپي ډول نشي ترسره کېدلای.

د فرعون او موسی ع په کيسه کې هم دې خبرې ته اشاره شوې  ده، چې فرعون کوډګر تورنوي چې موسی ستاسو مشر دی او ده تاسو ته د کوډو رازونه درښوولي دي، نو هغه ستاسو مشر دی چې تاسو ته يې کوډې درښودلې دي.

- د الهي معجزو او بشري خارقو عادتو د پېژندلو بل ډول: د دغو دواړو راوړونکو د حال پرتله کول دي، د معجزو راوړونکي د الله ج له لوري د وګړو په لارښوونه باندې ګومارل شوي دي، نو ځکه خو ورسره متناسب صفتونه لري، په داسې حال کې چې ساحران، کاهنان او مرتاضان نه د وګړو په لارښوونه باندې ګومارل شوي دي، او نه دې موخو ته پام کوي، د دوی موخه په ټوله کې له دې لاندې چارو څخه يوه ده:

د ساده ګانو غولول.

د عامو وګړو په منځ کې د شهرت موندل.

د خلکو د بوختیاوو له لارې د مادیاتو تر لاسه کول.

کله چې دا دواړې ډلې (پیغمبران او ساحران یا د دوی په شان نور) د رښتیا میدان ته راځي، نو ساحران د اوږدې مودې لپاره خپل منویات او موخې نشي پټولای، لکه څرنګه چې د فرعون ساحرانو میدان ته له ننوتلو مخکې له ده څخه د لوی اجر او عوض غوښتنه وکړه، او ده هم ورسره د لویې بدلې وعده وکړه.

موسی ع وویل چې زه د دې (بلنې) لپاره له تاسو هېڅ بدله نه غواړم. دا تعبیر د ځو پیغمبرانو په اړه د قرانکریم په څو آیتونو کې راغلی دی.

همداسې چې ګورو ساحران د ظالم او تیري کوونکي فرعون په خذمت کې دي، نو دا د معجزې او سحر د پېژندلو لپاره بسنه کوي.

یوه خبره داسې هم ده چې که انسانان هر څومره ډېر پټ مهارتونه ولري بیا یې هم له عملونو څخه رښتینی او اصلي نیت په ډاګه کېږي.

که موږ د داسې خلکو د ژوند مخینه ولولو، د دوی د خارقو عادتونو څخه د ګټې اخیستلو څرنګوالي ته پام وکړو، او همداسې یې عملونه او اخلاق هم تر سترګو تېر کړو، نو که پاس خبرې او توپیرونه په پام کې ونیسو د سحر او معجزو ترمنځ په بېلولو کې به راسره ښه مرسته وکړي.

## د اېران شیطان لمانځونکي

د (X) نښه د شیطان لمانځونکو نښه ده چې اوسمهال یې په اېران کې ډېر پرمختګ کړی او هرې خوا ته خواره شوي دي. دا نښه چې د موټرونو د عقب په ښیښه د بوی پاکوونکي په پلمه راځوړند وي.




له آسماني دینونو مخکې او یا هم تر هغه وروسته خلکو فکر کاوه چې پېریان ډېر هوښیار موجودات دي. چې دا ډله خلك به کوډګر، کاهنان او مذهبي روحانیون وو.

دا چارې ډېرې په هند، چین، یونان، اېران، روم، مصر، مایان او نورو... کې په ډاګه ښکارېږي، ډېر دغه خدایان او پخواني خدایان په اصل کې شیطانان وو. د ایشتر، ناګا، مردوك او نور تمدنونه هم وو چې د شیطانانو لمانځنه به یې کوله د هغو له ډلې یو تمدن د پخواني مصر تمدن دی. له مصر څخه د یهودانو د لوی هجرت پر مهال دوی د حضرت موسی ع په دین کې د " کابالا " په نامه یوه کس دغه کفري او کوډګر دودونه ورو ورو په خپل نوي دین کې خواره کړل. او د وخت په تېرېدو سره یې په یهودیت کې ډېر تحریف رامنځته کړ.

ورو ورو دغه لړۍ په پټه توګه اوږده شوه او د فراماسونري، ایلومیناتي، د روم لوبغالي او نورو ... سازمانونو او بنسټونو له لارې پر نړۍ منګولې راچاپېرې کړلې.

## د مصر تمدن

د بشري تمدنونو په لړ کې د مصر تمدن ډېر څرګند او سمبولیک تمدن دي. له همدې کبله خو فراماسونري د پخوانیو مصریانو پوروړی ښکاري.

له دې ښېو څخه په لرغوني مصر کې د دوې متقاطع کرښې چې د (X) توري ته ورته دي چې د مصریانو په شیطاني زده کړو کې د خضوع، خاورینتوب، بنده ګی، د شیطان د اطاعت او لمانځنې او د ده د را څرګندېدلو ښېه ده.



د لرغوني مصر کاهنانو به تل د احترام د پر ځای کولو پرمهال خپل لاسونه د ضرب په شکل له خپلې سینې سره جوخت نیول. او یابه یې د مصر د پخوانیو پاچاهانو (فرعونانو) د مجسمو په مخکې په همدې شکل لاسونه نیول. چې د شیطان د شتون او د ده د عبادت او بنده ګی په معنی وو.



**Jacob bomeh (ژاکوب بومیه)**

**د x په شان د لاس نیول ته یې پام وکړئ**

دا ښېې بیا د کابالا (د کوډو او پیري نیونې شفاهي دودونه) د نورو شیطاني زده کړو سره له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلې. تر دې پورې چې په ۱۶۰۰ زیږدیز کال کې د Jacob bomeh په نامه یوه آلماني کابالیسټ او کیمیاګر د بیاځل له پاره په اروپا کې دود کړل.

بومه چې ځان کاتولیکی کشیش باله!! او په اصل کې د آنوسي یهودانو څخه و، ده په خپله یوه عجیبه وینا کې په ډاګه کړه: ما په لوښي کې پر یوه مفرغ (هغه الیاژ چې د میسو او قلعي له یوځای کېدو جوړېږي) باندې د لمر د رڼا د لګېدلو پر مهال یو ډېر راښکونکی حقیقت وموند چې د خدای او بشر او ښېګڼې او بدۍ ترمنځ اړیکه راښیي. هو کله چې د لمر رڼا په لوښي کې پر فلز

باندې لګېدله نو X ته ورته توری يې راجوړ کړ. بومه دغه پېښه د شيطان پر مخ باندې د مادي دنيا د وره پرانيستل وګڼل.

تر بومه وروسته دا نښه د صهيونېستانو، کابالېستانو، فراماسونانو او شيطان پرستانو تر منځ د تر ډېره وخته پورې ديوه پټ راز په توګه کارېدله. په دې وروستيو کلونو کې تر بېلابېلو نومونو لاندې په ښکاره په فېلمونو، کمپيوټري لوبو او نورو کې کارول کېږي. چې دا نښه د ابليس د شتون، راڅرګندېدلو او د ده د بنده ګۍ په معنی ده. د X نښه چې کله رابربنډه شوه دا نړۍ ته د شيطاني طرحې او پلان د ښودلو په معنی ده. هو د شيطان راڅرګندېدل، پر انسانانو باندې يې واکمني او د دغو وګړو له خوا د شيطان لمانځل او عبادت راښيي.




دا موږ ته راښيي چې د صيونېزم شيطاني دستګاه پرېکړه کړې ده چې دا نښه رابربنډه کړي او د شيطان تجسم او د ده بنده ګۍ او غلامۍ ته نړۍ او نړۍوال چمتو کړي.

- په څرګند ډول د شيطان تجسم او ظهور Satanism د د ده د عبادت د دودېدلو، د انسانانو تر منځ د شيطاني عملونو، همجنس بازۍ، د بې ګناه وګړو جنګ او وژنه په پراخه توګه د انسانانو قرباني کول لامل شوی دی.

- پر نړۍ باندې د شيطان د فزيکي حاکميت د نړۍ د نوي نظم لازم والی راښيي. (د يادولو ده چې فراماسونانو او شيطان پرستانو په ۲۰۱۲ کال کې د نوي نړۍوال نظم د راتګ خبر ورکړ.)




هو کېدای شي لوستونکو ته دا ډېره جالبه وي چې ولې په رياضياتو کې د اېکس حرف د متغير مجهول اصلي نښه ده؟

يو شمېر په دې باور دي: لکه څرنګه چې پېريان پټ او نه ليدل کېدونکي موجودات دي، له همدې کبله د X توری د متغير مجهول پر ځای راوړل کېږي. خو په دې برخه کې د دورستيو څېړنو پايله بل ډول وه:

اېراني رياضي پوهانو په ځانګړي ډول خوارزمي د مجهول د ښودلو لپاره د (شي) له کليمې څخه چې د (څيز) مترادفه کليمه ده او د عددي ارزښت او بدلېدونکي مجهول په معنی ترې کار اخيستل کېږي.

د ساري په ډول د ۲(X=۲) X+٤X=۱۲ الجبري رابطې د ښودلو لپاره د ۲شي +٤شي = ۱۲ (شي = ۲) له الجبري عبارته کار اخيستل کېږي. کله چې پرتګالیانو دا متون ژباړل نو دا چې په پرتګالي ژبه کې شی XI ليکل کېږي او د شي د کليمې پر ځای له XI کار اخلي.

فرانسویانو هم چې له پرتګالي څخه دا متون ژباړل نو دوی یوازې د لومړي توري X پر لیکلو بسنه وکړه. او په دې توګه ایرانیان د د دې نښې بنسټ ایښودونکي وګرځېدل.

کېدای شي دواړه دلیلونه سره سم وي. هو لکه څرنګه چې قرانکریم په څرګند ډول سره د الهي شعایېرو د دودولو فرمایلي دي (و من یعظم شعائر الله فانها من تقوي القلوب) نو له شیطاني نښو څخه کار اخیستل هېڅ کله هم د منلو وړ نه دی، او دا یوه نه بښل کېدونکې ګناه ګڼل کېږي. نو له اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه مو هیله دا ده چې په هېواد کې د ابلیسي نښو د دودېدلو مخه ونیسي.

## د نړۍ د عجیبو ژویو نوملړ



د چاپېریال ساتنې کارپوهانو د یوه نظر په خپرولو سره ۲۸ ساکښانو د ځمکې په کُره کې د عجیبو ژویو لقب وګاټه.

ړانده موږکان: دا یو ډول ساکښان دي چې په شمالي امریکا کې ډېر موندل کېږي. دغه ړانده موږك له دې کبله د ځمکې د کُرې پر مخ د عجیب ژوي لقب خپل کړ چې پوزه نه لري او پوزې پرځای ۲۲ بازوګان او حس کوونکي لري، او د هغو له لارې کولای شي چې خپل خواړه ترلاسه کړي. دا ساکښ په دښتو، مځو، ناولو اوبو، او ټیټو سیمو کې ژوند کوي. او تر ډېره بې شمزیو ساکښان، د اوبو حشرات، چینجي او د حلزون په شان نرم تنان خوري.

### د تېره غاښی مار:

دا مار د افعي مارانو له کورنی څخه دی چې ژامه، لوړه پوزه او یو ډول تېره غاښونه لري چې کولای شي په د ښکار کېدونکي بدن ته زهر واچوي. د چاپېریال ساتنې د کارپوهانو پر خبره اوسمهال په د هایټي، دومېنکن او کوبا په ژوبڼونو کې د دې مارانو دوه ډولونه ژوند کوي.

## سمندري یېږې یا خوګان:

دا ژوي په اقیانوسونو او آزادو اوبو کې ژوند کوي. یا دا چې دا ژوي د آزادو او بو په تل کې موندلای شو. دا لامبو وهونکي موجودات اقیانوسونو په ختېو، مټو او ځګونو ځانونه مړوي.

همداراز د لاسته راغلو رپوټونو له مخې تر اوسه دا نه ده څرګنده شوې چې سمندری یېږان د اوبو په تل او د ننه کې څرنګه آزاد ژوند کوي؟

## ډومبک کب یا پوکڼی کب:

د نړۍ دا عجیب او خارق العاده موجود د ځان د ډډولو یا پړسولو له لارې کولای شي چې د اوبو پر مخ په لامبو پاتې شي.

## یتي چنګاښ (کني کبر):

دا لامبوزن ساکښ په ۲۰۰۵ زیږدیز کال د آرام سمندر په جنوب کې وموندل شو. دا پنځم عجیب ساکښ دی چې د سمندر له سطحې څخه ۲۲۰۰ دوه زره او دوه سوه متره لاندې په اوبو کې ژوندي کوي.

## سپین رنګه کیشپ یا شمشتی:

دا سپین رنګه او کریمي ساکښ سره وینه لري، د مخ رنګ یې پر کاسه لیکه ښکارېږي. دا سترتنی کیشپ د چینایانو په کلتور کې ډېر د قدر او احترام وړ دی.

## د دوو پښو لرونکی موږک:

دا د نړۍ اووم عجیب ساکښ دی چې تر ډېره د شپې په ښکار پسې وځي. دا موږکان د چین او منګولیا په بېدیاوو کې پیدا کېږي. دا ټوپ وهونکی ساکښ لوړه لکی، اوږدې پښې او لوی لوی غوږونه لري.د چاپېریال ساتنې د کارپوهانو په خبره د دې موجوداتو شمېر ډېر لږ او نادر دي، او په ډېرې چټکۍ سره یې نسل د له منځه تللو له ګواښ سره مخ دی.

## د آی.آی. ژېړنکه:

دا د نړۍ اتم عجیب ساکښ دی. دا موجود د خپلې مښوکې په وسیله د ونو له ډډو څخه حشرات راکاږي، خو که چېرې دا چینجي د تېښتې هڅه وکړي نو د خپلو غاښونو په وسیله د یوه ژوونکي په توګه د ونې ډډه ډېره پراخوي او د خپلې منځنۍ ګوتې په وسیله خپل خواړه ښکار کوي او خوري یې.

## سایګا:

سایګا راکښېدونکې پزه ډېره لویه پزه لري چې د ژمي سړه هوا تودوي او په اوړي کې سختې دوړې او ناولې هوا فیلتر کوي تر څو د ساه اخیستلو لپاره ښه تیاره شي.

## ګردخولي ماران:

دا ماران د نامعمولو او نا متعادلو غذایي خویونو له کبله د نړۍ د لسم عجیب موجود نوم یې ګټلی دی.

## د هیولا کب:

دې کب د پټېدلو او ځان غلي کولو د وړتیا د لرلو له کبله د نړۍ د یولسم عجیب موجود نوم یې ګټلی دی. د هیولا د ا کب په سړو او آرامو اوبو کې ژوند کوي، د لومړي ځل لپاره د آسټرالیا په اوبو کې وموندل شو او له ۱۹۸۲ زیږدیز کال راهیسې د دې هېواد تر ځارنې او ملاتړ لاندې دی.

## ډنګره لټه لکۍ لړونکې بیزو:

دا ژوی د هندوستان او سریلانکا په ټیټو او مرطوبو سیمو کې ژوند کوي. اوس د هستوګنځیو د له منځه تګ له کبله د له منځه تګ له ګواښ سره مخ دي.

## هندي تمساح:

دیارلسم عجیب موجود هندي تمساح بلل شوی دی، چې اووه متره اوږدوالی لري. او د نړۍ د لویو تمساحګانو په ډله کې شمېرل شوی دی، خو د قاچاق وړونکو د بې رقمه او بې اجازې ښکار له کبله د دغه سړي وینې لرونکي ساکښ نسل په ډېرې چټکۍ سره مخ په کمېدو دی.

## له ویښتو ډک چړګی کب:

دا کبان د سیندونو په تل کې تل ښکار ته په کمین کې ناست وي، دا کبان د اندونیزیا په اوبو کې ډېر موندل کېږي.

## اوږد غوږی اختاپوس:

دا ژوی چې دومبو اختاپوس یې هم بولي، د سمندرونو او آزادو اوبو په تل کې ژوند کوي. ددې اختاپوس نوم د والټ ډېزني له فلمونو څخه د یوه کارتوني (ډومبو) له شخصیته اخیستل شوی دی.

## د ډېرو ژورو اوبو ماران:

دا ماران لوړ، ستنې ته ورته غاښونه او ژامې لري.

# د امریکې پر ښکلې ملکه باندې یې د پلار د تېري په اړه ددې خبرې




د امریکې ښکلې ملکې یوشمېر لړزوونکي انځورونه خپاره کړي دي چې پکې یې د ځان د مخینې او پر دې باندې د خپل پلار د تېري په اړه خبرې کړې دي، او په دې توګه یې په مجازي دنیا کې د ربړد ځپې خورې کړې. مېرمن لېبرند د امریکا د نیواورلیان پخوانۍ ښکلې ملکې په یوه ۱۲ دقیقه یي ویډیو کې په ډاګه کړې ده چې پلار یې څرنګه له څلور کلنۍ راهیسې ترې ناوړه ګټه پورته کوله.

دې په دې ویډیو کې خپل پلار ګواښلی دی چې اوسمهال د ده د جنایتونو په اړه د خبرو وخت راغلی دی.دې پر دې خبره باندې ټینګار کړی دی چې پلار یې ترې له ۴ کلنۍ څخه تر ۱۳ کلنۍ پورې ناوړه جنسي ګټه پورته کړې ده.

دې د خپلې ویډیو په خپرولو سره تر ۲۰۰۰ دوه زره کسان ډېر لیدونکي درلودل، په دې ویډیو کې دا بې سینګاره په کړېدلې او ستومانه څېره را څرګنده شوې ده.




په اوښلنو سترګو وایي: غواړم د هغه سړي په اړه وغږېږم چې زما په برخه کې یې ظلم کړی دی، زما پېغلتوب یې رانه واخیست، او زما پاکوالی یې راچوپړ او ناولی کړ.

دی باید اوس دا ویډیو وګوري. دې همداراز ویلي دي چې پلار نه یوازې پر دې باندې جنسي تېری کړی دی لاچې دا یې په مرګ ګواښلې او آن مور یې وروژلې ده.

دې همداراز ویلي دي چې: که څه هم ډېره وړه وم خو اوس مې هم د مور په وینو لړلی بدن ښه په یاد دی. وایي چې پلار مې هغه مهال بیاهم زما د وژلو په لټه کې ؤ، دا همداراز وایي چې اوس هم د شپې دا عکسونه په خوب وینې او خپکی یې لاندې کوي.

دا په ۱۳ کلنۍ له خپله کوره تښتېدلې ده او په ژوند کې د ډېرو کړاوونو په ګاللو سره یې په خپل شخصي ژوند کې پرمختګونه کړي دي، دې زیاته کړې ده چې اوس هم د (اداکارۍ) په هنر مینه ده، دا ځکه چې کولای شي د ژوند له حقیقتونو وتښتي او بل شخصیت ترلاسه کړي.

## د ۲۰۱۲کال د نومبر۱۸ په نړۍ کې پېښې او بوختیاوې.

### آجر بر مسلکي ګارګر ووینئ:

د آجر زیږون د هند، پاکستان او بنګلدېش هېوادونو کې ډېرې لرغونې مخینه لري، او په دې برخه کې داسې کارګر شته دي چې په مسلکي ډول کار دغه کار ترسره کوي.



### په پاریس کې د شکلات له جنسه د ۵ ټنه بیزو انځور

په پاریس کې د شکلات پلورنځي د ۵ ټنه شکلات بیزو په جوړولو سره ټول هک پک کړل.



## درنا او غبر له لارې له لرغونو ودانیو څخه د مرغانو لېرې کول:



دا هم د یوې مرغۍ انځور دی



د د روم یا ایټالیا یو لرغونې ودانۍ ده چې یوه عسکر د تروم په وسیله مرغان شړي.

د روم (ایټالیا) چاروواکو د یو میلیون مرغانو د شړلولپاره یو عجیبه ګام پورته کړ. دوی له لرغونو ودانیو څخه مرغان د رڼا او تروم په وسیله شړي.

## د چاغښت پایله او په موټر کې سورېدلو ته پام وکړئ



یو قزاقي چاغ سړی چې څه شیان یې اخیستي دي اوس هڅه کوي چې په خپل ګاډي کې سپور شي، خو دځېرمه یا څنګ ګاډي سره د ناسمو درولو (پارک) له کبله چې هر څه هلې ځلې کوي خو خپل ګاډي ته نشي ختلای.

## پړانګ په ونه کې هوسۍ ښکاروي. یو خارق العاده انځور

که څه هم یو شمېر خلک غواړي چې د ښکلو ودانیو په بامونو باندې خواړه وخوري، خو دا (لیوپارډ) پړانګ بیا غواړي چې (مسون) هوسۍ پاس په ونه کې وخوري.



## يږيږې (خوګان) د غرمې د ډوډۍ پر سر باندې بيا سره اوښتي دي



دا په الاسکا کې د کاتمای ملي پارک دی او دوې يږيږې وينئ چې پر سوررنګه خال لرونکو کبانو باندې په لانجه شوي دي.

## په چين په هوايي ننداړتون کې آيروبيکې الوتکې

د چين د جوهای په هوايي ننداړتون کې د هوايي الوتکو (ايروبيکونو) د مشهورو ټيمونو سيالۍ ترسره شوې.



## د ۱.۲ کيلومتره کېک په وسيله د ګېنس ريکارډ مات شو

د سويس په جينوا کې د شېريني پخولو يوه پلورنځي د يو عشاريه دوه کيلومتره پيروي (رش) کېک په جوړولو سره خپل نوم د ګېنس د ريکارډلرونکو په کتاب کې ثبت کړ.





د "هر فرد په خپله مکلف دی " طريقې له کبله د چين په ښوونځيو کې د خوړو خرڅلاو منع شو

د چين هېواد زده کوونکو ته اجازه نشته چې له ښوونځي څخه بهر د لاسي پلورونکو څخه خواړه وپېري. دوی اړ دي چې د ښوونځي ټيټ کيفيته خواړه وپېري او کار ترې واخلي.

## پر قهوه‌يي فنجيانو د شيدو توی شوي څاڅکي

انځورګر کاري وايټ د خو برېښنايي توکو لکه کامرې، فلشونو او نورو... په اېښودلو سره دا ښکلي انځورونه اخيستي دي، ګورو چې د دې لارې وروستی انځور څومره ښکلی دی.



## يو آلماني په آپارتمان کې يوه وري ته شيدې ورکوي

جرمني ولفګانګ ګرينسنس چې کله يو يتيم وری ومومند خپل کورته يې راوړ تر څو يې په کور کې پالنه وکړي.



## دا د ۳۵ قرغېزي ناويانو او زومانو د واده د مراسمو انځورونه دي

پينځه دېرشو قرغېزي کوژدنو پرېکړه وکړه چې په يوه شپه په يوه محفل کې واده ته د زلميانو د هڅونې په موخه وغوښتل چې په ګډه د واده مراسم پرانېزي.



## د مسکو په هيولای کې څپه ييزې سيالی



دلته وينئ چې د نړی له ګوټ ګوټ څخه خلک د هغو له ډلې له امريکا څخه د څپه



ييزې سيالی لپاره روسيې ته راغلي دي.

## د اوبو پر سر او پر دېوالونو باندې تلونکی سړي انځورونه

شي ليليانګ چې د چين د فوجيان په سيمه کې د شايولين په معبد کې ژوند کوي، داسې سړی دی چې په حيرانوونکي ډول په دېوال باندې ګرځي.



# ګوګل

اېتنا: د ګوګل يوه مدېره وايي چې فېسبوک او اپل شبکو اېنټر نېټ رامحدود کړی دی.

سرګيي برين: د ګوګل امريکايي شرکت يو بنسټ ګر او مسلکي مدېر په خپلو خبرو کې وويل چې انټرنېټ د روڼوالی او نړۍ شمولوالی چې دا شبکه يې پر بنسټ باندې جوړه شوې ده، په ډېر شدت سره له ګواښ سره مخ ده.

ده زياته کړې ده چې د هېواد د اوسېدونکو پر اړيکو او لاسرسي باندې د دولتونو د کنټرول له پاره هڅې د انټرنېټ خپلواکي ګواښي.

همدارا ز يې د خلکو د بوختولو لپاره د فېسبوک او اپل د شبکو هڅې هم د دې شبکې د انټرنېټ د محدودولو بل لامل ګڼلی دی. ده دا هم وويل چې په هره برخه کې د ډېر غښتلي غله او ځواکونه انټرنېټي غلاوو ته په ليکه ناست دي.

د ګوګل بنسټګر وويل چې دا ډېر وحشي لاملونه دي چې زه يې له پخوا څخه اوس ډېر انديښمن کړی يم.

## د پرون بېوزله د نن بډايان

يوې څېړنې ښودلې ده چې د ګوګل په پاڼه کې د خلکو پلټنې د دوی په اقتصادي او ټولنيز وضعيت پورې اړه لري. دا څېړنه چې په ۲۰۱۲ کال کې په ۴۵ هېوادونو کې ترسره شوې ده ښيي: هغه هېوادونه چې اقتصادي او ټولنيز وضعيت يې وده کړې ده وګړي يې په ګوګل کې د راتلونکې په اړه اطلاعات لټوي نه د پخوا په اړه. دا څېړنه چې علمي رپوټونه پکې خپرېږي په يوه برېښنايي خپرونه کې وايي چې په نړۍ کې د اقتصادي ځانګو او انټرنېټي کارونې تر منځ ډېره ټينګه اړيکه شته ده. دا څېړنه چې په نړۍواله کچه د راتلونکو او تېرو په اړه ترسره شوې ده، ښيي چې هغه څوک چې د راتلونکې په اړه معلومات راټولوي پياوړی اقتصاد لري.



## یاهو او تګلارې یې

د یاهو د ګڼ شمېر کارکوونکو له دندې ګوښه کولو یواځې یوه اونۍ وروسته د دې شبکې مدیر سکاټ ټامپسون د یاهو د راتلونکو لویو کړنو په اړه په یوه خبري غونډه کې خبریالانو ته وویل چې: د یاهو مهم فعالیتونه به په ۳ برخو پېرودونکو، تبلیغ کوونکو او ټکنالوژۍ باندې باندې راتم وي.

ټامپسون همداراز وویل چې د مې میاشتې په لومړۍ نېټه به د All Hands تر نامه لاندې به د کلفورنیا په Sunyvale سنې وال کې په خپل مرکزي دفتر کې په خپل پلان باندې کار پیل کړي. د یاهو د AP له لارې په خپاره شوي رپوټ کې ویل شوي دي چې دوی غواړي د خپلې دې کړنلارې د ښه والي په موخه د خپلو کارکوونکو له خوا د خدمتونو د وړاندې کولو له پاره له خپل تجربو کار واخلي. همداراز په دې رپوټ کې ویل شوي دي چې غواړي په ټوله نړۍ کې د تبلیغاتي شرکتونو سره نیږدې همکاري ولري او د اوسنۍ ټکنالوژۍ څخه د ګټې پورته کړي. په تازه شمېرنو کې دیاهو سهامو اندازه د ۱۱ سېنټونو په راټیټېدلو سره ۱۴،۹۹ ډالرو ته رسېدلې ده.

## اینټل یو ډېر پرمختللی غوږی جوړ کړ

د اینټل شرکت د لومړي ځل لپاره د نوي غوږي ښکلي تولیدات جوړ او عرضه کړي دي.

دا غوږی د لومړي ځل لپاه په هند کې بازار ته وړاندې شو، دا غوږی د لاوا په نامه یوه شرکت جوړ کړی دی.

د دې غوږي نوم xolo x ۹۰۰ دی چې د دې غوږي پر مخ د اینټل Medfieldپه نامه کوډ او د Z۲٤٦۰ سوداګریز نوم لګول شوی دی. اینټل غواړي چې تر ډېره وخته په بازار کې پاتې شي.

دا ښکلی غوږی ۴.۰۳ اینچه لیدوړ صفحه او یو ماشین چې ۱.۶ ګېګاهځه چټک دی لري.

دا غوږی داسې جوړ شوی دی چې بېټرۍ یې د ۸ ساعتونو لپاره غږیزې اړیکې او شپږ ساعته د ویډیویي اړیکو لپاره فعاله کار ورکوي. که د سټنډبای Standbyپه شکل پاتې شي نو بیا ۱۴ ساعته کار کوي. په دې غوږي کې د آنډروېډ له عامل سیسټمه کار اخیستل شوی دی. او همداراز د NFC یا (Near-Field communication) له ټېکنالوژۍ څخه د پېرودلو لپاه هم کار اخیستل شوی دی.

د دې غوږي ګڼ خرڅلاو چې تر اوسه یې اعلان هم نه دی شوی یوه میاشت وروسته پیلېږي. ویل کېږي چې بلخه میاشت به هم د اینټل بل جوړ شوی غوږی د اُوپنج آپراتور له خوا بازار ته وړاندې شي.

## د میکروسافټ آته (۸) وینډوز:

به په ۴ بېلابېلو نسخو کې بازار ته وړاندې شي. دا په داسې وخت کې کېږي چې د XP عامل سیسټم په اوو بېلابېلو نسخو کې بازار ته وړاندې شوی ؤ.

د مایکروسافټ آته دا عامل سیسټم به په ځلورو نسخو او لومړی کورنۍ نسخه، سوداګریزه نسخه، د ARM کیفیت لرونکې دستګاوو نسخه، او د لویو شرکتونو لپاره نسخه چې په لوړ شمېر عامل سیسټمونه اخلي.

د وینډوز آته دا نسخه د Windows ۸ Pro د پرو آته وینډوز نسخه د سوداګرو لپاره جوړه شوې ده چې یوه سیسټمي فایل ته کوډ ورکولو، اجازه ورکولو او د ډومېن د اداره کولو ځانګړنې لري.

د RT وینډوز چې د Runtime کلیمې لنډون دی د ARM وینډوزونو له پاره جوړ شوی دی. اخیستلای نه شو.

دا نسخه به مخکې له مخکې د ARM جوړښت لرونکو کمپیوټرونو او ماشینونو باندې لګول کېږي. که څه هم دا وینډوز د پخوانیو پوستغالو په څېر د X۸٦/٦٤ د پوستغالو د اجراکولو وړتیا نه لري، خو کولای شي چې د رَن ټایم وینډوز پر لمسي ماشین (د موبایل باندې د میکروسافټ عاملې خپرونې) اجرا کړي.

## د ایټالیا د سېنټ مارک برَج

دا برج د ایټالیا په توسکانې کې پروت دی چې ۸۵ متره اوږد او ۱۴۵۰۰ ټنه وزن لري. د دې برج د جوړولو چارې د ۱۱۷۳ کال د اګېسټ په نهمه د رنسانس په دوره کې پیل شولې. په هغه مهال د ایټالیا د اشرافو او بډایانو طبقې له یو بل سره د سیالۍ له امله تر ټولو مشهور هنرمندان او معماران  د دې شهکارۍ د ودانۍ جوړولو لپاره راوستل.

په ۱۲مه پېړۍ کې د پیزا د ښار اوسېدونکو پرېکړه وکړه چې کلیسا یې یو داسې برج ولري چې د سِېنټ مارک تر برجه غوره وي. کله یې چې د جوړولو ستنې  ښخې شولې نو یوه تجربه کاَر معمار دیوتیسالوی د دې برج د جوړولو چارې یې په غاړه دلودلې د بنسټ لومړی ډبره کېښېښودله. د ودانۍ د جوړولو له پیل څخه څو کاله وروسته کله یې چې یوازې درې لاندینې پوړونه بشپړ شول، او تر ۱۲ مترو پورې نه وه لوړه شوې، د سوېل ختیځ په لوري کږه شوې وه، تر هغه وروسته یې تر ۱۰۰ کلونو مودې لپاره د جوړولو چارې وځنډېدلې.

په ۱۲۳۴ کال کې بیا له بل معمار یونانو پیزانو څخه د دې ودانۍ د برج د جوړولو د چارو د بشپړولو غوښتنه وشوه. ده د ودانۍ څلورم پوړ هم جوړ کړ، او هغه یې نیمه بشپړه پرېښوده، او څلور نور پوړونه یې په هماغه کوږوالي سره جوړ شول.  ورپسې بل معمار پرې کار پیل کړ او پینځم او شپږم پوړ یې هم بشپړ کړ. خو اصلي ستنه همداسې کږه پاتې شوه.

کابو یوه پېړۍ وروسته د جوواني پیزانو په نامه معمار یې وروستی پوړ بشپړ کړ.  او د برج د ثقل په مرکز کې یې ناقوسونه (د کلیسا لوی لوی کړنګووني (زنګونه)) راوځړول.

په دې توګه په ۱۳۵۰ کال کې تر ۱۷۶ کلونو وروسته د برج ودانۍ د ۸۵ مترو په لوړوالي او د ۲۷ ټنو په درونډوالي سره د ۷ زنګونو په ځړولو سره یې د جوړولو چارې بشپړې شولې. له هغه مهال راهیسې تر ا وسه پورې یې د اووه نیمو پېړیو په تېرېدلو سره کوږوالی ډېر شوی دی او تر اوسه پورې یې له اصل کرښې څخه کوږوالی  ۴،۲ متره پورې رسېدلی دی.

## د برېښنا تولید

پوهانو داسې یوه لاره موندلې ده چې په ټیټ لګښت سره له کچالو څخه برق تولید کړي.

په دې کړنلاره کې په اوبو کې اېشولي کچالو کې دوه الکترووده یو د مسو او بل د جستو نښلول کېږي. په رښتیا که مڼه په اوبو کې پخه شي نو د الکترونو جریان او بیا ورکړې مقاومت به ډېر راټیټ کړي.

څېړنو ښوولې ده چې په اوبو کې د اېشولي کچالو څخه لاسته راغلې برېښنا تر اومه کچالو لس برابره ډېره ده.

د کچالو یوه ټوټه کولای شي تر شلو ساعتونو پورې برېښنا تولید کړی، د دې برېښنا باندې کولای شو کم مصرفه طبي دستګاوې او ګروپونه روښانه کړو.

که څو دانې کچالو په سلسله یې شکل له یو بل سره ونښلول شي نو طاقت یې لوړېږي او آن د لېږد وړ کوچنی کمپیوټر هم روښانولی شي. هغه پوهان چې دا طریقه یې موندلې ده وایي چې دا طریقه د نړۍ په بېوزلو سیمو کې له میلیونونو وګړو سره مرسته کولای شي چې په ټیټه بیه د خپلې اړتیا وړ برېښنا ترلاسه کړي.

څېړنو دا هم ښوولې ده چې په دې طریقه د برېښنا تولید تر نفتي څراغونو شپږ برابره ارزانه پرېوځي، او معمولي بېټریو ته پام پنځوس پلا ارزانه پرېوځي.

خو یو شمېر کره کتونکي بیا په دې باور دي چې په دې طریقه سره لږ برېښنا تولیدېږي، او د ډېرې برېښنا تولید یې ډېر لګښت غواړي.

د ویلو ده چې دا لاره په نورو مېوو او سبزیجاتو کې هم ازمویل شوې ده او ډېره بریالۍ وه، خو د څمکنۍ مڼې لګښت ارزانه نه ؤ.

## احمقانه نظریه

پینځه لس کلنۍ نجلۍ وویل: فکر مې نه کاوه چې دغه احمقانه نظریه به مې دومره په زړه پورې وي!؟



دا پینځه لس کلنه هندۍ زده کوونې وایي چې هېڅکله مې فکر نه کاوه چې احمقانه نظریه به مې د نړۍ د پر مختللو څېړنیزو پوهنتونو پام ځانته ورواړوي...

دې ۱۵ کلنۍ هندۍ نجلۍ داسې نظریه ورکړه چې د زړه د درزا له لارې کولای شو ګرځنده غوږي چارج کړو. په دې نظریه کې چې همدااوس هم د سټنفورډ په پوهنتون کې پوهان پرې څېړنه کوي، له یوه ځانګړي اُتوماته په کار اخیستلو سره د انسان د زړه درزا په برېښنایي جریان بدلېږي او ورپسې له دې جریانه د ګرځنده ټلېفونو د چارچولو لپاره کار اخیستل کېږي.

ساروجیني مهاجان د ډهلي په لوېدیځ کې یوې زده کوونکې نجلۍ د دې اختراع نظریه له (بې کوکه) ساعت کار اخیستې ده، دا وایي چې دا نظریه یې هغه مهال په ذهن کې راپیدا شوه چې کله یې په یوه وخت اتومات ساعت او ګرځنده ټلېفون کاته.

ددې مدرسې يوه ښوونکي د ټلګراف ورځپاڼې ته وويل: دې وليدل چې ساعت يې کوکولو يا چارچولو ته اړتيا نه لري، ورپسې يې د نبض د درزا په وسيله د چارچولو په اړه څېړنه پيل کړه.

دغه ښوونکي زياته کړه چې دې لومړی د خپلو علومو ښوونکي ته خپله دا نظريه وړاندې کړه او بيا يې ښوونکي د هند د ملي اختراعاتو بنسټ ته وړاندې کړه. دا نظريه د اختراعاتو د بنسټ په وېبپاڼه کې خپره شوه او بيا يې د ستنفورډ پوهنتون د پوهانو پام ځانته ورواړاوه.

داسې ښکاري چې دا موندنه په مخ پر ودې هېوادونو کې چې له ګرځنده ټلېفونونو څخه د ګټې اخيستل پکې دود شوي دي خو په بشپړه توګه برېښنا نه لري، او همداراز په پرمختللو هېوادونو کې لوی بالقوه ظرفيت د ودې په حال کې دی.

دې آغلې په دې اړه ويلي دي چې که دانسان ساعت دلاس په نبض باندې کار وکړي نو ولي په ګرځنده ټلېفون کې له دې نظريې څخه کار وانخلو.

## د ژويو لس حيرانوونکې جنګي وسلې!

### د عجايبو نړۍ:

آيا پوهېدئ چې د ځمکې پر سر انسان تر ټولو خطرناک موجود دی؟ موږ انسانانو پرمختللې وسلې جوړې کړې دي چې د هغو په وسيله له ډېر خطرونو ځان ژغورلای شو.

خو دا به تاسو ته هم ډېره په زړه پورې وي چې وپوهېږئ ګڼ شمېر ژوي به له دې چې مخامخ نېښ ووهي يا په چا خوله ولګوي، ځان ژغورلای شي، له غوماشې چې دښمن ته اېشېدلي اسيد ورشيندي،نيولې بيا تر ماهرو غشو ويشتونکو کبانو پورې، که ورته ځير شو نو ټوپک به مو تر پامه ډېره يوه عادي وسله ښېره شي.ډېر ژوي په طبعي ډول په جنګي وسلو باندې سمبال وي چې دسړي پام ځانته وراړوي. دوی نه يوزاې نور تر هدف لاندې راولي لاچې تر ډېره د خپل ټول بدن ، چاپېريال او کورنۍ څخه د ساتنې په موخه کار ترې اخلي. دلته د جنګ کولو خبرې يوې خوا ته پرېږدئ! غواړو چې د دغه ژويو د جنګي وسلو په اړه خبرې وکړو.

### چړګی کب: *Humpback whale*

کله چې په سمندر کې يو لوی تي لرونکی راپيدا شي او يو يا دوه کبان يې ګېډه ور مړه نشي کړای. نو ډېر وختونه چړګی کب خپل څو نور ملګري راغواړي، تر څو په ډېرې ځيرکتيا سره يو چل جوړ کړي، دا نهنګان لومړی يوه ډله کبان راچاپېروي، ورپسې د هوا جريان بهروي، او کبان په يوه ډومبک حبابي جال کې رابندوي، د دې جال دومره ټينګوالی ډېر هک پکونکی دی، او د يوه ريښتيي جال



په توګه کبان په لومه کې غورځولی شي. کله چې کبان په دې لومه کې رابند شي، نو د جال تل ته ورټوپ کوي، او بیا په خلاصو خولو سره یې له منځه وځي، او په خپل هر حرکت کې د خوړو یوه اندازه ترې خوري، چړګې کبان تر هغه پورې دا چاره بیا بیا ترسره کوي تر څو ماړه شي، که زموږ انسانانو آزادې کباب خونې د نهنګانو د رسټورانټ تر څنګ وي نو خپل رنګ به یې پوره بایللی وي.

## لاړې تو کوونکې جولاګی (تارکښه) (*Spitting Spider*)

یو جولاګی سړی به مو لیدلی وي چې د ودانیو تر منځ په ټوپ اچولو او الوتلو کې د جولاګی له تارونو څخه کار اخلي.




دا خارق العاده ځواک په طبعي ډول په لاړې تو کوونکې جولاګی کې شته دی. په لومړي سر کې که ورته وکتل شي نو دا د شپږو پښو لرونکې ، د کمزوریو سترګو لرونکې حشره ډېره پخه او بې خطره ښکارېږي. خو هېڅکله مه پرې تېروځئ، ځکه دا حشره داسې یو څه لري چې نور یې نه لري: پر ښکار باندې سرېښناکه ماده ور تو کوي، دا جولاګی دوې ګېډې لري، په یوه ګېډه کې د مزي جوړولو لپاره ورېښمینه ماده او په بله کې سرېښناکې لاړې لري. کله چې دا ښکارځنه غوړه او نرمه مړی ووینې نو د برېښنا غوندې په دومره چټکی سره چې د ثانیې یو یې پر شپږ سوه ځله سره برابره ده خپلې لاړې پر ښکار باندې ور تو کوي. نو هغه ښکار بېچاره ګی یې تر دې لاړو لاندې ټینګ ونښلي، تر هغه پورې چې دا جولاګی خپل وژونکي نېښونه یې په بدن کې وردننه کړي.

## متروکي (متروکېوالا) لړم (*Scorpion Whip*)

متروکي لړم د وړې متروکې ډوله لکی له امله په دې نامه پېژندل شوی دی، یوازې د ۱۸ سانتي مترو په اندازه لوېږي، خو دا لړم د نورو عادي لړمانو په شان خطرناک نه دی، په رښتیا دا لړم زهر نه لري او په لکی باندې نېښ نه لګوي، خو متروکي لړم داسې وړتیا لري




چې نور ډوله لړمان له دې نعمته بې برخې دي: اسید لري. که متروکي لړم پوه شي چې خطر دی ورته، خپله لکی لکه متروکه یوې او بلې خواته وهي، او له مقعدي غدې څخه سوزوونکې مایع بهر ته راپاشي. که څه هم دا مایع ډېره زهرجنه نه ده، خو داسې سوی کوي چې نور ښکارچیان شاتګ ته اړ کوي یا یې لږ تر لږه ځنډولی شي، او په دې توګه کولای شي ځان د جګړې له ډګره کورته ورسوي.

## مالیزیایی مېږی (*Malaysian Ant*)

ډېر خلك اورلګوونکی او دردوونکی نېښ وال مېږی پېژني، خو دا سوررنګه مېږي بیا له خپل تروزرزي نېښ وال مېږي څخه دا پلا جایزه ګټي، مالیزیایي مېږی چې خلك يې په چاودېدونکي مېږي باندې هم پېژني، خپلې چارې د یوه سرتېري په شان ښې سرته رسوي، دا مېږی د نورو معمولي مېږیانو په څېر کوچنی دی، خو د مېږیانو د ډلې د نورو غړو ساتنه هم ورپه غاړه ده، د یوه سرتېري مېږي په توګه د دې مېږي له سره د شا تر برخې پورې ټول بدن په زهرجنې کڅوړې باندې پوښلی دی، کله چې د کوم ښکارڅن موجود سر یا کومه برخه په مخه ورشي نو خپلې عضلې راغونجوي تر څو زهر یوه ځای ته



راټول شي، بیا نو د بم په څېر چوي، او د مزاحم موجود پر مخ باندې زهر ورپاشي. نو هغه ښکارڅن ناچاره وي او کېدای شي مړ شي، او که بیا غښ وي او ځان ترې روغ وباسي، بیا نو تر ډېره وخته پورې مېږیانو ته د ورنږدې کېدو خیال یې په سر کې نه راځي. خو هو دامالیزیائیی مېږی هم ورسره مري. دی خپل ځان او خپل غړي د یوې لویې موخې لپاره چې د خپلې ټولنې خوندي کول دي ځاروي.

## موش خرما (*Skunk*)

دا تور او سپین تي لرونکي د نړۍ تر ټولو بدبویه موجودات دي، چې کېدای شي دا به په کوچنیو ژوندیو کې د فعاله شتون له کبله پېژندل کېږي، خو په ټلوېزیونونو کې په جادویي صندوقونو کې یې چې کوم انځور خپرېږي هغه بالکل ناسم دی. خو اوس خبره داده چې په رښتیا دا موجودات په عادي حالت کې بدبویه نه وي، خو کله چې خطر احساس کړي، د بدبویۍ بم راخوشی کړي، او آن په هغو وختو کې هم هڅه کوي چې ګواښونکې نښې لکه: هیس هیس کول، پر ځمکه باندې پښه وهل، یا لکۍ جګولو سره غواړي تېری کوونکی په خپل هوډ باندې پوه کړي، او یوازې د اړتیا پر مهال خپله



بدبویه غاز خپروي، دا موش خرما خپله څوروونکی غاز تر ۳ مترو پورې شنلای شي، خو له پینځو یا شپږو وارو شنلو وروسته یې د مایع زېرمه خلاصېږي، او بایدیو ځل بیا یې په خپل بدن کې ډکه کړي، او دا چاره بیا لس ورځې نیسي، دا غاز که څه هم وژونکی نه دی، خو دومره بدبویه وي چې تېری کوونکی ژوی د پاتې کېدلو پر ځای تېښتې ته اړ کوي، دا بوی تر څو ورځو پورې همداسې پاتې کېږي، او کمبخته موجود چې دا غاز پرې شیندل شوی دی، تر ډېرې مودې پورې په عذاب اخته وي.

## لینده لرونکی کب (*Fish Acher*)

لینده لرونکی کب د سیندونو تر ټولو لومړۍ درجه غشی ویشتونکی دی، او د اوبو د دارو له بهیر څخه د وسلې په توګه کار اخلي. دا کبان کولای شي تر څو فوټو پورې نږدې حشرې له ځانه د خولې څخه د اوبو په شیندلو سره لېرې کړي. دا کبان ډېر په آسیا کې موندل کېږي، چې ۱۵ سانتي متره اوږده او بدن یې د دړې په شان نری دی. د دې کبانو خوله پاس خوا ته ورکږه ده، چې له اوبو څخه بهر د الوتلو پر مهال د حشرو په نیولو کې ورسره مرسته کوي. لینده لرونکی کب د اوبو سر ته نږدې لامبو وهي، نو کله چې ځانته نږدې ښکار ووینې سترګې یې د یوه رادار په بڼه




نېغې ونیسې تر څو حشره تر سمه تر برید لاندې راولي. نو بیا له خولې څخه د اوبو یوه ډېره چټکه داره د ښکار خواته ورګوزاروي. د اوبو دا ټینګ بهیر تر یوه نیم متر پورې لېرې تللای شي. دا لینده لرونکي کبان په یوه ګوزار سره خپل هدف ولي، او ملخان، جولاګۍ او نورې حشرې سمدواره همالته وژني. که حشره بیا ورته نږدې وي نو له غشي وشتلولاس اخلي، نو یوازې له اوبو راالوځي، او حشره په خوله باندې رانیسي.

## اغزنه ځرموښکی

اغزي لرونکې ځرموښکی په دفاعي تدبیرونو داسې سمباله ده چې د نورو ژویوددفاع وزیره یې بللی شو. د دې ځرمښکی د بدن رنګ د لمرګلي په څېر د استوګنې له چاپېریال یعني بېدیا سره سموي. دا خزندې د بدن د شا د رنګ او اغزیو له امله آن د کمرونو او ډبرو پر سر باندې ځان پټولای شي. که په پټېدلو باندې بیا هم کار ونه شي نو ځان راغونډوي چې غټه وبرېښي، او د ښکارچي احتمالي اشتها له منځه یوسي. که دا لاره بیا هم ناکامه شوه، نو اغزنه ځرموښکۍ غشی راباسي، او له سترګو وینې راشیندي. دا اغزنه ځرموښکۍ د دې چارې له پاره د وینې لړۍ د بدن په نورو برخو کې




رامحدودوي، او په سر کې د وینې فشار زیاتوي، چې په دې توګه یې د سترګو د بڼو رګونه شکېږي. دا په ۱.۵ مترو فاصله کې سمدواره وینې هدف ته ورپاشي. که څه هم دا وینه زهري نه ده، خو داسې ښکاري چې تیری کوونکی ژوی ګېچ او ګول کېږي. او خوند یې ډېر بد دی.

## بمباري ګونګټه (*Bombardier Beetle*)

دا چې ګونګټې د نورو حشرو په شان سمدواره نشي الوتلای نو د دې له پاره چې له دښمنه ځان وژغوري نورو وسیلو ته اړې دي. بمبارکوونکې ګونګټې په ښو دفاعي چارو سمبالې دي. لکه د چاپېریال د ګواښونو په وړاندې د ځان ساتلو په موخه یو په زړې پوښلی بدن لري. خو د دښمن پروړاندې یوه ډېره



مهمه وسله چې له ګېډې ډېر سرې اوبه راپاشي. د دوی په ګېډه کې د اوبو دوې زېرمې لري، چې له کېمیاوي توکو ډکې دي، که دا دواړه توکي سره یوځای شي نو داسې تېزاب جوړوي چې تودوخه یې د فارنهایټ ۲۱۲ (د سلیوس ۱۰۰) درجې وي. نو دا اسید د چاودنې په څېر د ګونګټې له د ګېډې له دېوالونو بهر ته راشیندي.
که په دې شیندنه باندې ښکارځن ونه وېرېږي. نو بمباري ګونګټو چې خپل ښکارځن یې د تېزابو په حمام کې لمبولی وي، د غشي وېشتلو په څېر یو غږ له خولې راباسي.

## ګرد خولي کبماران (*Hagfish*)

ګردخولي کبماران د نړۍ په ډېرو سمندرونو کې موندل کېږي. کله چې غواړي ښکارځن له منځه یوسي نو یوه ډېره سخته چټلې راجوړه کړي.کله چې دا کبان په وحشت کې ولوېږي یا



خطر احساس کړي، یوه ټینګه سرېښناکه ماده تولیدوي چې د مخ پټې ساتونکي په توګه کار ترې اخلي. چې خطر ورک شي نو کبمار ځان غُوټه کوي. بیا ځان وغځوي او تاوراتاو یې کړي، دا غُوټه خلاصوي.او په دې توګه له سرېښناکې مادې ځان خلاصوي، که دا کب دا چاره ونه کړي، نو په همدې ککړه سرېښناکه ماده کې یې ساه بندېږي او مري. د سمندري چاپېریال ساتنې د پوه داګلاس فاج په وینا، دغه ساکښان یوازې ۴۰ سانتي متره لوېږي چې د بڅې ګوتې په اندازه سور لري. خو کولای شي په یوه ثانیه کې د یولېټر په شااوخوا کې سرېښناکه ماده تولید کړي. که کوم ښکارځن کب وغواړي پردې موجود باندې خوله ولګوي، نو ډېر ژر به پښېمانه شي. ځکه چې که په ګردخولی کبمار مازې خوله ولګول شي نو سرېښناکه ماده خوشې کوي. نو د تېري کوونکي کب د ساه اخیستلو سیسټم سرېښېږي، او کب تر ډېره وخته ژوندی نه پاتې کېږي چې بدمرغه کبان د ساه بندۍ له امله مري.

## برېښنايي کبمار:(*Electric Eel*)

په عادي حالتونو کې اوبه او لوړ ولتاژ، نه نه دا هېڅ نه سره جوړېږي. خو تر اوبو لاندې یوه ساکښ له پاره بیا دا دوه ترکیبه ډېر ګټور دي. کېدای شي چې برېښنايي کبماران له معمولو کبمارانو سره ورته نومونه او ځانګړنې ولري. خو له پیشوګبانو سره بیا د خپلوۍ ډېرې نږدې



اړیکې لري. برېښنايي کبماران په ټوله سوېلي امریکا کې په هغو ولاړو اوبو او سیندګیو کې موندل کېږي چې تل یې له مټو ډک وي او تر دوه نیمو مترو پورې غځېږي. ډېر دا موجودات تیاره شین یا د ایرو رنګ لري، چې په خپل طبعي چاپېریال کې په پټېدو کې ورسره مرسته کوي. خو تر ټولو هغه اصلي ځانګړنه په رښتیا ډېره هکپکونکې ده. دا کبماران د الکتروسیټ په نامه حجرې لري چې په عملي توګه هغه په بېټرۍ باندې بدلوي. دا کبماران د بهرنیو جسمونو او وړو کبانو د حسولو لپاره چې خوندور خواړه دي، له دې برېښنايي غړو څخه کار اخلي. دا هکپکوونکي ژوي د خپلو خوړو د برابرولو لپاره نورو کبانو ته کمزوري ټکانونه ورکوي، چې هغوی پرې فلجوي. بیانو خپل ښکار چې تر اوسه پورې ژوندی دی خو تللای نه شي د لمړۍ په شان په خوله ننباسي. دوی د خطر د احساسولو پر مهال د ۶۰۰ ولټه په اندازه برېښنايي ځواک د تېري کوونکي په لوري ورآزادوي. او ډېر وختونه خپل دښمن وژني. په یاد مو وي چې د امریکا په متحده ایالتونو کې یوازې په یوه معمولي پرېز کې ۱۰۰ ولټه برېښنا جریان لري. دا ښکاره ده چې برېښنايي کبماران د دې نوملړ د پاتې موجوداتو په څېر د ډېر فوق العاده ځواکه برخمن دي.

# د تایلنډ هکپکوونکي سمڅې او غارونه

جان سپایس استرالیایي عکاس تر ۳۰ کلونو ډېر ژوند د ټولې نړۍ په ۸۵ غارونو کې تېر کړی دی. او په سلګونو خفاشان او لرغوني قبرونه یې موندلي دي چې په یوه تیاره سمڅه کې یې ژوند کاوه. دا لاندې د تایلنډ د هکپکوونکو سمڅو انځورونه دي چې پر سپایس تر نورو سمڅو ډېرې ګران دي.













## د ترکیې پاموکل

په ترکي ژبه کې دا نوم د مالوچو د کلا په معنی دی. په اسانۍ سره پوهېدلی شو چې ولې دا نوم پرې اېښودل شوی دی. همداراز دا طبعي حیرانوونکی ځای د سوریې د هایراپولیس د ښار یوه برخه ده، او د پېړیو په تېرېدلو سره دغه دواړه ځایونه د نیږدېوالي له کبله سره یو شوي دي. په رښتیا د دې ښار یوه ښکلې منځېره لرغونې هدیره ده. راڅڅېدونکې ښکلې ډبرې چې یو مرکز لري او سپین وربښمین ډوله رنګ جوړ شوي دي. د تودو اوبو چینې لري چې د کلسیم د کاربونونو د ترسب خولې لري. چې خارق العاده ارګانیکي شکلونه یې جوړ کړي دي.

## دجنوبي قطب د اربس د غره کنګلي برجونه

د آربس غر د نړۍ تر ټولو ډېر فعال اورغورځوونکی دی. دا غر د ځمکې له مخې کابو ۴ کیلومتره لوړ دی. له دې کبله چې د غره د څوکې په خوله کې د وېلې شویو کندو د لرلو له کبله د پېژندل شویو اور غورځوونکو په ډله کې راغلی دی. د اورغورځوونکو کمرونو له چاکونو او درځونو څخه چې سره او تاوده بړاسونه خېژي د غره په چاپېر یې د ولاړو کنګلو پېچلی سیستم جوړ کړی دی.

## د متحده ایالتونو د نوادا د فلای اورغورځوونکی




د اوبو شیندونکو دا منځېره داسې ښکاري چې ته به وایې دا یې د یوې بلې سیارې څخه اخیستې ده یا دا چې د ځمکې پر مخ یې له یوه خیالي فېلمه اخیستې ده، د فلای (الوت) اوبه شیندونکی چې په یوه شخصي ځمکه کې پروت دی یوه نادره پدیده ده. په ۱۹۱۶ کال کې د دې ځمکې خاوندان د دې بېدیایي ځمکې د حاصلخېزولو لپاره د اوبو په لټه کې وو. دوی اوبه وموندې خو تر څو لسیزو پورې د دې چینو اوبه اېشېدلې. په پای کې هغه برمه چې د اوبو د ننه په ژوره ستنه کې وه د اوبو په زېرمه ولګېده او داسې اوبه شیندونکی یې راجوړ کړ.

## د کاشاکاټووه ټېنټ کَمُرونه (ګټې)




(متحده ایالات، نوې مکسیکو)

په نوې مکسیکو کې کاشاکاټووه ټېنټ داسې ځای دی چې پکې قلمي او توږل شوي کمرونه شته، چې د ۶ میلیونو کلونو په لړ کې له اورغورځوونکو څخه جوړ شوي دي. که څه هم جوړ شوي کمرونه د شکل له مخې سره ورته دي، خو د لوړوالي له مخې سره توپیر لري. د لوړوالي دا توپیر له څو فوټو نیولې بیا تر ۹۰ فوټو پورې شته.

## ګرنډ کنیون (لویه ژوره دره) *Grand Canyon*

د Grand Canyon دره د امریکې د اریزونا په ایالت کې پرته ده چې د کلوراډو سیند یې له منځه تېر شوی دی. د ګرنډ کنیون د درې ډېره برخه د ګرنډ کنیون په ملي پارک کې پرته ده چې دا پارک د امریکې یو لومړنی ملي پارک دی.



د ګرنډ کنیون دره ۲۷۷ مایله (۴۴۶ KM) اوږده، ۱۸ مایله (۲۹KM) پلنه او یو مایل (۶۰۰۰ فوټه یا ۱،۸۰۰KM) ژوره ده. داسې ګومان کېږي چې دا دره د کلوراډو د سیند د تیږو د ښویولو په وسیله دوه میلیارده کاله مخکې رامنځته شوې ده. خو د دې درې په اړه د ځمکپوهنې د مسلو په اړه ډېرې خبرې شته دي.

کله چې اروپایانو امریکې ته کډه نه وه کړې نو په دې دره کې امریکایي بومیان اوسېدل. دوی په دې دره کې د اوسېدلو لپاره د استوګنې ځایونه او ډېر خارونه جوړ کړي وو. او آن د پوبلیو وګړو دا دره یو سپېڅلی ځای ګاڼه. اسپانوی ګارسیا لوپز دکادناس لومړنی سړی و چې په ۱۵۴۰ کال دغې درې ته ورسېد. همدا اوس هم په ګرنډ کنیون کې د ۵۰۰ په شااوخوا کې سورپوستان اوسېږي.

ګرنډکنیون په امریکا کې هغه سیمه ده چې ډېر سیلانیان ورته راځي، په ځانګړې توګه جنوبي څنډه یې. خو د سیل پر مهال ډېر آرام ځایونه هم پکې موندل کېږي.

که څوك غواړي دې درې ته پلی ورښکته شي، نو بویه چې د ډېر ژوروالي او ګرمې هوا له کبله لوړ بدني قدرت ولري. څومره چې سړی د درې تل ته نږدې کېږي همدومره هوا پکې ډېره تودېږي.

## لویه مرجاني پرښه *Great Barrier Reef*

د مرجانونو څخه جوړو لویو پرښو ټولګې ته وايي چې داسټرالیا هېواد په ختیځ کې په آرام سمندر کې پرته ده. د مرجانو دا لویه پرښه د نړۍ د مرجانونو تر ټولو لویو پرښو ټولګه ده.

په دې لویه ټولګه کې د تر دري زرو ډېرې پرښې او نهه سوه ېېلابېل ټاپوګان شته.چې د مزي په توګه د کوینزلنډ د ایالت په ختیځ کې د کورال په سیند کې غځېدلي دي، او په ټوله کې تر درې سوه زرو کیلومترو ډېر پراخه او ۲۶۰۰ کیلومتره اوږده ده.

د دې ټولګې ډېره برخه د اسټرالیا د دولت له خوا د یوه ملي سمندري پارک په چوکاټ کې خوندي شوی دی. لویې مرجاني پرښې په اسټرالیا کې د ډېرو سیلانیانو پام ځانته وراړولی



دی، او دا د کوینز لنډ یوه نښه ګڼل کېږي. ټانزوېل، کَنز، او مېکای هغه ښارونه دي چې د مرجاني پرښو لیدلو ته ډېر سیلانیان راځي. دا ټولګه په ۱۹۸۱ کال کې د یونسکو د نړیوالو آثارو په نوملړ کې ثبت شوې ده.

په ۲۰۱۲ کال داسې خبر خپور شو چې د ۲۷ کلونو په موده کې د مرجانونو د لویو پرښو شمېر نیمایي ته راښکته شوی دی. د پوهانو په باور د دې سمندري پرښو د لړېدو لامل ډېرې سیلۍ (توپانونه) او د سمندري ستورو د ټولیو ډېروالی دی چې د خوړو لپاره دا مرجانونه څټي. خو شنونکي بیا په دې باور دي چې که سمندري ستوري په خپله ولکه کې راوستل شي، دا مرجاني پرښه به بېرته ورغېږي.

## ریو دې ژانیرو

په پرتګالي کې **Rio De Janeiro** د ژانیرو د رود په معنٰی دی، چې لنډون یې ریو ده. د ریو دې ژانیرو ایالت مرکز د برازیل دوهم لوی ښار، او د سویلي امریکا درېیمه لویه سیمه ده. چې په دې توګه د ۶.۳ میلیونه وګړو نفوس د لرلو له کبله د امریکې شپږم او د نړۍ شپږویشتم لوی ښار ګڼل کېږي. دا ښار د ۲۰۱۲کال د جولای په لومړۍ نېټه د یونسکو په نړیوال میراث کې د ریو دې ژانیرو: د غره او سیند تر منځ د کاریوکا منځېره) په نامه یوه فرهنګي منځېره ثبت شوه.

د ریودې ژانیرو ښار کابو دوې پېړۍ له ۱۷۶۳ تر ۱۸۱۵ زیږدیز کال پورې د پرتګالیانو، په ۱۸۱۵ تر ۱۸۲۱ زیږدیز کال پورې د پرتګال، برازیل او الګارو د متحده پاچاهۍ په دوره کې او په پای کې د ۱۸۲۲ تر ۱۹۵۰کال پورې د برازیل هېواد پلازمینه وه.

دا د ګرځندویانو ښار د اطلس سمندر د خلیجونو، سیندغاړو او پر ګڼو ځنګلونو باندې پوښلو غرونو په څنډه کې پروت دی. د ریو دې ژانیرو ښار به په ۲۰۱۶ کال کې د اوړنیو المپیکي سیالیو کوربه وي.

## د ریو ښار د سیندغاړې

د ۲۰۰۷ کال په اوړي کې د ایپانما د سیندغاړې انځور



د ریو ښار د کُپاکاپانا، ایپانما او لِبلان په نامه درې سیندغاړې لري. دا سیند غاړې خلک د سپرو څپو دجنت په نامه پېژني. په آزادو سیندغاړو کې لامبوزن او پر څپو سپاره په بربنډه لامبو او د لمرې حمام کولای شي. د دې سیندغاړو د مشهورېدو یوه برخه هم همدا قانون کېدای شي.

## د مسیح مجسمه

د کورکوواډو (Corcovado) د غره پر سر باندې په ۷۱۰ متری کې د نړۍ تر ټولو لویه مجسمه ولاړه ده. دا مجسمه ۳۷ متره لوړه ده چې د مسیح عیسی شکل یې په پرانیستې غېږې سره انځور کړی دی.



د کوراکواډو پر غره باندې د مسیح مجسمه

# د اېورېسټ غر

نیپالی نوم یې ساګارماتاसगरमाथा چې د ”آسمان سر“ بلل کېږي، په تبت کې بیا د ګومولانګما په نامه د ځمکې پر سر تر ټولو لوړ غر دی. لوړه څوکه یې د سمندر له سطحې څخه ۸،۸۴۸ متره (۲۹،۰۲۹ فوټه) لوړه ده. دا غر د همالیا د غرونو له لړی څخه د نیپال د ساګارماتای او د چین له تبت سره په پوله کې پروت دی.

په ۱۸۵۶کال کې چې کله د لوی هندوستان د مثلثاتي نقشې د اخیستلو په پلان کې د لومړي ځل له پاره د اورېسټ د څوکې لوړوالی چې هغه مهال ۱۵څوکه نومېدله ۸۸۴۰ متره په اندازه رپوټ شوه. په ۱۸۶۵ کال کې د اورېسټ رسمي انګرېزي نوم د د جغرافیې د سلطنتي ټولنې له خوا په هندوستان کې د برېتانیا د هغه وخت د چارو مشر اندرو واګ د توصیه پاڼې پر بنسټ کښېښودل شو. واګ یو محلي او ټولیز نوم پرې اېښودلای نه شوای،ځکه چې په هغه مهال تبت، او نیپال ته پردي وګړي نه شوای ورتللای. په همدې توګه د اوږدو پېړیو په لړ کې دا غر تبتیانو او نیپالیانو چامولونګما باله.

د اورېسټ څوکې په ټولو برخوکې د غرونو د ډېرو ګرځندویانو پام ځانته وراړولی دی.

که څه هم دغه غره ته د ختلو معیاري لاره داسې ښکاري چې تجهیزاتو او مسلکي ټکنیکونو ته اړتیا نه لري، خو ورختل ډېر ګران دي، نو د غرونو کوم ګرځندویان که هغه نوي یا هم تجربه کار وي باید د پیسو په ورکړې سره د مسلکي غره ختونکو په وسیله ورته لارښوونه وشي. یوه بله خبره دا هم ده چې دغه اته زره متري غره ته د کې۲ او نانګاپاربات له لارې ختل بیا نو ډېر ستونزمن دي. خو هلته طبعي خطرونه لکه د لوړوالي ناروغی، تېز بادونه، او ناسمه هوا بیا یوه بله لویه ستونزه ده. د ۲۰۰۷ کال د غره ختنې د موسم تر پایه د څوکې تر ۳۶۷۹متره لوړوالي پورې ۲۴۳۶ کسه وختل. د ثبت شویو شمېرو پر بنسټ اورېسټ د ۲۱۰ کسو ژوند ترې اخیستی دی. له دې سربېره د سختو سیلیو له کبله په ۱۹۹۶ کال کې ۸ کسانو ژوند له لاسه ورکړ. همدارراز ناسم شرایط هغه څه دي چې ډېر وګړي له دې ځایه راوغورځېږي . او له منځه ولاړ شي.



د نورې پاس برخې په اړه نوي معلومات هېڅ نشته.

Everest_kalapatthar_crop.jpg (۸۰۰ × ۵۳۸ پیکسل، اندازه دوسیه: ۹۱ کیلوبایټ، ډول MIME دوسیه: image/jpeg)

## قطبي شَفَق

په انګرېزي کې ورته Aurora وايي، د ځمکې د اتموسفېر يوه پديده ده. (قطبي شفق: تر لمر لوېدو وروسته د افق سوروالی دی.)

هغه ښکلې رڼاګانې دي چې په طبعي ډول په آسمان کې ترسترګو کېږي. دا شفقونه ډېر په شپه کې د جغرافيوي قطبونو په سورونو (عرضونو) کې ښکاري. دوی په (يونوسفېر)کې جوړېږي او په قطبي سباوون کې ليدل کېږي. د شمالي قطب په جغرافيوي سور کې ورته شمالي شفقونه هم وايي.


په ګرينلېنډ کې د قطبي شفق انځور

دا نوم د روميانو د سباوون د خدای او د يونان د شمالي باد څخه اخيستل شوی دی، چې په ۱۶۲۱ کال کې پيرګاسندي دا نوم پر دې طبعي پديده باندې کېښېښود. قطبي شفقونو ته د شمالي قطب رڼا هم وايي، ځکه چې په شمالي نيمه کُره کې ډېر راڅرګندېږي. له شمالي مقناطيسي قطب سره د څنګ په څنګ توب له کبله کېدای شي دوی وليدل کېږي. د بېلګې په ډول د کاناډا په شمالي ښارونو کې چې قطب ته ډېر نږدې دي د دوی د راښکاره کېدلو امکان زښته ډېر دی.

قطبي شفقونه شمالي مقناطيسي قطبونو ته نږدې ډېر ليدل کېدای شيو خو په شمالي اُفق کې په کمزوري زرغون وي او چې کله د لمر پلوشې ولګېږي نو په سره رنګ معلومېږي. قطبي شفقونه، د وړي له مياشتې څخه تر تلې او له کب څخه بيا د وري تر مياشتې پورې پېښېږي. ځينې کاناډايي قبيلې دغه پديدې ته د ارواوو نڅاګانې وايي.

په سويلي قطب کې هم دا پېښېږي، خو يوازې په ډېر جغرافيوي سويلي سور کې راڅرګندېدای شي. کله کله په سويلي امريکا او اسټراليا(چې اسټراليا په لاتين کې سوېل ته وايي) راښکاري.

بنجامين فرانکلېن هغه لومړی کس ؤ چې د قطبي شفقونو ته يې پام واړاوه. د ده نظر داسې و: قطبي شفقونه په بربېښنايي مرکز کې د نور لېږد دی چې په قطبي سيمو کې د واورو او رطوبت له کبله رامنځته کېږي.

د قطبي شفقونو د پېښېدو لامل د لمر له خول څخه د رنګونو وتل دي چې د مقناطيسي لارو او د ون آلن د کمربندونو له خوا قطبي سيمو ته لېږل کېږي.

## د قطبي شفق لوړوالی

پوهانو له څو لسو کیلومترو لېږې واټن څخه د قطبي شفقونو انځورونه اخیستي دي چې د هغو له مخې یې لوړوالی داسې ټاکلی دی: قطبي شفقونه له ۳۰۰ تر ۷۰۰ کیلومترو له ځمکې پورته او ډېر وختونه په ۱۰۰ کیلومتره واټن کې را برسېره کېږي.

قطبي شفقونه په هوا کې هغه ځلېدونکي نري غازونه دي چې تر یوه بریده د غازه ډکو ځلېدونکو برېښنایي ګروپونو ته ورته دی. قطبي شفقونه د ځمکې د اټموسفېر ډېرې ښکلې او طبعي پدیدې دي. یادې پدیدې هغه ډکې ذرې دي چې له لمر څخه د اټموسفېر تر لاندني پوړ پورې ښکته پورته کېږي او هغه رڼاګانې چې قطبي شفقونه ورته وایي راڅرګندېږي. قطبي شفق یا قطبي رڼاګانې په ډېر ښه ډول د شمالي کنګل سمندر یا سویلي کنګل سمندر د جغرافیوي سور په سیمه کې ښکارېږي. قطبي رڼاګانې کټ مټ په آسمان کې د ځلېدونکو رنګونوپه څېر دي. قطبي رڼاګانې د هغو الکترونونو له امله چې د ځمکې د مقناطیسي ډګر په اوږدو کې راچاپېرېږي، رامنځته کېږي. دا الکترونکي کړۍ د ځمکې اټموسفېر ته ننوځي، او د دې لامل کېږي چې نري (رقیق) غازونه چې د اټموسفېر په لوړو برخو کې شته دي د فلویورسېنټ ګروپونو په څېر وځلېږي. دا الکترونونه ډېر له لمر څخه رارسېږي، او یو شمېر یې بیا د لمر په فعالیت پورې اړه لري. کله چې د لمر سطحه ډېره فعاله وي، هغه مهال بیا د لمر آرامه کېدلو پورې قطبي رڼاګانې ډېرې وینو، قطبي رڼاګانې بېلابېل رنګونه درلودلای شي. کله د راځوړندو پردو په څېر، کله د خوځنده رڼاګانو په څېر او کله بیا وړانګو په څېر ښکارېږي. رنګونه یې بدلېږي خو ډېر وختونه بیا زرغون سیوری یا شکل ورسره وي. شفقونه د سلګونو کیلومترو په اوږدو د رنګه رڼاګانو لویې غځېدلې پردې دي. په نادرو حالاتو کې قطبي شفقونه له اُفُق څخه د آسمان د سر تر لوري پورې ټول آسمان وپوښي.

## د قطبي شفقونو د را څرګندېدلو د دورې پلاوې (وارونه)

قطبي شفقونه باید تر ډېره یوازې په قطبونو کې پېښ شي. خو ډېر لږ د جغرافیایي عرضونو په منځ کې هم لیدل کېږي هغه هم چې کله مقناطیسي سیلۍ راوالوځي. مقناطیسي سیلۍ د لمر په ۱۱ کلن وار یا له دې وار څخه ۳ کاله وروسته پېښېږي. په وارونو په دې ۱۱ کلن پړاو کې چې همدااوس موږ هم پکې پراته یو، د لمر د فعالیتونو کچه لوړه شوې او د لمر د سپوږمکۍ له لارې د فعالیتونو کچه لیدلای شو. لاسته راغلې انرژي هم د لمر د بادونو له لارې جوړېږي.

## نورې سیارې

په مشتري او زحل کې مقناطیسي قطبونه ډېر پیاوړي دي او دواړه یې د وړانګو لوی کړۍ لري. د هابل د تلسکوپ له لارې پکې قطبي شفقونه ډېر په څرګنده لیدل شوي دي. په اورانوس او نپټون کې هم قطبي شفقونه شته دي.

قطبي شفقونه د ځمکې په څېر ځایونو کې د لمر بادونه رامنځته کېږي. خو په مشتري کې یې سپوږمۍ ګانې او په ځانګړې توګه د Io سپوږمۍ د دې پدیدې د شتون لامل دی.

دا پدیده همداراز په مریخ او زهره کې هم لیدل کېږي، ځکه چې زهر د ننه مقناطیس نه لري. قطبي شفق کله کله د زهرې ټوله سیاره هم پوښي. دا پدیده په زهره کې د لمر د بادونو په وسیله جوړېږي. همدارنګه د ۲۰۰۴ کال د اګېسټ په څوارلسمه د SPICAM له لارې په مریخ کې هم دا پدیده ثبت شوې ده.

## د وېکټوریا ځروبی

دا د افریقا د لوېې وچې په سوېل کې د رامبزې پر سیند باندې د زامبیا او زېمبابوې پر پوله طبیعي ځروبی دی.

د وېکټوریا ځروبی چې ۱۰۸متره (۳۶۰ فوټه) لوړ د نړۍ تر ټولو لوړ ځروبی ګڼل شوی دی. او همدرانګه یې د وېکټوریا د ځروبي د دواړو خواوو سور ۱۷۰۰ متره (۵۵۷۷ فوټه) لري.



د سکاټلنډ پېژندل شوی کاشف ډېوېډ لیوینګسټن لومړی لوېدیځی کاشف و چې په ۱۸۵۵ کال یې د وېکټوریا ځروبی وموند او هغه یې د ملکې وېکټوریا د ویاړ له امله د وېکټوریا ځروبی ونوماوه. د سیمې د اوسېدونکو په ژبه ورته «موسي اوآتونیا» وایي چې د ژړېدونکې میاشتې په نامه یادېږي.

# د سکندريې سمندري ډېوه

دا د نړۍ له عجايبېو څخه اووم دی، چې په مصر کې وه. هغسې برج چې پر سر باندې به يې تر شپو شپو پورې د سکندريې بندر ته د پالوانانو (بېړۍ چلوونکو) د رسېدلو لپاره اور بل وي. دا برج د فارو په کوچني ټاپو کې جوړ شوی دی، او له همدې کبله د فار کلیمه هغو لوړو څلو او ودانيو لپاره کارول کېږي چې پر سر يې سمندري ډېوې بلې وي. د سکندريې سمندري برج په ۲۴۷-۳۰۴ له میلاده وړاندې کلونو کې د سکندر د ځای ناستي دوهم بطلیموس د سلطنت پر مهال د سوستراټ په نامه معمار له خوا جوړ شو. تاريخ چې د دې برج د لوړوالي په اړه څه ویلي دي د باور نه شي پرې کېدلای. یونانیان وايي چې د ۲۷۲متره په شااوخوا کې لوړ ؤ، خو عربان ۱۰ پېړۍ وروسته مصر ته ننوتل. دوی ویلي دي چې د سکندريې د سمندري برج کنډوالهٔ ۱۶ متره لوړه وه. دا برج څلور څنګونه لري، چې ۶۹ متره لوړ و، ۸ ضلعي دېوال يې درلود، او ۳۸ متره لوړ شوی دی، چې نور ۹ متری برج پرې جوړ شوی دی او د دې برج پر پا سر باندې سمندري رڼاچوونکې ډېوه وه. د سکندريې سمندري ډېوه د دې برج پر سر باندې پاس بله وه، او دا برج تر دولسمې پېړۍ پورې د سمندري ډېوې ځای ؤ.په ۱۳۷۵زېږدیز کال کې په سکندريه او نورو سیمو کې د سختې زلزلې له کبله د سکندريې سمندري برج راوغوځېد، او په کنډواله کې يې هم څه پاتې نه شول. ویل کېږي چې د برج پر برج باندې يوه ډېره لويه هنداره هم لګول شوې وه.

## د سکندريې د جوړښت تاريخ

کله چې سکندر مصر ونيو او يو کال وروسته ترې د ممفس په نامه د مصر د فرعون په توګه د پخواني مصر په پلازمېینه کې د پاچاهۍ خول پر سر کښېښود. که لږ يې نوره هم روښانه کړو: له میلاده ۳۳۱ کاله وړاندې د اپرېل په ۱۶ دغه ۲۵ کلن زلمي قوماندان د خوښۍ په جشن کې څلورو خواوو ته د ۷ په ۳۰ کې يو سټوډيوم چط (۵۳۷۰X۱۲۵۳ متره) ځای پر خپلو پلونو کچ کړ. د ده تر شا يو روحاني سړی ؤ چې د ده د پلونو پر ځای کې يې د وربشو اوړه شیندل. يوه غيب ویونکي ويلي وو چې د وربشو اوړه به زموږ په لوري د خدايانو پام راواړوي او د دوی د درناوي لامل به شي، او د پاچا غوښتنې به رښتينې راووځي. ځکه چې بالکل بېخي همدغه ځای ؤ، د نيل د دلتا لوېديځه برخه وه. ټاکل شوې وه چې سکندريه د ښارونو د لومړي بنسټ په توګه (چې وروسته يې بايد له برکته ګڼ ښارونه جوړېدل) د سکندر په نامه بنسټ کېښودل شي. مقدوني پاچا غوښتل چې د سکندريې په جوړولو سره د يونان فرهنګ او اقتصاد په مصر کې دود کړي. دا ښار بايد يو سوداګريز مرکز او يو لوی او مهم بندر شوی وای. د نوي ښار د نقشه په خپله سکندر جوړه کړې وه. ده په خپله د راټولېدلو د ډګر ځای او د سوداګرۍ مرکز په خپله وټاکل. ده آن د معبدونو شمېر او ځايونه هم جوت کړي وو، دا يې هم په ډاګه کړې وه چې هر يو معبد بايد کوم خدای ته ځانګړی وي. او په پای کې ده دا امر وکړی ؤ چې د يوه سمندري کمر پر سر چې د «فاروس» د ټاپو په څنګ کې چې د سکندريې ښار په مخ کې پروت ؤ، يو داسې رڼا برج جوړ کړي چې تر ټولو هغو سمندري برجونو چې تر هغه دمه جوړ شوي وو لوړ وي.

سکندريه هماغه شوه، هغه څه چې پاچا يې د بنسټ د ډبرې ايښودلو پر مهال له ځانه سره ژمنه کړې وه: د لنډې مودې په لړ کې سکندريه پر ښکلې ښار باندې چې ۶۰۰،۰۰۰ وګړو پکې ژوند کاوه، او دا وګړي ډېر يوناني کډوال، مصريان او يهوديان وو بدل شو. سکندريه

د مدیترانې د سیند پر غاړه یو مهم ښار وګرځېد. سکندر په خپله «سمندري ډېوه» ونه شو لیدلای. دی له میلاده ۳۲۳ کاله وړاندې مړ شو، او ۲۳ کاله وروسته د برج پر جوړولو باندې کار پیل شو.

## د برج ودانول

د برج جوړول یو ډېر ستر کار ؤ: بنسټ یې ۳۰X۳۰ متره کې یوه ودانۍ چې څلور خواوې یې لرلې کونجونه یې قایم الزاویه وو، ۷۱ متره لوړه شوه. پاس خواته یې قطر کمېده، جوړه شوه. پر پاسنې تخت باندې د برج دوهمه برخه جوړه وه، چې دا بیا ۳۴ متره لوړه ۸ اړخیزه ودانۍ پرته وه. پر دې اته اړخیزه برخه باندې بیا یوه استوانه یې ودانۍ پرته وه. چې په هغو کې د رڼا لپاره ځای جوړ شوی ؤ. ددې برخې د ستنو پر سر باندې ګنبد ډوله چت جوړ و، او د برج پر پای برخه کې د ګنبدې پر سر باندې د زیوس مجسمه چې له ۱۳۰ مترۍ څخه یې سمندر ته کتل اېښودل شوې وه. د برج لاندینۍ برخه په ۱۴ طاقونو چې یو بل یې سره پوښه وېشل کېده. د ننه دېوالونو چاپېر مخ په بره راشېوه شوي سطحه اوږده پرته وه. دغه دا سطحه دومره پلنه وه چې دوه بارکشوونکي ژوي په آسانۍ سره څنګ په څنګ پورته تللای شوای. د برج په منځ کې یوه اوږد تونل و چې د برج له لاندینۍ برخې څخه د رڼا تر ځایونو پورې اوږد غځېدلی ؤ. یوه مزي لرونکي پورته کوونکي کولای شوای چې تر پاسنې پوړ پورې مواد او تجهیزات پورته کړي. د برج بهرنۍ بڼه له مرمر ډبرو جوړه وه. د برج پر ودانۍ ۸۰۰ تالنته[1] چې معادل یې ۲۰۸۰۰ کیلو ګرامه سپین زر کېږي لګښت راغی. داسې ګومان کېږي چې د سکندریې برج



د سمندري سیل د ټولو نښو په توګه په هغه وخت په پیل کې په ورځ کې د سمندر ګرځېدلو له پاره ګټه اخیستل شوې وه. په هغه مهال به د لمر تر لوېدلو وړاندې هر مازیګر یو بندر مونده او هلته به څنګ په څنګ راټولېدلې تر څو د شپې د اوبو پر سر باندې پاتې نه وي. په هره توګه د سکندریې بندر له تمې بهر ډېر په چټکۍ سره ښکلی او له تګ راتګه ډک شو. په نني بندر کې چې د نیل د رود پر غاړه پروت و، د نیل د حاصلخېزې درې غلې او د سبو ډولونه تشېدل کېدل. دلته به هغه زده کوونکي چې غوښتل یې د سکندریې په پرمختللې

[1] Talent په یونان کې د سرو یا سپینو زرو د تول واحد و چې اوسمهال یې قیمت په سرو زرو ۵۶۰۰ فرانکه او په سپینو زرو ۵۶۰۰۰ فرانکه کېده. د تالېنت معادل ۲۶ کیلو ګرامه دی.

او نوي پوهنتون کې د نجوم او فلسفې زده کړې وکړي، هغه ناروغان چې غوښتل به یې د سکندریې د پېژندل شوېو ډاکټرانو له خوایې درملنه وشي، سیاستوال او سوداګر او همدارازسیلانیان چې غوښتل یې د نیل سیند په غاړه کې نوی ښار ووینې او ستاینه یې وکړي هم راتلل. هغه مهال به له سکندریې څخه ښیښې، پاپیروس (د الیافو یو ډول دی چې کاغذ ترې جوړېږي)، او کتان تر هر څه زیات صادرېدل. دا چې د سکندریې په بندر کې د بېړیو تګ راتګ ډېر ؤ، نو بویه چې بېړۍ ګانې د شپې هم بندر ته ننوتلای. او څنګ په څنګ کېدلای او یا دا چې له بندره بهر به یې بادبان ایستلو. د همدې لپاره د ډېرې غښتلې رڼا لپاره په برج کې بنسټونه جوړ شول، چې د ونو زنج او کنډ او غوړي سوځېدل. لرګي قیمته وو، باید چې ښار ته راوړل شوي وای، او یوازې د کورونو او بېړیو د جوړولو له پاره کار ترې اخیستل کېده. د رڼا دا لارښوونې، د بېړۍ چلولو په تاریخ کې د سمندر ګرځېدلو لومړي بنسټونه وو. له همدې کبله د سکندریې برج د رڼا د لومړي برج ریښتېنې معنی رابرسېره کړه. دغه جوړه شوې رڼا به مقعرې هنداري بېرته غبرګوله. دا رڼا دومره زوروره وه چې هغه د چاخبره چې سړي آن د نړۍ په هغه بله خوا کې لیدلای شوای. دا غښتلی رڼا اچوونکی د برج له سترې ودانۍ سره یو هغه دلیل ؤ چې سمندري ډېوه یې آخر له ټولې ودانۍ سره له میلاده ۲۷۹ کاله وړاندې د نړۍ اووه ګونو عجایبو په ډله کې راولې.

## د چین دېوال

دا دېوال په چین کې د 中国的长城 په نامه یادېږي دا دېوال په نړۍ کې د جوړېدلو د وخت له مخې د لرغونې نظامي دفاع تر ټولو اوږده او لویه ودانې ده. دا دېوال د چین په نقشه کې اووه زره کیلومتره اوږد دی. دا اثر په ۱۹۸۷ کال کې د نړۍ د میراثونو په نوملړ کې ثبت شو.

که څه هم دا ادعا چې دا دېوال یوه انساني پدیده ده او له فضا څخه نه شي لیدل کېدای په وار وار دروواغ جوته شوې ده، خو اوس هم عوام پر دې خبره باندې عقیده لري.

د چین دېوال له مېلاده ۹ پېړۍ وړاندې جوړ شوی دی. د چین د هغه وخت حکومت د دې له پاره چې د شمالي ولسونو له بریدونو ځان خوندي کړي او ترې خبر شي نو په پوله کې یې له دېوال سره جوخت د اور برجونه او یا د پولې پر سر کلاوې وړې کړلې. د پسرلي او منې د حکومتونو د لړۍ او جګړه مارو هېوادونو د دوکانو تر منځ جګړه ونښته، نو هېوادونو د پولې له غرونو ګټه پورته کړه او د دېوال په جوړولو یې پیل وکړ. له مېلاده وړاندې تر ۲۲۱ کال پورې د چین امپراتور د چین له یو کولو وروسته د دوکانو دېوالونه سره ونښلول، چې په شمالي پولو کې د غرونو پر سر یو لوی دېوال ودرېد. ده غوښتل چې په دې توګه شمالي سیمې د دښمن له بریدونو خوندي کړي.

هغه مهال د چین دېوال ۵۰۰۰ کیلومتره اوږد و. د چین له لړۍ وروسته د خان په لړۍ کې د دې دېوال اوږدوالی ۱۰زره کیلومټره ته ورسېد. د چین په دوه زره او څو کلن تاریخ کې د بېلابېلو دورو واکمنانو د چین دېوال جوړ کړ. تر هغې چې د دېوال اوږدوالی ۵۰زره کیلومترو ته ورسېد. دا شمېر د ځمکې د کُرې په چاپېر له ګرځېدو سره سم دی.

**دا په ۱۹۰۷ز کال کې د چین د دېوال یو انځور دی**

هغه دېوال چې اوس یې خلک ویني، دا دېوال د مېنګ په لړۍ (۱۳۶۸-۱۶۴۴ز) پورې اړه لري، د چین د ګانسو په سیمه کې له لوېدیځ څخه د «جایو ګوان» دروازې ته او له ختیځه د لیائوونینګ په سیمه کې د یالوجیان سیند په غاړه پای ته رسېږي او د هغو نهو سیمو په منځ کې، ۷۳۰۰کیلومتره اوږد یاغي (خودمختاره) ښار او برخه ده او خلک یې اوږد دېوال بولي.



د چین د دفاعي پروژې په توګه د غرونو پر سر جوړېده، له شنو دښتو او مېښو سیمو تېرېده. کارګرو له ځمکنیو ژوبلو سره سم د دېوال جوړېدو ته بېلابېل جوړښتنو په پام کې ونیول، چې د چین د نیکونو عقل او هوښیاري راښيي. دا دېوال لوړو او ژورو غرونو په لړۍ غځېدلی دی. تر دېوال بهر لوړ برجونه ترسترګو کېږي. په اصل کې غر او دېوال سره نښتي دي. له همدې امله دښمن له دې دېواله هاخوا نشي تلای. د چین دېوال



ټول له لویو پخو خښتو او مستطیل ډوله ډبرو جوړ شوی او په منځ کې یې خاورې او د ډبرو

مېرده‌ګۍ (کاږ، پارچې) اچول شوي دي. ۱۰متره لوړ دی. دومره پلن دی، چې څلور آسونه هوسا پکې تېرېدای شي او په یوه ردیف کې یې سور ۴-۵متره دی، چې د غَلو او وسلو د لېږد په وخت کې ستونزه پېښه نه شي. د دېوال د ننه برخه کې د ډبرو زینه او وَر دی، چې هوسا حرکت کوي. په ټاکلې فاصله کې یې دېوالي کټونه او یاد خبرونې لپاره د اور برجونه جوړ شوي. دېوالي کټونه د وسلو او غلو د زېرمه کولو او د سرتېرو د ویدېدو او د جګړې پر مهال پټنځای دی. دښمن به چې برید کاوه، د اور برجونه به یې رڼا کول او د ټول هېواد به یې له بریده خبرېده. اوس د یوه نظامي خنډ په توګه د چین د دېوال هغه مقاومت له منځه تللی؛ خو ځانګړې ودانیزه ښکلا یې د لیدو ده. دچین د دېوال ښکلا اوس ډېر شان او شوکت او دبدبه لري. د غرونو پر مخ دغه خور او وُر دېوال د خوځېدونکي ښامار په شان ښکاري او ډېره زړه وړونکې ننداره یې جوړه کړې. چې له نږدې یې ګورې؛ نو په ښکلا سینګار دروازې، دېوالونه، دېوالي کټونه، په ښکلا مالامال برجونه، د ځمکنیو ژوبلو سره همغږي د اُور دېوالونه په زړه‌وړونکي هُنر ګاڼلي (سینګار شوي) دي. د چین دېوال د ننداري له مخې تاریخي او فرهنګي ارزښت لري. چینایان وایي: « هغه اَتل نه دی، چې د چین پر دېوال ختلی نه وي.»

چینایي او بهرني ګرځندویان چې پر دې دېوال مزل کوي، ویاړي. آن د بهرنیو هېوادونو مشران هم د دې لوی اثر د لیدو موکه له لاسه نه ورکوي.

د چین د دېوال ځینې برخې ښېخې سمې ساتلې شوې، د هغو له منځه بیجینګ ته نږدې د «بادلینګ» دېوال، د«سي ما تای» دېوال، د «موتیان یو» دېوال، د چین د دېوال په ختیځ پای کې د «شان حای ګوان» دروازه ده، چې د چین لومړنی دروازه نومېږي او د «درګان سو» په لوېدیځ پای کې د «جایوګوان» دروازه ده، دا برخې هم د دېوال ډېر مشهور او د لیدو وړ ځایونه دي او سَرُو کال (ټول کال) ډېر ګرځندویان یې لیدو ته ورځي.

د چین دېوال د چین په لرغونې دوره کې د میلیونونو چینایانو د زیار، کړاو او هوښیارۍ انځور دی. دا اثر له زرګونو کلونو وروسته بیا هم له منځه تللی نه دی او د نه فناکېدونکې زړه‌راښکون درلودونکی دی. همدارنګه دا دېوال د چین د ولس د روحیې سمبول (نښه) ده. په ۱۹۸۷زېږدیز کال د چین دېوال د نړیوالو میراث په لړلیک کې «د چین د ولس سمبول» په نامه ثبت شو.

## ایاصوفیه یا حاجیا سوفیا

(ترکي:Ayasofya یوناني:Σοφία Ἁγία)د ختیځ مسیحیت کلیسا وه، چې د «بېزانس» د امپراتورۍ په دوره کې په (۵۳۲ز) کال کې د «لومړي کنستانتین» په امر جوړه شوه. بیا په شپږمه میلادي پېړۍ کې «جاستنیانوس» ورغوله. د دې ودانۍ رغولو ته دوه معماران: د «ایسیدوروس» (د میلتوس یا اوسني سوکلي) او «آنتیېوس» (د ترالس یا اوسني آیدنلي) اوسیدونکي وګومارل شول. د دې ودانۍ د جوړولو چارې د ۱۰زره کارګرو پر مټ د پینځو کلونو په موده کې د سلو باشي(۱) استادانو تر څار لاندې بشپړې شوې او د ۵۳۷ز کال د آرالیک په ۲۷مه نېټه پرانیستل شوه. دا کلیسا لومړی د لویې کلیسا په نامه ونمول شوه. استانبول چې فتحه شو، دوهم سلطان محمدامر وکړ،چې د ایاصوفیه کلیسا دې په جومات

(۱)- په ترکي کې ښاغلي، سردار، مشر او درانه ته وایي.

بدله شي. لومړي سليمان امر وکړ، چې د د اياصوفيې د ننه نقاشی او منځرې دې پټې شي، چې د جمعې لمونځ پکې وکړل شي. دويم سليم «سنان Sinan) سنان اسناند معمار ته امر وکړ، چې اياصوفيه بيا جوړه او سمه کړي. دريېم مراد په اياصوفيه کې مناره، منبر او محراب ورجوړ کړل. د



څلورم مراد په زمانه کې د «مصطفی چلبي» په ليک د آيا صو فيې پر دېوالونو او چت د قرآن کريم آيتونه وليکل شول؛ پر دې سربېره د اياصوفيې تر چت پورې چارچاپېر لوحې ولګول شوې، چې د الله، محمدص، ابوبکر، عمر، عثمان، علي، حسن او حُسين رضي الله عنهم نومونه پرې ليکل شوي وو. د عبدالمجيد د سلطنت په زمانه کې د دې لوحو پر ځای د «ابراهيم آفندي» په ليک ليکل شوي ګردې لوحې ځای پرځای شوې. په ترکيه کې چې جمهوريت اعلان شو او اتاترک واک ته ورسېد، اياصوفيه په موزيم واوښته او تر اوسه په هماغه بڼه پاتې ده. د دې جومات لويه ګنبده د ځمکې له مخه ۵۵متره لوړه ده، ۳۱متره قطر لري چې د ۴۰تو لويو ملامزو (کمربندونو) په وسيله د څلوېښتو اصلي ستنو پر مټ ولاړه ده.

## تاج محل



(په هندي:तIज मह او په اُردو:تاج محل): د نړۍ ډېره مشهوره ودانۍ او يو ښکلې او زړه وړونکې آرامځای کې «آګرې» ښار ته نږدې، د هند د پلازمينې «نوي ډهلي» سوېل ته په ۲۰۰کيلومترۍ کې پروت دی. دا د نړۍ د نويو اووه ګونو عجايبو له ډلې شمېرل کېږي.

دا ودانۍ د هند د پينځم ګورګاني ټولواک «شاه جهان» په امر، د خپلې ايراني الاصله مېرمنې، «ممتازمحل» د ياد لپاره، چې په ۱۶۳۱ز کال په يوه جګړه ييز يون (سفر) کې د امېدوارۍ په شپږو کې مړه شوه، جوړه کړه، وروسته بيا شاه جهان په خپله هم هماغلته ښخ شو.

دا ودانۍ د ايراني، هندي او اسلامي معمارۍ په ګډه مرسته جوړه شوې ده، چې د آسيا د بېلابېلو سيمو په ځانګړې ډول له ايران، هندنيمې لويې وچې، منځنۍ آسيا او آناتولي څخه راغلو ۲۰،۰۰۰ هنرمندانو او معمارانو جوړه کړه.

د تاج محل د جوړولو چارې په ۱۳۳۲ز (۱۰۴۲ل) کال پيل او په ۱۶۴۷ز (۱۰۵۷ل( کال پای ته ورسېدې.

احمدلاهوري او ورور يې استاد حميدلاهوري د يولسمې هجري پېړۍ نامتو ايرانی معمارانو په هندوستان کې تاج محل جوړ کړ. په ځينو متونو کې د عيسی خان شېرازي او امانت خان شيرازي طُغرانويس، چې دواړه ايرانيان دي،نومونه راغلي دي، چې ګواکې د تاج محل د وره او دېوالونو دکتيبو ښکلي ليکونه امانت خان ته سپارل شوي وو.

## د ممتاز محل مړينه او وصيت:

شاه جهان او ممتازمحل په ۱۶۱۲ز کال کې واده وکړ او ۱۸کاله يې له يوه او بل سره ژوند وکړ، چې ۱۴بچيان يې پيدا شول، چې اووه کسه يې ژوندي پاتې او لوی شول. ممتاز محل د شاه جهان دويمه مېرمنه وه، چې د ۱۶۳۱ز کال د جون په ۱۷نېټه د خپل څوارلسم بچي د زېږون په مهال مړه شوه.

شاه جهان چې له ممتاز محل سره ډېره مينه درلوده، په يوه جنګي بريد کې يې له ځانه سره بېولې وه. دا امېدواره وه او  د امېدوارۍ وروستۍ مياشتې يې وې. دا زوکړی ماشوم څوارلسم بچی، لور وه، چې له ممتاز محله پيدا شوه، نوم يې پرې «ګوهره بېګم» کېښېښود؛ خو ممتاز محل هماغه د زېږون په شپږو کې مړه شوه. د مړينې په مهال ۳۹کلنه وه. دې له خپل مېړه وغوښتل، چې له دې وروسته بله مېرمن ونه کړي او دې ته يو آرامځی جوړ کړي، چې نوم يې ورسره تل پاتې شي.

د «ممتازمحل» ناڅاپي مړينې پاچا په وېر ککړ کړ. پاچا له غمجن پاچا تر ډېره سوچه وروسته د خپلې مېرمنې له وصيت سره پرېکړه وکړه، چې د خپلې مينې پر مزار يوه ودانۍ جوړه کړي، چې د مينې شاهده يې وي. د همدې لپاره يې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه طراحان، معماران او استاکاران راټول کړل، چې داسې آرامځی جوړ کړي، چې د ګورګاني معمارۍ وروستۍ لاسته راوړنه شي.

د تاريخ‌ليکوالو د ليکنو له مخې، شاه‌جهان د خپلې محبوبې په مړينه پسې خپل شاهانه‌انعامونه په سپينو چپنو بدل کړل او يو کال د غم پر ټغر کېښېناست. هغه پاچا، چې د خپلې واکمنۍ د لمنې د پراخولو لپاره يې ډېرې وينې تويې کړې، څنګ ته شو او د يوې مودې لپاره يې خپلې لور «جهان‌آراء» د دولت چارې اداره کولې. داسې نکل شته، چې د دوو مياشتو وير په موده کې د شاه‌جهان تور وېښتان سپين شول.

شاه جهان چې د وير له منګولو راووت، د ممتازمحل د وصيت پرځای کولو لپاره يې له ټول هندوستان او د له هنده بهر سيمو څخه غوره معماران او خطاطان راوغوښتل، چې د خپلې تللې مينې د ياد يوه ودانۍ، د آګرې په ښار کې، چې د ګورګاني ټولواکۍ پلازمينه وه، جوړه کړي.

د هغه وخت تاریخ‌لیکوالو دا د یاد ودانۍ د «ممتازمحل روضه» په نامه یاده کړې. ځینې بیا دا باور لري، چې «تاج محل» د «ممتازمحل» مخفف دی. د ۱۷مې زېږدیزې پېړۍ نړۍ ګرځندوی «پیټرماندي» په خپلو لیکنو کې «د ګورګاني دربار ملکه، تاج‌محل» نوم راوړی دی.

شاه‌جهان هم، چې خپله له څو کلونو وروسته، د خپل زوی «اورنګزېب» له لاسه ماتې وخوړه او د «سرې کلا» یا لال قلعې په زندان کې څه وخت زنداني و، له مړینې وروسته د تاج‌محل په ګنده کې د ممتازمحل ترڅنګ ښخ شو.

## د تاج‌محل د ودانۍ او بڼ جوړونه

شاه‌جهان د دې ودانۍ د جوړولو ځای د «یمونا جمنا سیند» غاړه غوره کړه. تاج‌محل داسې آرامځی دی، چې ۵۸متره لوړ، ۵۶متره پلن، «اګرې» ته نږدې د هندوستان د «اوتارپرادش» په ایالت کې د مرمرو پر یوه لویه دړه ۱۰۰متره×۱۰۰متره کې جوړه شوې ده. دا لویه ودانۍ په ۱۸هکتاري پلن بڼ، چې په منځ کې یې د اوبو یوه لویه ویاله ده، جوړه شوې ده.

د شاه‌جهان هوډ دا و، چې د «جمنا» د سیند په بله غاړه کې خپل ځانته هم همداسې آرامځی جوړ کړي او دا دواړه ارامځایونه پر یوه پله له یوه او بل سره ونښلوي. چې داسې نښه وي، چې د ده او مېرمنې اړیکه یې د وخت له بهیرونو هم تېرېږي. ټاکل شوې وه، چې د ده د آرامځي مخ د تاج‌محل د مخ پر خلاف، چې له سپینو مرمرو جوړ شوی و، په تورو مرمرو جوړ وپوښي. خو برخلیک یې دا شو، چې دویم آرامځی بېخي پیل نه شي او پاچا د خپلې مېرمنې ترڅنګ ښخ شي.

تاج محل له ۱۹۸۳ز کال راهیسې د یونسکو نړیوال میراث برخه شوه او د ۲۰۰۷ز کال په نړیواله نظرسنجۍ کې، چې د جولای په ۸مه یې پایلې خپرې شوې، دا ودانۍ د نړۍ د اووه‌ګونو عجایبو په ډله کې، چې تر اوسه پېژندل شوي دي، راغۍ.

د اصلي ودانۍ په دوو خواوو کې، دوې وړې ودانۍ او نږدې‌توب تر سترګو کېږي، چې په لوېدیځ کې یې یو درې ګنبدی جومات، چې له سره ته ورته قهوه یي رنګه ډبرو څخه جوړ شوی او په ختیځ کې یې بله ودانۍ چې د «مهمان‌سرا» غونډې کار ترې اخیستل کېده جوړه شوې ده.

«ګیوین‌هامبلي» د «د ګورګاني هندوستان ښارونه» کتاب لیکوال لیکي، چې د تاج‌محل اېراني ریښې، به هغه لومړنی او پایداره انګیرنه وي، چې د اسلامي معمارۍ د ځانګې یو ځېرونکی د دې ودانۍ له لیدو څخه یاد ترلاسه کوي. د ده په باور، تاج محل د «صفوي معمارۍ» یوه بېلګه ده او دا په رښتیا، د هند په خاوره کې د معمارۍ په هنر کې، د ایراني نبوغ لوړه درجه ښیي. «هامبلي»، د د هنر د تاریخ د کارپوه «هرمان ګوتز» د وینا پر بنسټ خپلې خبرې داسې غځوي:«تاج‌محل د معمارۍ غوره بېګله ده، چې په صفوي ذوق او سلیقه پای ته رسېدلی دی... په تاج‌محل کې د صفوي هنري ارتدکسي سره د اختلاف څو بېلګې لیدای شو، د «راجپوټ سیروان»چې په ګنبده کې د ګنبدې او ستنو تر منځ توپیرونه ترسترګو کېږي. ګلدستې هم، چې کېدای شي د «محمود خلجي» له آرامځي څخه به یې الهام اخیستی وي، جوړ شوي، لږ توپیر لري، راځي. ډېره عجیبه خبره ده، چې «نړۍ عجایبو» کې یوه، داسې ده، چې له ګرګاني (مغولي) هنر سره بېخی لږ اړیکه لري؛ د ګورګاني تمدن په کلاسیکو نمونو او بېګو بدل شوی دی.

# د مانش ۵۲کیلومتري کانال

دا بندرد فرانسي د «ادوکاله» بندر د انګلستان له فولکستون له ښارګوټي سره نښلوي، تر سیند لاندي د هغو په تل کې کیندل شوی دی.




دا بندر چې د اروپا لویه ساختماني پروژه ده، چې عواید یې ۶میلیارده پونډه(له ۱۰میلیارده ډالرو زیات) اټکل شوي دي. دا تونل د سیند په ۴۰ متری کې لاندي جوړ شوی او د موټرونو او مسافرو د قطارونو د لېږد لپاره (د تګ راتګ) دوي کرښي لري.

هر کانال ۷،۲ متره قطر او د پاکې هوا او احتمالي ژغورني دوي ناوي لري. له تونله د قطارونو په وتلو ۳۰دقیقې وخې او له دې پروژې سره د ځمکي له لارې، له پاریسه لندن او همداسې لندنه پاریس ته به تګ ۳ساعتونه راولوېږي. د دې تونل یوه ربړه د لارې په اوږدو کې د غلو او لوټمارو شتون دی.

# سي اِن خلی



(په انګرېزي: CN Tower) د نړۍ دویم لوړ بُرج دی. دا برج ۵۵۳،۳متر (۱،۸۱۵،۳۹فوټه) لوړ دی. دا برج د کاناډا په «ټورانټو» ښار کې دی، چې هر کال ورته د دوه میلیونو په شا او خوا کې سیلانیان راځي.

د سي ان برج په ۱۹۷۶ز کال کې د وګړو پر مخ پرانیستل شو. پر دې پروژه په ۲۰۰۵ز کال کې ۲۶۰ میلیونه ډالر ولګېدل.

# د امپایر سټېټ ودانۍ

(په انگرېزي کې يې: The Empire State Building بولي): ۱۰۲سوداگريز پوړونه لري، چې د امرېکې د متحدو ایالاتو، د نیویارک ښار په «منهتن سیمه» کې پروت دی. د امپایراسټېټ ودانۍ د کلونو په اوږدو کې «د نیویارک ښار لويې څرگندويې» بدل شوی دی. د امپایرسټېټ برج له ۱۹۳۱تر ۱۹۷۲ ز کلونو او «د نړۍ سوداگريز مرکز» تر جوړېدو وړاندې، په نړۍ کې تر ټولو لوړ اسمان څکی گڼل کېده.





یو ودانيز کارگر د امپایر سټېټ د سکلېټ د اوسپنيزو تيرونو پېچونه ټينگوي.

د امپایر سټېټ ودانۍ پینځم او څلور دېرشمو واټونو ترمنځ پروت دی.















# د ګُلډِن ګېټ پُل

په سانفرانسیسکو کې یو ځوړند پُل دی، چې دا ښار د کالفورینیا له ایالت سره نښلوي. دا پل پر «ګلډن ګېټ تنګي» جوړ شوی، چې د ۱۹۳۷ز د مې په ۲۷مه پرانیستل شو او د ۱۹۳۷تر ۱۹۶۴ پورې د ۴،۲۰۰فُوټه (۱،۳۰۰متره) په اوږدوالي د نړۍ تر ټولو اوږد ځوړند پُل ګڼل کېده.



د ګلډن ګېټ پل د ۳۵میلیونه ډالرو په لګښت د څلورو کلونو په موده کې په سانفرانسېسکو کې جوړ شو. دا پل د ۱۹۳۷ز کال د مې په ۳۷نېټه د غرمې په ۱۲بجو د لېږدوونکو وسیلو پرمخ پرانیستل شو. د اوبو له مخه ۲۲۰فُټه (۶۷متره) لوړ دی، چې ۸۸۷۰۰۰ټنه درونډ دی. د دې پله په اوږدو کې دوه برجونه، چې ۷۴۶فُټه (۲۲۷متره) لوړ دي.

په ۱۹۹۷ز کال د ۴۱۳۸۱۰۰۰په شا او خو کې لېږدوونکې وسیلې پر دې پله تېرېدې. د جوړولو پرمهال ۳۰کسه ترې راولوېدل او د بادونو د لګېدو پرمهال کارګران له ډېرو ستونزو سره مخ شول. د سانفرانسېسکو ښار اوسېدونکي دا پُل د خپل ښار ځرګندویه نښه ګڼي.

دا پُل د مشهور معمار «جوزف ستراس» نوښت و، چې تر دې له مخه یې د ۴۰۰خوځندو پلونو طراحي پر غاړه وه. د دې پله د پروژې په ترسره کېدو په بهیر کې معمار او انجینر ایرونګ مارو، چارلِز آلتون اَلیس او لېون مویسیف ګډون کړی و. د دې پله کار د ۱۹۳۳ز کال د جنوري په پینځمه پیل او د ۱۹۳۷ په اپرېل کې پای ته ورسېد. د همدې کال په مې کې د پَلُیو لارویانو پر مخ پرانیستل شو. دا پل یوازې شمال ته د سانفرانسېسکو د وتلو لاره ده. د لېږدوونکو وسیلو شپږ کرښې او په دوو خواوو کې د پلیو لارویانو د تېرېدو دوې کرښې لري. د ۲۰۰۲ز کال د سپټمبر په لومړۍ د لېږدوونکو ګاډو پر تېرېدو، د پله د ژوبلې لپاره ۳-۵ ډالرو مالیه کښېښودل شوه. بایسکېل، کوچني ګادي (شخصي ګاډي) او پلي تېرېدونکي د ژوبلې له ورکړې بښغمه (معاف) دي.

د ۱۹۸۳ز کال د اُکټوبر په لومړۍ د ګلډن ګېټ پر پله د ګاډو چټکتیا په ساعت کې له ۹۰کیلومټرو څخه ۷۰کیلومټرو ته راټیټه شوه. د دې پله سره ته ورته نارنجي دی، چې پر «نړیوال نارنجي» مشهور دی. دا رنګ د همدې پله او د شا او خوا چاپېریال سره د سمون او په سپوږمي او دُوړه(د همدې سیمې د هوا حالت دی)کې د ښې برېښېدنې لپاره ټاکل شوی دی.

دا پل د ښکلاپېژندنې او معمارۍ له مخې په خپل ډول کې په فرد پورې تړلی دی. د ۲۰۰۱زکال د جون په میاشت کې د امریکا د ودانیزو انجینرانو ټولنې دا بنسټ د «زرم

بنسټونه» په نامه ونوموله؛ دا بنسټونه د «پانامې کانال، امپایر سټېټ ودانۍ او ګلډن ګېټ پُل» دي.

## اوسنۍ ربړې:

**ځانوژنه:**

د ګلډن ګېټ پر پله د نړۍ تر بل هر ځایه ډېرې ځانوژنې کېږي. دا پل د اوبو له مخه ۷۵متره لوړ دی.

که مرغۍ ترې راولوېږي، له څلورو ثانیو وروسته به په ساعت کې د ۱۲۰کیلومټره په چټکتیا سره په اوبو کې ډُوز شي (ولګېږي). ډېر مرغان له اوبو سره د لګېدو له امله مري.

بېخي لږ یې د لومړني لامل له امله روغې پاتېږي، په ټوله کې زندۍ کېږي، پا په سړو اوبو کې د یخنۍ له امله مري. د ځانوژنې ډېرې الوتنې په هغه پورې (مخامخ) لوېدیځه غاړه کې کېږي.د اُقیانوس خوا یې د تېرېدونکو پر مخ تړلې ده.

## د پانامې کانال

په نقشه کې د پانامې کانال تر آرام سمندر لاندې او د کارایب سیند پاس پروت دی او د سیند کانال د نقشې په منځ کې ښکارېږي.



د پانامې کانال یو غیرطبعي کانال دی، چې د پانامې په هېواد کې انسانانو جوړ کړی او د آرام سمندر له اطلس سمندر سره نښلوي.

دا کانال په نړۍ کې د یوې ډېرې لویې او له کړاوه ډکې انجنري مهندسي پروژې په بهیر کې جوړ شوی او په نړۍ کې تر ټولو ډېر مهم او پېژندل شوی کانال دی.

هغه شېبې چې له «نیویارکه» «سانفرانسیسکو» ته د بېړۍ چلونې هغه پخوانۍ او معمولي لاره ۲۲۵۰۰کیلومټره اوږده ده، خو د پانامې د کانال له لارې دا واټن ۹۵۰۰کیلومټرو ته راټیټ شوی دی.

پخوا به چې له له آرام سمندره د اطلس سمندر ته بېړۍ تللې، اړې وې، چې تر سویلي امریکا راوګرځي؛ خو د دې کانال په جوړېدو سره مخامخ له اروپا څخه سره راتېرې شوې.

## له کاناله د بېړیو تېرېدل

د پانامې په هېواد کې د کانال کيندلو نظريه په شپاړسمه پېړۍ کې راپيدا شوه. د دې کانال د کيندلو لومړۍ هڅه د فرانسويانو په مشرۍ په ۱۸۸۰ز کال وشوه. دا پروژه دفرانسويانو له ماتې وروسته، چې ۲۱۹۰۰کارگر پکې ووژل شول، امريکايانو پرمخ يوړه او د ۱۹۰۰ز کال په شا او خو ا کې بشپړه شوه، چې په پای کې په ۱۹۱۴ز کال کې دا کانال گټې اخيستنې ته وړاندې شو.

دې د دې ۷۷کيلومټري کانال جوړښت له ډېرو کړاوونو سره مل و، داسې چې د دې کار تر پای ته رسېدو پورې ۲۷۵۰۰کارگر (د فرانسويانو او امريکايانو د کار په بهير کې) مړه شول.

### فني ځانگړتياوې:

د هايدروليکي جگوونکي او کوزوونکي انځور




په پيل کې فرانسويانو داسې هوډ درلود، چې د دوو سمندرونو ترمنځ د وچې خاورې راوباسي، چې بيا يې پروژه له ماتې سره مخ شوه، په دويمه طرحه کې امريکايانو د خاورې ايستلو د حجم د کمولو پرېکړه وکړه. له هغه کوچني سينده يې گټه پورته کړه، چې د وچې په منځ کې ايسار و؛ خو دا سيندگی د روانو اوبو له مخې ډېر لوړ و، چې له سيندگي سره د سمندر د مخامخ تړلو امکان نه و، په پای کې يط د هايدروليکي جگوونکي او کوزوونکي د جوړښت په فکر کې شول.

## د بېړيو تگ راتگ

په دې کانال کې د بېړيو د تگ لپاره:

د هايدروليکي جگوونکي په مرسته د کانال په خوله کې بېړۍ د روانو (آزادو) اوبو له مخې پورته بيايي. بېړۍ چې د سيندگي له اوبو سره همسطحه شي، په هغه مصنوعي کانال کې چې ژور شوی دی، ځي او د سيندگي قطر هم وهي او په پای کې دويم کانال ته ننوځي.



د هايدروليکي کوزوونکي په مرسته د روانو اوبو پر مخ ايښودل کېږي او بيا په سمندر کې خپله لاره وهي.

د پانامې کانال د ميرافلورس لوکاس تر منځ د پانامې تېرېدونکو بېړيو تېرېدنه

د کانال له پرانیستل کېدو وروسته یې بې ساري بریا وموندله او په سمندري سوداګرۍ کې یې لوی اوښتون (انقلاب) راوست. یوازې په ۲۰۰۵ز کال کې ۱۴۰۱۱لامبوزن، په ټوله کې د ۲۷۸،۸میلیونه ټنو جامو په ظرفیت سره له دې کاناله تېر شول، چې دا شمېرنه په یوه شپه او روځ کې د څلوېښتو لامبوزنو د تېرېدو معنی لري.

## د ډُووَر تنګی

د ۲۰۰۲ز د ډېسمبر په میاشت کې له ناسا سپوږمکې اخیستل شوی انځور



د دوور تنګی چې په انګرېزي کې( Strait of Dover) ورته وایي: د مانش کانال تر ټولو تنګه برخه ده. منځ او لېرترلېره د دې تنګي پلنوالي په ترتیب سره یوازې ۶۵ او ۳۴کیلومتره دی او د فرانسې او انګلستان ترمنځ تر ټولو نږدې پوله ګڼل کېږي. دا تنګی ۱۸۵کیلومتره اوږد دی.

د دوور تنګی، د اطلس سمندر له شمالي سیند سره نښلوي او د نړۍ تر ټولو ډېر له وېرې ډکه سمندري لاره ده. له ۱۹۹۴ز کال د مانش کانال په جوړېدو سره مسافر په لیکه د دې تنګي له اوبو لاندې تېر شي.

# چیچن ایتزا

چیچن ایېتزا د مکزیک په هېواد کې د مایا تمدن له لرغونو آثارو څخه دی. د چیچن ایېتزاکلمه د«د ایېتزا د کوهي پرغاړه» په معنی ده، چې خپله «ایېتزا» احتمالاً د مایانو په ژبه کې د کوډو یا جادویي معنی لري. دا اثر د یونسکو نړیوال میراث برخه ګڼل کېږي.



په ۲۰۰۷ز کال دا اثر له شپږو نورو اثارو سره په یوه رایاچونه کې د نړۍ د نویو اووه ګونو عجایبو په کتار کې وپېژندل شوه. ډېر لرغونپوهان په دې باور دي، چې چیچن ایېتزا زر کاله وړاندې د «تاپیلتزین چه کویتزالکولټ» په نامه یوه مایي پاچا پلازمېینه وه. دا معبد د مایانو، چاک، د باران خدای ته د قربانی وړاندې کول وو. په دې معبد کې د انسان قرباني کول هم دود و په معبد کې د قرباني شوو انسانانو پاتې شوني هم موندل شوي دي.

## کلا:

د چیچن ایېتزا په کلا کې څو ډېرینې ودانۍ دي، چې پخوا د ماڼۍ، معبد، حمام، مغازې او نورو په توګه ترې کار اخیستل کېده. د هغو پېژندل شوې برخې دا دي:

El Castillo (کلا)

د دې تولې تر ټولو مهم اثر، El Castillo (په اسپانولي کې کلا، ته وایي)، زینې هرم دی، چې له څلور واړو خواوو څخه له هرمه د راکوزیدو او ختلو زینې لري. دا معبد، د آسمان د خدای دی.

د جګړه‌مارانو معبد.

د لوبغالی

نورې ودانۍ

د چیچن ایېتزا تاریخي اثر په کلا کې نور معبدونه او وړانۍ هم شته. د دې سیمې په ځمکو کې د اوبو دوې زېرمې دي، چې د لرغون پوهانو په ګومان، د دې سیمې اوسېدونکې ترې د اوسېدو لپاره کار اخیست.



## لوی کړیوال نقشونه

په دې سیمو کې څو لوی لوی نقشونه شته، چې کابو ډېر یې د کړۍ غونډې دي او وګړو له له اوسپنیزو وسلو پرته کیندلي دي. د ښار په دېوالونو کې په ناڅرګنده بڼه د ډبرو ټوټې شته، چې هسې سمې غوڅې شوې، چې ښېخي له یوې او بلې سره داسې نښلي، چې د یوې چړې د تېغ د ننوتو ځای یې په منځ کې نه پاتې کېږي. انجینران او معماران یې چې ویني، زموږ په ټولو ننیو فني مهارتونو سره، دې ته ورته شیانو جوړول ستونزمن دي، دا پرمختګونه، چې ګوري د هغو لویې او اغېزمنتیا ته ګوته په غاښ شي. ډېره شونتیا شته، چې دا بنسټونه دې د پرمختللو پوهنو پرمټ جوړ شوي وي، چې له هغه وخت راوروسته هېر شوي دي. کېدای شي، دوی به پوهېدل، چې څرنګه تیږې نرمې او پَستې کړي.

## ماچوپیچو



(په اسپانیایي: Machu Picchu)، د پخوانی کلا معنی لري، د اینکاهانو له دورې راپاتې آثارو یو لرغونی سرای دی، چې د سیند له مخې ۲،۴۳۰متره لوړ د «اروباما» درې د غره پر لمنه پروت دی. دا سرای د «پرو» په هېواد

کې د «کوسکو» په شمال کې په ۷۰کیلومټرۍ کې پروت دی. ډېر وختونه یې «د اینکاهانو ورکځشوی ښار» بولي. ماچوپېچو احتمالاً د اېنکاهانو د امپراتورۍ تر ټولو پېژندل شوې بېلگه او نمونه گڼل کېږي.

دا ښار د ۱۴۵۰ز کال شا او خوا جوړ او سلگونه کاله پخوا د اېنکاهانو د سوبې (فتحې) پر مهال اسپانویانو پرېښود. پېړۍ تېرېدې او له وگړو هېر و؛ خو یوازې د هماغې سیمې د وگړو یې نوم په زړه و. دا اثر په ۱۹۱۱ز کال کې «هېرام بېنگهام» امریکایي تاریخپوه نړیوالو ته وروپېژانده. له هغې وروسته ماچوپېچو داسې سیمه شوه، چې د ډېرو سیلانیانو مخ یې وروااړاوه. په ۱۹۸۱ز کال د پرو د هېواد د آثارو په نوملړ او بیا په ۱۹۸۳ز کال د یونسکو د نړیوال میراث په نوملړ کې ثبت شو. دا اثر اوس د «اووه گونو نویو عجایبو» په ډله کې راځي.

ماچوپېچو په ډېرینو دېوالونو سینگار شوې، چې د اېنکاهانو د کلاسیکې معمارۍ سره سمه جوړه شوې. د دې ډلې لومړنی بنسټ د «این‌تي‌هوآتانا» (په اسپانوي:Intihuatana) (د لمر معبد) دی، چې دا کوټه درې پنجرې لري او د ماچوپېچو په سیمه کې، چې لرغونپوهان یې «سپېڅلې سیمه» بولي، پرته ده. په ۲۰۰۳ز کال کې د دې لرغوني ښار سیلانیان ۴۰۰،۰۰۰کسه وو. د ۲۰۰۷ز کال په سپټمبر کې «پرو» او د «ییل پوهنتون» د لاسي صنایعو د بیا پیل تړون وشو. چې دا لاسته راوړنه یې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د «هېرام بېنگام» پر مټ ترلاسه کړه.

## د ماچوپېچو تاریخ



این‌تي‌هوآتانا(په انگرېزي: Intihuatana is) داسې برېښي، چې د کوډو یو ساعت دی، چې اینکاهانو طراحي او جوړ کړی دی.

په ۱۹۱۱ز کال د ماچوپېچو ښار انځور



ماچوپېچو د ۱۴۵۰ز کال شا او خوا د اېنکاهانو د امپراتورۍ پرمهال جوړه شوې ده. شا او خوا سل کاله وروسته، د اسپانیا د امپراتورۍ په بریا پسې پرېښودل شو.

دا کلا، د اینکاهانو د پلازمینې «کوسکو» په

۵۰مایلۍ کې پرته ده او له همدې امله د اینکاهانو د نورو ښارونو په څېر هېڅکله نه پیدا شوی او نه هم وران شوی. د دې ټولې شا او خوا ځنګلونو د پېړیو په تېرېدو کې وده وکړه، هغه یې پټه کړه، او له همدې امله له سترګو پټه پاتې ده. یوازې لږ خلک یې له شتونه خبر وو. د ۱۹۱۱زکال د جنورۍ په څلورویشتمه، امریکایي تاریخپوه «هېرام بینګهام» د «ییل پوهنتون» کې په یوه وینا کې ماچوپیچو، لوېدیځې نړۍ ته وروپېژندله. ده ته د سیمې هغو اوسېدونکو چې کله کله به یې سایټ کوت، لارښوونه وکړه. بېنګهام د لرغونپوهنې مطالعې وکړې او د هغه ځای په اړه یې خپلې څېړنې بشپړې کړې، هغه یې «داینکاهانو ورک شوی ښار» وباله، چې همدا د ده د لومړني کتاب نوم هم و. ده د هغه سیمې د اوسېدونکو لارښوونو ته هېڅ ارزښت ورنه کړ او هغه یې د سرچوک یوه آوازه وبلله.

بېنګهام د «وېکتوس» ښار، چې د پر پرو باندې د اسپانیا د واک پر مهال د اینکاهانو د مقاومت وروستی پټنځای و، لټاوه. په ۱۹۱۱ز کال کې د سیمې په شا او خوا کې تر ډېرو هلوځلو او سفرونو وروسته، «کوانچوآنز» (په اسپانوي:Quechuans)، چې په ماچوپیچو کې د دې ښار تر اصلي جوړښت لاندې اوسېده، د کلا لاره وروښوده. دی څو ځله بیا هم ورغی او په ۱۹۱۵ز کال یې په سایټ کې نور ګوګونه (ژورې کیندنې) هم وښودې. ده د ماچوپیچو د موندنې په اړه کتابونه او مقالې ولیکلې.

«سیمون وېسبارډ»، د «کوسکو» پخوانی څېړونکی دعوه کوي، چې «انریک پالما، ګابینو سانچز او اګوستین لیزاراګا»، چې هلته یې د ۱۹۰۱زکال په څورالسمه پر یوه کمّره(ګټ) نومونه کښل شوي، له بېنګهامه مخکې یې هغه ځای موندلی. همدارنګه په ۱۹۰۴ز کال د «فرانکلن» په نامه یوه مهندس هغو کنډوالو ته له لېرې په ښکاره نغوته کړې. د «پین» کورنۍ د ادعا له مخې دوی «توماسپین» مذهبي مُبلِغ ته، چې همالته یې ژوند کاوه، د دې ځای په اړه ویلي دي. ښکاري، چې په ۱۹۰۶ز کال، پین او د «ستورات ای مک نارین(۱۸۶۷-۱۹۶۵ز» په نامه بل مبلغ سره دې کنډوالو ته ورختلي دي.

په ۱۹۱۳ز کال کې، چې د ملي جغرافیې ټولنې (په انګرېزي: National Geographic Society) د اپرېل میاشتې ټول بحثونه دې ځای ته ځانګړي کړل، ډېر مشهور شو. په ۱۹۸۱ز کال کې، د ۳۲۵،۹۲کیلومټره مربع پراخه سیمه، چې ماچوپیچو یې راایساره کړې، د پرو د تاریخي میراث یوه برخه شوه. دا سیمه یوازې همدا کنډوالې نه دي؛ لاچې د دې سیمې طبعي منځرې هم پکې راځي.

ماچوپیچو په ۱۹۸۳زکال د یونسکو نړیوال میراث وګڼل شو. دا سیمه «د معمارۍ یو سوچه شهکار او اینکهانو د تمدن په فرد پورې تړلې نښه» ونومېده. دا اثر اوس د «نویو اووه ګونو عجایبو» په ډله کې شمېرل کېږي.

## جغرافيايي سيمه




د ماچوپيچو ځای



## د لمر معبد

ماچوپيچو د کوسکو د شمال لوېديځ په ۷۰کيلومترۍ کې، د ماچوپيچو د غره پر هسکه څوکه، د سيند له مخه ۲،۳۵۰متره لوړه پرته ده. دا اثر په سويلي امريکا کې د لرغونپوهنې تر ټولو مهم اثر او د پرو د هېواد تر ټولو زياته ليدل‌کېدونکې سيلاني راښکونکې سيمه ده.

له پاسه، د ماچوپيچو د بېلکې (سترګټ) له پاسه، د کمره ۶۰۰متري عمودي ډبرينه دره ده، چې په پای کې يې د «اوروبامبا» سيند راځي. د دې ښار ځای د نظامي رازونو يوه برخه ده.

## توریزم (ګرځندويي)

ماچوپیچو د یونسکو د میراث برخه شوې، د پرو هېواد ترټولو ډېر لیدل کېدونکی ځای دی، چې سیلانیان ورته راځي، دا سیمه د اقتصادي او سوداګریزو ګوابنونو څخه د عوایدو د لاسته راتګ تر ټولو مهمه خوندي سرچینه ده. د ۱۹۹۰ز کال په وروستیو کې، د پرو هېواد په دې سیلاني کنډواله کې، د مزي۱ جوړلو ماشین، یوه ښکلي هوټل، او رسټورانټ جوړولو امر صادر کړ.

له دې پرېکړې سره ډېر پوهان او د پرو هېواد ټولو وګړو مخالفت وکړ. دوی باور درلود، چې په دې سیمه کې د توریستانو (سیلانیانو) ډېرښت ورته خطر زیاتوي.

د ماچوپیچو سیلانیان ورځ تر بلې زیاتېږي او په ۲۰۰۳ز کال کې یې شمېر ۴۰۰،۰۰۰کسو ته رسېده. د همدې لپاره په دې برخه کې د نوي پله جوړول له سختو نیوکو سره مخ شو او یونسکو دا برخه «له ګوابن سره مخ آثار»و په نوملړ کې راوست.

له دې ځایه کاراخیستلو دې ځای ته سخت زیان واړاوه، د ۲۰۰۰ز کال په سپټمبر کې د «این تيهوآتانا» لمریز ساعت د یوه ۴۵۰کیلوګرامي جرثقیل راغورځېدو سخت زیان واړاوه، همدا جرثقیل یوه تبلیغاتي شرکت د یوه اوبلټوونکي ماډل لپاره یې خبرتیاوې جوړولې، کار اخیستل کېده.

**یوه ننداره**



د ماچوپیچو ۱ ننداره



د ماچوپیچو ۲ننداره



---

[1] – له اوسپنیزو توکو جوړ مزی، د بېړیو طناب، د برېښنا او تلګراف مزي ته هم وایي.

د ماچوپېچو ۳ ننداره



د ماچوپېچو ننداره، له «هوآیناپیچو» څخه سرکښی



د هستوګنځي یوه ننداره

## مایا



د مکزیک په سوېل او د مرکزي امریکا په شمال کې د سورپوټکو د قوم د یوه خېل نوم دی او هم په همدې سیمه کې د یوه لرغوني تمدن نوم دی. مایان چې د سورپوټکو مشهوره قبیله ده، ډېر ښارونه یې باراني ځنګلونو په زړه کې جوړول. د مایانو د ژوند او فعالیت سیمه د مکزیک هېواد په سوېل او هم په ټوله ګواتمالا او السلوادور کې اوسېږي.

د مایا قوم د مرکزي امریکا د یوه پرمختللي تمدن جوړوونکی و، چې په هنر، معمارۍ، ستورپوهنه او ریاضیاتو کې ډېرې څرګندې لاسته‌راوړنې درلودې. اوس هم د مایا قوم ځېنې ډلې په مکزیک او ګواتیمالا کې ژوند کوي. مایانو له لرغوني تمدن«اولمک» څخه په ګټې اخیستلو سره، د ۲۵۰-۹۰۰ز کلونو ترمنځ په مرکزي امریکا کې لوی تمدن رامنځته کړ. د مایانو تاریخ په درېیو مهمو برخو وېشل شوی دی او له کلاسیله وړاندې دورو یا لومړنی ژوند او کلاسیکې دورې یا زرینې دورې او له کلاسیکه وروسته دورې یا د دې تمدن د ورکّېدو (له منځه‌تګ) راځي. دې قومونو چې د مایانو د ژبې په ګڼو ګړدودونو خبرې کولې او د هېروغلیفي لیک په لومړنی ډول لیک یې لیکنې کړې. د مایا تمدن د نړدې پرتو قومونو له لاسه کمزوری او په پای کې د اسپانویانو له یرغل سره له منځه ولاړ. له دې ورکېدو مخکې مایانو د نامعلوم لامل له مخې په یو وار تمدن او ستر ښارونه پرېښودل او د غرونو په لمنو کې مېشت شول، چې د دې پېښې لامل، د هغې دورې د لیکل شویو آثارو د له‌منځه‌تګ او بېلابېلو روایتونو له مخې تر اوسه تت دی. له دې وروسته د مایانو تمدن پرېښودل شو او د غرونو د مایانو واک هم لومړی د «آزتکانو» او بیا د «اسپانویانو» په لاس له منځه ولاړ. نني مایان چې د مرکزي امریکا د لرغونې دورې د قوماندانو او مشرانو پاتې‌شوني دي، شمېر یې اووه میلیونه وګړو ته رسېږي، ډېر یې د مکزیک په سوېل او د ګواتمالا او بلیز په غرنیو سیمو کې اوسېږي.

## د مایانو تاریخ



د مایانو په کلاسیکه دوره کې د تیکال ښار مرکز د خپل قدرت د اوج پر مهال

داسې ګومان کېږي، چې مایان له لسمې زېږدیزې پېړۍ مخکې مرکزي امریکا ته ننوتل، د لرغونپوهنې د څېړنو له مخې، د «بلیز» په هېواد کې د بومیانو (اصلي اوسېدونکو) د مېشتېدو نښې له میلاده ۲۶۰۰کاله پخوا زمانه ټاکل شوې ده. د مایانو کالنی له میلاده ۳۱۱۴کلونه پخوا راښيي. او هو؛ د مایانو یو پخوانی منل شوی حکایت هم، له میلاده ۱۸۰۰کلونه پخوا وخت کیسه کوي. د مایانو د پیدایښت د تاریخ له مخې، دوی په پیل کې شمالي امریکا له سیمو څخه سوېل خوا ته راغلل او د «ګواتمالا» په لوړو کې یې ستر تمدن جوړ کړ. د مایانو د تمدن تاریخ پر درېیو دورو: لرغونې، کلاسیکه او له کلاسیکې وروسته دورو وېشل شوی دی.

## لرغونې دوره:

د مایا د تمدن په لرغونې دوره کې، له میلاده ۱۰۰۰تر ۲۵۰کلونو پخوا کلونه راځي. لرغونې دوره پر درېیو پړاوونو: لومړي، دویم او درېیم وېشل شوي دي. دا دوره چې له کشف او پرمختګ سره پیلېږي، له میلاده وړاندې دویمې زرۍ وروستي کلونه پکې راځي. له ښاري ژوند سره مینه همدا مهال راوټوکېده. کلي او ښارونه جوړ شول، مایایي لګ رامنځته شو او د مایانو لرغونی ژوند د همدې دورې په لومړیو کې په ښکار او وړو (دانو) راټولولو پیل شوی و، په ښاري ژوند او کرنه واوښت.

د مایانو د لومړني ژوند په اړه معلومات لږ دي؛ خو د منځني پړاو په اړه، چې له میلاده پخوا څلور پېړۍ پکې راځي، د لرغونپوهنې پرمختګونو ته په پام ډېر معلومات لاسته راغلي، چې «اولمک» تمدن سره د مایانو د کلتور ګډېدل او پخوانې دودونه راښيي. د مایانو د لرغونې دورې په وروستي پړاو کې د ښاراوسېدنې اصلي بنسټونه راڅرګند شول، دا پړاو له میلاده ۲۵۰کلونه پخوا پورې رسېږي. دا وروستی پړاو په رښتیا د مایا تمدن د پرمختګ او ښېرازۍ د پیل وخت دی.

## د مایا تمدن کلاسیکه دوره:



په چیچن‌ایتزا کې په دیارلسمه زېږدیزه پېړۍ کې د کوکولکان هرمي عبادتخونه

دا پړاو، چې د مایانو زرینه دوره ګڼل کېږي، له ۲۵۰-۹۰۰زېږدیزو کلونو کې وه، چې مایان پکې د سترتوب تر اوج او ځلېدنې ورسېدل. «دولت – لوی ښارونه» پکې رامنځته شول، د «تیکال» غونډې ښار پکې جوړ شو. د دې دورې په اړه داسې اټکل کېږي، چې د دوو میلیونو په شا او خوا کې مایان پکې اوسېدل، چې سل زره (یولک) کسه یې د تیکال په ښار کې اوسېدل. ډېر جوړ شوي بنسټونه له کورنو، ښاري امکاناتو او ویالو پرته، ټول بنسټونه مذهبي ویاړونه دي. د «یوکاتان» په سیمه کې د کوپان، چیچن ایتزا، تیکال، تنوتیهواکان او پلانکه په څېر ښکلي ښارونه جوړ شول. په دې دوره کې په مذهبي ځایونو او همدارنګه د ښکلا او سینګار په موخه له سرو زرو کار اخیستل شوی دی.

په دې دوره کې د مایا په ښارونو کې د ژوند کچه او څرنګوالی ډېره پرمختللې او په غوره حالت کې وه. له ګاونډیو قومونو او له پولې هاخوا ښارونو سره د جګړې په ډګر کې د مایایي نظامیانو برى، د خوراکي توکو زیاتوالی او هغه اسانتیاوې چې پر ټولنه د واکمنې طبقې تدبیر راښیي، په ټولنه کې یې یو ډول نسبي سوکالي او هوسیاینه راپیدا کړې وه. له بلې خوا په کلاسیکه دروه کې له لېرې او نېږدې سیندغاړو قومونو سره سوداګرۍ او د ښارونو ترمنځ د ډېرو اوږدو پلیو لارو شتون د دې قوم پرمختګ ته لاره هواره کړې وه. په دې دوره کې تر سلو ډېر لوی او واړه ښارونه جوړ شول. هو، کله کله د یوه نوي ښار جوړول داسې وو، لکه بل ښار چې تشوې؛ خو د ښارونو د جوړولو له دې چټکتیا او د لویو ښارونو د جوړولو لپاره د طراحۍ په سیستمونو کې مهارت، هغه ځانګړتیا ده، چې د لرغونې امریکا په د نورو قومونو څخه یې د مایانو قوم لري. د کلاسیکې دورې په لړ کې د مایا تمدن تر ټولو غوره او ارزښتمنه پېژندنه، څلور اصله وو، چې هغه د دوی: مذهب، هُنر، معماري او ټولنه وه.

## تر کلاسیکې وروسته او د اروپایي یرغلګرو د ننوتلو دوره:



مایانو چې توده وسله نه درلوده، په ډلیزه توګه به یې د اسپانویانو په نیولو لاس پورې کاوه او کله کله به پکې ډېره بده ټولوژنه (قتل‌عام) ګډېده.

د مایا تمدن له کلاسیکې دورې وروسته دوره له ۹۰۰ز پیل تر شپاړسمې پېړۍ د اسپانوي یرغلګرو تر ننوتو پورې رسېږي. مایانو د تاریخ په یوه نامعلومه پېښه کې په ناڅرګند ډول ناڅاپه خپلې ټولې متمدنې ځمکې پرېښودې او غرونو ته ولاړل. د ناڅاپي ګډې دلیل روښانه نه دی، چې مایان څرنګه د اوسېدلو له دبدبې ډکو سترو ښارونو ناڅاپه ووتل. د دوی په اړه د عامو ناروغیو د خپرېدو یا لومړنیو یرغلګرو د بریدونو بېلابېلې فرضیې او مذهبي باورونه

وړاندې شوې دي؛ خو تر اوسه يې يو هم د منلو وړ ګرځېدلی نه دی. مايانو چې له نهمې زېږدېزې پېړۍ څخه مخ په ورکېدو کړی، يوه يوه يې د ښارونو پر پرېښودلو پيل کړی او د ځنګلونو ځنډونو ته به تلل. که څه هم مايانو د ادبي اثارو کمښت او متونو له منځه تګ د دې ستونزې د موندنې د لاملونو د له منځه تګ لامل شوی؛ خو که د وروستي دوديزو (سنتي) کتاب «چيلام‌بالام» منځپانګه وګورو، هلته يکې ښکاري، چې د مايا په ټولنه کې د يوې وېرې او نهيلی وړاندوينه شوې وه. دا وېره او ډار د همدې کتاب په يوه لرغونې او دوديزه ټوټه کې ښکاري:

هغه ورځ، به ټوله ځمکه ډُوړې نيسي

هغه ورځ، به د دې ځمکې مخ داغي شي

هغه ورځ، به راڅرګنده توره وريځ شي

هغه ورځ، به يو غښتلی د همدې ځمکې واکمن شي

هغه ورځ، به هر څه لېرې سره تيت شي

هغه ورځ، به تازه پاڼې، سره زمولي.

هغه ورځ، به سترګې پټې شي په مړينه.

د مايانو له ناڅاپي کډه‌کېدو وروسته، نوي قومونه راغلل او د مايانو خاورې يې ونيولې. د چېچن ايټزا لوی ښار د «تولتيک قوم» په لاس کې، چې د مکزيک د لوړو څوکو نيم وحشي‌قومونه وو، پرېوت. نورو قومونو هم د مايانو د خاروو په نيولو لاس پورې کړ او کابو د مايا تمدن ټولې لاسته راوړنې له لاسه ووتې. دا بهير تر ديارلسمې زېږديزې پېړۍ روان و او په پای کې په ديارلسمه پېړۍ کې مايان بريالي شول، چې پر خپلو ښارونو بېرته واک ومومي؛ خو توپير يکې دا و، چې هغه وخت په مايا کې د يوه حکومت پر ځای شپاړسو کوچنيو حکومتونو واک چلاوه. د مايانو فرهنګ هم د تېرې دورې په نسبت ډېر کمزوری او له پښو لوېدلی و او کابو د «آزتک تمدن» تر سيوری پرې غوړېدلی و او يرغلګرو اسپانويانو، د مايا تمدن بېخي له بېخه وايست. اسپانويانو ته د «يوکاتان» فتحه، د امريکا د نورو تمدنونو او ولسونو له له نيولو او اېل کولو سخت و. که څه هم په پنځوسو کلونو کې بريالي شول؛ خو پر دې خاوره پر بشپړ بري موندلو۱۷۰کاله تېر شول. په ۱۵۱۱ز کال اسپانويان ورننوتل او «ايټزا» يې د وروستي مقاومت ځای و، چې په ۱۶۹۷ز کال کې مات شو. اسپانويانو چې د مايا خاوره فتحه کوله، له داسې قوم سره مخ شول، چې د تېرو کلونو هغه سياسي خپلواکي او بېخي لوړ نظامي ځواک يې بايللی و؛ خو د اروپايي يرغلګرو پر وړاندې په شدت سره جنګېدل. داسې چې د دې خاورې اسپانوی موندونکی «هرناندزدکوردوبا»، د هغه ټپ له امله ومړ، چې په جګړه کې يې خوړلی و. بلا مودې وشوې، چې مايان د اسپانيا د رعيت په توګه په غرنيو سيموکې اوسېدل او اوس د دوی ډېر شمېر د مکزيک، ګواتمالا، بليز او السلوادور په ښارونو کې ژوند کوي، چې د خپلو متمدنو نيکونو دوه زره کليز دودونه يې ساتلي دی. د اوسنيو مايايانو شمېر ۷ميليونو ته رسېږي، چې ډېر يې په اسپانوي ژبه غږېږي.



مایايي پاچا «یاکسچیلان» له خپلې مېرمنې سره په هغه نقاشۍ کې چې پر دېوال کښل شوې او د برېټانیا په موزیم کې ساتل کېږي. مېرمن يې همدا اوس خپله ژبه غوڅوي، چې وينې يې پر ځمکه تويې شي. دا پاچا ته يوه ډول غيرجاني قرباني ده.

د مایا ټولنه له هغو قبیلو څخه جوړه شوې، چې په له میلاده وړاندې پېړيو کې ورو ورو سره راټول شوي وو. که څه هم د ښار او کلیو فرهنګونه سره متضاد وو؛ خو د خدايي-پاچا نظام شتون هغه لامل و، چې د مایا د وګړو فرهنګ، ژبه او مذهب يې سره جوخت کړي وو، چې په دې توګه د مایا په ټولنه کې عمومي او ټولیز فرهنګ رامنځته شو. د مایا په نظام کې ټولنیز مقام ډېر مهم ګڼل کېده او هر چا ته به دا مقام له نیکونو څخه په میراث پاتې کېده. پاچا به د ټولو په سر کې و او د پوړونو لړۍ ته ډېر پام کېده. مایانو به د طبقو له مخې په ښارونو کې تنخواوې اخیستلې. د مایا په ټولنه کې تر ټولو ښې بوختیاوې: مذهبي او کاهني، د پوځ افسري، لیکنه، د اسنادو ښه خوندي ساتل، ودانیزه انجینري او سوداګري وه. د دې بوختیاو تر څنګ د ټیټ‌پوړو بوختیاوې: د ودانیو کارګري او صنعت‌ګري وه، چې دوی به داسې تولید کاوه، چې ګومان به دې کاوه، چې دوی په همدې ځانګو کې ښه روزل شوي دي. د مایا په ټولنه کې د وګړو نورې بوختیاوې: کرکیله او په ښار کې خدماتي چارې؛ لکه: پخلی، پاکوالی او چوپړ و، چې تر ډېره په دې هره بوختیا کې د وګړو نسب ډېر اغېز درلود.

مایانو به په ځانګړیو ځانګوګانو کې خپل تي‌خوري ویدول، چې په سینګار شویو دړو به د تي‌خورو ماشومانو سرونه پلنېدل او دوی دا ښکلې او بختوره چاره ګڼله. د مایانو دودیز

خواړه، چې له لیکنو او نقاشیو او همدارنګه د ننیو مایانو له دودونو ښکاري، داسې برېښي، چې د غوښې، سبو، جوارو، د خوږو خوړو ګډوله و. خوراکي توکي به د قحطۍ او یا جګړو په شېبو کې له انبارونو څخه تیارېدل، چې پاچا به ځارل. په ښارونو کې سوداګري ښه په درب کې روانه وه او دا د نجیبانو د طبقې کار و،چې دا بازارونه د بېلابېلو ښارونو په اصلي ډاګونو کې جوړېدل. د ښار په اصلي ډاګ کې به له دې موسمي بازارونو پرته، چې له وړاندې ټاکلي وخت کې به جوړېدل، د ښار مهمې ورځنیۍ چارې هم همدلته سرته رسېدل. په دې چارو کې: مذهبي جشنونه، د بریا مېلمستیاوې، نظامي رسم ګذشت، نندارې او د قبیلو رغونلې‌ېدل راتلل.

## د مایانو سیاسي نظام

د مایانو ټولنې په لرغونې دوره کې قبیلوي ژوند درلود او د هرې قبیلې مشر جلا و، چې د قبیلې مذهبي، کورني او سوداګریز کړه وړه یې ځارل. د لرغونې دورې په وروستي پړاو کې، د مایا په ټولنه کې د مرکزي حکومت پر بنسټ نوی حکومتي نظام جوړ شو، هغه داسې و، چې مایانو فکر وکړ، چې په ټولنه کې تر قبیلوي مشره، پاچا د وګړو ټولې چارې ښې ځارلی او سنبالولای شي. پاچا به د خدایانو او انسانانو ترمنځ وسیله ګڼل کېده، چې ورو ورو د مایا په ټولنه کې ټولو شاهي نظام ومانه. مذهبي کاهنانو د نفوذ د ساتلو لپاره دا خبره ومنله او ټینګار یې پرې وکړ. وروورو دا باور خور شو، چې که د پاچا له امره سر وغړوي، د خدای او ځمکې پر بلاوو به اخته شي. مایي پاچاهانو د خپل واک په سیمه کې د ښه نظم راوستلو لپاره طبقاتي نظام رامنځته کړ او روحانیون او نظامیان یې خپل خپلوان وګڼل.

## ټولنیزې طبقې

د مایا ټولنه په دې دوره کې په دوو برخو: غوره او ټیټه وېشلې وه. غوره ټولنه، چې د شتمنو طبقه وه، په دوو ډلو وېشلې وه، چې لومړۍ ډله شاهي کورنۍ او دویمه ډله روحانیون، سوداګران او روزل شوي مسلکي جنګیالي وو. په ټیټه ډله کې کروندګر، صنعتګران، ښکاریان او هنرمندان وو. ماهرو صنعتګرو په دوی کې لوړ مقام درلود او تر نورو غوره وو. د مایانو په سیاسي نظام کې یوه ښځه صدارت او پاچاهۍ ته هم رسېدله او د ټولې چارې یې په لاس کې اخیستې، دا هغسې وخت و، ې په شاهي کورنۍ کې به د دې چارې لپاره څوک نه وو. د همدې طبقو په جامو او پوښاک کې هم توپیر و؛ د دواړو طبقو ښځو به که څه هم یو ډول نخي جامې، چې ګردې آزادې لمنې یې لرلې؛ خو په ګلدوزیو کې یې سره توپیر و. د ټیټې طبقې وګړو به د اکس په نامه له ټوټو جوړ شوي کوټونه اغوستل؛ خو د غوره طبقې نرو به د پاتي په نامه واسکټونه[1] اغوستل.

[1] - هغه جامه، چې پر کالیو پاس اغوستل کېږي او لستوڼي نه لري

## د مرییه‌توب نظام



د لرغونو مایایي وګړو انځور، چې د مکزیک په ملي موزیم کې ساتل کېږي..

د مایا په ټولنه کې مریېه کول دود وو او د مرییو سوداګري د مایانو غوره سوداګري وه. په مایایي ټولنه کې یو کس په درې ډوله مریېه کېده. یو دا چې یوه بېوزله مایایي کورنۍ به د خپل روزګار د ښه کولو او د ښې تنخوا موندلو لپاره، د خپلې کورنۍ یو غړی د مریېه په توګه خرڅاوه. دویم دا چې، چا به څه جرم یا جنایت وکړ، په دې شېبو کې شونتیا وه، چې قضایي چارواکي یې په معلومولو سره د جریمې په توګه د مریېه حکم پرې وکړي. دریېم د نورو قومونو هغه ډله وګړي وو، چې په جګړه کې به ونیول شول، هغوی خو بې له هغو هم مریيان و، چې جګړه‌مارانو به پلورل. هو؛ که به دا کس د دښمن د غوره طبقې یا نجیبو ټولنو له ډلې و، بیا به د یو لړ ځانګړیو درنو مراسمو په ترڅ کې وژل کېده، چې د هغوی وژل خدایانو ته د قربانۍ یو ډول مراسم ګڼل شوي. چې هرو مرو به یې د آزتکانو د قربانۍ له کړنلارو سره بېخي پوره توپیر درلود.

## کورنی نظام

د مایانو په ټولنه کې د ټولنې تر ټولو کوچنی یوون (واحد) کورنۍ ګڼل کېده، چې په پلار، مور او بچیانو او همدارنګه له مرییو څخه جوړېده. د مایا په منځ کې هره کورنۍ په خپل وار سره د لوړې کورنۍ یه منځ کې وه، چې خپل کورونه به یې له هغو ګردچاپېره په یوه ګډه ځای کې نښتي جوړول. ودونو د منصب پر بنسټ کېدل، د نجلۍ پلار به په ټیټ عمر کې د هغو دلالانو له لارې ، چې کار یې په بېلابېلو طبقو کې نجونو ته د مناسبو خاوندانو او کوژدنو لټول و، زوم پیدا کاوه. د ګڼو ودونو کول یوازې د غوره طبقې حق و او د واده مراسم به کاهو له تشریفاتو او د روحانیونو له لاسوهنې پرته ترسره کېدل. د مایانو په دودونو کې اصل وینه او نژاد و او هر چا ته د هغوی د خپل ټبر او پلارګنۍ پر بنسټ، ټولنیز مقام او مرتبه رسېده. مایانو ته هغه کورنۍ اصیلې او شریفې وې، چې پلرني یا مورني نیکونه به یې پېژندل‌شوې څېرې وې.

## مایایي هنر:



د مایانو د کلاسیکې دورې لرغونې کاسه، چې په هندوراس کې موندل شوې.

کله کله د مایانو د کلاسیکې یا زرینې دورې هنر، د نړۍ تر ټولو غوره او ښکلی هنري مکتب ګڼل شوی. د مایانو هنر که څه هم د «اولمک» تمدن د لرغوني نمونې له دودونو ګټه اخیستې؛ خو هغه نوښت او پنځونه «خلاقیت» چې د مایانو په ټولنه کې راوزیږېد، هغو ته یې د لرغونې امریکا تر ټولو تمدنونو ځانګړې او متفاوته څېره ورواغوستله. دوی به د خدایانو په اړه خپلې عقیدې د هنري آثارو د پنځونې له لارې څرګندولې. معماري، نقاشي، مجسمه‌جوړول او کولالي تر ټولو غوره او مهم هنرونه وو.

## معماري او ښارجوړونه

د مایایي معمارۍ: اصلي لیکنه

دمایان د معمارۍ هغه آثار، چې تر اوسه پر ځای پاتې، په ټوله کې د ښاري ودانیو او کلیو جوړول، شاهي ماڼۍ، عبادتخونې، مذهبي او عبادتي هرمونه، ښاري لارې ګودرې؛ لکه: کانالونه، د اوبو زېرمې، ښاري لارې او کوڅې دي. په ټوله کې په کوڅو کې د ډبرو ټغر غوړول شوی، ښاري مهندسانو به لومړی د ښار نقشه جوړوله بیا به یې ورسره سم د پاچا نظر غوښت. د مایانو مذهبي ودانۍ، چې هرم‌ډوله دي، ټولې د مایانو له مذهب، نړۍ‌لید (اېډیالوژۍ) او د دوی له کالنۍ (تقویم) سره یې اړیکه درلوده.په معمارۍ کې زینو ځانګړی ځای درلود او په ټولو آثارو کې یو ډول نه یو ډول ترسترګو کېږي.د مزایکو د جوړښت په

نمونو کې له رنګارنګو رنګونو کار اخلي. د مرکزي امریکا په معماری کې، مایانو په خپل زرین عصر کې، د کوټو د ننه یا لارو ګودرو او د ودانیو په بهرنۍ څېره کې له بېلابېلو نقشو او انځورونو کار اخیستی دی. مایانو د ودانیو په معماری کې آهکي ډبرې د مصالحو په توګه کارولې. د مایانو مهم آثار له آهکي ډبرو جوړ شوي دي.

د مایانو په تمدن کې به ښارونه داسې رامنځته کېدل، چې په کلیو کې به د وګړو شمېر زیات شو، بیا به یې د کلیوالی د مراسمو په لړ کې کلیوالو خپل کورونه پرېښودل. ځنګلي کورونه نړېدل او اوږدعُمري کورونه به سره ګردچاپېره په یوه تشه سیمه کې، چې پخواني کلي به وو او بیا به د ښار مرکزي اګونه کېدل، جوړول. د ښار په مرکزي ډاګ کې یوه لمانځخونه (عبادتخونه) راجوړوله، چې د ښار اصلي هسته به یې جوړوله او کله به بیا له شااوخوا راپورته کېده. د دې ښارونو د اوسېدونکو شمېر به په ټوله کې لس تر پینځه‌لسوزرو رسېده. په دې توګه د مایانو د لویو ښارونو؛ لکه: «تیوتیهوآکان» د اوسېدونکو شمېر تر پنځوسوزرو کسو اوښت.



په «یوکاتان» کې د ځنګله د ننه د مایایانو د ښار کنډوالې

## نقاشي



پر کولالیو نقاشي

«نقاشي» د مایایي تمدن یو بل اړخ و، چې هغه کړنلاره تر ننه هم د مایایي ټولنو په منځ کې دود ده. نقاشي به ډبرې پر هغ ټوټو او دېوالونو کښل کېدې،چې کله کله به ګچونه هم ورسره مله وو. په مایانو کې آسماني‌شین‌رنګ د اُلوهیتي اړخ درلود او هغه رنګونه چې په نقاشیو کې به ترې کار اخیستل کېده،هغه تل‌پاتې نمونه وه، چې نه تجزیه کېده او نه له

منځه تله. هغه رنګونه چې پر ټوټو به ترې کار اخیستل کېده، هغه به د یوې پېچلې کېمیاوي طریقې په ترڅ کې ترلاسه جوړېدل او نن یې څېړونکي د کېمیاوي ازمایښتونو له لارې د دې رنګونو د باثباتولو په طریقه پوهېدلي دي، چې اوس هم د پېړیو پېړیو په تېرېدو سره یې هماغسې تلپاتېینه او ځلا ساتلې ده. همداراز مایانو د نقاشۍ په برخه کې د هغو نوښتونو له مخې، چې په رنګ جوړونه او ګچ‌غوڅونه کې  درلودل، د لرغونې امریکا د لمانځخونو په د جوړښت په ډول کې بدلونونه راوستل. داسې چې مایانو لمانځخونې داسې جوړولې چې له زینو جوړولو سربېره پکې رنګي نقاشیو طرحې او ګچ‌غوڅونې هم وې، چې تر ډېره به مایايي خدایان او لمانځل‌کېدونکي شاهان پکې انځورېدل.

## د مایانو دیني باورونه



د «کوکولکان» انځور، چې نیم‌انساني او نیم‌ماري ډول دی. کوکولکان په مایايي ژبه کې د وزرلرونکي مار معنٰی لري.



لرګینه مجسمه،چې د مرکزي ونې یا «واکاه‌چان» خیالي انځور راښیي.

د مایانو د مذهبي تفکر سبک د نړۍ له لرغونو مذهبي عقایدو سره بشپړ توپر درلود. د دې دین ډېر لرغوني متون له منځه تللی او له همدې امله د مایانو پر لرغونې ایډیالوژۍ پوهېدنه سخته او تر ډېره پر انګیرنه او ګومان باندې ولاړه ده. په مایايي ټولنه کې دین یو موټی‌کونکی عامل ګڼل کېده او له پاچا نیولې تر مرییو پورې

ټولو پر یوه دین ایمان درلود. حکومتونه به تل مذهبي او پر دین‌ولاړ وو او د همدې لپاره له دیني بارونو سرغړاوي یا په هغو کې د نویتوب راوړلو د واکمنانو غوسه راپاروله. که څه هم چې د مایانو په دین کې د ژوند ټول اړخونه راتلل؛ خو همغومره عرفاني هم و او معنوي خبرو ته یې پام کاوه. د مایانو په دوودیز مذهب کې ګڼ خدایان وو او هر خدای هم یو ناهمځېلی (همجنس) همځولی د مېرمنې یا خاوند په توګه درلود، چې هغه یې تر مړینې وروسته به په لاندینۍ دنیا یا «زیبالبا» کې ورته ښه راغلاست وایه، چې بېرته ژوندی شي او آسمان ته وروګرځي. تر اوسه هم د مایايي ټبرو اوسېدونکو ډلې په «هندوراس، ګواتمالا او مکزیک په لرغونو مایايي باورونو عقیده لري او د خپلو اروپايي سوبمنو (فاتحانو) مذهب یې بشپړ منلی نه دی.

## د مایانو نړۍ لید

د مایانو په مذهب کې، خدای دوه خدايي او انساني اړخونه لرل، چې په دریو برخو کې یې کار کاوه، چې هغه برخې آسماني نړۍ، ځمکنۍ نړۍ او تر ځمکې لاندې نړۍ پکې راتلې. تر ځمکې او مکانه لاندې د خدایانو نړۍ د ټبرو د ارواوو د اوسېدو ځای و. آسماني واکمنۍ دیارلس او تر ځمکې لاندې نهه پوړه وه. په دې پوړونو کې هر یو یې د یوه جلا خدای واک سیمه ګڼل کېده. د مایانو مذهبي دودونه سم راپه ډاګه شوي نه دي. لامل یې د مایانو د سرچینو د ستړې برخې له منځه تګ او د مایانو د ټولنې ستره برخه پر مسیحیت ګروهمنېدل دي. یوازې د (واکاه‌چان) په نامه مرکزي ونې له لارې له خدای سره اړیکه ټینګېدای شوه. د دې ونې ولې(ریښه) تر ځمکې لاندې نړۍ، ډډه یې د ځمکې پرنړۍ او څانګې یې د آسمان نړۍ ته رسېدې. د سرښندویانو(قربانیانو) وینې یا هغه نذرونه چې پاچا ته به خاورو کې تویېدې، د ونې ریښې زېښېلې او په ګرده نړۍ کې یې خورولې.

## دیني خدایان

اصلي لیکنه: د مایا اسطورې

د مایي خدایانو څرنګوالی جوتول هم، له نړۍ څخه د دوی له تصوره پېچلی دی، د لوېدیز انسان ذهن ته نااشنا برېښي. مایي خدایانو خپله ظاهري بڼه او باطن بدلولای شو. د بېلابېلو هنري آثارو د پنځولو دلیل هم همدا دی، چې مایانو د خپل خدای په هر ډول بڼه تصوروالی شوه او رغوله(تجسموله)به یې. لرغونپوهان وایي: د مایانو ستر خدای (اېتزاما) نومېده. دغه خدای دوې نورې بڼې هم لرلې، چې یوه یې (هوناب‌کیو) د(لومړنی ژوندی خدای) په مانا او بله (کوکولکان) د (وزروال مار) وه. مایانو داسې ګڼله، چې اصلي خدای ځان (د پیو لار کشهکشان) غوندې هم څرګندولای شي، د نړۍ پالونکی او پیداکوونکی دی، ټول خدایان یې ترلاس لاندې دي. (کینیچ‌اوهایو) (د لمر خدای) او هو (هوناهپو) (د زُهرې خدای) و. دا خدایان به تر ډېره د ورځې او شپې پر سر په لانجه وو. کروندګرو هم د (یوم‌کاکس) په نامه دوه خدایان، چې (د سوړسک یانې جوارو) خدایان وو، درلودل. یو بل یې (چاک) د بارانه خدای و. چاک خدای به چې انځورېده، د مار غوندې غاښونه لري. څلور بېلابېل رنګونه یې وو، چې د جغرافیې شمالي، سوېلي، ختیځو او لوېدیځو لوریو ته ورګرځېده. هر

یوه ته په سپین، ژېړ، سره او تور رنګ اوښت. یو جلا خدای، چې ښځو درناوی ورته لاره، (اېکس چل) نومېده، د نویوزېږېدونکو د زوکړې، د ناجوړو د جوړولو اووړاندوینې پاز یې پر غاړه و.

## له معنوي نړۍ سره اړیکه:

همداراز مایانو باور لاره، چې هر انسان همځېلی(همزاد) لري، چې د اروا په بڼه راڅرګندېده، له خدایانو سره یې ناسته پاسته وه، د وګړو ژوند یې اغېزمنولای شو. انسانانو د دعاوو او دیني چارو او هم (د ارواستنونې درملو) لګولو سره اړیکه ټینګولای شوه. دا همځېلې چې تر ډېره پر (ځمکنۍ نړۍ) پورې اړوندېدل، مړي هم د فرد او ټولنې د اړیکو عامل ګڼل کېده، چې دغو پر ځمکې لاندې نړۍ پورې اړه لرله. فرد اړ و، د دې چارې لپاره بېلو ځایونو؛ کله: تیارو سمڅو ته ولاړ شي. د لرغونو مایانو په باور د مکاشفاتو له لارې او د ارواګروځونې د توکو په لګولو سره هم، د خدایانو له نړۍ سره اړیکه ټینګېدای شوه، چې ورم او نصیحت ترې واخیستل شي. دیني (وړاندویانو) د خپلو وړاندوینو لپاره د نجوم پوهنې تر څن دې کړندود ته مخ وراړاوه.

## د مایانو ریاضیات:




د مایانو په عددي سیستم کې عددونه

په څرګنده خو مایانو تر یوه ځایه ریاضیات له (اولمک)قومونو څخه زده کړي وو. ښایي هغوی به په نړۍ کې لومړنی قوم و، چې د صفر عدد پر موندنه بریالی شو. دا پېښه شا او خوا په ۳۶مخزېږد کال کې وشوه. ۶۰۰کاله وروسته، هندوان د صفر پر راز پوه شول او د مسلمانانو له لارې اروپا ته ورسېد. په مایایي عددونو کې د صفر کښنې نښه، د کب غوږ ته ورته وه، چې کښل کېده به. د مایانو د ګڼلو(شمېرلو) نظام هم د نړۍ د اوسني روان نظام پر خلاف، چې لسګونی دی، شلګونی و. مایانو هر عدد ته یو ټکی اېښود، چې اُفُقي بڼه یې وه، چې د دې اعدادو شمېر به پینځو ټکو(پینځم عدد) ته ورسېد، د پینځو ټکو پر ځای به یې

يوه عمودي ليکه کښله. په لوړو اعدادو؛لکه: (شپږ، اووه او نورو) کې به يې، پر اُفُقي کرښه يو، دوه يا زيات ټکي ايښودل. په دې ډول د مايانو په ليکنه کې د لس عدد دوه کرښې پاس پر پاس وې. د يولسو لپاره يوازې پر همدې کرښو د يوه ټکي ايښودل بس وو. د اعدادو ليکنه تر انتها پورې وه او په هر ځل له صفر څخه کار اخيستل د يوې ټوټې هومره، د هغو شل شمېرې پورته بېولې؛ خو په نړۍ کې د رياضي په اوسنی دود نظام کې، تر يوه مخکې صفر، د هغو لس واره زياتوي. د مايانو ليکنی ليک هيروغليف و او تصويري نښې يې لرلې. کله به کښونکو د صفر يا ټکي يا ليک کښلو لپاره، له بلې انځوري نښې ګټه اخيسته، چې خپل کښېدونکي اثر – چې تر ډېره به کيندل کېده – لاښکلی کړي او هنري يې وبرېښوي. همدا چاره د لرغونو مايانو دځينو (شمېري يادګارونو) په موندنه کې څنډ شوي دي. د مايانو د جمعې او تفريق نظام هم د ننې دوديز غوندې و؛ خو دوی د څلورګونو اصلي عمليو نښې داسې نه کارولې؛ خو د دوی د شمېرنې دود کابو د نړۍ د اوسني دود غوندې و.




## د مايانو ستورپوهه (نجوم)



په چيچېن ايتزا کې د کراکول رصدخانه

مايانو زده کړي وو، چې له رياضياتو څخه د آسماني ستوريو د حرکاتو او بدلونونو د شمېر او ثبت لپاره ګټه واخلي. په يادښتونو او مايايي ليکنو په ډېوالونو کې به يې خپل آثار او موندنې ثبتولې. د مايانو د ديني مشرانو زده وو، چې څرنګه د لمريز کال، سپوږميزو مياشتو او ان د زهرې سيارې حرکتونه وشمېري. مايانو د دغو شمېرنو لپاره له ترکيبي رياضياتو

کار اخیسته او د خپلو نویو موندنو د ثبت لپاره یې تر نورو لرغونو امریکایي ولسونو څخه په ډېره ماهرانه توګه له لیکه ګټه اخیسته. دوی په لرغونو جدولونو کې لمرنیونه او سپوږمۍ نیونه (خسوف او کسوف) ثبتول او هغو ته یې د مهالوېشنې جدولونه جوړو کړي وو. دوی د خپلو مذهبي دودونو(مناسکو) د تنظیمولو لپاره د ستورپوهنې له راکړې-ورکړې څخه ګټه پورته کوله. مایانو د لمرنیونې او سپوږمۍ نیونې د پېژندنې تر څنګ د زهرې او مریخ او لږ څه د عطارد سیارو د چورلېدو (څرخېدلو) د لارې دقیقې محاسبې کښلې (ترسیم کړې) وې. همدارنګه داسې اسناد هم ترلاسه شوي دي، چې د مایانو د مشتري ستوري حرکت هم جوت کړی و. مایانو له ستورپوهې څخه د کالهېنداري (تقویم/جنتري) د تنظیم او مذهبي مراسمو، طالع کتلو، وړاندوینواو سلطنت د دورې د ثبت لپاره ګټه پورته کوله. د چیچېن ایټزا په کراکول کې د مایانو یوه رصدخونه موندل شوې، چې نننیو رصدخونو ته ورته نه ده. د دې ترڅنګ د ستورپوه (انتوني اوني) په اند، چې ټولو مایانو به داسې کوروونه جوړول، چې په ښکاره یې له پنجرو څخه آسمان وکسي.د ساري په توګه د اوکسمال په ښار کې ټول کوروونه په یوه کرښه او پنجرې یې په یوه ټاکلي لوري آسمان ته ورپرانېستل کېږي. د کراکول په سیمه کې هم ټول کوروونه داسې جوړ شوي وو، چې د زهرې سیارې په اوږدوالي کې پراته وو. پوهان پر دې ډېر حیران دي، چې مایانو په داسې شپېو کې د آسماني سیارو د حرکت په اړه کره پوهه لرله، چې د ستورپوهې پرمختللې آلې یې نه لرلې او خاوره یې هم په داسې سیمه کې وه، چې د کال نهه میاشتې باراني او تل وربخ وې.

په اوسنۍ نړۍ کې د مایانو د نامه په اړه تر ټولو مهمې وسیلې، په ۲۰۱۲کال کې د نړۍ پای افسانه ده، چې د لرغونو مایانو د وړاندوینې له مخې نړۍ په هماغه ورځ پای ته رسېږي. دا پدیده چې د نړۍدپای [پر]پدیده مشهوره ده، د خوښې وړ کال په رانږدې کېدو سره د ځینو وګړو ترمنځ د خپرېدو لمنه پراخېږي. د دې خیالي پېښې اټکل شوې ورځ د ۲۰۱۲ز کال د ډېسمبر لومړۍ چې د ۱۳۹۱لمریزهجري کال د یلداشپې سره به برابره وي. په همدې وخت کې پر ځمکه د یوې سترې سیارې د لګېدو اوازې په ۲۰۱۲کال کې یو لږ غبرګونونه له ځان سره لرل. په پای کې د SETI بنسټ، چې د دې څېړنې دنده ور پر غاړه وه، دا خبره یې رد کړه. پر دې موضوع د هالیووډ یو فېلم هم جوړ شوی، چې په هغو کې د رولنډاېمرېش په اداکارۍ د ۲۰۱۲فېلم یادولای شو. همدارنګه د مایانو په اړه یو بل ډېر پلورلی فېلم په ۲۰۰۶کال کې د مل ګېبسون په اداکارۍ آپوکالیپټو یا آخرالزمان نومی فېلم یاد کړو، چې په هغو کې د مایانو د پرېوتو او د آزتک قوم پر وړاندې یې ماتې انځور شوې دي.

## نننی مایان



په محلي جامو کې دوې مايايي نجونې

د مایانو د یوالي په له منځه تګ سره-سره دا قوم د ژوند له صحنې ونه وت. مایایي وګړي اوس د مرکزي امریکا په ځنډو کې د خپلو آدابو او دودونو په خوندي ساتلو سره خپل ژوند تېروي. د نننیو مایانو ټولي، چې د د لرغوني پېر او منځنیو پېړیو د متمدنو مایانو پاتې‌شوني دي، شمېر يې کابو اووه‌میلیونه کسه ټاکل شوی دی، چې د السلوادور،هندوراس، مکزیک، ګواتیمالا او بلېز په هېوادونو کې خواره دي او د مایایي ژبې پر ګړدودونو او یا اسپانوي ژبه غږېږي. ډېری نننی مایان د ګوتیمالا په لوړو کې اوسېږي. که څه هم په ګواتیمالا کې ډېرو مایانو د ژوند او خبرو اسپانوی دود منلی دی؛ خو له ټولنې سره دا بدلون او همرنګي تر نارینه‌و په ښځو کې ډېر لږ تر سترګو کېږي او د ګواتیمالا ډیریو مایایي ښځو اوس هم د جامو او ژبې خپل ولسي او اصیل دود-دول ساتلی دی. ننی مایان د خپلو ځانګړو جامو د رنګ، لوړو خولیو او د ښادو رنګارنګو جامو له امله مشهور دي. نني نارینه مایان پر کرکېله او کله-کله پر صنعتي چارو بوخت دي. د مایانو په نننۍ ټولنه کې د سړك د غاړي توکي پلورونکي کوچنیان هم لیدل کېږي. نننی مایان د لاتینې امریکا د ډېرو وګړو غوندې د ژوند په ډېرو محرومیتونو کې ژوند کوي او په ټېره په مایي‌مېشتو سیمو کې، چې غرنۍ او کلیوالې هم دي، د پرمختګ بهیر ډېر پڅ دی. د نننیو مایانو دودیز خواړه ګیاوې، په ټېره ذرت (جوار ته ورته حبوبات) دي. رنګارنګ خواړه او ډول-ډول ډوډۍ له جواري څخه پخېږي. نننی مایان که څه هم ډېر مسیحي کاتولیکان دي؛ خو تر اوسه هم د دې قوم ډېر وګړي پر خپل لرغوني دین ګروهمن دي او خپل مذهبي دودونه هماغسې ترسره کوي. ډېرو مایانو چې کاتولیك مذهب ومانه، هغه یوازې د سرپټولو او د مسیحیانو پر وړاندې له ځانه د دفاع کولو په موخه و. ځکه چې تر اوسه هم د مسیحي مایایي ټولنو په منځ کې بودایي راهبان (پنډتان) او بودایان شته او په هسکو غرونو او غارونو کې د د ۲۶۰ورځو د کال پر بنسټ عبادت او مکاشفه کوي. د مایانو د ډېرو اسطورو ځای لاتیني مذهبي نومونو نیولی دی؛ خو هماغه لرغوني دودونه او عقیدي يې تر اوسه هم پرځای پاتې دي. پر مسیحیت د کلیوالو مایانو ډله‌ییز ګروهمنېدل له ۱۹۶۰ز کال او د امریکې د متحدو ایالتونو د سویلي انجیلي کلیساوو له تبلیغ سره سم پیل شول.

## په بلېز کې:

د بلېز هېواد مایان، چې د دې هېواد دریمه ستره قومي ډله ده او د دې هېواد شااوخوا یولس سلنه وګړي کېږي. د هغې ډلې ډېرې قبیلې د موپان او یوکاتك قومونه دي، چې د ۱۸۸۰ز

کال د جګړې له پېښېدو سره يې بلېږ ته کډې وکړې. تر هغو لس کاله وړاندې ککچې مايان له ګواتيمالا هېواد څخه بلېږ ته ننوتل. د دوی د خپلو همتبرو موپانيانو پر خلاف- چې هغوی د بلېږ هسکو غرونو ته وخوځېدل- د دې هېواد ټيټو سويلي سيمو ته ورننوتل او د سيند پر غاړه مېشت شول. د بلېږ مايانو ته خپل لرغونی تاريخ او کلتور ډېر اهميت لري او پرې وياړي.

## په ګواتيمالا کې:

تر نورو مايايي مېشتو هېوادونو، ګواتيمالايي مايان ډېر دي. د ګواتيمالا مايان تر نورو زيات پر خپلو آدابو او دودونو؛ لکه: جامو، مذهب او ژبه ولاړ دي. د مايانود ولسي فرهنګ شرايط تر نورو هېوادونو په ګواتيمالا کې په غوره بڼه پاتې دي. په ګواتيمالا کې مايان پر ديارلسو وړو قومي ډلو وېشلي دي. د ډېريو ګواتيمالايي مايانو کسب او بوختيا کرکيله او لاسي صنايع دي او په زيات شمېر د هېواد په لوړو غرنيو سيمو کې اوسېږي.

## په مکزيک کې:

مايان د مکزيک هېواد د قومي ډلو يوه برخه ده، چې ډېر يې په سويلي سيمو په تېره يوکاتان ټاپو کې اوسېږيد مکزيک مېشتو مايانو ژبه يوکاتک ده، چې مايايي ريښه لري او د مکزيک مېشتو مايايي ډلو پخوانی مذهب کاتوليک دی. د مکزيک مېشتو مايانو شمېر کابو درې‌سوه او پنځوس زره وګړي دي، چې ډېريو يې اسپانوي خپله دويمه يا لومړنۍ ژبه ګڼي. د اوسېدلو د ځای د جغرافيايي شرايطو له کبله د مکزيک ډېری مايان له ګرځندويۍ (توريزم) څخه معاش برابروي.


د مکزيک په يوکاتان کې يوه کليواله مايايي کورنۍ

### په هندوراس کې:

د هندوراس مایان چورتي نومېږي، چې شمېر يې تر شپږوزرو لږ وګړي کېږي. د دې هېواد مایانو خپل مایایي دود تر ډېره هېر کړی دی او نور نو په چورتي ګړدود نه ګړېږي. دوديزې جامې يې هم بشپړې بدلې شوې دي. په دې وروستيو کې خپل لرغوني کلتور ته د چورتيانو د بېرته ورګرځولو په اړه هڅې شوې دي او تر يوه بريده هغوی د خپلو نيکونو د ژبې پر زده کړه بوخت دي. د هندوراس د هغو مایانو اصلي کسب او بوختيا، چې په اسپانوي غږېږي، لاسي صنايع او ګرځندويي ده. د هاسک په نامه يو ډول نانځکې، چې دا قوم يې جوړوي، تر ډېره يې لاس پلوري ماشومان پېرودونکو ته وړاندې کوي.

## اورشليم يا بيت المُقَدَّس



(په عبري: ירושלים) او (په عربي: القُدس) په ابراهيمي دينونو کې لرغونی تاريخي او سپېڅلی ښار دی، چې د اسرائيلو تر ټولوستر او ګڼ مېشتی ښار او د فلسطين او اسرائيلو تر منځ لانجمنه پلازمينه ده. د اورشليم د وګړو شمېر په ۲۰۰۸ز کې ۷۶۳،۶۰۰ وګړي او مساحت يې ۱۲۵،۱کيلومتر مربع دی.

اورشليم د يهودو په څلورو سپېڅلو ښارونو کې يو دی. د صفاد، حبرون او طبريه ښارونو په څنګ کې ډېر مذهبي يهودي پوهان اوسېدل. دا ښار تر مکې او مدينې وروسته د اسلام دريیم سپېڅلی ښار او په مسيحيت کې تر ټولو سپېڅلی ښار ګڼل کېږي.

د اورشلیم وضعیت د اسلائیلو او فلسطین تر منځ د لانجې تر ټولو مهمه موضوع ده، په ۱۹۴۷ز د ملګرو ملتونو عمومي سازمان غونډې په ۱۸۱ پرېکړه‌لیک کې د فلسطین د راتلونکي په اړه پرېکړه وکړه، چې دا ښار به د یوې لس کلنې دورې لپاره، د دې دوو هېوادونو، اسرائیل او فلسطین له واکه ووځي. یو ځانګړی نړیوال رژیم به یې د ملګرو ملتونو د سازمان تر څار لاندې اداره کوي؛ خو دا طرحه بېخي عملي نه شوه. د ۱۹۴۸ز کال د جګړې په پای کې د ښار لوېدیځه برخه د اسرائیلو او ختیځه یې د اردُن هېواد تر واک لاندې راغله. د ۱۹۶۷ز کال په جګړه کې اسرائیلو ختیځه برخه هم ونیوله. نړیواله ټولنه په ختیځ بیت المقدس او د باختري څنډو په نورو برخو کې د اسرائیلو شتون «نظامي اشغال» ګڼي. له همدې کبله په دې سیمو کې د یهودي مېشتو ښارګوټو له جوړولو سره مخالفه ده.

د ۱۹۸۰ز کال د جولای په ۳۱مه د کنسټ په تائید سره د اورشلیم پلازمېنه د اسرائیلي دولت ۱۹۶۷کال د ټاکلو پولو سره سم د اسرائیلو په حقونو کې یو قانوني اصل وګرځېد. په ځواب کې یې د امنیت شورای د ۴۷۸پرېکړه‌لیک له مخې په هماغه کال اسرائیل د دې قانون پر جوړولو وترټل، ټینګار یې وکړ، چې دا د نړیوالو قوانینو مخالف دي او د اورشیلم پر ختیځه برخه به د جینوا د ۱۹۴۸۹د کنوانسیون د پلي کېدو مخه ونه نیسي؛ ځکه چې دا ښار د فلسطین تر ملي واک لاندې د اورشلیم برخه ګڼل کېږي. د آزادۍ سازمان د فلسطین مرکزي برخه په بیت الشرق کې اداره کوله، چې د اسرائیلي دولت د وزارت په امر وتړل شو.

## په زړو پارسي متونوکې د بیت المقدس د نامه اړونده پلټنه:

په پهلوي متونو کې دا ښار د اورشلیم (Urišlīm) په نامه یاد شوی دی. تر اسلامه وروسته په پارسي سرچینو کې دا ښار په ټوله کې په دریو نومونو ایلیا، اورشلیم(اورشلم) او بیت المقدس یاد شوی دی. په ځینو پارسي سرچینو کې دا ایلیا دی، چې د ښار عبري نوم بلل شوی دی. همداراز ویل شوي دي، چې اورشلیم هغسې نوم دی، چې ځینو پارسیانو دغه ښار پر همدې نامه یاد کړی دی. په ځینو سرچینو کې د بیت المقدس د خاورې له دریو ښارونو څخه یو ایلیا ګڼل شوی دی. دوه نور ښارونه یې بلقا او اریحا دي. په پارسي کې یې دواړې بڼې بیت المقدّس او بیت المَقدِس راغلې دي. که څه هم بیت المَقدِس بڼه یې اصیله ده – او عبري ترېښت (ترکیب) בית המקדש (بیت همقدش) ورسره خپل دیَ- د بیت المقدَّس بڼه په ځانګړي ډول په متقارب بحر (او کله-کله هزج) کې یې ځای پر ځای کول ښه وي او په پارسي شعر کې کارول شوې ده.

د پارسي په ډېرو زړو نظمي او نثري متونو کې دا ښار د بیت المقدس په نامه یاد شوی دی. د فردوسي د خبرې پر بنسټ د دې ښار نوم په پهلوي ژبه کې، کنګ دژهودج یا دژ هوخت ګنګ و.

به خشکي رسیدند سر کینه جوی‌به بیت المقدس نهادند روی

که بر پهلواني زبان راندندهمي کنګ دژهودجش خواندند

د اسرائیلي دولت رسمي سیاست خلک اړ باسي، چې أُورُشَلِیمَ، چې هم د عبري او انګلیسي نومونو ریښه لري، د القُدس تر څنګ د أُورُشَلِیمَ-القُدس په بڼه وکاروي.

## د اورشلیم آرپوهه (ریښنه پېژندنه):

اورشلیم د هغه څه پر خلاف، چې ښايي په لومړنی بڼه مو تر سترګو شي، عبرانيانو نه دی پرې اېښی؛ لاچې اصلاً اوګاريتي دی. هو اوګاريتي ژبه د عبري په څېر يوه سامي ژبه ده. د عبرانيانو تر ورتګ د مخه، د ښار اصلي نوم اوراشاليموم يا اوراشاليمو د شالم بنسټ په معنی دی. شالم د اوګاريتي خدايانو د يوه خدای نوم و. وروسته عبرانيانو دا نوم واړاوه؛ ځکه په عبري کې يې د سولې باران معنی لرله. د عبري ژبې د پښوېې (ګرامر) له مخې دا کلمه له دوو ټوټو "اور" د باران په مانا او "شليم" د سولې او سلام معنی لري، جوړه شوې ده.

## فرهنګ

د اورشليم ډېری يهودي سيکولرې کورنی، د ارتودوکس يهودو د مذهبي فشارونو له کبله، د اسرائيلو په نورو ښارونو کې مېشت شوي دي او ډېر يې تل ابيب Talavio ته کډه شوي دي.

## جغرافيه:



دا برخه سموني ته اړه ده، د دې برخې ډېر معلومات ښايي د باور وړ نه وي، درواغ وي يا په يوه خوا پورې تړلي وي يا يا د منځته راوړونکو د حقونو قوانين تر پښو لاندې کړي.

اورشليم د ختيځ اوږدوالي په ۳۵درجو او ۱۳دقيقو او د شمالي سور (عرض) په ۳۱درجو او ۵۰ دقيقو کې پروت دی.دا ښار د يهودا پر غرونو، په ختيځ کې د اردن او لوېديځ کې د مديترانې سمندرګي تر منځ اوبه وېشي. د سمندر له مخه په ۷۵۰متره پر لوړو دوو بېلکو (صخرو)، په شمال کې د بيت ايل (بيت ئيل) غرونو تر منځ او په جنوب کې د حبرون يا الخليل، د قُدس او الخليج په بېدياوو کې پروت دی. د ښار په لوېديځ کې د يهودا غرونو لړی غځېدلې ده او په ختيځ کې يې د يهودا دښته، چې تر بيت الميت پورې غځېدلې ده، پروت دی. دا ښار د يهودا د غرونو له ختيځې څنډې څخه ۱۵-۱۶ کيلومتره واټن لري او له ختيځې څنډې څخه يې ۲ کيلومتره واټن لري. د دې ښار شمالي او سوېلي لوړوالی ۱۰۰۰متړو ته رسېږي. څرنګه چې د دغو لوړو ترمنځ ښار ټيټ دی، د دې ښار توپوګرافيکه بڼه يې د اس د غوندې کړې ده. دې وضعيت د يهودا د غرونو ودانپوهې بڼې سره، چې يو لاس بېلکه ده، دره پکې نشته، له ښاره يې يوه داسې کلا جوړه کړې ده، چې پر پراخه سيمه يې، په څنډو کې اشراف پراته دي. دا ښار د مديترانې د غاړې په ۵۲کيلومتړی، او د الميت د سمندر په ۲۲کيلومتړی کې پرته ده. د الميت سمندر له سطحې څخه-چې مخ يې تر آزاد سينده ټيټ دی – ۱۱۵۰متړو شا اوخوا لوړ دی. د اورشليم او عُمان تر منځ ۸۸ کيلومتړه، له دمشق سره ۲۹۰کيلومتړه، له بېروته ۳۸۸کيلومتړه او له قاهرې سره ۵۲۸کيلومتره واټن لري. دا ښار د شمال او سوېل، ختيځ او لوېديځ لارو د نښتون په سيمه کې پروت دی. پر هغو برسېره، چې د ځمکنی لارې له لارې د الخليل، بيت لح، رام الله او نابلوس ښارونو سره نښلي، د مديترانې پر غاړه د اوسپنې د تپلی له لارې هم له تل آويو (تل ابيب) او يافا سره تړلی دی. په شمال کې د قلنديې هوايي ډګر، هم دا ښار له بهر نړی سره تړي.

# د اورشلیم دیوال



د یافا دروازې پر څنګه د داوودبرج انځور.

د اورشلیم ښار دېوال ټول زوړ ښار راچاپېر کړی دی.

د دې دېوال د دروازو نومونه دا دي:

د عمود دروازه

د ساهره دروازه

نوې دروازه

د یافا دروازه

د مغاربه دروازه

د نبی داود دروازه

د اسباط دروازه




د اورشېلم په مرکز کې د کورش واټ

د ۱۹۶۷ز تر پېښو وړاندې د ښار لوېديځه برخه د اسرائيلو او ختيځه يې د اُردن په واک کې وه. د اسرائيلو او عربانو د جګړو په بهير کې يې ختيځه برخه اسرائيلو ونيوله. څوارلس کاله وروسته اسرائيلي دولت ختيځ بيت‌المقدس – چې تر ډېره فلسطينيان پکې مېشت دي – د اسرائيلو برخه وګڼله؛ خو نړيوالې ټولنې دا نښلونه په رسميت پېژندلې نه ده.

## هداسا روغتيايي مرکز:

اصلي ليک: هداسا روغتيايي مرکز

د هداسا روغتيايي مرکز، د اسرائيلو پوهنتوني روغتون دی، چې په ۱۹۳۴ز کې يوې ډلې يهودي درملګرو(طبيبانو) جوړ کړ. د هداسا روغتيايي مرکز، د اسرايلي او فلسطيني ناروغانو د درملنې لپاره، د بې تبعيضه خدمتونو په وړاندې کولو سره د نوبل سولې جايزې ګټلو ته نوماند شو.

# د پاڼې لکۍ وال کربوړی



د پاڼې لکۍ وال کربوړی یا اوروپلاتوس فیمبریاتوس، چې علمي نوم یې Uroplatus fimbriatus کربوړی دی. د مادغاسکر هېواد افریقایي هېواد په ختیځ کې په استوایي باراني ځنګلونو کې ژوند کوي.

د دې ۹کسیزې کورنۍ د غړو کچه له ۳۰-۸ سانتي مترو پورې توپیر لري؛ خو په ټوله کې یې اوږدوالی ۳۳۰ملي مترو ته رسېږي. د پټېدو لپاره دا له رمزه ډک کربوړی ډېر ښه پوټکی لري. د دې ژوي پوټکی ترکیبي دی او د مادغاسکر په ځنګلي چاپېریال کې د ژوند کولو لپاره ډېر مناسب دی.

ستر لټک/کربوړی د بدن له سره تر پښو پورې نېغ-نېغ وېښتان لري. دوی چې پرېوځي او وېدېږي، خپل سر ښکته خوا ته د وېښتانو په منځ کې بردي، داسې چې سر یې پټېږي او نور نو څه شی لیدلای نه شي. واړه کربوړي خپلې لکۍ د پاڼې غوندې کوي او بدن یې د وچو ښاخونو او پاڼو غوندې دی. دا چاره په ښاخونو او پاڼو کې دوی ډېر ښه پټولای شي.

د دې کربوړو غټې او راوتلې سترګې د شپې په ښکار کې مرسته ورسره کوي. همدارنګه یې غټه ژبه تر ځانه د لویو ښکارونو رانیولو وړتیا ورکوي. دا موجودات تر ډېره تر شپني ښکاره وروسته، خپل همېشني استوګنځي ته ځي. ستر شپه تاوېدونکي لټکان، د کوچنیو ونو پر تنو ځانونه نښلوي، سر ښکته وځړوي او آرام کوي. که څه مزاحمت ورته وشي، سر او لکۍ پورته تاو کړي، خوله خلاصه او چیغې پیل کړي.

## شین ملخ

دا یوه پاڼه ده، که شین ملخ؟ ډېر وګړي خو په کلکه وايي، پاڼه د، ان که یې وګوري چې رهي هم ده. د شنه ملخ دا نمونه په ټوله افریقا کې موندلای شو. هغه ښېخي واړه-واړه دي، تر۲ اېنچه لوېږي او په بېلابېلو رنګونو موندل کېږي. د بدن ډېرې برخې یې د وچې پاڼې غوندې دي او ۲کاله عمر لري.

## شنه قیفي ګیاه:

تورپډوباګ هم نومېږي، د دې حشرې علمي نوم Siphanta acuta دی. دا ښکلې حشره ګیاه خوري او د پاڼې غوندې دی. چې ویده وي، خپل شین وزر د ځان چاپېره خوروي او تر ډېره د راشپوه پیک لرونکي بام غوندې شي. کوچني دي، منځنی اوږدوالی یې تر ۱۵ میلي مترو پورې دی. د استرالیا ملي حشرات دي؛ خو همدااوس په هاوایي او نوي زیلاند کې هم موندل کېږي.

## سټېک/خلی/لرګی

دا حشرې ډېرې لرګي ته ورته دي. په رښتیا سره آکالیپتوس ته ورته دي او د خوړو اصلي سرچینه یې د اکالیپتوس ونه ده. بدن یې لوړ او نری دی؛ خو الوتلای شي. تر ۱۸سانتي متره پورې لوییږي. د سویلي اسټرالیا ملي حشرې دي. د نیوساوت ولز او وېکټوریا په ځنګلونو کې یې کورونه جوړ کړي دي؛ خو په ډېرو اوبو ته نږدې ځایونو کې موندل کېږي.

## پاڼې لرونکی سمندري ښامار:

دا کب د سمندري آسونو په کورنۍ پورې اړه لري. تر اوبو لاندې د سمندري ګیا غوندې لمبېدلې ښکاري. په واقعیت کې یې د بدن غړي، چې پاڼې ته ډېر ورته دي، چې له خپل چاپېریال سره یې په ترکیبولو سره هوسا ګټه ترې اخیستلای شي. خو د حرکت لپاره له خپلو وزرونو کار اخلي، چې ډېر راڼه دي، دېر په مشکله لیدل کېدای شي.

## د شیطان ګل شین ملخ:

یو بل ډول شنه ملخان دي، چې په ډېر طبعي ډول د ګیاوو پېښې کوي. دا رنګارنګ او ډېر ښکلي شین ملخ د شنو ملخانو پاچا نومېږي. چې زړه وړونکي وزرونه او د بدن رنګارنګ رنګونه یې ووینې، ګومان به کوې، چې ګل دی. ډېر شنه ملخان شته، چې د ګلانو او پاڼو پېښې کوي؛ خو دا ځانګړې نمونه یې په دې کار کې ډېره وتلې (ماهره) ده.

## د سمندر پاڼېز ښامار:

د سمندري آسونو یو بل خپل دی، د سمندر پاڼېز ښامار یې بولي. که څه هم دا ژوی دومره عجیب او غرین نه ښکاري؛ خو د سمندر د تَـل د نورو شنو ملخانو په منځ کې د یو پاڼې غوندې بدن له کبله هوسا پټېدای شي. هغه د سویلي اُسټرالیا د سیندغاړو ملي حشره ده. په ۳ تر ۵۰ متره اوبو کې اوسېدای شي او واړه زیوپلانکټونونه خوري.

## ځونګښ کب

یو سمندري ژوی دی، چې د خوړو موندلو او له ښکاریانو څخه د ژغورنې لپاره په اسانی پټېږي. ځونګښ کب ډېر وختونه د ډبرې یا مرجانونو غوندي وي او کله بیا د سفنجونو غوندې شي.

## پاڼیزلړم کب

دا یو بل سمندري ژوی دی، چې د مړو پاڼو پېښې کوي. دوی دا کار د خوړو راټولولو لپاره کوي. تر روانو اوبو لاندې خوځېږي. خواړه یې ګومان کوي، چې لړم کب یوازې یوه بې ضرره ګیاه ده، ورنږدې کېږي، پر دې یې سر نه دی خلاص، چې مرګ ته ورروان دي.

## ختیز کیشپ/شمشتی

دا د استرالیا ملي ژوي دي، تر ډېره د خوږو اوبو په ناولو-سرېښناکو اوبو، ډنډونو او رودونو کې موندل کېږي.پر کاسو یې نباتډول ژوي لوېږي او چې روان وي، د ډېرو په سترګو کې د تېرې غوندې ښکاري؛ نو د بد نیت له مخې ښکاریان او ان انسان تېښته کوي.

## افریقایی حشره خور ګل Africana Hydnora

د افریقا په سوېلي ببېدیاوو کې راټوکېدونکی حشره خور ګل





## ګیاه *Vulgaris Dracunculus*

دا ګیاه د خوسا شوې غوښې غوندې بوی لري. شین رنګ لري، ګل یې هغې پاڼې ته ورته دی، چې په منځ کې یې لوړ، نرې او تور بیرغ دی.







## د تیتان ګیاه(*titanum Amorphophallus*)

د تیتان په ګیاه کې سپادېکس تر کابو ۳مترو پورې لوېږي پر دې ګل د زرګونو ګلونو ۳ متري سینګار جوړېږي. معمولاً د تاندې څانګې تر رازرغونېدو ۳ یا ۴ اونۍ وروسته سپاټ غوړېږي، د تیتان سپاټ بهر ته شین رنګ لري؛ خو د ننه خوا یې سره تر تیاره بنفش پورې





رنګ لري. سپات مازې یو ځو ورځې غوړېدلی وي او بېرته په ۳ تر ۵ ورځو کې سپادېکس له منځه ځي.

## وُلیمیا نوبیلیس ګیاه *Wollemia Nobilis*

د فُسیلونو په موندلو سره، د دې عجیبې او حیرانوونکې ونې لرغونتوب ۱۲۰و کلونو ته رسېږي.



همداوس په طبیعت کې تر ۱۰۰و لږ لښتې یې شته. د ونې پوټکی یې د چاکلېټو د ډبیو غوندې، ګڼې تنې او سرَخس

ډوله ګیاه ده. د کلچه مار(مارپېچ) غوندې لوېږي. تر ۱۲۵فوټو پورې هم لوړېدای شي.



## وېلوېتسشا مېرابېلېس ګیاه *Welwitschia mirabilis*

راشل ساسمن، چې ګرده نړۍ يې د نړۍ د لرغونو اورګانېزمونو د کشف او عکاسۍ لپاره په پښو ووهله، د دې ګیاه په اړه وايي:«اورېدلي مې، چې د نړۍ تر ټولو ستر او لرغوني ويلوچ بايد د ۱۵۰۰و تر ۳،۰۰۰ کلونو پورې عمر ولري.» خو ده، چې د نامیبیا په ناکلافت دښته کې د هغو انځور واخيستلای شو، عمر يې ښايي ۲،۰۰۰ کاله وي. تياره ويلوچ پر فرد پورې تړلي دي، يوازې د دې ګیاه يو ډول د ودې او زياتېدو لپاره د هوا جلا شرايطو ته اړتيا لري‌يو چې يوازې د نامیبیا او انګولا په سواحلو کې، هلته چې په بېديا کې د سيندغاړې پرخه تويېږي، ورته رسېږي.





په ساحلي پرخه کې د موجود رطوبت د جذب لپاره تکامل، ددې ګیاه په وسيله راغلی دی: ويلوچ يوازې يوه غوټه لنډه ساقه لري.څو متري پاڼې يې د وخت په تېرو سره بهرنۍ غوټه-غوټه کړې بڼه د يوه اته‌پښيز پښو ته ورته شوې ده. پر دې برسېره دا ګیاه ژورې رېښې لري، چې هم تر ځمکې لاندې اوبو په زېرمه کول او هم د بېديا د تېزو بادونو پر وړاندې، د لنګر په څېر، به ګیاه روغه وساتي.

## ډراکا ګلیپټوډان ګیاه*Drakaea Glyptodon*

Drakaea د ارکېډې (د ثعلب ګلونو له ډلې، چې ثعلب هغه ګل دی، پلنې پاڼې لري، څوکې يې تېرې دي، پر ساقه يې غوټې راخېژي. په ګلدانونو کې اېښودل کېږي.) يو ډول دی. ورځ په ورځ مخ په ورکېدو روان دي. دا د اسټراليا د ملي ګيا يو ډول دی.

## وُلفيا انګېستا ګياه *Wolffia Angusta*

د نړۍ تر ټولو وړوکی ګل دی. د دې ګیا لسګونه دانې په اسانی سره د يوې ستنې پر سر ځای پرځای کېدای شي.





# اورغورځوونکي

## په ډیموکراتیک جمهوریت کې نیاموراګیرا*Nyamuragira*

د افریقا تر ټولو فعال اورغورځوونکی غر ګڼل کېږي. دا اورغورځوونکی غر هر دوه کاله وروسته یو ځل اور راغورځوي. وروستی یې په ۲۰۱۰کال کې و. په ۲۰۰۲ کال کې یې اورغورځونې د رواندا او کنګو تر منځ پوله کې د ګوما ۸۰سلنه کورونه او ادارې ویجاړې کړې. تر ۷۰زیات وګړي پکې مړه شول. په ۱۹۷۷ کال کې د دې اورغورځوونکي اورغورځونې دوه زره کسه ووژل.

## په کامرون هېواد کې د کامرون کلا:

دې غره په تېرو ۲۰۰کلونو کې شل ځله اورغورځولی دی. د دې غره په پای کې د نیوسNyos په نامه سیند بهېږي، چې د دې سیند له اوبو څخه د کاربن ډای اکساید د غاز په راوتلو تر اوسه ۱۷۴۶ انسانان او زرګونه ژوندي‌سري د سابندئ له کبله مړه شوي دي.

په کومور هېواد کې کارتالا. د امریکې د لویې وچې اورغورځوونکي غرونه – په امریکا کې د سِنټ هېلن غر

په ۱۹۸۰ز کال کې اورغورځونې شپېته کسه ووژل.

## په مکزیک هېواد کې پوپوکاټپتل *Popocatépetl*

دا غر د خپل فعالیت له پیله تر اوسه پرله‌پسې اور راغورځوي – (په کاستاریکا کې پواس Poas) – دې غره په ۵۰مو زېږدو کلونو کې تر ټولو سخت اورونه وغورځول.

## په نیکاراګوا هېواد کې سرونګرو *Cerro Negro*

د دې غره تر ټولو لویه اورغورځونه په ۹۰یمو زېږدو کلونو کې وکړه.

## په ګواتیمالا هېواد کې پاکایا

له ۱۹۶۵ز کاله تر اوسه پورې همېشه فعال دی.

## په اسیا لویه وچه کې فعال اورغورځوونکي غرونه

### په فلپین کې مایون غر

له ۲۰۰۱تر ۲۰۰۶کلونو کې يې وروستی اورغورځونې وکړې؛ په ۱۸۱۴ز کې د دې غره اورغورځونې تر ۱۲۰۰زیات وګړي ووژل.

### په اندونیزیا کې د مراپي اورغورځوونکی

د نړۍ تر ټولو فعالو اورغورځوونکو غرونو څخه دی، په ۲۰۱۰ز کې يې په خپله وروستۍ اروغورځونه کې ۳۵۰کسه مړه شول؛ خو تر ټولو ډېره وژونکې اورغورځونه يې په ۱۹۳۰ کال کې وه، چې ۱۳۶۹کسه يې واخیستل.

### په جاپان کې د اوزنداکې Uzendake غر

له ۱۹۹۱ز راپه دېخوا پرله پسې اورغورځوي؛ تر ټولو وژونکې اورغورځونه يې په ۱۷۹۲ز کې وه، چې تر ۱۰زرو زیات وګړي پکې مړه شول.

## په اروپا لویه‌وچه کې اورغورځوونکي غرونه

### د ایټالیا په سیسېل ټاپو کې اېتنا غر

د اروپا تر ټولو لوړ اورغورځوونکی غر دی، چې په ۲۰۰۸ز کې يې وروستۍ اورغورځونه وکړه.

### په ایټالیا کې د وېزوو Vésuve غر

په لرغونې زمانه کې، چې دې غره په اورغورځونه د پمپي ښار تس‌نس کړ، تر اوسه يې ۳۰ځله اورغورځولی دی؛ په ۱۹۹۴ز کال کې يې په خپله وروستۍ اورغورځونه کې تر ۲۶زیات وګړي ووژل او ۱۲زره يې کونډ شول.

### په آیسلېنډ کې د ایافیول اورغورځوونی

دې غره د ۲۰۱۰ز کال په اپرېل کې په اروپا کې ناورین جوړ کړ؛ د دې اورغورځونې د لوګي او ایرو له امله په دې لویه وچه کې سل‌زره الوتنې لغوه شوې، تر ۸میلیونو زیات هوايي مسافرو تر یوې میاشتې پورې سفر ونه‌کړای شو.

## د کاراییب سیند حوزې د سیمو اورغورځوونکي

### په مارتینیک هېواد کې پِلِه Pelée غر

په ۱۹۰۲ز کال کې د دې غره اورغورځونې تر ۳۰زرو زیات وګړي ووژل.

## د انګرېز په آنتېل د مونټې سېرات غر

له ۱۹۹۵ز کال راهیسې پرله‌پسې اورغورځوي؛ په ۱۹۹۷ز کې یې په خپله وروستي اورغورځونه کې د دې انګرېزي مستعمرې پلازمېنه یانې پلیموت ښار د نړۍ له نقشې څخه بېخي پاک ورک کړ.

## د مکزیک تر کویر لاندې کرېسټالي سمڅه/غار

یوې ډلې مکزیکي پوهانو د مکزیک په «جي هو آهو آن»(Chihuahua)بېدیا کې موندنې کولې، چې یو ناڅاپه د یوه غار پر دروازه وربرابر شول، چې ورننوتل، کتل یې، چې د نړۍ تر ټولو ستر کرېسټالي غار یې موندلی دی. د لومړي اټکل له مخې، د دې غار اوږدوالی ۱۰متره او سور یې ۱۶متره دی. کارپوهانو دا سمڅه «کرېسټالي سمڅه» ونوموله. د ننه تودوخه یې د سانتیګراد ۵۸درجې پر صفر ده. ټول کرېسټالونه او قندیلونه (د ډېرو ګروپونو والا ښیښې چې په ماڼیو او نورو ودانیو کې راځوړند وي) یې له معدني موادو څخه جوړ شوي دي، په غولي او پُشت ول (چت) کې یې ښکارېږي. بلل یې دا چې انسان یوازې ۱۵ دقیقې پکې اوسېدای شي؛ که نه لوړه تودوخه به یې وریت (کباب) کړي.

«خوآن مانوېل ګارسیا رویېس» -څمکپوه- وویل: تر اوسه په نړۍ کې دومره پراخ غار په دومره تودوخه موندل شوی نه و. دا سمڅه په شا اوخوا ۵۰۰زره کلنو لرغونو قندیلو سینګار شوی دی.

## د (لبنان) جیتا غار

دا غار د بېروت په ۲۰کیلومټرۍ کې، په کارستي نهرالکلب دره کې دی.د دې غار جوړښت



ډېر پېچلی دی، دوه پوړه لري، چې په ټېټو دالانونو او تالارونو کې یې د رودالکلب یوه برخه بهېږي. دا غار ۹کیلومټره اوږد دی او په ۱۹۹۹ز کال کې یې د طبیعت په اوو عجایبو کې د یوه لقب وګاټه.

## تر ټولو ښکلي ځمکې لاندې دالانونه

په نړۍ کې ډېر بېلابېل غارونه شته: د ساحلي کرښو د ډبرینو دېوالونو له کندو نیولې تر وړلې شویو او ګچي غارونو پورې. خو د غار له ډوله، چې ورتېر شو، غارونه د طبیعت تر ټولو ښکلې ننداري ګڼل کېږي.

ډېر غارونه د کارېسټ له جنسه دي، د آهکي ډبرو، دولومېټ او ګچي ډبرو نمونې، چې په اوبو کې هوسا حلېږي او اسیدي چاپېریال رامنځته کوي. هغه باران چې د دې غارونو له کاربن ډای اُکساید سره ګډېږي، پر ځمکه د لوېدلو او ننوتلو پر مهال، د دې غاز ډېره برخه په چاپېریال کې خورېږي. په پای کې یې کمزوری اسیدي(تېزابي) محلول جوړېږي، چې د کارېستي ډبرو تر ټولو مهمه معدني ماده، یانې کَلسېټ (بلوري آهکي ډبره) په ځان کې حلوي. د وخت په تېرېدو سره یې په دې چاپېریال کې سوري او سوړې جوړېږي، غارونه او سمڅې جوړوي: هغه چار چې تر سلوزرو زیات کلونه نیسي.

## کنګلي (یخي) غارونه

غارمزلي په ۹۰متره اوږده مزي، د ګرېنلېنډ کنګلي غار ته ورننوځي. د همدې غوندې کنګلي غارونه هغه مهال جوړېږي، چې د موسمي تودو اوبو لړۍ یا د تودې ځمکې تودوخه، د یخ



په یوه دړه کې کانالونه او چاودونه جوړ کړي.څرنګه چې دا دړې له کنګله جوړې شوې دي، کنګلي غارونه ښایي کوربټ (بېخي) پټ وي او ورسره جوخت د غارمزلونو مینوالو ته فردي ناورین جوړ کړي.

## د علیصدر غار د ملي طبیعي اثر په توګه ثبتېږي

د علیصدر غار په نړۍ کې کېښتی ځغلولو تر ټولو بېساری او ښکلی طبیعي غار دی، چې د علیصدر په کلیو کې د شهرستان کبودراهنګ په سیمه کې، د همدان ښار د شمال لوېدیځ په ۷۵کیلومتري کې، د جغرافیایي طول البلد په ۴۸درجو او ۱۸دقیقو او د عرض البلد په ۳۵درجو او ۱۸دقیقو، د سمندر له مخه ۱۹۰۰متره لوړ پروت دی.



دا غار د ساري قیه (ژېړه پرښه) په غره کې رامنځته شوی دی، چې د علیصدر د سویلي برخې په کلیو پورې نښتی دی. په دې غره کې دوه نور غارونه د سُراب او سوباشی په نومونو هم شته، چې په ترتیب سره ۷ او ۱۱کیلومېټره له علیصدر غار سره واټن لري.د جغرافیایي سرچینو له مخې د علیصدر غار اوبه د سُراب غره له غاره سرچینه اخلي.

## د لېچوګویلا غار:

د لېچوګویلا غار: د امریکې په متحدوایالتونو کې تر ټولو ژور غار دی، په نوې مکسیکو کې پروت دی. ۲۰۶کیلومېټره اوږد دی. هغه عناصر او مېکروبونه پکې دي، چې د نړۍ په بل هېڅ ځای کې نه پیدا کېږي. په دې غار کې په زیاته پیمانه ګچ او راناست لیمویي رنګه سلفر او غاري ملغلرې شته دي.

# واورين پړانګ



واورين پړانګ يوه وحشي پيشو (ګُربه/ د پيشو له جنسه) ده، چې د مرکزي آسيا په غرونو کې اوسېږي. شمېر يې د ۳۵۰۰ تر ۷۰۰۰زرو ترمنځ دی.

## پنتر پړانګ

پنترپړانګ د پيشو ډوله  کورنيو غړی دی. څلور ډوله تر ټولو کوچنۍ پيشوګانې شته دي. درې نور ډولونه يې ببر، زمری، او جاګوار دي.



## سره ګیدړه



سره ګیدړه کوچني غړي لري، د سپي ډوله کورنیو څخه ده، چې د امریکا او اوراسیا په شمال او همدارنګه د افریقا په شمال کې ژوند کوي.

## د ماجېلان پېنګوین



د ماجېلان پېنګوین، یو امریکایی پېنګوین دی، چې د ارجنټاین او چیلي په سواحلو کې اوسېږي. یوې ډلې یې برازیل ته کډه کړېده.

## همالیایي لېوه



همالیایي لېوه د سپي ډولو له کورنۍ څخه دی. یو مخ په ورکېدو ډول دی، شمېر یې ۳۵۰عددو ته رسېږي.

## د نارکوندام ښکرمښوکي




د نارکوندام ښکرمښوکي د Bucerotidae کورنۍ څخه دي، د هند په نارکوندام ټاپو کې اوسېږی.

فلامینګو



فلامینګیان د اوبو مرغان دي، د Phoenicopteridae کورنۍ څخه دي، چې په ټوله نړۍ کې یې څلور ډولونه شته. دوه یې په امریکا او دوه نور یې په نورو لویو وچو کې ژوند کوي.

پانډا



ګومان کېږي، چې د دې لویو پانډانو یوازې یوزرو پینځه سوه او نوي عدده، د ژویو په نړۍ کې شته دي.

## قُطبي يېږه/خوګ



قطبي خوګ د شمالي کنګل سمندر په شا او خوا کې په قطبي چاپېريال کې اوسېږي. د قطبي خوګانو په ۱۹پېژندل شويو ډولونو کې يې، اته ډوله په له منځه تګ کې دي. درې يې ثابت او د يوه ډول شمېر يې مخ په زياتېدو دی. پر اووو نورو ډولونو يې څوک سم خبر نه دي.

## آرووانا



آرووانا د اوږدو هډوکو لرونکي کبان د Osteoglossidae کورنۍ څخه دي، چې په خوږو اوبو کې ژوند کوي.

د ژويو په نړۍ کې د ښکلو ژويو نادر ډولونه موندل کېږي، چې يو شمېر يې مخ په ورکېدو دي. په هغو کې واورين پړانګ او يا مارخواره يادولای شو.

## مارخور



مارخور، د وزو د کورنۍ تر ټولو ستر غړی يد، چې د افغانستان په شمال ختيځ، د هند شمال او د پاکستان په شمال او مرکز کې استوګنه کوي. شمېر يې تر ۲زره او پينځو سوو لږ دی او مخ په کمېدو دي.

# د اپورېسټ داري

د رسوبي اوبو چېنو، چې په ډېر شدت سره اوبه دارې ترې وهي، د زرګونو کلونو په بهير کې، له لوړو غرونو څخه د څړوبي په بڼه تويېدو سره، په ډېرې هنرمندۍ نارنجي، ژېړ، سره او طلايي رنګه لسګونه ډېر ښکلي واړه ډنډوکي په بېلابېلو کچو جوړ کړي دي، چې د طبيعت د پټې او پوښلې نړۍ ښکلي او زړه وړونکي رازونه يې ننداري ته اېښې دي. په يوه همداسې ډنډوکي کې، چې کابو ښه ژور دی او يوه طبيعي منګي ته ورته دی، ځينې ګرځندويان ورځي او پکې لامبي.

د اروست د داره‌وهونکو اوبو چېنې، د جيوپارک يو ډول ګڼل شوی، ورسره جوخت، په پليوستوسن او پليوسن کې، چې د ځمکپوهې څلورمه دروه ګڼل کېږي، د البرز وروستۍ ګونځې، جوړې شوې دي. هو دا چينې ډېرې ځوانې دي؛ ځکه، که د اروست د داره‌وهونکو اوبو چينو د شمال خوا ته سلګونه متره پلي مزل وکړئ، په لوړو برخو کې به لرغونو داره‌وهونکو ته ورسېږي، چې د وخت اډالې (ګودال) ورته وايي. داسې دي، چې که ورننوځئ، د خدای په خلقت کې به دومره ورك شئ، چې د وخت تېرېدل به درنه هېر شي.

هو سلګونه کاله کېږي، چې دا چينې وچې شوې دي؛ خو ډېر ښکلي آثار ترې پاتې دي. که دا چينه خوټېدله، بېشکه د نړۍ د طبيعت د عجايبو برخه به وه. داره‌وهونکې يوازې همدا دوه ځايونه نه دي. بل ځای د وړې دارې په نامه دی، چې د سرشور يې بولي، هم شته،چې په دې دوو چينو کې راځي. دا دوې چينې د ارتوالي له مخې ډېرې وړې دي او د اروست د کليو په يوه سيمه کې پرتې دي او تر نورو چينو يې د درملنې ځانګړتياوې ډېرې ښې دي.

په ټوله کې د اروست په شااو خوا کې په بېلابېلو جغرافیایي سیمو کې درې دارې شته، چې هره یوه یې له څو داسې چینو څخه جوړه شوې ده، چې د اوبو تودوخه یې معتدله ده. داره/Badab/بادآب غازلرونکو اوبو ته وايي. د سورت[Soort] لغوي معنی د اثر شدت دی. نو بادآب سورت [Badab Soort] هم د غازلرونکو اوبو شدت ته ویل کېږي، چې په محلي ژبه ورته اروست وایو یا بادو وايي.(۱)

څرنګه چې د چینې اوبه له هر لوري راشي، ښکلې زینې او آثار ترې پات شي. ډېر پخوا چې د چینو اوبه ډېرې زیاتې وې، د درې هکتاره په شااوخوا ارتې ډېرې ښکلې زینې او آثار یې پر ځمکه جوړ کړي دي. هو په ۲۰۰وروستیو کلونو کې د چینو اوبه لږ شوې دي او اوبه یوازې د ۱۰۰۰مترو مربع په شااوخوا زینو کې بهېږي، پاتې زینې چې اوبه پکې نه بهېږي، د ترکیې د پاموکاله چینو غوندې په سپین رنګ ځان راښکاروي.

په ترکیه کې دې چینو ته ورته چینې د پاموکاله په نامه د سپینوآهکي رسوباتو په بڼه شته، چې د اروست د چینو په پرتله یې د درملنې ځانګړتیاوې او پراختیا کمه ده. په محلي ژبه ورته سپینه کلا یا سپینه ماڼۍ وايي. دا ځکه چې د ګرځندویۍ پراخه سیمه ده او ډېر ملاتړ یې شوی دی، ډېر ګرځندویان پرې ورمات دي. مور د اورست د تېزو دارو چینې د طلایي رنګ له کبله، طلايي ماڼۍ غوره کړې ده.

هو دا خبره د چینو ترڅنګ د ماهیو د شتون مانا نه لري! په ځینو هېوادونو کې هم تېزو دارو غوندې آثار شته، چې د شویو کتنو له مخې په هېڅ سبب چینې نه دي او ډېرترډېره ۱۰سلنه دې اثر ته ورته دي.

په ټوله کې د اروست د تېزودارو چینې، د دوی بېلو ځانګړتیاوو ته په پام په نړۍ کې بې ساري دي، دا دعوه کولای شو، چې په دې خاورینه نړۍ کې د دې چینې غوندې بله نشته. د اروست شااوخوا په پای کې په ۱۳۸۷لمریز کال کې د ایران د دویم ملي طبیعي اثر په توګه ثبت شو او اوس هم د نړیوال ثبت او د ترکیې د پاموکاله چینو د خورلڼې کېدو لارې څاري.

## «پاموکاله» (*Pamukkale*)

د «مالوچې کلا» مانا لري، د ترکیې د سوېل لوېدیځ په ډېنېزلي/Denizli ایالت کې پرته ده. د دې ښار ځانګړتیاوې، د تودواوبوچینې، سپینې آهکي ډبرې، پله یې ځمکې د ډبرو سکرو له کانونو جوړې شوې، چې روانو اوبو پر دې بڼه اړولې دي. ددې ښار ځانګړتیاوې د سپینو آهکي ډبرو (کلسیم کاربونېټو) پَلې، د لامبو ډنډونه او سټالېکټیتونه چې د ښار د پولې یوه غاړه یې په غېږ کې



-۱ مور هم په پښتو کې د «دارې، تېزې دارې، یا هم شدیدې دارې» په مانا وژباړلې

نیولې ده، د هغو سپينو چولو غونډې دي، چې د تودو معدتني اوبو له کبله په دې سيمه کې پيدا شوي دي. دا په ترکيه کې يو ډېر عجيب ځای دی، چې د يونسکو د لرغونو مکانونو په ليکه کې ثبت شوی دی.

## د سویلي افریقا د بلایدرېور دره

د بلايد رېور دره د سويلي افريقا تر ټولو يوه زړه‌راښکونکې ښکلې طبيعي دره ده، چې په پومالانګا کې پرته ده. په دې دره کې، چې د ۲۶کيلومترو(۱۶ميلو) شاوخوا اوږده ده، د ۸۰۰مترو شاوخوا ژوره ده.



ډېري يې ډېرې شين رنګ لري. د دې درې تر ټولو لوړه څوکه ماري اپسکوپ نومېږي، چې ۱۹۴۴متره لوړه ده. تر ټولو ټيټ برخه يې د سيند له مخه ۵۶۰متره لوړه ده. دا دره د امريکا د (Grand Canyon) تر ستري درې او د ناميبيا د فېش رېور تر درې وروسته، د نړۍ درېيمه ستره دره او د افريقا دويمه لويه دره ده.

## د برازیل ایلا دا کوییمادا

ایلاداکوییمادا، چې د مارانو په ټاپو مشهور دی، د برازیل په سیندونو کې پروت دی. دا ټاپو د زرګونو مارانو کور دی، چې د نړۍ تر ټولو زهرناک او وژونکي ماران دي. له دې محلي افسانې سره سم، د دې ټاپو په هر متر مربع کې، پینځه وژونکي موجودات شته. تر ډېرو کلونو پورې یوازې د سمندري فانوس ساتونکي انسان په دې ټاپو کې ژوند کاوه. خو اوس د برازیل سمندري ځواک، د هر هغه چا مخه نیسي، چې دغه ټاپو ته ننوځي.



## د جاپان، میاکه جیما

د جاپان په ازوی مجمع الجزایر کې، داسې ټاپو دی، چې د «اویاما« په نامه یو فعال



اورغورځوونکی پکې دی. دا ټاپو میاکه جیما نومېږي. اویاما اورغورځوونکي په دې وروستیو کلونو کې، څو ځله اور غورځولی دی. د اویاما د ۲۰۰۵ز کال تر وروستۍ اورغورځونې وروسته، د دې اورغورځوونکي له خولې څخه پرله پسې زهري غاز وځي. ځکه خو باید د دې ټاپو اوسېدونکي تل د غاز ضد ماسکونه ووهي. د دې ټاپو په آسمان کې چې د سلفرو کچه لوړه شي، سیرنونه ترې لېږې کېږي.

## د مارشان ټاپوګانو، بیکینی آتول

دا سیمه چې یونسکو د نړیوالو میراثونو په لړ کې پېیلی (ثبت کړی) دی، په دوو دلیلونو خطرناک ګڼل کېږي:

هستوي وړانګې او کوسه ګان (کب ماران).

په دې سیمه کې د ۱۹۴۶تر۱۹۵۸ کلونو ترمنځ، تر ۲۰زیاتې اټومي وسلې ازمویل شوې دی.



سره له دې چې دا ټاپوګان په ۱۹۹۷ز کال «امن» اعلان شوي دي؛ خو پخوانو اوسېدونکو یې ونه منله، چې بېرته ورستانه شي. همدارنګه له دې کبله چې په تېرو ۶۵کلونو کې په دې سیمه کې د کب نیولو هېڅ څرک نه لګېده، سمندري ژوند او په تېره د کوسه ګانو شمېر پکې زیات شوی دی.

## د سکاټلنډ ګرینارد

د کوچنی ټاپو د سکاټلنډ په شمال کې دی. د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې، د برېټانیا دولت ترې د بیولوژیکي وسلو د ازمېښتځي په توګه کاراخیست. په دې ازمېښتونو کې له ډېرو تور ټپو پړسوونکو باکتریاوو څخه کاراخیستل کېده. په پای کې قرنطین (روغتیاي مرکز) شو. که څه هم تر ازمېښتونو مخکې هم څوك پکې نه اوسېدل. په ١٩٨٠زکال کې د زرګونو ټنو فرمالیدونو – هغه ماده، چې په خپله ککړوونکې ګڼل کېدای شي - په کارولو سره ولړل شو.



## د متحدو ایالتونو، فارالون ټاپوګان

د ١٩۴۶تر١٩٧٠ کال پهیر کې، د فارالون جزیرې شااوخوا اوبه د اټومي ډېرى د ډېرى په



توګه کارېدلې. اټکل کېږي، چې ۵۵ ګیلنه ۴۷۵۰۰ اوسپنیزې بوشکې په دې اوبو کې غورځول شوې وي؛ خو د دې بوشکو د غورځارولو او ټاکلی ځای او خطرناکوالي کچه جوته نه ده. همدارنګه داسې باور شته، چې د هغو د راټولولو هڅې، ښایي د دې بوشکو پر خپل حال پرېښودلو څخه ډېرې ګواښونکې وي. همدارنګه په دې اوبو کې ډېر سمندري هاتیان (فېلان) اوسېږي، چې د کوسه ګانو د خوړو ښه زېرمه ګڼل کېږي. که له اټومي بوشکو مو ځان روغ وایست، د کوسه ګانو دوې سترګې به درته څلور شي.

## رمري ټاپو

دا ټاپو برما د میانمار سواحلو ته نږدې دی. په دویمه نړیواله جګړه، چې ترهګریزې پېښې پکې وشوې، ډېر مشهور دی. په ۱۹۴۵کال کې د برېټانوي او جاپاني ځواکونو ترمنځ په نښتو کې د جاپان شااوخوا ۴۰۰سرتېري د دې ټاپو د ککړو اوبو لوري ته وتښتېدل؛ خو هلته زیات شمېر تمساحو (کروکوډایلونو) نسونه ورته خیشته کړي وو. دا پېښه وروسته د ګېنس رکارډونه کتاب کې د تر ټولو ناوړه پېښه چې ژوبو وکړه، ثبت شوه.



## د خطر ټاپو

دا ټاپو د مالدیف د جنوب په پینځه‌سوه مایلی کې دی، د خطر ټاپو هم ورته ویل کېږی. دا نوم ځکه پرې اېښودل شوی، چې دې ټاپو ته نږدې کابو هېڅ داسې امن تمځای نه شته، چې نوې پېښې پلټونکي پکې واړوي.



د مونیخ د طبیعي تاریخ موزیم د څېړنیز ټیم سرپرست «فرانک ګلاوسر« په وینا، تر اوسه د بېلابېلو خزندو په تېره کربوړي، د مادغاسکر په ځنګلونو کې پیدا شویدي؛خو وروستی بېلګې ډېرې ځانګړې او بېلې دي.

## د مادغاسکر اورپالي

«تدتاونسند» د سنتیاګو پوهنتون څېړونکي پر کشف شویو بېلګو جنټیکي ازمېښتونه پیل کړي دي. دی باوري دی، د اورپالو اوسنی بېلګې د خپلو وړو او نامرئي (نه لیدل کېدونکې)نیکونو پرخلاف، اټکل کېږي، چې مادغاسکر په ځنګلونو کې بشپړ شوي



دي او دغه اوسنی کچه او د پوټکي رنګارنګي یې موندلې ده.

څلور ډوله یې کرې ورځ ډېر فعاله او ګرده شپه بې حرکته وي، چې د ونو پر پاڼو یې پېژندل ګرانوي.

څېړونکو خبرداری ورکړی، چې د دې وړو کربوړو دوه ډوله په مادغاسکر کې د طبیعي استوګنځیو او ځنګلونو د منځه تګ له کبله د کمېدو له ګواښ سره مخ دي.



څېړونکي بریالي شول، چې د نویو لمرپالو څلور ډېر واړه ډولونه، چې د بڼې ګوتې د نوک هومره دي، د مادغاسکر په ځنګلونو کې ومومي.



نوې موندل شوې بېلګې، چې Brookesia Micra نوم یې پرې اېښی دی، د لمرپالو (Chameleon) په کورنۍ پورې اړه لري. د نارینه لمرپالو ټول بدن له لکۍ پرته، د پوزې تر څوکې پورې ۱۶ملي مېتره او د ښځینه‌و یې بیا د پزې له څوکې د لکۍ تر پایه ۳۰متره دي، چې له دې مخې دنړۍ ترټولو وړو موجوداتو په لیکه کې درېږي.

## د نړۍ تر ټول لوړبیه ګلونه



فرانکشتاین ګلونه*Shenzhen Nongke*

دا ګل په بشپړ ډول د بشر د لاس پنځونه او د چینایي پوهانو د یو ډلې د ۸کلونو څېړنې او زیار پایله ده، چې Shenzhen Nongke Group نومېږي. په ۲۰۰۵ز کال په یوه داوطلبۍ کې په ۶۸،۱میلیون یوآنه یا ۱۶۰،۰۰۰پَونډه وپلورل شو. دا بې جوړې فرانکشتاینې ګل تر اوسه تر ټولو لوړ بیه ګل ګڼل کېږي.



د کینابالو سره زر*Kinabalu Gold of*

دا د ثعلب ګلونو یو ډول دی، چې مخ په ورک کېدو دی، یوازې یې په یوه راایستار چاپېریال د مالیزیا د کینابالو په ملي پارک کې موندلای شو. د دې ګل یو ډول بېخي نه موندل کېږي، تر ۳۰۰۰پونډو پورې یې بیه ده، دا ثعلب د ورې له نیمایي څخه د غبرګولې تر نیمایي پورې غوټۍ غوړوي.



## د ناوې ګل ګېډۍ

په تر ټولو لوړبیه ګلونو کې څلورم یې د ناوې ګل ګېډۍ ده، چې د ثعلب او سپین



سپین/ Moon Flower ګلونو ګېډوله ده، ریښه یې د ۱۰۰کلن فیکوس ګیاه ده. که څه هم دا ګل ګېډۍ ارزښتمن دي؛ خو لوړه بیه یې د ۹۰ټوټو ۲قیراطي یاقوتو، ۹ټوټو یو قیراطي الماسو او ۱۲/۶قیراطو ستوري یاقوتو د لړلو له کبله ده. که څه هم چې ښایي په تر ټولو لوړبیه ګلونو کې د دي ګل ګېډۍ درول درغلي وبریښي؛ خو بویه چې د نړۍ په ترټولو لوړبیه ګلونو کې یې وشمېرو. دا ګل ګېډۍ تر اوسه په ویتنام کې د Ruby Plaza ودانۍ په شپږم پوړ کې ننداري ته اېښودل شوې دی.

## د پړانګ نقش واله سمندري ناوې

دا وړ ماستګیاس پاپوآ ژوندي‌سری، د خاپ‌لرونکې سمندري ناوې یا د ډنډوواله سمندرې ناوې هم ګڼل کېږي. دا ژوندي‌سرید سویلي آرام سمندر په اوبو کې اوسېږي، چې قطر یې شا او خوا ۱۴تر۱۶سانتي مترو پورې رسېږي.



د دې خاپوالو سمندري ناوو د جالبوالي خبره دا ده، چې دوی خپل بېل باغونه پالي. دا سمندرې ناوې شین-قهوه‌يي رنګ له هغو مرخېړیو څخه مومي، چې پر خپل بدن یې لېږدوي. همدا مرخېړي یې د خوړو داسې زېرمه ده، چې په ډېرې آسانۍ یې مومي.

ځینې لویې سمندري ناوې نور طفیلونه هم لري: کوچني مینوکبان د سمندري ناوو په خول کې د ننه تر هغه وخته اوسېږي، چې لوی شي او په سمندر کې واوسېدای شي.

## وزر لرونکی الوتونکی کب

Exocoetidae د یوه الوتونکي کب نوم دی، چې الوزي، په تودو سیمو او او تودو سمندرونو کې ژوند کوي. د دې کب دفاعي مېکانېزم داسې دی، چې خطر احساس کړي، خپلو وزرو ته لاس ورکړي، والوځي، له اوبو ووځي.



دا وړ کب د اوبو پر سر تر ۵۰متره الوتلای شي، بېرته په اوبو کې ورننوځي. له خپلې لکۍ څخه د اوبو مخ ته د راوتلو لپاره ګټه اخلي، بیا خپل وزرونه پرانیزي.

پیرانا



پیرانان د سویلي امریکا ډله ییز او د امازون سیند ملي کبان دي، چې د نړۍ تر ټولو خطرناک کبان ګڼل کېږي.

## تر ځمکې لاندې نړۍ



## نادر کبان



## تر ټولو کوچنۍ ځونګښه

امریکایي پوهانو په «نیوګیني پاپوا» هېواد کې، داسې ځونګښه وموندله، چې د شمزۍ لرونکو تر ټولو کوچنۍ ډول دی. د یورونیوز، د قانون رپوټ له مخې، د دې ځونګښې د بدن اوږدوالی اووه ملي متره دی، چې کابو د یوې وریژې هومره ده. تي لرونکي، کبان، الوتونکي، خزندې او ذوحیاتین د شمزۍ لرونکو په ډله کې راځي.



## د نړۍ تر ټولو ستر ۲۲۷کیلوګرامه مار

دا نازهري مار دی؛ د بدن د زوورورو غوښو په مرسته، د ښکار دمه ورایساره کړي او ښکار سر تر پښو تر ستوني تېر کړي، بیا نو په اونیو-اونیو یا کله میاشتو بې خوړو ګوزاره کوي.

ژوندپوهانو د بوآ مارانو د کورنۍ یو مار د نړۍ تر ټولو ستر بدنی مار وګاڼه؛ ځکه چې دا نازهري خو وژونکی مار ۲۲۷کیلوګرامه دروند دی او یو پړانګ په یوه پلا تېرولای شي.

شین آناکوندا تر ۸،۸مترو اوږدېدای او ۲۲۷کیلوګرامه دروندېدای شي. د دې ژونديسري د بدن شعا کله-کله ۳۰سانتي مترو ته هم رسېږي. ښځینه آناکوندان معمولاً تر نرانو لوی دي او د دې ډول مارانو نورې ښېلګې معمولاً ژېړ رنګونه او تورچکه لکۍ لري. د څېړونکو په وینا دا مار د امازون په ځنګلونو او لنده بلو چاپېریالونو؛لکه ناولو اوبو کې ژوند کوي.

د دې مارانو غټ اړخونه ځکه دومره وده کوي او لویېږي، چې یېږې، هوسۍ، الوتونکي، کیشپان، جوندان، لټکان او ان پړانګان خوري.

د نَشنل جیوګرافیک د رپوټ پر بنسټ، ښځینه آناکوندان په هرځل هګۍ اچولو سره لسګونه آناکوندان وباسي، چې د دې هر یوه نوي زیږېدلي مار کچه ۶۰سانتي متره وي. آناکوندان همدا چې وزیږېږي، لامبو وهلای او ښکار کولای شي، د دې ژونديسرو ټول ژوند شااوخوا لس کاله اټکل شوی دی.

## لاس او پښې لرونکي ماران

### ګاندو (Crocodylus palustris) یا پیت پزې (لنډپوزې) تمساح

ګاندو(Crocodylus palustris) یا لنډپوزې تمساح، د اېران تر ټولو غټه خزنده ده، چې د بلوچستان په سیمو کې پیدا کېږي. دا تمساح یوازې په اېران کې ده. اصلي استوګنځی یې ۳۸۰زره هکټاره مساحت لري، چې یوه برخه یې په چابهار او بله یې د اېرانشهر په ښار کې ده. ډېرې دا تمساوې د راسک او باهوکلات ترمنځ دښتو او دلګان او کلاني په ناولو اوبو کې ژوند کوي. اوږدوالی یې تر څلور مترو دی. دا خزنده د هغو خزندو پاتې شوني دي، چې شااوخو ۲۶۵میلیونه کاله پخوا یې ژوند کاوه. دا تمساح پلنه پزه لري، چې پاسنۍ ژامه یې ۱۹ لاندېنۍ یې ۱۵ غاښونه لري. په شا او غاړه کې دوې جوړې ښکرډوله غټې ټوټې لیدل کېږي. مخکنۍ لنډې پښې یې پینځه ګوتې او لوړ نوکان لري، شاتنۍ یې څلور ګوتې لري، چې نوکان یې لنډ دي. د بدن عمومي رنګ یې زیتوني تر قهوه یې پورې دی، ګېډه یې بې فلسه – د کب د مخ تېرې پلاستیک ډوله ټوټې – ژېړبخون سپین رنګ لري. تمساح ډېر شرمناک، احتیاطي او ډارن ژوی دی، په ډېر کړاو یې لیدای شو. هوښیار او ځیرک وي، چې مازې پر خطر او مزاحم پوهه شي، ایسته په اوبو کې ورکوزه او ځان پټ کړي؛ خو د سا لپاره بویه ژر د اوبو سر ته راوخېژي. خواړه یې په ټوله کې کبان، الوتونکي او تي لرونکي دي. عموماً د شپې ښکار کوي.

د دې ډول بڼې د هند د نیمې لویې وچې غوندې دي. دا ډول د نورو ډولونو غوندې ډېر غښتلې حواس لري، په لېرې واټن کې د غږ او تر ډېره د بوی څرک لګولای شي. د ناولو اوبو تمساوې هغه مهال ډېرې فعالې وي، چې هوا ډېره توده او یا سړه او باراني نه وي.

ځومره چې تودوخه زغملای شي، همغومره لمر ته پرتې وي، که نه اوبو یا خپلې سوړې ته ورننوځي. د کروکوډایل کورنۍ په ټولو غړو کې القاح د ننه کېږي، ټولې يې هګۍ اچوي. د نورو تمساوو غوندې تر نارينه و په ښځو کې جنسي څرګندونې او د انډيوال لټون ډېر دی. د پيت پزې تمساح د مثل توليد پړاوونه د نورو ډولونو غوندې، د انډيوال موندل، يوځای کېدل، ځاله جوړول، هګۍ اچول او له هګۍ څخه د نوي زېږېدلي بچي راوتل دي.

طبيعي عوامل؛ لکه: وچکالي، نېز/سېل او ... د انسانانو د استوګنځيو زياتېدل، د دوی د طبيعي استوګنځيو سره جلاکېدل او دړې-وړې کېدل دې اوسني ډول ته ستر ګواښونه دي.

## کړه تنه ګيا

د کوبا په ځنګلونو کې يو ډول تاکونه، د شات خوَرو آسمان څکالو د ورښکون او هګۍ چونې (ګَرده افشانی۱) لپاره، له خپلو ښېشقاب ډوله پاڼو څخه د غبر غبنتلې څپه راباسي.

په داسې حال کې، چې تر ډېره د ګلونو روښانه او زړه وړونکي رنګونه، د ګیاوو له خوا د اغوا کوونکې وسيلې په توګه د حشرو د خورولو او په طبيعت کې د ژوند د پايښت لپاره کاروي؛ خو کوبايي تاک، چې د هګۍ اچوونکو د ورښکون لپاره دا ډول چال-چلن کوي، بېخي ښېل او حيرانوونکی دی.



دا ګياه د ژونديو او ځلېدونکو رنګو پر ځای د خپلو ګلونو پر سر له يوې غاب ډوله پاڼې څخه د دې چارې لپاره کار اخلي. دا پاڼه کټ-مټ د يوې وربلونکې غبريزې آلې غوندې غبرونه غبرګوي، چې په خپله آسمان څکالو د دې ګلونو د موندلو لپاره خواره کړي دي.

دا نيم کره يي ډوله پاڼې آسمان څکالو ته د ګل د ګبين موندنې موده نيم په نيمه

---

۱ — هغه مواد چې د شاتو مچۍ، مچان، باد او نور ژوي يې،له يوه نباته بل ته وروړي، په داسې توګه نارينه هګۍ له ښځينو سره يوځای کېږي. نو ګَرده شيندل/افشاني به په هګۍ شيندلو مانا کړو.

راټيټوي. په بله وينا، هغو ګلونو ته چې د دې غړيز پيغام د ملاتړ شمله يې په سر کړې ده، د نندارچيانو د کوربه‌توب چانس يې دوه‌چنده زيات کړی دی.

خو په دې پېښه کې د حيرانولو او هک‌پکتيا ځانګړی لامل کېږي، هغه د مچيو او الوتونکو ګرده‌افشانانو غوندې، چې په سترګو ځای موندلای شي، د دوی د هګۍ‌اچونې ډېر ورته‌والی دی.

دا ډله هګۍ‌اچوونکي، د انسان غوندې د هغو ګلونو خوا ته ورځي، چې رنګارنګ او په زړه‌پورې دي. خو په باراني ځنګلو کې د شپې له خوا رنګ، په تېره د هګۍ اچوونکو آسمان‌څکالو لپاره، چې د غږ د څپو په ورغبرګېدو او کړنګېدو سره خپل چاپېريال او شااوخوا پېژني، په درد نه خوري، نو خبره دا ده، چې طبيعت د وړيو سترګو پر ځای، د تېزو غوږونو په روزنه پسې ځي.

د دې ځنګلي تاک غاب‌ډوله پاڼه آسمان‌څکالو ته د يوه غږيز بولندوی غوندې کار ورکوي او له کړنګېدونکو آوازونو څخه يې، چې له هرې خوا يو شان کړنګېږي، د آسمان‌څکالو په په استوګنځيو کې د نورو ګياوو څخه د هغوی د بېلولو او روست‌والي لامل کېږي. د دې غابي ورغبرګوونکي د اورېدو مېکانېزم بېلګه، چې د هګۍ اچوونکو آسمان‌څکالو د راښکون لپاره د دې کوباي تاک Marcgravia evenia چل دی، پوهان يې ګياوو د خبرواترو په برخه کې، د لاهېښوونکو غږونو سمون موندلو ته هيله‌من کړي دي.

# د نړۍ تر ګردو ښکلې درې

## د امریکا آنتلوپ دره



آنتلوپ کنیون (Antelope Canyon) د امریکا متحدو ایالتونو د آریزونا ایالت طبیعي پارک دی. په دې پارک کې د لیدو وړ بېلکې شته، چې د ډېرو کلونو په بهیر کې اوبو او هوا ډېرې عجیبې سولولې دي، د ورځې په بېلو ساعاتونو کې د بېسارو وړانګو د پنځولو ننداره وړاندې کوي. دا د «مانیومېنت وېلې» غوندې پارک د ناواهو قبیلې په ځمکو پورې اړه لري.



## د قزاقستان چارین دره

دا ۸۰کیلومتره ارته دره په قزاقستان کې د چارین سیند پرغاړه د چین د پولې په ۲۰۰کیلومتړی کې پرته ده. دا دره په قزاقستان کې د چارین ملي پارک د ګرځندویانو د ورښکون مرکز دی.

## د پرو هېواد کولکا دره

د پرو هېواد په سوېل کې کولکا دره پرته ده. همدلته د په همدې نامه یو سیند تري تېرېږي. دا دره ۴۱۶۰متره ژوره ده، چې د سترې درې/Grand Canyon دوه چنده کېږي.

## د مکزیک کوپر دره

کوپر دره د شپږو سره بېلو درو ټولګه ده، چې په مکزیک کې د چیهوهوا ایالت په سوېل لوېدیځ کې ده. دا دره د کالیفورنیا تر سترې درې ژوره او ارته ده. دا درې شپږو سترو سیندونو راټوکولې ده، چې د سیراتاراهومارا له لوېدیځو برخو څخه یې سرچینه اخیستې ده. دا شپږواړه سیندونه فُویرته سیند ته ورتویېږي او بیا په کورتز سیند کې خپله لاره وهي.

## د امریکا ګولن دره

ګولن دره، چې تنګې غرنۍ درې ته وایي، د یوتا په سوېل ختیځ او مرکزي برخه او د آریزونا په لوېدیځ کې، چې د کلوراډو رود یې تر منځ تېرېږي، پرته ده. سور رنګه پرښې او د راده عجیب رنګه اوبه هغه ښکلا ده، چې د هر ګرځندوی سترګې ورخوږوي.

## د اُسټرالیا باچاهان دره

پاچاهان (Kings) دره، د اُسټرالیا په شمالي تریتوري کې د واتارکا د ملي پارک برخه ده. دا دره د George Gill Range د پای په ختیځ او د Alice Springs د سوېل لوېدیځ په ۳۲۳ کیلومتړی کې پرته ده. د دې درې دېوالونه ۳۰۰متره لوړ دي.

## د مقدونیې ماتکا دره

ماتکا ګېډې یا رحم ته وایي. دا د اسکوپیا په لوېدیځکې د مقدونیې پلازمېنه ده. دا دره چې شااوخوا ۵زره هکتاره پراخوالی لري او د مقدونیې یوه تر ټولو ښکلې - زړهوړونکې سیمه ده. څو لرغونې صومعې هم پکې دي. په دې دره کې لس سمڅې دي، چې تر ټولو وړه یې

۲۰متره او تر ټولو اوږده يې ۱۷۶متره اوږده ده. په همدې نامه له په همدې دره کې يو سيند بهېږي، چې څو واړه او غټ سيندګي هم لري او دا يې لا ښايښته کړې ده.

## د هاوايي واایميا دره

واایمیادره (Waimea) چې د آرام سمندر لويه دره هم بلل کېږي، شااوخوا ۱۶کيلومټره اوږده او ۹۰۰متره ژوره ده. چې د نړۍ يوه تر ټولو ستره دره ده. دا د کااوا په شمال کې په هاوايي ټاپوګانو کې ده. دا دره په همدې نامه د يوه سيند د تېرېدو لاره ده. د همدې سيند په وسيله جوړه ده.

## د چين پارلونګ زانګبو دره

يارلونګ زانګبو دره،چې سانګپو دره هم ورته وايي، د چين په تبت کې د يارلونګ سانګپو د راده پر لاره پرته ده. دا دره د نړۍ تر ګردو ژوره ده،د کاليفورنيا تر درې ۱۵۰مايله يانې ۷۷۵۶متره، ډېره اوږده ده؛ څکه د نړۍ تر ګردو اوږده دره ده. د يارلونګ سانګپو سيند معمولاً د زانګبو يا سانګپو په نامه پېژندل کېږي، چې د استمار خزندو - فلس لرونکې او شمزۍ لرونکې خزندې دي، د کربوړو خپلوانې دي، تراوسه يې ۳۰۰۰ ډوله پېژندل شوي دي، چې د ۴۰۰شااوخوا ډولونه يې ډېر خطرناك دي – پاکوونکي مانا لري.

## د مارانو استوګنځي

بې د نړۍ له دوو قطبونو په نورو برخو کې شته، ډېر ماران پر ځمکه اوسېږي؛ خو ځینو یې بیا د اوسېدو لپاره ونې او اوبه غوره کړې دي.

په اوبو کې ماران اوسېږي، اوبسږي (برانشون) نه لري، چې د اوبو مخ ته راووځي؛ خو له دې سره-سره په ساعتونو لاندې په اوبو کې پاتېدای شي، په دې موده کې په اوبوکې له ګډه شوي اُکسېجنه کار اخلي.

ماران له یوه سره په دوو ډلو وېشلای شو، لومړۍ یې هغه دي، چې په خپلو زهرو سره د خپلو خوړو په عصبي یا د وینې دوران سیستم کې ستونزې راولاړې کړي، بله یې هغه دي، چې د خپلو غوښو پرمټ خواړه سره چیخپیت او سایې ورایساروي، دا ور ماران په آرامه زړه هومره په تمه کېدای شي، چې خواړه یې ورنږدې شي او بیا د اړتیا په شېبه کې ترې راوګرځي، هومره یې سره تینګ کړي،چې ژوندي‌سرى يا انسان له سا وغورځوي؛ خو زهري ماران بیا خوړو ته د زهرو تر ورپیچکاري کولو یا پاشلو وروسته هومره درېږي، چې هغه له پښو ولوېږي او سېک یې وخېژي.

## د زهرو له مخې د مارانو ډولونه

د ځینو مارانو زهري غاښونه په مخ کې او واړه غاښونه یې شاته وي. د دې ډول مارانو زهري غاښونه د بمبې (سوري) لرونکي چپراس غوندې دي؛ لکه: کبرای مار، سمندري پلن مار.

دویم ډول یې واړه غاښونه نه لري، یوازې زهري لري، دا ډول ماران ډېر خطرناک دي؛ لکه: افعي ماران.

درېیم ډول یې هغه دي، چې په لومړی واړه او بیا زهري غاښونه لري، چې د زهرو د لږوالي له کبله ورته نیمه‌زهري ماران وایي.

څلورم ډول یې بې‌زهرو ماران دي، چې د عضلو د پړسولو له لارې خپل کار کوي؛ لکه: بوآ او پیتون ماران.

### د مارانو په اړه حقیقتونه

د پیتون مار ۷۰کیلوګرامه ژوندی ژوندي‌سرى هوسا تېرولای شي.

د مارانو تر ټولو زیاته ثبت شوې چټکتیا په ساعت کې ۱۳کیلومېټره ده.

د تور مامبا مار زهر په ډېرې چټکۍ اعصاب ګډوډوي او تر ټولو زورور زهر دي.

ډېر ماران د ۲۰۰شاواخوا غاښونه لري، چې د خوراک د ساتلو لپاره کار ترې اخلي.

په نړۍ کې تر ټولو ستر ماران د ښامار[1] مارانو په کورنۍ پورې اړه لري، چې بوآ او افعي له د همدې کورنۍ دي، کله-کله یې اوږدوالی تر ۹مترو اوړي.

[1] - ښامار مار، په پخوانیو افسانو کې هغه مار ستر مار ته ویل کېده، چې له خولې یې اور بادېده.

## د خلقت عجايب

د خلقت عجايب او د اسلامي نړۍ هېښتياوې


















# د هېښوونکو ژونديسرو د خلقت عجايب

د خلقت عجايب | د بېزو ډوله هېښوونکې يېږې/خوګ بچی،د خلقت عجايب، دوزخي کب، غاښ لرونکی کب، هېښوونکی کب، عجيب کب، غوښه خور کب [...]...





# په ګینس کې د نړۍ تر ټولو جګ سپی

د نړۍ تر ټولو جګ سپی ۸/۱۱۱ سانتي مېتره اوږدې پښې لري، چې د نړۍ تر ګردو جګ سپي نوم یې وګټاوه.

د تکناز د رپوټ له مخې، دا درې کلن سپی د امریکا د «میشیګان» ایالت دی. دی په نړۍ کې تر ټولو یوازینی لوړ سپی دی، چې د ګینس نړیوال رېکارډونو په کتاب کې یې نوم ثبت شو.




دا سپی چې ۳/۷۰ کیلوګرامه درونډ دی، هره ورځ ۱۴کیلوګرامه خواړه خوري. د تکناز د رپورټ پر بنسټ، چې د ګینس نړیوال ریکارډونو اینټرنېټي مرکز په وینا، د نړۍ تر واړو جګ سپي خاوند وویل:

دا ډېر فوق العاده ژوی دی، ستونزه یې یوازې خواړه او وړن-راوړن دی؛ ځکه په معمولي ګاډو کې ځایېدلای نه شي.

## د اطلاعات موندلو لپاره د دې وزيرې ځان پلورنه

د تکناز د رپوټ له مخې، چې رجانيوز څخه يې رااخيستی دی، د صهيونيسي رژيم يوې پخوانۍ مسؤلې، اعلان وکړ، چې د مهمو اطلاعاتو موندلو لپاره يې له ځينو عربي اشخاصو سره جنسي اړيکې لرلې. مېرمن پزيپي‌ليوني د صهيونېستي رژيم د بهرنيو چارو پخوانۍ وزيرې، له انګرېزي ټايمز ورځپاڼې سره په خبرو کې ومنله، چې:

د اسرائيلو د اطلاعاتو او څار په اداره «موساد» کې يې د خپل فعاليت پر مهال، د اطلاعاتو د موندلو لپاره له ځينو عربي شخصيتونو سره جنسي اړيکې درلودې.



ليوني په دې اړه ياده کړه: ما د ځينو عربي شخصيتونو د شرمولو او دوی ته د رسوايي دوسيو د جوړولو لپاره، له دوی سره جنسي اړيکې درلودې، چې مهم اطلاعات او سياسي امتيازونه ترې واخلم.

## لس کلنه نجلۍ امېدواره شوه!

د مکزیک د پوبیلا ښار په زېږنتون کې، لس کلنې نجلۍ د سزارین جراحۍ له لارې لس کیلو او پینځه سوه ګرامه ماشوم وزیږاوه.




د لاسته راغلو خبرونو له مخې، دا زېږېدلی ماشوم، د ډاکټرونو تر څار لاندې دی او د







زېږېدلې ماشومه لس کلنه مور هره ورځ دې ماشوم ته د شيدې ورکولو لپاره زېږنتون ته ورځي.

پولیسو همدارنګه جوخت ورسره د ماشوم د پلار موندلو د موندلو پلټنې پیل کړې دي، چې پر دې یې سر خلاص شي، چې پر دې لس کلنه ماشومه د جنسي تېري له کبله، داسې څه شوي دي، که نه؟

# د رنګه مرخېړیو زړه وړونکي انځورونه، چې تر اوسه مو لیدلي نه دي

شینهوا نوي په خپله پاڼه کې انځورونه خپاره کړي، چې د ډېرو عجیبو او ښېخي زړه وړونکو




مرخېړیو انځورونه یې کښلي دي.



## جګ غاړې نجلۍ!!

دا اوکراینۍ پېغله په نړۍ کې تر ټولو جګه غاړه لري.











د نړۍ تر ګردو جوړو شویو ډاروونکو کېکونو انځورونه



## له زړو بوټونو او پايزار څخه د ګلدان لپاره د ګټې اخيستلو انځورونه



زاړه بوټان مو په خځلو يا اور کې مه غورځوئ. تاسو به وايئ، چې ښه نو څه پرې وکړو؟ درته وايم يې:

راوايې خلئ په باغچو او کلاوو کې مو ګلدانی ترې جوړې کړئ. مخ تړلې چوَټې/څپلکې، بوراک بوټونه، موزې، عسکري بوټونه، کرمچ بوټونه او نور چې هر ډول بوټونه وي، هېڅ خبره نه ده، راوايې خلئ، بس ګلدانونه ترې جوړ کړئ.

بس همدومره بس دي، چې له نورو وسايلو سره سم وي او باغ ته يې راوړئ. داسې به نو چټک، جالب نوښت وکړئ. په بوټونو کې مو خاورې واچوئ، د خپلې طبعې ګل پکې وکرئ. که مو د بوټ مخه بنده وي، ورته غوټه يې کړئ.

# د امریکا تر ټولو خطرناک نااټومي بمب

د امریکا په هوايي ځواک پورې اړوند «اېیرفورس ټایمز» انټرنېټي پاڼې ولیکل، چې دې




هېواد تر ټولو خطرناک نااټومي بمب جوړ کړی او په خپل سلاکوټ کې اېښی دی.

د تکناز د رپوټ له مخې،چې د اېران له عصر څخه یې رااخیستی دی، دا بم د ډېرې لویې ګولۍ غوندې امنیتي دېوالونه وشلوي او تر ځمکې لاندې ۶۰متری کې خپلې موخې له منځه یوسي.




د ستر بم ۶۰متره اوږد او یو متر قطر لري، بي دوه پنځوس او بي دوه ( B-۵۲ او B-۲) چورلکې یې غورځوي. دا دوې نظامي چورلکې د امریکا د سټراټېژیکو توغوندیو د توغولو لپاره جوړې شوې دي.

دا بم تر توغېدو وروسته د ساتونکو دېوالونو د شلولو سربېره، سخت ځمکرېږد جوړوي، چې همدا توغېدنه یې هدف ته په زیان رسول کې مرسته کوي. له همدې مخې، که موخه تر ځمکې ۱۰۰متره لاندې وي، بیا یې هم دا توغېدنه موخې ته زیان وراړولای شي.




بم د جوړېدو په شېبو کې د بویېنګ د هوايي دفاعي صنایعو شرکت د دې توغندیو ۲۰ړوله جوړ کړي دي او د امریکا د اردو په واک کې یې ورکړي دي.




د «موپ» بمونو د توغولو لپاره جوړه شوې (B-۵۲) چورلکه

د دې بم دروندوالی ۱۳نیم ټنه دی، چې په مخروطي ډوله څوک کې یې ۲۵۰۰کیلوګرامه د لوړ شدید چاودون ځانګړتیا لرونکي چاوېدونکي توکي ځای پرځای شوي دي.

دا بم د ځمکې په تل کې کېمیاوي، بیولوژیکي وسلې او اټومي بنسټونه یا توغندي په نښه کولای، ویشتلای او له منځه وړلای شي.

په دې اړه د یوه بل رپوټ له مخې، دا بم اوس د امریکا د دفاع وزارت په واک کې دی او کار ترې اخیستل کېدای شي.

د دې بم د جوړښت چارې اته کاله وړاندې پیل شوې وې، تر Massive ordnance penetrator «موپ/MOP» بمونو - چې امریکا په ۱۹۹۱ز کې د عراق په جګړه کې وکارول او په ځمکه کې ۲۰یا۳۰متره لاندې یې د عراق ځینې وسلې له منځه یوړې - تر ۱۰چنده زیات قوي دی.

امریکا په داسې شېبو کې تر ټولو زیات ویجاړوونکی بم جوړوي، چې نور هېوادونه هغو مشهورو وسلو جوړولو ته نه پرېږدي او ان بندیزونه پرې لګوي.

# د آسیا تر ټولو ښکلې سیندغاړې چېرته دي؟

سپین او طلایي رنګه شګې، هوټلونه، د اشرافو هستوګنځي او ډېر طبیعي راښکونکي هغه څه دي، چې دې سیندغاړو ته یې د نړۍ ګرځندویان ورمات کړي دي.

په دې برخه کې فیلیپین ټاپوګانو په مرکزي برخه کې دبوراکای/Boracay په نامه یو ووړ تود ټاپو دی، چې بویه پرې وغږېږو.

د ساتېري امکانات او د ګرځېدنې راښکون، نه یوازې دا ټاپو د نړۍ د ټولو برخو بهرنیو ګرځندویانو مخ وراړولی دی؛ لاچې هر کاله د فیلیپین دولت ته ښه عواید هم ګټي.













## خځلې چې د هنري ننداړو وسایل شي!

د ټیم نوبل او سوو بسټر په نامه دوو انګرېزي هنرمندانو، د خځلو او اضافي شیانو په راټولولو او له یوه او بل سره په ایښودلو یې، ډېر ښکلي سیوري وپنځول، چې د سړي خوله ورته وازه پاتې شي.



















# د بېديا په منځ کې ريښتينی جنت

تکناز راته وايي: ډېر وګړي د نړۍ په تکو شنو سيمو کې، سړې ماڼۍ لټوي؛ خو کله مو داسې انګېرلې ده، چې دا به څومره زړه وړونکې وي، چې په يوه تروه شګلنه سيمه کې، يو سيندګی جوړ کړئ او يوه شنه کرونده او په جاپاني سبک جوړه يوه سړه ماڼۍ مو وي؟














نور نو پوښتنې مه کوئ، پخپله يې وګورئ!



# د نړۍ د سیاستوالوتر ټولو مشهورې غیراخلاقي اړیکې

د امریکا د اردو ډګر جنرال ډیویډ پیټرایوس؛ د تورې ادارې له مشرۍ څخه ځکه استعفا وکړه، ځکه چې د خپل ژوندلیک له لیکوالې مېرمن پایولابراډول سره یې بې واده، غیراخلاقي تاراچولی و.




په دې توګه یې د مشهورو سیاستوالو اړیکې راپه ډاګه کړې.

په دې خبر کې د وتلو سیاستوالو نومونه راغلي، دي، چې په داسې پېښو کې یې لاس و. که څه هم چې نومونه یې یوازې په دې څو څېرو کې پورې نه رانغښتل کېږي: له واده پرته د خپل ژوندلیک له لیکوالې سره د تورې ادارې د مشر جنرال ډیویډ پیټرایوس اړیکو له دې څوکۍ څخه پر ده استعفا وکړه.

## "واسلاو کلاوس"

پر ده په ۱۹۹۱، ۲۰۰۲ او ۲۰۰۹ کلونو کې د له واده پرته د جنسي اړیکو تورونو د چک له ولسمشرۍ څوکۍ څخه استعفا ته اړ کړ.



## موشه کاتساو (موسی قصاب)

د اسراییلو د هغه وخت ولسمشر، د دغه رژیم تر ټولو لوړپوړی غړی و، چې د اخلاقي



رسوایی له کبله یې له خپلې څوکۍ څخه استعفا وکړه. اسراییلي محکمې دی په ۲۰۱۰ز کې د نورو تورنو تر څنګ، د دوو جنسي تېریو پر تور مجرم وګڼه.

## "دومینیک ستراوس کان"

د پیسیو د نړیوال صندوق د مشر، دومینیک ستراوس کان، موضوع بیا دا وه، چې ده په



امریکا کې د یوه هوټل پر یوه کارګره جنسي تېری وکړ؛ بیا دی پرې له خپلې دندې ګوښه شو. دا هسې تور و، چې ډېرې خو او که ګانې پکې وې.

## "انتوني واينر"

د امریکا په پارلمان کې د ډیموکراټ ګوند غړي، انتوني واینر، هغه مهال له خپلې دندې استعفا وکړه، چې غیراخلاقي انځورونه یې خپاره شول.ده دا انځورونه د ټویټر ټولنیزې شبکې له لارې ځینو ښځو ته واستول. ده همداراز ومنله، چې د ټویټر پر پاڼه یې د هګ (انټرنېټي غلا)



خبره درواغ وه. د ده زړه و، چې یوې ښځې ته د ټویټر له لارې انځور واستوي؛ خو څرنګه چې پر ټویټر یې دومره سر نه خلاصېده، په غلطۍ سره یې انځور د پاڼې ټولو غړو کاروونکو ته سلام ورواچاوه، دا یوه ډېره ستره رسوایي وه.

## "آرنولډ شوارزنګر"

نوموتی اداکار او د امریکا د کالیفورنیا ایالت پخوانی قوماندان، آرنولډشوارزنګر، له خپلې مېرمنې ماریا څخه جلا شو. دا پېښه هغه مهال وشوه، چې ښځه یې وپوهېده، آرنولډ لس کاله مخکې له خپلې خدمتګارې سره تار لاره او له هغو څخه یې یو زوی دی.



## سیلویو برلوسکوني

د ایټالیا پخوانی لومړی وزیر تر ټولو مشهور سیاستوال دی، چې د غیراخلاقیانو له رسوایی سره یې نوم غوټه شوی دی.



په دې برخه کې پر ده پرله پسې تورونه لګېدلي دي، په هغو کې له مراکشي ټبرې نجلی کریمه المحروقي - چې په (روبي) مشهوره ده — سره د غیراخلاقي اړیکو لرل یادولای شو. له یوې ډلې پېغلو سره د ده د غیراخلاقي مېلمستیا خبر خو تر مودو-مودو د دې هېواد په رسنیو کې خوله په خوله ګرځېده.

## بېل کلېنټن:

د امریکا د پخواني ولسمشر بېل کلېنټون نوم هم د اخلاقي رسوایی په لیکه کې ښتی دی. د سپینې ماڼۍ له یوې کارګرې مونیکالوینسکي سره یې اړیکې وې. ده تر ډېرو څېړنو وروسته دا خبره ومنله.

## په امریکا کې پر ښځینه محصلینو ډله ییز تېری!

د تکناز د رپوټ پر بنسټ چې، له جام نیوز او هغه د لاس انجلېس ورځپاڼې د مې څلورمې ګڼې څخه راوړې ده، د امریکا په پوهنتونو کې د جنسي تېریو په اړه پرله پسې شکایتونه وشول. نو د امریکا قضایي څانګې په پوهنتونو په تېره د ونټانا» ایالت د



«میسولا» او «مونټ» په پوهنتونو کې وروستیو جنسي تېریو ته په کتو، ویټېیله، چې د جنسي تېریو د مخنیوي او مجرمینو سره یې د چلن په اړه د بشري حقونو څېړنې پیل کړي.

د امریکا قضایي څانګې په ډاګه کړه: «لږ تر لږه په تېرو دریو کلونو کې یوازې په پوهنتونو کې د جنسي تېریو ۸۰ پېښې شوې دي، چې ډېر قربانیان یې نجونې او ښځې دي، چې د دوی د وینا پر بنسټ د الکولو/شرابو څښلو او اروا ګرځوونکو درملو ته په هڅولو سره یې، په زور تېري پرې کړي دي او ډېر وخت دا تېري ډله ییز وو.»

د «مونټانا» د سترې محکمې پخواني قاضي وویل: «په ټولو تېریو کې، موږ یوازې په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ز کال کې ۹کسه ونیولای شول، چې ډېر یې محصلین او لږ یې عادي وګړي وو.

ده وویل: «د امریکا په پوهنتونو په تېره «مونټانا» کې د جنسي تېریو ستونزه ډېره جدي ده او موږ د پوهنتون د ننه د محصلینو، کارګرو، ښوونکو او مېلمنو د خوندیتوب د لوړولو لپاره نویو لاس په کار کېدنو ته اړ یو. همدارنګه په پوهنتونونو کې د جنسي تېریو شمېر تر دې ډېر زیات دی او په دې برخه کې قانوني څار او پلټنې خورا ستونزمنې شوې دي. د دې لپاره چې محصلین وروسته له دې چې جنسي تېری پرې کېږي، له شکایت کولو وېرېږي او خبره نه راباسي.» په دې وروستیو کې په دې پوهنتو کې د ګرېزلي فوټبال ټیم غړي یې پر یوه نجلۍ د ډله ییز جنسي تېري په جرم ونیول.

دې ستونزو ته په کتو، د پوهنتون او ښار مسؤلینو په وروستیو میاشتو کې خپل پروګرامونه لاسم کړي دي او د(MISSOULA۹۱۱.Com) وېبپاڼې په جوړولو سره، محصلینو ته مشوره ورکوي، چې که تېری پرې وشي، څرنګه قانوني مرکزونو ته ورشي او په دې اړه وېره او ډار ونه لري.

# ژوند ته هيله‌منتوب له دې نجلۍ زده کړئ!!

۲۷کلنه فرېبا معصومي د ايران د فومن ښار د شاآوخوا صالح سرا شولم کلي اوسېدونکې ده، ۱۱کاله کېږي، چې په لږو امکاناتو او د معلوليت په بېخي بېساري پړاو کې، هنري آثار پنځوي. د دې تر ګردو ستر څواك د وټيو، نانځکو، کيسو او ګرېوانونو اوبدل، نقاشي، ګل جوړول او ... ښودلای شو.



د ټولنې د دې پوړ پر وخت او پوره ملاتړ، چې لاس تر زنې نه کښېني، د دوی د پټو استعدادانو په څلولو کې







## د یوې له منځه تلونکې قبیلې تر ټولو پېژندل شوې مېرمنه!

نړیوال بنسټ د یو ډلې په ملاتړ د یوې قبیلې د پایښت لپاره هڅې کوي، چې د «له منځه تلونکې قبیله»نوم یې ګټلی دی. د تکناز د رپوټ له مخې دا قبیله «آوا» نومېږي، په



برازیل کې اوسېږي. د دې قبیلې وګړو تر اوسه صحرایي او لرغونی حالت ساتلی دی.

د دې قبیلې تر واړو مشهوره څېره هغه مېرمنه ده،چې تر ۹۰کلونو زیات عمر لري، هماغسې د لومړنیو انسانانو غوندې په ځنګله کې د خپلو خوړو برابرولو لپاره یوازې ژوند کوي .

ویل کېږي، چې د دې قبیلې تر ۳۰سلنه زیاته ځمکه په ناقانونه ډول نیول شوې او یا له منځه تللې ده. د بشر حقونو سازمان هڅه کوي، د تېري کوونکو پر وړاندېد دې قبیلې د انساني حقونو دفاع وکړي.

## د یوه ماشوم نادره او عجیبه ناروغي چې تل خاندي!!



دوه کلن الیوټ الاند، د انګلستان د پرسټون اوسېدونکي تل خوشحاله دی.

دا طبيعي خوشحال نه ده او هغه په نادره ستونزه کې لوېدلی دی،چې تل یې پر شونډو خندا راشنه کوي. که الیوټ پر دې کړاو اخته وي، هېڅکله به خبرې ونه کړای شي، په لاره تګ کې به هم له ستونزو سره مخ وي. د ده ستونزه انګلمن سینډروم نومېږي، چې ګڼ جانبي عوارض لرلای شي. په دې عوارضو کې یو یې د وړې اشارې یا کتو له کبله د سړي هیجاني کېدل دي.




د تکناز د رپوټ له مخې د الیوټ مشر ورور آلسک نومېږي، د مور په وینا یې د الیوټ د ناروغۍستره ستونزه یې د ورور شتون دی. ځکه ورور یې چې له ستونزې سره مخ شي او ژاړي، الیوټ یې د ورور د خپرې په لیدلو سره په خندا شي او دا خبره یې د ورور روحیې ته سخت زیان اړوي.

مور یې الاند وایي، چې د زوی ستونزه یې په څو میاشتنۍ کې وموندە، چې د خوړو ورکولو پر مهال له سختو ستونزو سره مخ وه: «موږ نه پوهېدو چې خبره به دومره جدي کېږي، یوازې مو داسې ګڼله، چې ښایي د ځینو خبرو له کبله به خواړه نه خوري؛ خو زموږ کورني طبیب موږ د ښار اصلي روغتون ته واستولو او هلته سم له واره ګڼې معاینې وشوې او له نیکه مرغه، ژرنګه چې مخکې یو بل په انګلمن سندروم اخته ناروغ یې درلود، د زوی ناروغي مې ژر وموندل شوه.

موږ یې باید پر درملنه ډېرې پیسې ورکړو؛ خو تر اوسه مو د خیریه ادارو په مرسته دا لګښتونه پوره کړي دي. تل به مو فکر کاوه، چې هغه په ریښتیا یو خوشحاله ماشوم دی، نه پوهېدو چې ناروغي یې دومره خطرناکه ده. دا ناروغي په ۱۹۶۵ز کې د هېري انګلمن په نامه یوه ډاکټر وموندە. پر دې عصبي ناروغۍ د اخته ناروغانو درملنه له یوه تر دریو کلونو پورې وخت نیسي.

## په لومړۍ کرښه کې د یوې سرتېرې زېږون

دې سرتېرې په خپله مرکه کې ویلي دي، دا بېخي خبره نه وه، چې امېدواره ده. تر هوایي برېده وروسته یې د زړه سخت خوږ وربېښ شول، چې معاینات یې وکړل، امېدواره وه او ماشوم زیږوي.

د تکناز د رپوټ له مخې، د ۵۰۰شااوخوا انګرېزانې همدااوس په افغانستان کې خدمت کوي؛ خو د یوې سرتېرې په اړه جالبه خبره دا ده، چې هغه بېخي لاخبره نه وه، چې امېدواره ده او په لومړۍ کرښه کې یې زیږون وکړ.

دا مېرمنه په هلمند کې پر دېره بهرنیو ځواکونو د طالبانو تر شوي بریده یوه ورځ وروسته پر زیږون اخته او یو زوی یې وزیږاوه. دا ماشوم تر ټاکلې مودې ۱۵اونۍ مخکې زیږېدلی دی. د رپوټونو له مخې اوس دی او مور یې په افغانستان کې دي، ټاکل شوې چې د آکسفورډ له




روغتونه به د ماشومانو یو ځانګوال ټیم ډېر ژر افغانستان ته راشي، چې ماشوم او مور یې تر جلا ځار لاندې خپل کور ته ستانه کړي.

نظامي قوماندان له پر دې بې وخته زیږون هک پک شول او په دې اړه یې د درملو غوښتنه وکړه، چې د جګړې سیمې ته یې ولېږي. له ۲۰۰۳ کاله تر اوسه پورې ۲۰۰بریټانوي ښځې، چې امېدواري یې معلومه شوې ده، خپل هېواد ته ستنې کړې دي، چې زیږون وکړي؛ خو دا لومړی ځل دی، چې یوه سرتېرې په لومړۍ کرښه کې زیږون کوي.

د ډاکټرانو په خبره، دا ډېره نادره خبره ده، چې یوه مور پر خپلې امېدوارۍ خبره نه وي او ان د زیږون پر مهال یې هم دې خبرې ته پام نه دی شو. جالبه خو دا ده، چې دې سرتېرې د خپلو نورو جنګیالو سره اوږه په اوږه په سختو نظامي جګړو کې ګډون کاوه، خو چې پر خپلې امېدوارۍ نه پوهېده، لېږې-لېږې واټنونه یې له درنو وزنو سره وهلې دي؛ خو جنین ته یې زیان رسېدلی نه دی.

## یوې امریکايي په ناخبرۍ کې له خپل پلار سره واده وکړ!

یوه شپېته کلنه امریکايي د خپل مېړه تر مړینې وروسته پر یوه ترخه واقعیت وپوهېده. هغه




دې له خپل پلار سره واده کړی و. والري سېبروېل چې د اوهايو ایالت اوسېدونکې ده، خپل تره یې ورته وویل،چې پخوانی مېړه یې چې ۶کاله وړاندې مړ شوی و، پلار یې و. سپروېل چې لومړی پر دې

خبرو باور نه کاوه، د DNA معاینه وکړه، د معاینو پایلو ثابته وکړه، چې پخوانی مېړه یې پلار و، سخت ټکان یې وخوړ. د تکناز د رپوټ له مخې،چې د کوېټ چاپ «الرای» ورځپاڼې یې رااخیستی دی، د والري مور چې یوه خدمتګاره وه، لور یې د خپل پلار او مور کره خوشې کړه. دا به چې د خپل کار له لپاره ځایه خپلې مور او پلار ته ورتله، خپله لور به یې هم لیدله؛ خو مور او پلار یې ویل، چې هغه د دوی ملګرې ده، کرېستېن نومېږي. د والري نیکه چې ومړ، دې داسې انګیرله چې خپل پلار یې مړ شوی دی او هېڅ یې د پلار اصلي هویت ورته ونه وایه.

دې څو کاله وروسته له د پیرسي په نامه د کامیون له یوه ګاډي چلوونکي سره ولیدل او واده یې ورسره وکړ؛ خو خبره نه وه،چې هغه یې پلار دی.

اخېر په ۱۹۹۸کال کې پیرسي له یوې ناروغۍ څخه ومړ. والري د خپل عجیب واده په اړه له خپلو ملګرو او خپلوانو څخه عجیبه زمزمې اورېدې. د پیرسي تر مړینې شپږ کاله وروسته، د والري یوه تره ورته وویل، چې مېړه یې خپل پلار و. والري د DNA تر معاینې وروسته سخته وځورېده او په اوهایو کې د یوه روغتون ډاکټران یې درملنه کوي.

## له آسمانه د جسد رالوېدل او د وګړو وېره!

د لندن د حومې اوسېدونکي له آسمانه د یوه جسد رالوېدلو سخت ووېرول. قاچاقي مسافر چې په الوتکه پورې ځان نښلولی و، چې وچ شو، له څو زره فوټه پاسه راولوېد. د تکناز د رپوټ له مخې د دې قرباني سړي بدن، چې له بڼې ۳۰کلن او د شمالي افریقا اوسېدونکی دی، پر یوه درول شوي موټر پر سر د لندن په یوه لوکس مېشته سیمه کې وموندل شو. د هوايي چلن کارپوهان وايي، چې ښايي دی پر څمکه تر لګېدلو مخکې مړ و، د مړینې لامل یې په لوړو برخو کې د هوا زیات سړښت و. دوی باور لري،چې ددې سړي بدن د رالوېدلو پر مهال د الوتکې له شاسی څخه رابېل شوی و او رالوېدلی دی. د مورتالکه کوڅې اوسېدونکي چې له هوايي ډګر څخه ۱۰مایله واټن لري، پر یوه درول شوي موټر د جسد لګېدلو سخت غږ اورېدو ډېر ووېرول.




بېلي واټسون، چې د جسد لګېدلو ځای ته مخامخ اوسېږي، وايي: بېخي مې باور نه راته، جسد چې رالوېده ورته کتل مې، اوښت رااوښت رانږدې کېده او پر موټر ولګېده. پر ځمکه چې ولګېد، ځایونه په وینو ولړل شول، چې سره یې رابهېدې. د هغه ځای یوه اوسېدونکې وايي: ډېر هېښوونکی و او په کوڅه کې یې له جسده څو ساعته وینې بهېدې.

ریچارډ ټېلور د انګلستان د الوتکو اداري چارواکي وویل: لېرې نه ده، چې دا سړی پر ځمکه تر لګېدو مخکې ژوندی وي؛ ځکه چې څو ساعته د فارنهایټ په منفي ۴۰درجو کې یې تودوخه صفر وه.

## تر انشټاینه ځیرکه نجلۍ!

د مېنسا د ځیرکتیا ټولنې له خوا د شویو ازمېښتونو پر بنسټ، د یوې ۱۵کلنې هندي ټبرې نجلۍ ځیرکتیا کچه ۱۶۲ده، تر البرټ انشټاین او سټېفان هاوکېنګه ډېره ځیرکه ده. په لندن کې ۱۵کلنه فابیولامان د ځیرکتیا د ۱۶۲ ضریب په درلودلو سره تر انشټین او هاوکې ږنګر څخه مخ ته شوه.

د دې دغې ځیرکتیا دا د نړۍ د ټولو ځیرکو وګړو په سر کې – چې په نړۍ کې یو سلنه دي – ودروله. ویل کېږي، چې د هاوکېنګ د ځیرکتیا ضریب ۱۶۰ و او د دې ۱۵کلنې نجلۍ ۱۶۲ ښودل شوی دی او لږ تر لږه د کاغذ پر مخ یې ځیرکتیا زیاته ده.




«مېنسا» د نړۍ د ځیرکتیا ضریب تر ټولو ستره او لرغونې ټولنه ده. د تکناز د رپوټ له مخې دا غیرانتفاعي[1] اداره د هغو وګړو پر مخ پرانیستل کېږي، چې ځیرکتیا یې تر معیاري بریده لوړه وي. مېنسا په رسمي ډول له ملي ډلو او د مېنسا اینټرنَشنل پوښښي اداري څخه جوړه شوې او ثبت شوی دفتر یې د انګلستان په لېنکولنشایر ښار کې دی.

فابیولا وویل: د منسا ټولنې پر شتون چې خبره شوم، ومې پتېیله د دوی په ازموینه کې ګډون وکړم. تل مې له معماوو سره جوړه وه، له پلار او موره مې په ډېرې هیله‌مندۍ د دې ازموینې د بیې د ورکړې غوښتنه وکړه.

فابیولاد لندن د نُورت ووډ د وتلیو نجونو په ښوونځي کې

[1] – هغه شرکتونه، ټولنې یا نورې ادارې، چې خپله بودیجه ونه لري، یا یې هم څوک مالي ملاتړي نه وي.

زده کړي کوي. دا د دې درې ساعته ازموينې لپاره د لندن کالج پوهنتون طبي پوهنځي ته ورغله او په دې اړه يې وويل:

تر آنلاين ازموينې، دې پوښتنو پر سرې لې لاره ورکوله او دې مور ته يې د ځواب لپاره ډېر وخت رانه کړل شو. له دې کبله درته ويلای نه شم،چې په رښتيا په څه حال وم. دا ۱۵کلنه هندي ټبرې نجلی،چې ويل کېږي په ختڅه پرتګالی ده، د کاراټې بنفش ملاوستونی/کمربند لري او اوس د تکواندو په ټولګيو کې ګډون کوي. د ټول ځيرکو هلکانو غونډې د شطرنج لوبه کوي، پيانو او ګېتار وهي. له نوښتګرو ليکنو سره يې جوړه ده او همدا اوس پر يوه عالي داستان کار کوي. د فابيولا مور د لندن په اسوشيټډپرېس په ورځپاڼه کې خبرونه چمتو کوي.

فابيولا وويل: تر دې ازموينې وروسته په رخصتيو ولاړو او يوه مياشت وروسته يو ليک راغی، چې پکې ليکلي وو، زما د ځيرکتيا ضريب ۱۶۲ دی او د منسا ټولنې ته يې وربلل. څه وخت مخکې هم د برېټانيا د لېورپول يوه ۱۲کلنه نجلی د منسا ټولنې په ازموينه کې د ځيرکتيا په ۱۶۲ضريب درلودلو سره د نړۍ په يو سلنه وګړو کې راغله.

اوليوياډمنېنېګ اوليويا په ډاګه کړه، چې نوې خبرې ډېرې چټکې زده کوي او په ياد يې پاتېږي؛ خو وايي، د خپلې ځيرکتيا پر نومره چې پوهه شوم «ګونګی» شوې وم.

د دې د ځيرکتيا ضريب تر آلماني نابغه آلبرټ اينشټاين او ستر معاصر فزيکپوه هاوکېنګ دوه نومرې لوړ دی.

## قطري سوداګر د مايکل جَکسن له خور سره واده وکړ

قطري ميليارډر سوداګر وسام المانع، ويلي دي، چې زړه يې دی د مايکل جکسون له خور «ژانت جکسون» سره واده وکړي. د المانع په وينا د ده د واده مراسم به د قطر په پلازمېنه دوحه کې ترسره شي.



رسنيو په دې اړه وليکل، چې ژانت او چنغل/کوژدن يې غواړي، چې د واده مراسم يې د المانع په پلرني ټاټوبي کې وشي. د دې چارې لپاره ډېر له دبدبې ډک مراسم په پام کې دي، چې د دې رسنيو په وينا، «د پېړۍ واده» نوم ګټلای شي.

د تکناز د رپوټ پر بنسټ، وړاندوينه شوې ده، چې د امريکايي سندرغاړي او نڅاګر له خور سره به د المانع پر واده ۲۰ميليونه ډالره ولګېږي، چې يوازې درې ميليونه يې په دې مراسمو کې د ګډون کوونکو پر راتګ لګېږي، اټکل کېږي، چې يواز ۵۰۰ کسان به وي.




همداراز ویل شوي، چې المانع په دې مراسمو کې غواړي، پر هر یوه ګډونوال یو یو «رولکس» ساعت لوربېنه وکړي، چې د هر یوه قېمت یې ۱۰زره ډالره دی.

د مایکل جکسون خور ۴۶کلنه ده، سره له دې چې عمر یې تر المانع یوه لسیزه زیات دی؛ خو په خبرو کې یې ویلي دي، چې دا موضوع د دې لامل کېږي نه، چې دا تر څانه کشرانو سړیو سره اړیکه ولري او عمر د انسانانو په ژوند کې ونډه/نقش نه لري.



## ځکه شکایت او طلاق چې مېرمنه مې مخکې بدرنګه وه!

یوه چینایي ځکه له خپلې مېرمنې شکایت وکړ او طلاق یې ورکړ، چې بدرنګه وه.جیانګ فېنګ وویل: دا خبره هغه وخت راپورته شوه، چې لور مې وشوه؛ خو ډېر حیران وم، چې هغه ډېره بدرنګه وه، له ما او مېرمنې سره مې یې هېڅ ورته والی نه و.

ده همدارنګه وویل: تر څېړنو وروسته مې پام شو، چې مېرمنې مې له ماسره تر پېژندګلوۍ مخکې پلاستیکي جراحي کړې وه؛ خو په دې اړه یې هیڅ خبره هم راسره کړې نه وه.

تر عملیات مخکې




تر عملیات وروسته




د «جیانګ» پر دې زړه ډک دی، چې باور لري، مېرمنې یې دوکه ورسره کړې ده او ځان یې په درواغجنه څېره ورښودلی دی.

جیانګ د طلاق تر غوښتنپاڼې وروسته محکمې ته ولاړ. قاضي یې چې خبرې واورېدې، ویې منلې، جیانګ یې متضرر وباله او ۷۵زره پونډه تاوان یې وټاکه.

## په اروپا کې لومړنۍ ښاروالہ چې پړونی یې پر سروي

د بوسني او هرزګوین د ټاکنو کمېسیون په بوسني او اروپا کې د لومړنۍ پړوني لرونکي (محجوب)




ښاروالې پر ټاکنه خبر کړو.

په ۲۰۱۲کال کې په نړۍ کې تر ټولو عجیب انسانان

د نړۍ په ګوټ-ګوټ کې ډېر داسې ماشومان شته، چې له بېلو شرایطو څخه ځورېږي. دا په داسې حال کې ده،چې ښایي د دوی عمر هم کم وي؛ خو بیاهم له خپل حالته ډېر ناراشه دي او تل باید بېلابېلې درملنې پرې وشي.

## بې سترګو ماشوم

"مارا واني جانګ" داسې ماشوم دی، چې له هماغه پیدایښته بې سترګو و. هو، د اتو میاشتو چې و، د لیدو ځراغ یې د مخ په کیڼ لوري کې، هغه ځای چې باید کینه سترګه یې وي،



اېښودل کېده. ددې ماشوم مور او پلار دواړه ۲۶کلن دي، خپل زوی یې له یوه کلي څخه د چین د شین جیانګ ایالت د ارومچي یوه روغتون ته راوړی دی، چې په هغه لبرې اسرې چې د روغتون ډاکټرانو ورکړی دی، د خپل زوی درملنه وکړي. ډاکټرانو وویل، دی چې ۱۶کلن شي، مصنوعي سترګه ورایښوداى شو.

## نارنجي ماشوم

بدن لیون، څلورکلن انګریز ماشوم، په نارنجي رنګو مېوو او سبو کې شته «کاروټن» هضمولای نه شي. له دې کبله یې د بدن رنګ نارنجي کېږي. دی په د (hyper-beta carotenemia) په نامه پر یوه نادره ناروغۍ اخته دی، ګازرې او نورې مېوې چې نارنجي یې وي، خوړلای نه شي. د لیون مور وایي، چې لومړی ځل یې هغه مهال چې زوی یې د شپږو میاشتو و، د خپل ماشوم بېلو حالتونو ته پام شو.



## دا ماشوم له ګرمۍ څخه مري

"فرد جېمز" درې کلن ماشوم دی، چې پر یوه نادره جنېټیکي ناروغۍ له اخته کېدو څخه، یې بدن د چاپېریال د هوا له بدلېدو سره توافق کولای نه شي. بېخي نه خولې کېږي. مور او پلار یې اړ دي، چې تل یې له یوه سړوونکي ماشین څخه په ګټې اخیستلو، د اوبو سپرې او یخ په ټوټو سره سوړ وساتي، که نه د بدن د تودوخې په لوړېدو سره یې د مرګ شونتیا ډېره ده.

## یو هلک هر کال ۵واره مري

د سکاټلنډ په ګلاسکو ښار کې یو ۳کلن ماشوم اوسېږي، چې پر یوه بېل سندروم اخته دی، چې له کبله یې ناڅاپه زړه کار پرېږدي. د ۳ کلن «آرون» زړه معمولاً په هره حمله کې ۷دقیقې له کاره لوېږي. په دې دومره موده کې یې د کورنۍ ټولو غړو برېښنایي ټکان/شوک ماشین د کارولو زده کړې کړې دي او له ده سره مرسته کوي. د ده ناروغي «د ناڅاپي مړینې سندروم» نومېږي، په تېرو درېیو میاشتو کې یې د ده زړه ۳پلا له کاره غورځولی دی. ډاکټران وړاندوینه کوي، چې ښایي د دې ماشوم زړه به په هرکال کې ۵ځله له کاره لوېږي.

## په ۲۰۰۷کال کې د ټکنالوژۍ او علم پرمختګونه

د نوي ټکنالوژۍ ډلې: په ۲۰۰۷کال کې د ژويو په نړۍ کې عجيبې او نادرې لاسته راوړنې لرلې. د دې لاسته راوړنو دوې بېلګې، د رڼو-ښوَيو ځونګښو پر توليد پوهېدل او بله دا چې هاتيان/فيلان د مچيو له غږه ډارېږي.

په ۲۰۰۷ کال کې انګرېزي پوهانو وليدل، چې کومودور ښامار ۵بچي له شنډې مور څخه وزيږېدل. دوی په داسې حال کې کېږي، چې د دوی په نطفه کې يوه نر هم لاس نه درلود.

همدارنګه په دې کال کې چينايي پوهانو په تاريخي اقدام سره، د کوترې په مغزو کې الکترودونه وکرلای شول، چې له هغو څخه په ګټنې يې له لېرې لارې د الوت لوری معلوم کړي. چيني پوهانو له دې مايکرو الکترودونو څخه مرغه ته د ښي، کيڼ، پورته او ښکته الوت د فرمان لپاره کار واخيست.

په ۲۰۰۷ز کال کې د جاپان هيروشما پوهنتون د يوې داسې رڼې ځونګښې پر توليد خبر کړو، چې په کالبدڅيرلو کې به حيرانوونکی بدلون راوستلای شي.



هاتيان، چې ويل کېږي، د ځمکې پر مخ تر ټولو ستر ژوندي ژوي دي، پوهانو په دې کال کې وموندله، چې د مچيو د غږ په اورېدو سره يې زړونه رېږدي او تښتي.



په دې کال کې پوهانو همداراز د درو اصلاح شویو جنیټیکي پېشوګانو پر پیدایښت خبر کړو، چې د بنفشو وړانګو د رڼا په لګېدو سره په تیاره کې ځلېږي.



په ۲۰۰۷کال کې یوې ډلې جاپاني پوهانو وموندله، چې د بویونې نوروونونه د خطر د ځای موندلو له دقت سره اړیکه لري؛ نو داسې اصلاح شوی جنېټیکي موږک یې جوړ کړ، چې د پیشو په کیسه کې نه دی.

# له ۴۷پوړیزې وړانۍ څخه رالوېدل




«آلسیډ مورنوس» له خپل ورور سره په نیویارک د یوې آسمانڅکې ودانۍ ښیښې پاکولې، چې ناڅاپه خوازه لاندې رالوېږي او دوی له ۴۷م پوړ څخه د پښو پر تلو رالوېږي. د آلسېډ رورو ځای پرځای مري او د آلسېډ حالت دومره نازک و، چې ډاکټرانو عملیاتخونې ته ننه نه یوست، او د امبولانس پر کټ یې عملیات کړ. آلسېډ درې اونۍ په کوما[1] کې و، په پای کې یې د کرېسمېس په ورځ سترګې رڼې کړې. دې خبرې ته په پام، چې ان له څلورم پوړ څخه له رالوېدو، د ژوند شونتیا ۵۰سلنه ده، خو آلسېډ په رښتیا چې ډېر بختور و.

---

[1] - اوږده بېسدي

## په بدن کې له ۱۱اوسپنیزو سیخونو سره ژوند



۱۷کلنه «کاترینا بورجس» د یوه واړه ګاډي په چلولو سره دومره ژوبله شوه، چې ډاکټرانو باور درلود، بېرته به پر پښو ونه درېږي. په دې پېښه کې یې ورمېږ، شمزۍ/ملاتیر، د خاصرې لګن او کیڼه پښه ماته وه او هم یې دواړه سږي ژیرې شوي وو. ډاکټرانو یې په ۱۱اوسپنیزو سیخونو او ډېرو نټ و بولټونو سره، هډوکي سره وروستل، چې سره واېشي. اوس چې له هغې پېښې ۵ میاشتې تېرې دي، مات هډوکي یې سره اېشېدلي او کاترینا د ډاډ درملو ته نوره اړه نه ده.

## ۱۱۸ ورځې بې زړه ژوند



تر څو میاشتو انتظاره وروسته د «دزانا سیمونز» پام شو، چې د خپل لوی شوي، زړه سره یې دکوشېرولو/پیوندولو بل زړه پیدا شوی دی، ډېره خوشحاله شوه؛ خو دې خوشحالۍ یې ډېر وخت ونه نیو؛ ځکه چې دنوي زړه تر کوشېرولو وروسته له ستونزې سره مخ شوه. ډاکټران اړ شول، چې ورکوشېر زړه یې ترې راوباسي، خو د ورکوشېرولو لپاره یې بل زړه نه درلود. د نوي زړه تر راپیداکېدو پورې ډاکټرانو ته یوازنۍ چاره دا ورپاتې وه، چې په بدن کې یې دوه مصنوعي پمپونه کېږدي، چې د وینې رسولو چاره پر مخ بوزي. دزانا له دې پمپ سره ۴میاشتې ژوند وکړ او په پای کې یې د تېر کال د اکتوبر په ۲۹مه یو نوی زړه ورواچاوه او دا ځل یې نوی زړه د ساعت غوندې کار کاوه.

## یو ړوند په یوه غاښ بینا شو



۴۲کلن «مارټین جونز» ۱۰کاله وړاندې د پاړو په یوه کارخونه کې، د المونیمو د شیندلو له کبله د خپل سترګو لید له لاسه ورکړ. خو څو میاشتې مخکې د جراحۍ په عملیات سره یې د سترګو لید په رښتیا په ډېر عجیب ډول بېرته وموند. دی په دې پېښه کې ۳۷سلنه وسوځېده، کینړه سترګه یې راپاکه او ښۍ یې ړنده شوه. څانګوالو په پیل کې هڅه وکړه، د بنسټیزو سلولونو سره یې له ړوندوالي خلاص کړي؛ خو څرنګه چې دا چاره ګټوره نه وه، دوی نوې تګلاره غوره کړه. لومړی یې د مارټین یو غاښ وکیښ او بیا یې هغه ته چوکاټ ورکړ او ویې توږه، چې یو مصنوعي نسک/عدس پکې کېږدي. درې میاشتې وروسته ډاکټرانو د جونز

غاښ له غومبورو سره ونښلاوه، چې د وینو رګونه او ژوندی سکښت پکې کار وکړي. بیا یې ژوندی غاښ د سترګو کُرې ته ولېږدول او په دوو اونیو کې یې بېرته خپل لید وموند. ده خپله مېرمنه چې ۴کاله مخکې یې واده ورسره کړی، بیا ولیدای شوه.

## د دوو بچیانو له غوره کولو څخه ژغورېدل

ښاغلی و مېرمن«ګېمبل» چې د خپلو غبرګونو لوڼو کېدلو ته یې په بې‌صبرۍ شېبې شمېرلې،



له یوه ډېر ترخه او ستونزمن غوراوي سره مخ شول. ډاکټرانو ورته وویل، چې یوه لوریې بویه ومري، که نه دواړې به ونه شي.

دواړې غبرګونې پر سندروم/Twin-to-twin transfusion syndrome) TTTT ) اخته وې، هغه حالات چې د دواړو غبرګونو د وینو رګونه پکې ګډ دي، که ډاکټران لاس پکې ونه وهي، دواړې چې وشي، مري؛ خو که یوه یې د مور په رحم کې ومري، د بلې د ژوند پاتې کېدو چانس شته. له همدې کبله مېرمن او ښاغلی ګېمبل بویه په دواړو کې یوه غوره کړي. دوی دواړو پرېکړه کوله، چې یوه سوېډني ډاکټر دواړه له دې تراخه غوراوي څخه وژغورل. دوی د یوې طبي ډلې په مرسته غبرګوني د مور په رحم کې په لیزر عملیات کړل، چې هغه ګډ رګونه وسوځوي. دا عملیات بریالی و او دوه میاشتې وروسته دواړې نجونې ژوندۍ وشوې.

## تر سر غوڅولو وروسته ژوند

د یوه واړه ګاډي په چلولو کې د «جورډن ټایلور» کوپړۍ د ملا له تیره بېله شوه، چې په طبي نړۍ کې ورته «د سر اُرتوپیډیک غوڅېدل» وايي. په دې شېبو کې د ژوبل شوي د ژوند یو په سلو کې شونی و؛ خو د ټایلور د کورنۍ هیلو او د وګړو هغو دعاوو – چې د جورډن



پر دې کیسه خبر شوي وو او ده ته یې کولې – ژوندی پاتې شو.

تر پېښې

وروسته يې سمدواره جراحي عمليات وشو، چې د عمليات په بهير کې جراح په يوې اوسپنيزې دړې، څو نټ و بولټونو او څو پلاتيني سيخونو سره د ده کوپړۍ د ملا تير ته وروسته. جورډن درې مياشتې وروسته له روغتونه رخصت شو او اوس بېرته ښوونځي ته ځي راځي.

## د مخ کوشېرول

داوهايو اوسېدونکې ۴۶کلنه «کاني کالپ» په امريکا کې د مخ کوشېرولو لومړنۍ ناروغه ده. په ۲۰۰۴کال کې يې مېړه په يوه وسله ډز پرې وکړ، بيا يې پر يوه ګولۍ ځان هم وويشت. دواړه ژوندي پاتې شول. مېړه په ۷کاله بند محکوم شو او د مېرمنې يې جراحي عمليات پيل شو. ګولۍ يې پزه، غومبوري/اننګې/باړخوګان او شونډې پېخې سره يو سوک



شوې وې. په يوه جراحي عمليات کې يې هم وېروونکی مخ روغ نه شو. په پای کې په وروستي جراحي عمليات کې له ۸۰ سلنه راغونج شوی مخ سره د يوې نوې مړې ښځې د مخ برخې کوشېر کړې. دا په نړۍ کې د مخ کوشېرولو څلورم عمليات ګڼل کېده. که څه هم اوس يې تر اوسه ډېر عجيب دی، خو خبرې کولای، خندلای او بېرته ډوډۍ خوړلای شي.

## د يوې غڼې په نېښ سره ژغورنه



ډېويډ بلانکارټ، ۲۱کاله مخکې د ګاډي چلونې په يوه پېښه کې فلج شو، اړ وو، چې پر يوه څرخېدونکې شپاچه ګۍ واوسېږي. خو دوه کاله مخکې چې يوې غڼې وچيچه، په معجزه يي ډول بېرته د خپلو پښو شو.

## دې سړي ۷۰کاله نه اوبه څښلې او نه ډوډۍ خوړلې

د هندوستاند اردو پوهان پر هغه ۸۲کلن سړي څېړنې کوي، چې دعوه کوي، ۷۰کله کېږي، چې نه يې اوبه څښلې او نه يې خواړه خوړلي دي.

پراهلاد جاني، اوس د ګرجارات په احمدآباد کې په يوه روغتون کې ساتل کېږي او د هندوستان د فاعي څېړنو اداره يې کلک څار کوي.

دی ۶ورځې کېږي، چې په دې مرکزې کې در کلک څار لاندې ساتل کېږي او ډاکترانو ويلي دي، چې تر دې مودې وروسته پکې د تندې يا لوږې هېڅ نښه موندل شوې نه ده.

داسې دعوه شوې ده، چې دا سړی په اووه کلنۍ کې له خپله کوره ووت او د يوه هندي سپېڅلي انسان په توګه يې ژوند کړی دی. داسې انسانانو ته د "Breatharian" ګڼه کاروي، چې يوازې د روحاني ژوند پر ځواک د ډېر لګولو سره ژوند مخ ته بېولای شي.



دی باور لري، چې يوه الهه له يوه سوري څخه د ده د خولې پر تالو اکسير ورتويوي. دا دعوه يوه هندي ډاکټر چې د دې وګړو د ماوراءالطبيعي وړتياوو په اړه څېړنې کوي، تاييد شوې ده.

د هندوستان د دفاعي څېړنو د پراختيا اداري پوهانو، بې‌پيلوټه الوتکې، د لويو وچو بالسټيکي توغوندي او د بمونو نوي ډولونه جوړوي. دوی باور لري، چې ښاغلی پراهلاد دوی ته ورزده کولای شي، چې په بحراني حالاتو کې څرنګه د اوږدې مودې لپاره بې خوړو او اوبو ژوند وکړي.

ډاکټر ايلاڅاګان د اروپوهنې او د دفاعي بنسټ اړوندو علومو مدېر په دې اړه وويل: که دا دعوه تاييد شوه، په طبي نړۍ کې به يوه نوې موندنه وي.

د هغو په مرسته د طبعي آفتونو پر مهال د انسانانو ژوند ژغورلای شو. موږ انسانانو ته داسې چلونه وربښودلای شو، چې په سختو او ستونزمنو حالاتو کې بې خوړو او اوبو ژوند وکړي او وژغورل شي.

تر اوسه او تر شپږو وروسته ښاغلی پراهلاد په ښه ډول خپل ژوند پر مخ بېولای دی. جالبه خو دا ده، چې له بدنه يې هېڅ نه دي وتلي. دی بېخي رګ او روغ دی او د بېسدۍ او ګنګستوب هېڅ نښه پکې نه ليدل کېږي.

ډاکټرانو پتېيلې ده، چې تر ۱۵ورځو خپل څار همداسې وساتي،چې په دې موده کې بايد د غوښو بايللو، د اوبو کمښت، د وزن لږېدل او د مهمو غړو له کاره لوېدل پکې راڅرګند شي.

هو، په هندوستان کې داسې وګړي شته، چې اوږده موده او تر ۸ورځو پورې له اوبو او خوړو څخه نوه وي، خپلې مذهبي چارې سرته رسوي. ډېری انسانان له خوړو پرته تر ۵۰ورځو ژوندي پاتې کېدای نه شي. په نړۍ کې د لوږې تر ټولو لوړ ریکارډ ۷۴ورځې دی.

## د انسان د زړه هېښوونکی انځور

د روغ زړه انجیوګرافي په بې ساري دقت سره د یوه زړه د رګونو انځور کښلی دی. د



انسان د زړه په دې انجیوګرافي انځور کې، د وینې رګونه له خورا زیاتو ممکنو جزیاتو سره انځور کړي دي. د دې انجیوګرام یا اکسرې رګ کښنې لپاره، ډاکټران لومړی ناروغ ته د کدو رنګینې او بېلې اوبه ورپیچکاري کوي. دا رنګینه ماده، د اکس وړانګې (اکسرې) د وتلو مخ نیسي او په بیانو د زړه د وینو رګونو دقیق انځور لاسته راځي، په تېره د زړه ستر ښې او کین سره اکلیلي رګونه.



نري رګونه د زړه د اکلیلي شریانونو د بندښت ناروغي راښیي، د هر یوه اکلیلي شریان بندښت د زړه حملې لامل ګرځي. ډاکټران د اکسرې د دې انځورونو په مرسته د ښې درملنې کولای شي.

## د نړۍ تر ټولو زوړ ژوندی ژوندي‌سری

یوه امریکایي ژوند پوه د لرغوني بلوط یوه ونه موندله، چې د ۱۳زره کلونو عمر په لرلو سره د نړۍ تر ټولو زوړ ژوندي‌سری ګڼل کېږي.

دا ونه چې د کنګل د زمانې په پای کې ۱۳زره کاله موده، چې د کالیفورنیا پر یوه غونډۍ اوسېدلې او هغه طبیعي بلاوې او د اوبو او هوا پېښې پرې له یوه مخه تېرې شوي وي، اوس د نړۍ تر ټولو لرغونې ژوندۍ ونه ګڼل شوې ده.

دا ونه چې «جوروپا» نومېږي، د غرنیو بلوطو یو ډول دی. په کالیفورنیا کې د دویس پوهنتون څېړونکو دا ونه موندلې ده.

تر دې مخکې د نړۍ تر ټولې لرغونې ونې ریکارډ یوې سرې صنوبر ګڼل و، چې د سویډین په لوېدیځ کې په ۸زره کاله لرغونتوب سره ژوند کوي. دا ونه د اومیا پوهنتون «لیف کولمن» د ۲۰۰۸په اپرېل کې موندله.

د نړۍ په نورو لرغونو ژوندۍ ونو کې، په لاس وګاى کې ۵زره کلنه لرغونې ونه یادولای شو. همدارنګه په ایران کې د سروې یوه ونه ۴زره کاله عمر لري. بله ورته ونه چې ۳زره او ۶۰۰کاله عمر لري په چیل کې ده، بله ۳ زره کلنه ونه په ایټالیا کې ده، چې د ځمکې پر سر د نړۍ په تر ټولو لرغونو ژوندیو ژوندي سرو کې یې دا مقامونه ګټلي دي.

د دې ونې د موندونکي په وینا، «جوروپا» په یوه وچه سیمه کې ۱۳زره کاله وړاندې وده پیل کړه او تر اوسه لا ژوندۍ ده. هو دا ګیا په تکثیر او له ځانه کاپي ایستلو سره دومره اوږد ژوند کړی دی.

«مېچ پروانس» د کالیفورنیا پوهنتون کې، کابو لس کاله مخکې د جوروپا سیمې په غرونو کې دا ګیا وموندله. څرنګه چې د دا وړ ګیا د اوسېدلو د طبیعي اوبو او هوا ډول د جوروپا د غرونو له اوبو او هوا سره نه ده جوړه؛ نو ځکه خو دا څېړونکی کنجکاوه شو، چې په اړه یې څېړنه وکړي.

په دې توګه دې پوهنتون د DNA د آزمېښت له مخې د دې بلوط دننه یو خاپ وموند،چې دا ګیاه د یو ډېرې لرغونې ونې کاپي ده.

د لاس انجلېس ټایمز د رپوټ له مخې، دا کاشف له خپلو نورو همکارانو سره بریالی شو، د دې خاپ پر تاوېدو بریالي شي او ومومي، چې په دې خال کې ۴۰ تر ۵۰ واره یوه نوې ګیاه راجوړېږي او په دې توګه بریالې شوې، چې له ځانه د کاپي اخیستلو له لارې ۱۳زره کاله ژوند وکړي.

که څه هم ځینې څېړونکي باور لري، چې د دې ګیا د کره لرغونتوب د ټاکلو لپاره، د کاپیانو د عمر د شمېرنې د کړنلارې پر ځای باید د راډیو کاربوني کړنلارې په مرسته تر ټولو لرغونې ریښې یا ځانګې څخه د دې بلوط د عمر اټکلولو لپاره کار واخیستل شي.

## قهوه

× هغه وګړي، چې ډېره قهوه څښي، پر الزایمېر د اخته کېدو شونتیا یې لږ ده.

× څېړنو ښودلې ده، چې پر قهوه ځان روږدي کول، د اوږده عمر په هیر کې د زړه له ناروغیو څخه د مړینې شونتیا راټیټوي.

× پوهان باور لري، چې په قهوه کې د پرتو ترکیبونو له کبله، د زړه ناروغیو او بې خوبۍ د درملو په تولید کې کاراخیستل کېدای شي.

× په قهوه کې تر ۱۰۰۰زیات ترکیبونه پېژندل شوي دي، چې په هغو کې یې ۱۹ترکیبه د چنګاښ/سرطان له منځه وړلو ځانګړتیا لري.

× یو شمېر څېړنو ښودلې ده، چې د قهوې زیات څښل د وینې کلسټرول زیاتوي.

## د قهوې واقعیتونه



× د قهوې څښل په هغونرانو کې، چې تر ۴۰کالو زیات عمر ولري، د نقرس ناروغۍ خطر راټیټوي.

× قهوه څښل په ۲ ډول شکر/ډیابېټ د اخته کېدو شونتیا راکموي.

× په ډنمارک کې یوه څېړنه ښیي، چې په ورځ کې ۸وړې پیالې قهوه څښل، په امېدوارو ښځو کې د سقط شونتیا ډېروي.

× قهوه د ینې او سیروز پر سرطان د اخته کېدو مخه نیسي.

× قهوه د کافیینو په لرلو سره، د درد ضد درملو اغېزمنتوب زیاتوي.

× قهوه زړه ته د وینو رسول راټیټوي.

× قهوه په ډېر شدت سره د غاښونو رنګ اړوي.

× قهوه د حافظې ځواک - په تېره د بوډاتوب پر مهال - لاتقویه کوي.

## چای

× څېړنو ښودلې ده، چې شین چای د مرۍ پر سرطان د اخته کېدو خطر ۶۰سلنه راټيټوي.

× شین چای د چاغېدو مخه نیسي؛ ځکه چې د وازدو د نويو سلولونو د ودې مخ نیسي.

× په سپین چای کې زياته کچه انټي اکسیدان شته او شین چای له ناروغيو څخه د بدن په ساتلو کې ګټه رسوي.

× په چای کې پراته انټي اکسېډنونه د زړتوب ضد ځانګړتیا لري او د زړه، سرطان او میکروبي ناروغيو د رامنځته کېدو شونتیا کموي

× شین چای د ترموجنیک والي له کبله، د وازدو سکښت راټیټوي، دا موضوع د کافییني د ترکیبونو لرل ده.

× د سره چای څښل، د مرۍ پر سرطان د اخته کېدو خطر زښته ډېر زیاتوي.

## د چای واقعیتونه



× چای فلویور لري، چې د غاښونو په ساتنه کې مرسته کوي.

× په ورځ کې ۳تر۴و پیالو چای څښل، د زړه د حملې راپیدا کېدل په شدت سره کموي.

× چای د ۱ډول شکر/دیابېټ مخه نیسي او چټکتیا یې پڅوي.

× څوک چې په ورځ کې ۴ځله او هغه هم د ۶اونیو لپاره تور چای څښي، د کورتېزول هورمون کچه یې ښېخې ټیټه وي.

× نرۍ چای د بدن اوبه زیاتوي، دا د هغه عام تصور پر خلاف خبره ده،چې بارو لري کافیین به یې د اوبو د کمښت لامل شي.

× چای د زړه ناروغیو او ځینو سرطانونو د بېرته راګرځېدو مخه نیولای شي.

× هغه سړي چې هره ورځ تر ۱۰و پیالو زیات شین چای څښي، د ينې په ګډوډيو/اختلالونو لږ اخته کېږي.

× که د چای پر سر یې ارګانیک لیکلي نه وي، بیا نو ښايي آفت وژونکی وي.

×با توجه به نتايج مطالعه ها، چای سبز نقش حفاظتی در برابر سرطان ريه دارد.

× په چای کې شیدې واچول شي، د سرطان ضد ځانګړنه به یې له منځه يوسي.

× په چای کې یو څه کافیین شته، چې انسان نارامه او د وینې فشار یې لوړوي.

# په قرآن کریم کې کېمیا

## اوسپنه:

د حدید سورت په ۲۵آیت کې راغلي دي: اوسپنه (او نور فلزات) مو پیدا کړه، چې (د جګړې او کارکولو لپاره) کلکه ده، او هم د وګړو ډېرې ګټې پکې دي.

نن پوهېږو، چې اوسپنه او الیاژونه یې او نور فلزات د انسان په ژوندانه کې اهمیت لري.

## د سیندونو اوبه:

د قرآن په ډېرو آیتونو کې الله(ج) د سیند او اوبو ارزښت بیانوي. (او دی هغه خدای دی، چې سیند یې درته اېل/تابع کړ.)(نحل:۱۴آیت) سیندونه له مدني توکو او ګیاوو څخه ډک دي، چې په اوبو کې یې د خوړو بنسټ زېرمه او بنسټ جوړ کړی دی، چې د انسانانو په ژوند کې ډېر اهمیت لري. د الرحمن سورت ۱۹آیت دوو سیندونو ته اشاره کوي، چې له یوه او بل سره جوخت روان دي؛ سره له دې چې له یوه او بل سره نښتي دي، تر منځ یې داسې پرده ده، چې پر یوه او بل تېری ونه کړي. ولې؟

## د سیندو د اوبو برخلیک:

قرآن‌کریم د تکویر سورت په ۶آیت کې د سیندونو د بلېدلو/رڼاکېدلو او د انفطار په ۳آیت کې د قیامت پر ورځ د سیندو د سره نښلېدلو خبره کوي، چې ډېر د حیرانتیا ځای دی. لېرې نه ده، د قیامت په ورځ دا له دوو توکو اُکسیجن او هایدروجن څخه راجوړو د سیندونو اوبو، دومره زور راشي، چې سره وشنل شي او د یوې شغلې له کبله ټولې پر یوه ټوټه اور واوړي

## ټکه/تندر:

په قرآن کې د رعد سورت ۱۲آیت او د روم په ۲۴ آیت کې، تالنده هم د هیلمنتوب او هم وېرې لامل بولي. نن علمي موندلو جوته کړې ده، چې تالنده ډېرې ګټې او برکتونه لري، په هغو کې:

۱- اوبه لګول او له برېښنا څخه معمولاً فوق العاده زیاته تودوخه تولیدېږي، چې د شااوخوا زیاته هوا سوځوي او په پاي کې یې فشارونه کمېږي، پر وربځو بدلېږي.

۲- د برېښنا پر مهال د باران څاڅکي له زیات اکسیجن سره یوځای کېږي، چې له کبله یې مېکروبونه مري او له همدې امله،چې هر کال تالنده لږ وي، د ګیاوو آفتونه زیاتېږي.

۳- د برېښنا او شدیدې تودوخې له کبله د باران څاڅکي یو اسیدي/تېزابي حالت نیسي او چې پر ځمکه وشیندل شي، یو ډول ګټوره سره/کوډ جوړېږي او ګیاوو ته خواړه ورکوي.

د الحدید سورت په ۲آیت کې راغلي دي، چې: له الملك السماوات ..........اوسپنه هغه توکی دی، چې په آسانی له ځمکې راوځي او هوسا بېرته ګرځېدای شي او بېرته د پخوا په

څېر د اوسپنې په کان کې د سوررنګه اوسپنې پر اوکساید اوښتلای شي، چې زما په اند دا آیت دې موضوع ته نغوته کولای شي:

د همدې سورت په ۲۵آیت کې چې فرمايي:

لومړی د عادلو پیغمبرانو رالېږلو ته اشاره کوي او بیا د اوسپنې پر ځانګړنتیاوو،چې ډېرې ګټې لري او د عدالت ساتنې لپاره جوړه شوې ده، خبر کوي.

د کېمیا له مخې اوسپنه د نارینه اټومي عدد لرونکې ده او د هغو عناصرو په پرتله چې د فرد اټومي عدد ولري، زيات نسبي پايښت لري او د هغو په پرتله يې نسبي زياتوالی زيات دی. د عناصرو دېرښت د هغو په پايښت پورې اړه لري. دا پايښت د اتصال د انرژۍ پر بنسټ ښودل کېږي. د اتم د هستې جوړښت پر مهال، د هغو له برخو څخه یوه اندازه پر ماده بدلېږي، چې دا انرژي د لاندې اړيکې پر بنسټ ښودل کېږي:

E =(m)C د اوسپنې د اتصال انرژي، د هستې د جوړونکو ټوټو له اختلافه او د پروتون ۲۶ نیوترون ۳۰ جوړونکو ټوټو څخه لاسته راغلې ده.

## په قرآن کې کېمیاوي رنګونه:

د خلقت له هماغه پیل د انسان ژوند، تر دوو مهمو عاملونو شپې او ورځې تر اغېزې لاندې دی.

انسان چې د شپې نښه (تياره) ويني، خپل کور ته ځي، چې سهار او رڼا راپورته شي، د کار او زيار په لوري ځي. الله(ج) دا دوه پاس عاملونه ستر نعمتونه ګڼي او د نورو نعمتونو تر څنګ فرمايي: «و جعلنا الليل لباسا و جعلنا النهار معاشا» يانې (شپه مو در ته ويوښله او ورځ مو د مزدورۍ لپاره درته جوړه کړه.) د انسان دا فطري چاره راښيي، چې انسان په لاشعوري توګه له رنګونو اغېزمنېږي. چې پر اسمان تته نیلي پرده خوره شي، نو په ده کې د خوب او آرامۍ احساس رامنځته کېږي. چې لمر څرک ووهي او رڼا راپورته شي، ژېر رنګه رڼا انسان ته د روزۍ موندلو او کار کولو ځواک ورکوي. له دې مخې د رنګونو د پېژندنې او هغو ته د اړتيا مخينه په فطري ډول د انسان په خټه کې وه. له دې مخې الله (ج) رنګ د موجوداتو – که مړه دي که ژوندي – تر منځ د رنګونو ګډه ځانګړنه ښودلې ده او فرمايي: «ودې نه ليدل چې الله(ج) له باران له آسمانه راټيټ کړ او پر هغو يې د مېوو بېلابېل او رنګارنګ ډولونه راپورته کړل او په ځمکه کې غرونه او ګڼې لارې، ډلې او بېلابېل سپين، سره، تور رنګونه راپيدا کړل، د انسانانو په ډلو )نر او ښځه( کې او د ژويو په جنسونو کې يې هم همداسې بېلابېل پيدا کړل.»

## د سره رنګ ځانګړنې

په قرآن کريم کې په ټولو رنګونو کې شين رنګ د جنتيانو د جامو رنګ شين ګڼلی دی: "ويلبسون شبابا خضرامن سندس و استبرق" «او د زرغونو/شنو وربښمو او رنګينو وربښمو جامې واغوندي.

که اوبه د ژوند تومنه ده، زرغون رنګ د ښېرازۍ، تازه‌توب او ژوند نښه ده؛ ځکه چې طبیعت په دې رنګ سره د ژوند جامې اغوندي، الله (ج) دا هېښتیا ډېره ښکلې کښلې/ترسیم کړې ده او فرمایي:

شین رنګ د ګیاوو او طبیعت رنګ دی او الله (ج) هغوی د خوښۍ او ښېرازۍ څرګندوي ګڼي: "فانبتنا به حدائق ذات بهجه" یانې (نو پر اوبو مو ښېرازه او خوشحالوونکي باغونه رازرغون کړل.) په تعریف کې یې بهجت راوړی، چې «البهجه حسن اللون و ظهور السروفیه» یانې (بهجت تر ټولو غوره رنګ دی او په هغو کې ښېرازي او تازه‌توب راڅرګند دی.» مامام صادق(رح) د زرغون رنګ د ځانګړتیاوو په اړه فرمایي:«درې شیان غم او غوسه له منځه وړي:۱-اوبه، ۲-زرغون رنګ، ۳- موسکا.»

## د قرآن کریم د آیتونو او روایاتو له مخې د سره رنګ ځانګړتیاوې

په قرآن‌کریم کې الله(ج) سور رنګ، په کږو-وږو غرنیو واټونو کې د غرونو رنګ ګڼلی دی او فرمایي: ځینې غرونه  په بېلابېلو رنګونو سرو او سپینو لیکو سره مو پیدا کړي دي. په پاس ایت کې په لړ غور سره، په ځمکپوهنه کې د سره رنګ ځای‌ځایګی را معلومېږي؛ ځکه سره غرونه د اورغورځونې ستړې سرچینې دي او تل د اېشي او یاغي وي. د دې غرونو اصلي نښه د دوی تودوخه او فعالتوب دی. ځکه خو د جغرافیایي بدلونو له امله په اورغورځونه پیل کوي. د الرحمن سورت په ۳۷ آیت کې هم د قیامت په ورځ د آسمان د مخ سوروالی له دې رنګ سره ورته ګڼل شوی دی. هغه داسې وایي: «نو چې آسمان چوله شي/وچوي، د تکه سره رنګ  غوندې شي.»

د قرآن‌کریم د آیتونو او روایتو له مخې ژیړ رنګ

"آیه یقول بقره صفر» فاقع لونها تسترالناظرین" په دې آیت کې "صفرا»"د «فاقع» په صفت سره راغلې ده. په دې ګونځه کې د سره رنګ په اړه مهمه خبره راغلې ده؛ ځکه چې د فاقع لغوي معنی یو لاس پوخ او سوچه ژیړ دی. چې معنی ته یې ځیر شو، داسې ترې راوځي، چې ژیړ رنګ له دې ځانګړتیاوو سره د اوښ د وړیو/وېښتانو  له رنګ سره ډېر ورته والی لري؛ ځکه چې تر ډېره د ژیړو اوښانو وړۍ یو ډول پوخ رنګ لري. الله (ج) په قرآن‌کریم کې په دې اړه فرمایي:

"انما ترمی بشرر کالصفر کانه جمالت صفیر" یانې: بېشکه هغه (دوزخ) د سپرغیو اوربخ د ماڼۍ غوندې راغورځوي، ته وا ژیړ رنګه اوښان دي.

په پاس آیت کې «جماله»د «جمل» ډېرګړی/جمع ده او «صفر» د «صفرا» د ژیړ رنګ معنی لري. په آیت کې د ژیړ رنګ د ورته‌والي وجه د اور لمبه او چټکتیا ده، چې د دا وړ حالت پایله زیاته تودوخه ده. یانې د دوزخ لمبې د ژیړو اوښانو غوندې دي، چې د زیاتې چټکۍ او تېزۍ له کبله په یوه او بله پورې نښلي. بر همدې بنسټ تودوخه زیږول د ژیړ رنګ ځانګړتیا ده. دې آیت «انه یقول بقره صفرا» فاقع لونها تسر الناظرین» ته په پام د ژیړ رنګ دویمه ځانګړنه د هغو چټکتیا ده. هماغسې مو چې د «فاقع» په مانا کې وویل، په پاس آیت کې دغه ژیړ رنګ، چې ؤ«یو لاس، سوچه او ډک-پوخ رنګ» یې ځانګړتیا ده. د «تسرالناظرین» مطلب واله آیت، دې خبرې ته ښکاره نغوته کړې ده. امام صادق (رح) فرمایي:«چې څوک

ژېړ رنګ واغوندي، تر هغه چې اغوستي يې وي، خوشحاله به وي.» او همدارنګه له علي (رض) څخه روايت شوی دی: «څوک چې ژېړ پايزار پر پښو کړي، زړه تنګي او غوسه به يې کښېږني.»

## په قرآن کې د لنګر څرخ خبره:

د نحل سورت ۱۵آيت:

**وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (١٥)**

پر ځمکه کې يې غرونه ودرول، چې د هغو له رېږدېدو او نامنظم حرکت مخه ونيسي او (د غرونو تر منځ يې) ويالې او لارې جوړې کړې، ښايي چې لاره در وښودل شي. (نحل:۱۵)

د انبياء سورت ۳۰آيت

**أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ (انبياء:۳۰)**

په ځمکه کې مو لنګرونه واچول، چې تاسې ونه لړزوي او په هغو کې مو درې او لارې وکړې، ښايي چې دوی پر لاره سم شي.(انبياء: ۳۰آيت)

د لُقمان سورت ۱۰آيت:

**خَلَقَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ (لُقمان:۱۰)**

آسمانونه يې بې ستنو پيدا کړل، چې تاسو يې ليدلای شئ، غرونه يې پر ځمکه يې د غرونو لنګرونه واچول، چې تاسو يې ورېږدولاست او راز-راز ژوي ژونديسري يې پکې خواره کړل او له آسمانونو مو اوبه راواورولې او په هغو کې مو هر راز ښه بوټي او واښه رازرغون کړل.(لقمان: ۱۰ايت)

په ټولو وسايلو کې چې سره ورته دوراني حرکت لري، د طيار څرخ يا لنګر څرخ په نامه دروند څرخ، چې د دستګاه له حَجم سره يې ښه او دروندوالی متناسب دی، د حرکت پر محور لګول شوې، چې د ماشين چټکتيا منظمه کړي. پوهېږو، د دې لپاره چې خوځنده او ولاړ کارونه سره برابر وي، خوځنده کار چې تر ولاړ کاره زيات وي، طيارڅرخ هغه اضافي کار د خوځندې انرژۍ په توګه په ځان کې زېرمه کوي او چې ولاړ کار تر خوځنده ډېر شي، دا زېرمه شوې انرژي بېرته ورکوي او داسې د ماشين چټکتيا د شديدو بدلونونو د پېښېدو مخه نيسي. غرونه د ځمکې د فشارونو (بادونو او سيليو) د خوځېدنو پر وړاندې، د لنګرڅرخ مانا لري، چې د چټکتيا د بدلون مخه نيسي. وېروونکې سيلۍ کله د ځمکې په مخالفو او کله بيا موافقو لوريو ته لګېږي او د هغو پر خوځښت اغېز وښندي. د سيلۍ فشار

چې کښېښناست، پر یوه شتاب اوړي، چې د ځمکې پرمخ ټولو ژوندي سرو سخت ګوزار کوي او ټول شیان په یوه او بل کې روولي. خو د غرونو شتون، چې د لنګرڅرخ مقام لري، د ټول مثبت او منفي فشارونه په ځان کې زېرمه کوي او د ګوزارونو د ننوتو مخ نیسي او د ځمکې متوازن خوځښت ساتي او د قرآن په تعبیر سره د رېږدونو/لړزو (او د آرامی له منځه وړلو) مخه نیسي.

## د غرونو د پیدایښت ترتیب

د نحل سورت ۱۵ایت

«وَأَلقَىٰ فِي الأَرضِ رَوَاسِيَ»

پر ځمکه یې غښتلي او ثابت غرونه ښخ کړل.

د نمل سورت ۶۱ایت:

«أَمَّن جَعَلَ الأَرضَ قَرَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ»

ایا هغه چا چې ځمکه ارامه کړه او پر هغو یې ثابت او درانه غرونه ولګول.

دا او دې ته ورته ماناوي/تعبیرون، چې په قرآن کریم کې بیا-بیا راغلې دي، په ډاګه راته وایي، چې غرونه تر ځمکې وروسته پیدا شوي دي. نننی پوهنې هم دا خبره ډېره رڼه ثابته کړې ده، چې ډېر غرونه د ځمکې د ګونځو په پایله کې، ځینې یې د اورغورځوونکو ویلې توکو او نور یې داسې راپیدا شول، چې بارانونو او نېزونو د کلکو توکو له ځنګونو خوړین او پاسته توکي راومینځل او هو، دا هر څه د ځمکې تر پیدایښت وروسته وشول.



د نباء سورت۷-٦آیتونه:

«أَلَم نَجعَلِ الأَرضَ مِهَادًا (٦) وَالجِبَالَ أَوتَادًا (۷)

«ایا ځمکه مو زانګو نه کړه؟ او غرونه مو (د ځمکې ساتلو لپاره) لکه مېخونه.

## د غرونو ګټې

لومړی خو غرونه په رښتیا د فولادو د زَرې مانا لري، چې چارچاپېره یې ځمکه نیولې ده. د ځمکې هغو اړیکو او نښلوونو ته په پام، چې ځمکې په ژورو کې دي، یو ځواکمنه سرتاسري شبکه جوړه کړې ده. که داسې نه وای، د ځمکې مخ به پستو خاورو نیولی وای او د سپوږمۍ د ورښکون ځواک به ډېره هوسا اغېزمنه کړې وای، د سیندونو د څپو غونډې به د وچې څپو هر څخه رېږدولي وای، شپه او ورځ به د ځمکې مخ، رېږد، خوځېدنې او لړزې اخیستی و، هره وداني به یې نړولای شوی. د دې کلکې زرې شتون دا څپڅپاندي بېځي په نشت کړه، همداوس د سیندونو پر خلاف، چې کله-کله یې څپڅپاندي څو متره پورته او ټیټوي؛ د ځمکې پوټکی هره شپه او ورځ دېرش سانتي متره پورته او ښکته ځي.

دویمه دا، چې نن جوته شوې ده، غرونه پر ځپلو غښتلو منګولو سره د ځمکې ګردچاپېره هوا له ځانه سره تاووي. اوس یې داسې وګڼه، که د ځمکې کُره پر همدې اوسنۍ چټکتیا سره هر دقیقه د ځان چاپېره دېرش کیلومتره راچورلي، خوځېدله او د غرونو په نشت کې یې د شااوخوا هوا داسې نه چلېدلی، د ځمکې له مخ سره د هوا د مالیکولونو په لګېدو سره به تل، سختې سیلۍ او دوړې جوړې وای. دومره تودوخه به تولید وای، چې هر څه یې سوځول، د جېټ چورلکو غونډې، چې اړې دي، د هوا په لوړو پوړونو کې، چې هوا رقیقه ده، حرکت وکړي، چې له هوا سره یې لګېدل، د تودوخې سرچینه نه شي او وزرونه یې سره نه شي.

درېیم د غرونو تر منځ اړیکې، د باران اورېد او د ځمکو خړوبېدل دي. په غرونو کې د اوبو براس راټولېږي، یانې وریځې سره ګنېږي، د ځېرمه/ځنګ هوا پوړ سړوي او د واورې او کنګل غونډې ډېرې اسماني اورونې په ځان کې خوندي کوي، د ځمکې بر مخ د اوبو د بهېدو همېشنۍ سرچینه او د اسماني اورېدنو د نه ضایع کېدو لامل ګرځي.

څلورمه خبره په غرونو کې د کانونو، اورنیو پرښو او ډېرو شتون دی، چې په غرونو کې د اوسپنې، مسو، سروزرو او نورو... کانونو شتون راښيي. د فاطر سورت په ۲۷آیت کې یې په اړه فرمايي:

«أَلَم تَرَ أَنَّ اللَّـهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخرَجنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّختَلِفًا أَلوَانُهَا ۚ وَمِنَ الجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمرٌ مُّختَلِفٌ أَلوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ (۲۷)

«نه وینې، چې الله (ج) له آسمانه اوبه راواورولې او (د هغو پر مټ مو) د راز-راز رنګونو



لرونکې مېوې رازرغونې کړې. له ځینو غرونو مو لارې، سپین او په بېلابېلو رنګونو رنګه او تور پاخه رنګ (لیکې/رګونه) پیدا کړل.»

# د انسان د بدن ۱۵هېښوونکي رازونه!

## د ژبې نښه

پر ژبه کښلې لیکې او شکلونه، کټ-مټ د ګوتو د نښو غوندې کار کوي. یانې د هر انسان د ژبې لیکې له بله بېخي بېلې دي. له دې مخې د ژبې له نښو څخه د هویت د پېژندګلوۍ د یوه عامل په توګه کار اخیستل کېدای شي.

## پوټکی

انسان هم د نورو تي لرونکو غوندې هره شېبه خپل پوټکی اچوي. د څېړنو له مخې انسان په هر ساعت کې د خپل پوټکي ۶۰۰زره ذرې په فضا کې خوشې کوي. دا کچه په هر کال کې د پوټکي ۷۰۰ګرامه کېږي. په منځني ډول انسان په ۷۰کلنۍ کې کابو ۵۰کیلوګرامه پوټکی اچوي.

## د هډوکو شمېر

که یوه شئ، جالبه ده، چې ماشوم تر غټ سړي زیات هډوکي لري. موږ له ۳۵۰هډوکو سره ژوند پیلوو؛ خو د ودې په اوږدو دوره کې، تر بلوغه، له یوه او بل سره د هډوکو نښلېدل یې بیا شمېر ۲۰۶و هډوکو ته راټیټېږي.

## دمعدې بدلونونه

په هرو څلورو ورځو کې یو ځل په معده کې بدلونونه راځي. هغه قوي تېزاب، چې معده په هضم کې کار ترې اخلي، پر خپله پر ځان هم اغېزې ښندي. هو معده د خپل بشپړ هضم د مخنیوي لپاره یو جلا مېکانېزم لري.

## د بویونې حِس

زموږ د بویونې حس د د سپیانو د بویونې حس غوندې نه دی؛ موږ یوازې ۵۰زره وږمې/بویونه له ځانه سره په حافظه کې خوندي کولای شو.

## د نریو کولمو اوږدوالی

د نریو کولمو اوږدوالی، د انسان تر منځنۍ ونې ۴ځله لوړ دی؛ که نرۍ کولمې په خپلې دې اوسنۍ بڼه نه وای، له ۵ تر ۷ مترو به اوږدې وای.

## باکټریاوې

د انسان د بدن پر هر اینچ مربع پوستکي نږدې ۳۲میلیونه باکټریاوې ژوند کوي، چې ډېرې یې بې ضرره دي.

## د پښو بوی

د پښو بوی سرچینه د خولو غدې دي. په یوه جوړه پښو کې د خولو ۵۰۰زره تولیدوونکې غدې فعالیت کوي، چې په ورځ کې نیم لېټر خولې ایستلای/تولیدولای شي.

## د پرنجي چټکتیا

هغه هوا چې د پرنجي پر مهال له خولې راوځي، چټکتیا یې په ساعت کې تر ۱۶۰کیلومټرو اوړي. پرنجېدل پر بدن خورا ډېر فشار راوړي. ناشونې ده، چې د پرنجي پر مهال مو سترګې پټې نه کړئ.



## د وینې لار

وینه مو هره شېبه په بدن کې ډېر مزل وهي. نږدې ۱۰۰زره کیلومټره لاره مو په بدن کې شته، چې وینه یې وهي. زړه د بدن تر ټولو مهم او زیات بوخت غړی دی، چې هره ورځ په دې لارو کې ۲زره ګیلنه(۷۵۰۰لېټره) وینه په دې لارو کې پمپ کوي.

## د لاړو کچه

په خپلو لاړو کې مو لامبو ته زړه نه کېږي؛ خو دا بیا ډېره په زړه پورې ده، که پوه شئ، چې هر سړی په منځنۍ کچه په ټول عمر کې نږدې ۲۴زره لېټره لاړې/زیَړې تولیدوي. دا کچه د لامبو دوه ډنډونه ښه په مزه ډکولای شي.

## د خرهاري غبز

نران به تر ۶۰کلنۍ وروسته ۶۰په سلو او ښځې ۴۰ په سلو کې خر و پف پیل کړي. د خر و پف غږ ښايي تر کښوونکي بريده هم مخته ولاړ شي. عموماً د خر و پف غږ ۶۰ډيسيبله دی، يانې معمولي خبرې په زوره كول؛ خو دا غږ تر ۸۰ ډیسیبلو هم رسېدای شي. ۸۰ډېسېبله یانې یو ډرېل باډي غږ، چې پر بتن وراوړي. تر ۸۵ډېسېبله لوړ غږ د انسانانو غوږونو ته ډېر زيان رسوي او ښايي د کښوالي لامل شي.

## د وېښتانو رنګ او ګڼوالی

آيا پوهېدئ، چې د وېښتانو ګڼوالی يې د رنګ له مخې اټکلولای شو؟ په منځني ډول د هر انسان پر سر ۱۰۰زره د وېښتانو زړي/پياز شته. په دې کې د وېښتانو هر پیاز د انسان په ټول عمر کې ۲۰تاره وښتان توليدولای شي. د چا وېښتان چې بور-طلايي وي، تر نورو رنګونو يې د وېښتانو له پيازو زياته ګټه اخلي، په پای کې به دا وګړي ډېر ګڼ وېښتان ولري. د بورو-طلايي وېښتانو لپاره د پیاز منځنی شمېر ۱۴۶زره، تورو ته ۱۱۰زره، قهوه یي ته ۱۰۰زره او په وروستي پړاو کې سره وېښتان ۸۶زره دي.

## د نوکونو غځېدل

که مو د لاسونو نوکان، د پښو تر نوکانو ډېر ژر وده کوي، ښايي بېخي طبيعي وي. هغه وېښتان چې ډېر کار نه ترې اخیستل کېږي، ژر وده کوي. د لوړو ګوتو او هغه لاس، چې لیکل پرې کوو، نوکان ډېره وده کوي. په منځني ډول هره میاشت نوکان ۱۰انچه غځېږي.

## خوب ته اړتیا

ښايي کله-کله ووايي، چې له خوبه مرم؛ خو د خبرې مانا ته مو پام نه دی. تاسو چې خواړه ونه خورئ، څو اونۍ ژوندي پاتېږئ؛ خو که ۱۱ورځې ويده نه شئ، د تل لپاره به ويده شئ.

# د مغزي سکتې د خبرداري پينځه نښې

سکته په رښتيا يو ډول مغزي حمله ده، چې مغزي سلولونه وژني. که څه هم په نرانو او ښځو کې د سکتې اصلي نښې يو شان دي؛ خو په ښځو کې په هره يوه کې بېلې بېلې راپيدا کېږي، چې د دوی په جنسيت پورې اړه لري.

سپکه او سخته سکته دواړې ورته نښې لري. نږدې ۹۰ په سلو کې ټولې معزي سکتې ايسکميک سکتې نومېږي. دا سکتې د سرو وينه رګونو د بندېدلو پايله ده، چې د وينې غوټه کېدل، مغز ته د وينې رسېدو د بهير مخه نيسي. په دې وضعيت کې مغز د اکسېجن او خوړو له کمښت سره مخ شي او په پای کې مغزي سلولونه له منځه ځي.

د مغزي سکتو يوازې ۱۰په سلو کې، د وينې بهېدو سکتې دي. دا ډول سکتې هغه شېبې کېږي،چې په مغز کې د وينې يو نری رګ سوری او يا څيرېږي. د مغز پر سکښت د سکتې ويجاړوونکی اغېز، د زړه پر سکښت د زړه د حملې د زيان هومره کېدای شي.

د مغزي سکتې نښې په ناڅاپي ډول راپورته کېږي؛ ځکه خو له دې پينځو نښو څخه د هرې يوې د پيل وخت ته پام په ښځو او نرانو کې مهمې دي. دا نښې دا دي:

د کرختۍ يا بېسدۍ احساسول، چې معمولاً يوازې د مخ، يا بدن په يوه اړخ، يوه لاس يا پښه او ډېر ناڅاپي راپورته کېږي.

ګنګسيت، چې خبرې يو ناڅاپه ګړبړې شي، سخته وي، چې مناسبې کلمې ورته پيدا کړي او يا ان د نورو پر خبرو مو سر نه خلاصېږي.

سر به مو ګرځي، په لاره تګ سخت وي، تعادل بايلل او د همغږۍ له لاسه ورکول.

د سترګو ليد ناڅاپي تتېدل، چې په يوه يا دواړو سترګو کې د ليد ستونزه راولاړېږي. کله هم فرد ته هر څه دوه يا بېخي تت ښکارېږي.

غيرعادي او بېخي سخت سرخوږی، چې د يوه ناڅاپي ګوزار غوندې دی او کله سرګېچې او کانګې ورسره وي.

که څه هم پاس ټکي په نرانو او ښځو کې د سکتې تر ټولو خورې ګډې خبروونکې نښې دي؛ خو څېړنو ښودلې ده، چې په ښځوکې پينځه زيانې نورې نښې هم ليدل کېږي، چې دا نښې د دوی جنسيت پورې اړه لري او په نرانو کې تر ډېر نه ليدل کېږي. هغه نښې دا دي:

د ناڅاپي ستومانۍ احساسول

ناڅاپي لوېدل يا اړودوړ

د زړه د ضربان ناڅاپي سختېدل

په ټټر، لاس، پښو يا مخ کې د ناڅاپي درد راپيدا کېدل

په ناڅاپي ډول سالنډي يا سلګۍ

سکته يو جدي اورجانسي حالت دی او د ناروغ مغز ته د اټکلي زيانونو رسولو د درولو لپاره يوازې درې ساعته وخت وي. له دې مخې هر ډول نښه او علامه بې له دې چې کوچنيوالي ته يې وګورو بايد سمدواره يې پام ورته وشي.

## ورته کول څه ته وايي؟

عموماً، خبري رسنۍ او آژانسونه، چې ورته کوونکي لانجمن خبرونه خپروي، عموماً يې موخه د لومړي طبيعي حالت له زيږېدو سره ورته کول وي. په دې خبرو پسې بايد ووايو، چې نن د ورته کولو راز-راز ټېکنالوژۍ شته، چې د هغو له لارې – په تيوريکي/نظري ډول – د يوه ژونديسري يا بل هر اورګانېزم جنيټيکي غبرګونيتوب ومومو.

په دې اړه له د ورته کولو له راز-راز اړيکو لومړنۍ پېژندنه به ډېره مرسته وکړي، چې د دې خبرونو په اړه پرېکړه وکړای شو، چې ايا دا خبرې له اخلاقي مسألو سره په ټکر کې دي او که نه.

## د *DNA* ورته کول

دې کړنلارې ته، چې د DNA Cloning يا Molecular Cloning و يا Gene Cloning علمي ګړنې کارول کېږي، يو لړ عمليات دي، چې د هغو له لارې د يوه ژونديسري د DNA يوه برخه، چې ښايي ورته کړل شي، د خپلو اورګانيکي ژونديسرو يوه يوه ډول ته تکثير لېږدوي.

معمولاً په خپله تکثيرېدونکو باکترياوو يا Bacterial Plasmid څخه د همدې چارې لپاره کار اخيستل کېږي.

د دې شرايطو په بهير کې د خوښې وړ DNA د يوه کوربه په وسيله کېنېل او تکثيرېږي. له دې ټېکنالوژۍ څخه کابو له ۱۹۷۰ راهيسي کاراخيستل کېږي او د ژوندپوهې په ازمېښتونونو کې تر ټولو معمولي فعاليتونه دي. په دې تګلاره کې پوهان معمولاً له يوه بېل جِن څخه بل بېل جِن ته د کاپي کولولپاره کار اخلي.

## د زيږون له لارې ورته کول

دې کړنلارې ته Reproductive Cloning وايي، چې د بېلګې په ډول د حيواني توليد توان لري، چې ټاکلي DNA لري. دا DNA ښايي له يوه اوسني ژوندي ژوي څخه واخيستل شي او يا ان په پخوا کلونو کې له د يوه مړه ژوي له پاتې شونو څخه.

Dolly مېږې، چې پرې وغږېدو، پر همدې کړنلاره ورته شوې دي. پوهانو د يوه عمليات له لارې - چې Somatic Cell Nuclear Transfer/د کالبدي سلولونو د هستو لېږدول ورته وايي – د خوښې وړ ژونديسري جنيټيکي ځانګړتياوې هغې نطفې ته چې ټولې جنيټيکي ځانګړتياوې يې ترې لېرې شوې وي، لېږدوي. هو نوې نطفه بويه تر جلا برېښنايي او کېميايي ځار لاندې ونيول شي، چې د تکثير توان ولري. نو چې جنين د ودې د قبلولو وړ بريد ته ورسېد، هغه د يوه ښځينه ژوي رحم ته ورلېږدوي، ورپسې بيا تر زيږونه خپله طبيعي وده مخ ته بيايي.

Dolly يا هر بل ژوی، چې په دې تګلارې سره جوړ شي، جوته خبره ده، چې د موخې وړ موجود سره به ورته نه وي؛ ځکه چې د نُطفې ځينې ځانګړتياوې د جوړښت له هماغه پيله له پلاره مور ته ورلېږدول کېږي. خو د Dolly پروژې بريااليتوب دا و، چې ويې ښودله د يوه بالغ ژوي DNA سلولونه د خوښې وړ نطفې د ودې لپاره وکارول شي. تر دې وړاندې پوهانو

ګومان کاوه، هغه سلولونه چې وده کوي او بالِغېږي، خپلې ډېرې لومړنۍ ځانګړتیاوې بایلي او نو له سره د ودې وس نه لري.

Dolly په ۲۰۰۲کال کې، چې شپږ کلن و، ومړ، د مړینې لامل یې د اوریو خوږ او ناروغي وګڼل شوه. پوهان لا تر اوسه پر دې نه پوهېږي، چې د هغه ناروغي د دوی د زیږو د ډول بېلوالی و او یا که یوه عادي ناروغي وه، چې ښایي هر ژوندي‌سری ونیسي.

## - د جنین ورته کول

دې کړنلارې ته  Embory Cloningیا Therapeutic Cloning وایي، چې په هغو کې د انسان جنین د ځېړنې لپاره په ازمېښتونونو کې ورته کېږي. د دې خبرې ارزښت دا نه دی، چې یو انسان، د خوښې وړ بل کس غوندې کړي؛ لاچې موخه یې دا ده، چې پر ورته شوي جنین ځېړنې او ازموینې، په انسان پورې اړوندې ناروغۍ او ستونزې وشنې او د شونتیا تر بریده پر یوه لاره تر زیږونه مخکې د هغو د راپورته کېدو مخه ونیولای شو.

په دې کړنلاره کې د نُطفې پر جوړښت تر پینځو ورځو تېرېدو وروسته، له هغو څخه بېل سلولونه – چې بنستیز سلولونه یا Stem Cells یې بولي – د ورته کولو یا ازموینې لپاره اخیستل کېږي،چې په دې توګه به جنین ته صدمه ورسېږي. (ښایي پر اخلاقي مسئلو د خبرو اصلي ریښه هم همدې ځای ته راګرځي.) دا سلولونه تقریباً د انسان په بدن کې هر ډول سلولونه تولیدولای شي او پوهان له دې بېلو سلولونو څخه په ګټې اخیستلو سره هیله‌من دي، چې یوه ورځ د زړه ناروغیو، سرطانونو د ډولونو، الزایمېر او نور... پخه درمنله ومونډلای شي.

د ۲۰۰۱ کال په نومبر کې یوه پوه، په ماساچوست کې د  سلولونو د پرمختیایي ځېړنو د مرکز (Advanced Cell Technologies) کې وویل، چې د انسان د ناروغیو په اړه یې د انسان لومړنی جنیین، ورته کړای شو. دې پوه پر دریو سلولونو ازموینې کړې دي، چې په هغو کې یوازې درو یې پر وېش پیل وکړ او په پای کې یې یو پر دې بریالی شو،چې یوازې پر شپږو ووېشل شي. له دېمخې دا هماغسې چې وینئ یې، تر اوسه د یوه انسان د ورته کولو لپاره اوږده لاره په مخ کې ده.

## آیا کېدای شي، چې یوه ورځ ورته انسان جوړ شي؟

ډېرو سیاسي، مذهبي غونډو او ان پوهانو د امریکا پر کنګره زور اچولی دی، چې داسې یوه لایحه تصویب کړي، چې په دې اړه پر هر راز ځېړنو او کړنو بندیز ولګوي.

خو تر دې خبرو ور هاخوا، خورا لوړو لګښتونو، او د ژویو په ورته‌کولو کې په سلو کې بېخي لږ (یو یا دوه په سلو کې) بریالیتوب، چې «د زیږون له لارې ورته کولو» کړنلارې په اړه د پوهې کمښت دی چې همدا اوس د انسان د تولید لپاره هر ډول هڅې به له ماتې سره مخ شي. په تېره چې د ورته شویو ژویو تر زیږون وروسته ٪۳۰ شا اوخوا دا ژوي چې ژوندي پیدا کېږي، خرګند جسمي توان لري او تر زیږونه وروسته په سختو کړاوونو اخته وي. پوهان دې ورته ستونزې د انسان د ورته کولو په کړنلاره کې هم له وړاندې وایي.

بله مهمه خبره د انسان فکري او روحي وضعیت دی، چې تر اوسه پوهانو ته لا یوه ستره پوښتنه ده. ښایي یوې مېږې ته دومره ډېره مهمه نه وي، چې سم فکر ونه کړای شي یا پرېکړه وکړي؛ خو دا په پرېکنده ډول د یوه انسان لپاره ډېره مهمه ده؛ ځکه چې یو روغ انسان یوازې روغ بدن ته اړتیا نه لري.

نو له دې مخې داسې ښکاري، چې همداوس د ټېکنالوژۍ او پوهې د کمزورۍ لهکبله او هم په نړۍ کې د بېلابېلو ډلو او لوریو تر منځ، د توافق نشت، هغه څه دي، چې هېڅ پوه د Reproductive Cloningله لارې د انسان ورته کولو ازموینې ته زړه نه‌نیسي.

### ۷عجیب ژوي چې تر اوسه مو لیدلي نه دي

آلپاکا د سویلي امریکا اهلي شوي اوښ یوډول دی، چې د وحشي الپاکا له ډولونو اخیستل شوی دی. په ښکاره خو دا ژوی د مېږو غوندې دی؛ هو بېل رنګ او لوړه غاړه لري؛ خو مېږې یوازې په سپین رنګ لویوي.

آلپاکاګان د رمې په شکل ساتل کېږي او په ټول کال کې د آند، سویلي پرو، شمالي بولیویا او شمالي چیلي په لوړو غرونو کې، چې ۳۵۰۰تر ۵۰۰۰متره د سمندر له مخې لوړ دي، څرول کېږي.

آلپاکا تر لاما ډېر کوچنی دی او د هغوی پر خلاف د بارووړلو لپاره نه دي. خو په دوی کې الیاف فېبري بیا ارزښت لري، چې هو دا وړین الیاف نه دي. د دې ژویو له الیافو څخه د پټو، جاکټ، خولۍ، لاسماغو/دستکښ، پړوني او نورو راز-راز منسوجاتو او په سویلي امریکا کې جاکټ، جورابې او زېرپېرانۍ د نړۍ په نورو برخو کې جوړېږي. دا فېبریونه په پرو کې تر ۵۲زیات رنګونه په اُسټرالیا کې ۱۲ او په امریکا کې ۲۲رنګه شته دي.



## هندي شپې ګرځنده بېزو *Tarsier*

هندی شپې ګرځنده بیزو د دې کورنۍ یو بېل ډول دی. د دې بیزو پر جنیټیکي تکامل کلونه-کلونه څېړنې وشوې، چې په پای کې یې د Simians په ډله کې طبقه بندي کړه.

د هند شپنۍ ګرځنده بیزو غټې سترګې او وتلې پښې لري. پښې یې د ښنګري تر هډوکي پورې اوږدې دي؛ همدا نوم یې هم له همدې مخې ورته ټاکلی دی. دوی خو حشرې خوري، هغه وخت یې ښکار کوي، چې پر مخ پورې والوځي؛ خو مرغیانې او ماران هم خوري. دا بیزوګانې له یوې ونې بلې ته د ټوپ وهلو پر مهال هم آن د الوت پر شېبه الوتونکي نیولای شي. شپږ میاشتې دا ژوي امېدواره وي، بیا یوازې یو بچی زیږوي. هندی شپې ګرځنده بیزو له ذاته همداسې د شپې ګرځي؛ خو د نورو شپې ګرځنده ژویو غوندې ښایي ځینې دا بیزوګانې په ورځ کې هم لږ یا ډېر فعالیت وکړي. په دې توګه د نورو شپې ګرځنده ژویو پر خلاف یې سترګې د شپې رڼا نه کوي. پر دې سربېره د شپې ګرځندو ژویو بېلې ځانګړنې هم پکې دي.



Tarsier

## ګونځغاړی لټک

پر ګونځغاړي لټک یا ګونځغاړي ښامار ځکه دا نوم اېښودل شوی، چې د غاړې پوټکي پر سر هواره پرده لري او معمولاً د دې لټک د سر او غاړې خواته راټیټه شوی دی. د دې ژوي له غاړې سره د شمزۍ لوړ او غضروفي هډوکي ملګري دي. دا لټک چې ووېرېږي ټوله خوله وشلوي، داسې چې هغه ژېړه خوله یې ټوله راښکاره شي، بیا د غاړې چاپېر پوټکی یې پرانیزي، داسې چې نری نارنجي رنګ یې په ښکاره لیدل کېږي. هو دا چاره یې د بدن تودوخې په تنظیم کې هم مرسته کوي.

د بالغ ژوي اوږدوالی ۱ متر کېږي. پر ځمکه پر څلور پښو او لاسو ګرځي. چې خطر ورپېښ شي په څلوریو منډې وهي او پر شاتنیو پښو نو ښه چابکېږي. د دې ژوي نر جنس د بلوغ او

ځوانی په شپېو کې تر ښځو يې غټ ښکارېږي. د غاړې چاپېر پوټکي او هيس-هيس غږ څخه د ښکاري ډارولو لپاره کاراخلي. ښکاري ژوي چې برید پرې کوي، ګونځور لټک په خپلو دوو پښو ورنېږدې ونې ته خېږي او آن په هغه لوړه برخه کې يې ځان نهاموي.



## ټيټ ونې بيزو

دا د بيزوګانو يو ډول دی، چې د لوېديځ برازيل، کولمبيا سوېل ختيځ، اکوادور او ختيځې پرو په باراني ځنلګورنو کې ژوند کوي. دا لومړني کوچنې تي لرونکي ژوي دي. د دې ژوي اوږدوالی له ۱۵تر۲۰سانتي متره لکۍ پرته، د ۱۴ تر ۱۶سانتي متره اوږدې او ډېرې وړې بيزوګانې دي. نارينه لنډونې بيزو نږدې ۱۴۰ګرامه درنده او ښځينه يې شااوخوا ۱۲۰ګرامه ده.



د لنډونې بيزو وېښتان غنمډوله او لکۍ يې ګرده ده، چې کله-کله ښايي اوږدوالی يې د بدن هومره وي. لاسونه يې پر وه د ختلو ځواک لري او دا يې ستره ځانګړنه ده. چې څه په مخه ورځي، خوري يې. که څه هم اصيلي خواړه يې د ونو شيره ده. د ونو د ډډو په سوري کولو کې ډېرې ماهرې دي، چې په مخنيو غاښونو يې کوي. له بده مرغه د کوچني وجود او چټکو

منډو له کبله د ژویو په چاپېریال کې ښېخي لږې تر سترګو کېږي. لنډه بیزو تر ۱۱کلونو په قفس کې اوسېدای شي.

## بادشکوونی کب

بادشکوونی کب د آسټرالیااو تاسمانیا د سواحلو په ژورو اوبو کې اوسېږي. څرنګه یې چې د اوسېدو ځای ته څوک وررسېدای نه شي؛ نو انسانان یې ډېر لږ لیدای شي.

بادشکوونی کب د سمندر په تل کې اوسېږي، چې د اوبو فشار د اوبو تر مخه پکې خورا ډېر دی؛ نو ځکه د غازونو له کڅوړو هلته ګټه اخیستل کېدای نه شي. د دې لپاره، چې دا کب په اوبو کې لامبلی پاتې شي، د سره ورغلې جلاتینې غوښې، چې د اوبو له تخته توبه لږ ده، لري. له همدې کبله بادشکوونی کب، بې له دې چې ډېره انرژي ولګوي، د اوبو پر مخ لامبلی پاتېدای شي. څرنګه چې بادشکوونی کب، هغه مواد چې مخامخ ورته لامبو وهي، خوري؛ نو ځکه د غوښې نه لرل یې یوه منفي ځانګړنه ګڼل کېږي.



## پلاتیپوس

پلاتیپوس یو نیمه سمندري ژوی دی، په لوېدیځه اُسټرالیا او تاسمانیا کې اوسېږي، له خپلو ۴استرالیایي چیچیو سره، چې د هګۍاچوونکو تي لرونکو له ۵ ډولونو څخه یو دی. دا ډله یوازې هغه تي لرونکي دي، چې د چیچي د زیږولو پر ځای هګۍ اچوي. که څه هم یو شمېر ورته ډولونه یې پیدا شوي دي؛ خو د دوی له نژاده یوازې پلاتیپوس پاتې دی.

په ښکاره د دې عجیب هګۍ اچوونکي تي‌لرونکي مښوکه مرغابۍ ته ورته ده، چې درغلیزه ښکاري. پلاتیوس یو زهرجن تي‌لرونکی دی. د دې ژوي د نارینه په شاتنیو پښو کې د زهرو

ډک یو ښکر شته، دا زهر انسان ډېر خوږمنوي. پلاتیوس د خپلې تکاملي بیولوژیکي ځانګړتیا له کبله، د ډېرو څېړونکو پام راړولی دی.

د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې یې پلاتیپوس د دوی د پوټکي لپاره ښکار کاوه؛ خو وروسته یې خوندیتوب ته پام وشو.



## کوني کبر Yeti

Yeti کوني کبر په ۲۰۰۵کال کې په آرام سمندر کې کشف شو. د دې لسو پښو خاوند کوني کبر اوږدوالی کابو ۱۵سانتي متره دی. د سپینو وژغونو/نرمو وېښتانو له کبله چې ټول بدن یې پوښلی دی، د خلکو پام راواړلی دی.

دا کوني کبر په ۲۰۰۵کال کې د رابرټ وېرجینهوک ډلې، چې د اکواریومي سمندري ژویو په اړه څېړنې کوي، کشف کړ او د ۲۰۰۶کال د مارچ په ۷ یې رپوټ خپور شو. د دې ژوي سترګې ډېرې وړې او رنګه خال نه لري، داسې چې ړانده ښکارېږي.

پر وېښتو ډک امبورونه یې له Filamentous باکټریاوې لري، چې په اوبو کې د شته معدني موادو د مسمومیت/بېسدۍ د له منځه وړلو لپاره تري ګټه اخلي. که څه هم چې غوښه خور ژوندي سری دی؛ خو ښایي دا باکټریاوې وخوري. هو شنه سمندري مرخېړي او سمندري ملخان هم خوري.



## د یوه غله ژوندي‌سري کشف، چې نیم ګیاه او نیم ژوی دی

ژوندپوهانو د لومړي ځل لپاره په نړۍ کې داسې عجیب ژوندي‌سری وپېژانده، چې نیم ګیاه



او نیم نور ژوی و او کلروفیل تولیدولای شي.

دا سمندري حلزون هغه جېنونه، چې د کلروفیل د تولید وس یې په ده کې پیدا کړی دی، له هغو سمندري خَزو – سمندري نهانزا مرخېړی،چې پاڼه او ډډ لري؛ خو

ګل او ريښه نه لري - څخه، چې دی يې خوري، غلاکړی او د دې غلاشويو توکو پر مټ د فوتوسنتېز عمليه سرته رسولی شي، هغسې عمليه چې ګياوې پر انرژۍ د نور د بدلولو لپاره ترې کار اخلي.

دا ژوندي‌سري د انرژۍ داسې ماليکولونه لري، چې د هغو د انرژۍ برابرولو لپاره د غذايي موادو خوړلو ته اړتيا نه لري. د سويلي فلوريډا پوهنتون د پوهانو په وينا؛ دا لومړی ځل دی، چې په نړۍ کې د کلروفيل توليدوونکي ژوی موندل شوی دی.

د دې غلو حلزونو بچيان هم د کلروفيل د توليد ځواک په ميراث وړي، په دې توګه به تر هغه پورې د فوتوسنتيز عمليه ترسره نه کړي،چې د اړتيا وړ کلروفيل توليدوونکي جنونو ښې ډېرې خزې يې خوړلې نه وي.

## دا کور ګروپ/څراغ ته اړتيا نه لري

## دېوالي کاغذونه چې رڼا کوي

د برېټانيا دولت د دېوالي کاغذونو د نوي نسل د پراختيا لپاره، چې په طبيعي رڼا سره ټوله کوټه رڼا کولای شي، پانګونه کوي.

انګرېزي دولت په «لاماکس» شرکت کې، په ۴۵۴زره پونډه پانګونې سره، غواړي، چې په دوو راتلونکو کلونو کې داسې دېوالي کاغذونو بازار ته راوباسي، چې د نيوني او پړسېدونکو ګروپونو ځای نيولای شي.

دا دېوالي کاغذ چې ښکلي رسمونه لري، د هوا په تياره کېدو سره رڼاکېدای شي او کوټه رڼا کوي.

د دې دېوالي کاغذونو لګوونکې انرژي تر اوسنيو خوب‌ګروپونو ډېره لږ ده.

لاماکس شرکت د رڼا دېوالي کاغذونو په توليد کې د رڼايي اورګانيکي ډيوډونو (OLED) له ټکنالوژۍ څخه کار اخلي، په داسې حال کې چې د توليد د لوړو لګښتونو او د توکو د دوام د مودې ستونزه په ښه ډول هواره کړي.

مصرف انرژی این کاغذ ديواريها بسيار کمتر از لامپهای رشته ای زيستی کنونی است.

د دې شرکت څېړونکو له کېمياوي مادې څخه ګټه اخيستې ده، چې د دېوالونو پرمخ د ساده انځورونو په توګه کښلای/نقاشي کولای شي او همدارنګه د OLED ټلوېزيوني ننداريزو پاڼو په جوړښت او د کمپيوټرونو او موبايلونو د ننداريپاڼو لپاره هم ترې کار اخيستل کېدای شي.



د انرژۍ په لګښت کې د سپما لپاره له دې توکو ګټه اخيستل ډېر مهم دي؛ ځکه چې رڼا دا نوی سيسټم يوازې له ۳ تر ۵ وُلټه برېښنا ته اړتيا لري او دومره انرژۍ غم د

لمري ښيښو او لېتيمي بېټريو په وسيله خوړل کېدای شي.

هغه رڼا چې د لاماکس شرکت دېوالي کاغذونه يې کوي، د لمر له رڼا سره سم دي او د هغو ټېيو په وسيله يې د رڼا کچه تنظيمېدای شي، چې عادي ګروپونو ته ترې کاراخيستل کېږي.

د ټايمز د رپوټ له مخې، د دې دېوالي کاغذونو لومړني محصولات په ۲۰۱۲کال کې بازار ته راوځي.

"کربن ټراست" دولتي ادارې، چې د دې شرکت بودجه برابروي، ټينګار وکړ، چې رڼا د ګلخونو ګازونو د خپرېدو په توليد کې مهم نقش لري او که د دې رڼايي دېوالي کاغذونو ټکنالوژي دا ستونزه هواره کړي، تر ۲۰۲۰ز کال پورې د کاربن ډای اکسايد ۳۴سلنه کچه راټيټولای شو.

## د داسې ګيا موندل،چې موږک خوري

انګرېز ګيا پوهانو په فيليپين کې داسې نوې غوښه‌خوره ګيا موندلې ده، چې پر حشرو سربېره موږکان هم خوړلای شي!

دا ګياه چې د يوه کبرامار غوندې موږکان خوړلای شي، دا واړه ژوندي سري ځانته ورکاږي، هغوی تېروي او په خپله خوله کې يې ايساروي. بيا ورته ولاړه وي، چې موږک په لاړنه ماده کې، چې له اسيد او انزايم څخه جوړه ده، حل شي. په دې توګه پر ژوي خپټه مړولای شي.




دا موږک‌خوره ګياه يوې ډلې انګرېزو څېړونکو د فيليپين په مرکز کې پراته ويکټوريا غره کې موندلې ده او د «سر ډېوېډ اټنبرووا» په لمانځنه کې، چې د انګرېز د طبيعي تاريخ لارښود دی «نېپنش اټنبرووا» يې ونوموله.

دا ګياه ۳۰سانتي متره قطر لري.

د سي اِن اِن د رپوټ پر بنسټ، دې څېړنيزې ډلې تر اوسه تر شلو زياتې غوښه‌خورې ګياوې موندلې دي.

# په امازون کې د یوې ناپېژاندې قبیلې موندل

څېړونکي د امازون په ځنګله کې ګرځېدل، چې له یوې نوې نمونې سره مخ شول او د برازیل هېواد اړوند د امازون په ځنګلونو کې یې یوه نوې قبیله وموندلای شو.

د دې قبیلې انسانانو، چې الوتکې ته پام شو، چې د دوی عکسونه اخلي، ډبرې او غشي یې وروویشتل.













## مېږی

موده : دځمکپوهنې د دويم پېر له درېيم پړاوه(کرتاسې) تر اوسه



د سړو ښکاري مېږيانو يو ډول (پلکټروکتنا)مېږی، د پردي نژاد پر يوه مېږي بريد کوي او خپله خاوره ساتي.

پوهنيز پوړوېش/طبقه بندي

| | |
|---|---|
| عالَم: | جانوران |
| فايلم: | بندپايان |
| ټولګی/کلاس: | حشرات |
| کورنی: | پرده بالان |
| نوع: | Apocrita |
| بالاخانواده: | Vespoidea |

مېږی (په انګرېزي:Ant) ټولنيزه حشره ده، د شاتو مچۍ غونډې د نري وزرو په ډله کې، چې د کرتاسې دورې په منځنيو ياني کابو ۱۱۰تر ۱۳۰ميليونه کاله پخوا يې تکامل کړی دی. نن تر ۱۲۰۰۰زيات مېږيان ډلبندي شوي دي او اټکل کېږي، چې دا شمېر تر ۲۲۰۰۰ ډولونو پورې هم ورسېږي. مېږيان له خپلو ځنګلوالو ښکرو، غُوټه ډوله جوړښت او نرۍ ملا له مخې هوسا د پېژندلو وړ دي.

د مېږيانو په ټولنه کې له څو ښکاري مېږيانو، په يوه مېږتون کې تر څو ميليونه ساده، شنډې مېږی، د کارګرو ډله، سرتېري او نوري ډلې په يوه ټاکلې پراخه جغرافيايي سيمه کې راټلای شي. همدارنګه د مېږيانو په ټولنه کې د نطفې وال يو شمېر نارينه مېږيان، او همدارنګه يو يا څو ښځينه مېږۍ چې د امېدوارۍ وس لري او ملکه ورته وايي، پکې راځي. همدارنګه کله-کله د مېږيانو ټولنه يوه ستره ځواکمنه ټولنه ګڼل شوې ده؛ ځکه مېږيان پکې له يوه او بل سره کار کوي او د خپلې ټولنې دفاع کوي...



یو مېږی، چې د بورې یوه ټوټه څکي

کابو د ځمکې کرې په ټوله سیمه کې مېږیان شته. یوازې په لېرې پرتو ټاپوګانو، چې لاسرسی ورته ګران دی، هغه ترې وتلي دي. مېږیان د ځمکې د اوسېدو پر ډېر چاپېریال واکمن دي او په استوګن وړ ځایونو کې ژوند کولای شي. دا موجود د ځمکې د سر ۱۵تر۲۰سلنه وچه اوسېدونکي جوړوي. پر ټولنیز ژوندانه د دوی بری، د انطباق منښې لوړ ځواک او د ژوندانه د چاپېریال بدلولو توان او له سرچینو څخه ګټه اخیستل او د یوه او بل دفاع ته راګرځي. د مېږیانو ډولونه په بېلابېلو بڼو لکه طفیلي/پرازیټي ډوله ژوند او مرېیه توب، سوله ییز ژوند او ... تکامل موندلی دی.

د مېږیانو په ټولنه کې د کار د وېش سیستم، د اشخاصو تر منځ اړیکې او د ستونزو د حل ځواک پېچلی دی. دا ورته والی له انساني ټولنو سره کلونه کلونه کېږي، چې دوی ته د الهام سرچینه او د دوی د څېړنو موضوع وه.

ډېر انساني تمدنونه له مېږیانو څخه په مذهبي مراسمو، خوړو او طبي چارو کې ګټه ترې اخلي. ځینې ډولونه یې، د دې لپاره چې د آفتونو د ژوندانه په کنټرولولو کې نقش لري، ډېر ارزښت لري. که څه هم له سرچینو څخه د دوی د ګټې اخیستلو ځواک، له انسانانو سره د دوی د اختلاف لامل شوی دی. دوی کرنیزو محصولاتو ته زیان اړولای او کورونو ته ننوتلای شي.

مېږیان د وچې تر ټولو غښتلي ژوید دي؛ ځکه چې د خپل وزن څو چنده بار وړلای شي. د مېږیانو د ژوندڅېړنو پوهان هک حیران کړي دي؛ ځکه څرنګه چې دوی د ځینو مېږیانو د غوړو کوټونه ولیدل، ډېر ورته تحجب وو، چې دوی څومره په ځیر سره دانې راټولې کړې دي او ډېرې منظمې یې له یوې او بلې سره اېښې دي. دوی د غنمو دانې له منځه دوه ټوټې کوي، چې د لنده بل پر شېبه رازرغون نه شي؛ خو د ځټکي زړي بیا د نیم پر ځای څلور ټوټې کوي؛ ځکه پوهېږي،چې د ځټکي زړي/مندکې په منځ نیمې کړي، بیا هم د راټوکېدو وړ وي او چې مازې اوبه وروړسېدې، وده به وکړي او د مېږیانو مېږه تون به له منځه یوسي.



د مېږيانو يوه جوړه کړې ليکه

مېږيان له يوه او بل سره د اړيکو ټينګولو لپاره له فرومونه ګټه اخلي. دا کېمياي سېګنالونه تر نورو نري وزرو په مېږيانو کې ډېر تکامل کړی دی. د نورو حشرو غوندې مېږيان د فورمون بوی د تشخيصولو لپاره، له لوړو، نريو، متحرکو ښکرونو کاراخلي. مېږيان د خپلو دوو ښکرونو په وسيله، د بوی د شدت او لوري په اړه اړين اطلاعات مومي. څرنګه چې د ځمکې پر مخ ډېر مېږيان اوسېږي، دوی د ځمکې له مخ څخه د فورمون موندونکي مواد اچوي، چې نور مېږيان هم پرې ولاړ شوی شي. په هغو ډولونو کې چې په ډليزه توګه کېندنه کوي، هغه مېږيان چې خواړه پيدا کوي، يو فرومون موندونکی، خپل کور ته دراتګ پر لاره ږدي او نور مېږيان همدا لاره نيسي. نورمېږيان چې بېرته له خوړو سره راګرځي، دا لاره لا غښتلې کېږی. د خوړو سرچينه راجارو کړي، بيا د بېرته راتګ پر لاره بل موندونکی نه ږدي او د فرومون بوی سوکه-سوکه ورک کېږي. دا چاره ددې لامل شي، چې مېږيان د خپل چاپېريال له بدلونو سره ځان جوړ کړي. د بېلګې په ډول: د يوه خنډ په وسيله چې د خوړو سرچينې ته ټاکلې تللې لاره، بندېږي، مېږيان هغه لاره پرېږدي، چې نوې لاره ورپيدا کړي. که مېږی بريالی شي، نوی موندونکی اېږدي، چې مېږه تون ته تر ټولو لنډه لاره وي. خوړو ته همدا ورغلې بريالۍ لاره نور مېږيان هم نيسي او دا لارې لا ځواکمنېږي، چې په پای کې تر ګردو ښه لاره جوړه شي.

مېږيان له فورمونه يوزاې د لارموندنې لپاره کار نه اخلي. يو مېږی، چې ژوبلېږي، له ځانه د خطر فرومون باسي، بيا يې نو دشااوخوا مېږيان تيارسی شي، همدرانګه هغې سيمې ته ډېر نور مېږيان راوستل شي. ځينې مېږيان د ملنډو فرومون په نامه جلا فرومونه کاراخلي، چې دښمنانانو ته يې سرخوږی جوړ کړي او پر يوه او بل بريد وکړي. فرومون د زياتو جوړښتونو په وسيله توليدېږي، چې د دوفور غدې، زهري غدې او د لکۍ، کولمو، ښۍ کولمې، سټرنم او سترې درګې غدې پکې راځي. فروموونه همدارنګه د مېږتون د مېږيانو ترمنځ ادل-بدل کېږي. دا چاره له خوړو سره د فرومون په يوځای کېدو او بيا د خولې له

لارې د مېږي له خولې څخه بل مېږي ته ځي. دا له مېږیانو سره مرسته کوي، چې پوه شي، څه دنده پرغاړه واخلي؛ د بېلګې په ډول: د خوړو راوړل او د مېږه‌تون ساتنه.

په هغو مېږیانو کې چې ملکه لري، ملکه چې د خپل جلا فرومون تولید ودروي، کارګران بله نوې ملکه ټاکي.



د دوو مېږیانو له خوا د مخلوط فرومون لېږد

د مېږیانو ځینې ډولونه:

درمند ټولوونکي مېږیان

پی لوشونکي یا شپانه مېږیان

بڼوال مېږیان

ژرنده‌ګري مېږیان

د فرعون مېږی/کافر مېږی/شوروی مېږی: یو ډول مېږیان چې کابو په ټوله نړۍ کې ژوند کوي او ژېړ یا سور رنګ لري، په کورونو کې اوسېږي، فرعون مېږی یې بولي. دا مېږیان لومړی ځل په مصر کې ولیدل شول او د همدې لپاره د فرعون مېږي په نامه مشهور دي. دا مېږی په دېوالونو کې اوسېږي او له غوړو خوړو ګیاوو ګټه اخلي. له منځه وړل یې ګرانه خبره ده؛ ځکه چې ان په دېوالونو کې یې مېږتونونه جوړ کړي وي.

سور اور مېږی: علمي نوم یې Solenopsis invicta دی، چې په جنوبي امریکا کې اوسېږي. چې خطر احساس کړي، د اوبو پر مخ یوه او بل ته لاس ورکړي، له خپلې ډلې څخه کېښتۍ جوړوي، چې درانه وزنونه وړلای شي.

# تر ټولو وژونکي ژوي هر کال په نړۍ کې له درېیو تر پینځو میلیونو وګړي وژني

د نړۍ وژونکي ژوي، چې هر کال له ۳ تر ۵ میلیونو وګړي له منځه وړي په ترتیب سره له لږ خطرناکو تر خورا زیاتو خطرناکو پورې دلته درپېژنو:

یږې/سرکوزي هر کال له ۵و تر ۱۰و انسان وژني



په کال کې ۱۰۰کسه کوسه کب وژني



سمندري ناوې هم په کال کې تر ۱۰۰وګړي وژلای شي



سمندري اس هر کال له ۱۰۰و تر ۱۵۰و وګړي وژني



هاتیان/فیلان چې په ښکاره آرام ښکاري، په کال کې له سلو تر پینځو سوو وګړي وژني




تمساوې هر کال له ۶سوو تر ۸سوو انسانان له منځه وړي



وحشي پيشو هم هر کال ۸۰۰ وګړي وژني



لړمان هر کال له ۸سوو تر ۲زره وګړي له منځه وړي



مار هر کال له ۵۰تر ۱۲۵زرو وګړي وژني




خو د ملاریا ماشه هر کال له دوو تر درو میلیونو وګړي وژني؛ نو په ډاګه ویلای شو، چې دا حشره د ځمکې د وګړو په کنټرول کې تر ټولو ستره ونډه اخلي



# د امریکا او نړۍ تر ټولو لوړنۍ هلیکوپټره

د تکناز د رپوټ له مخې، چې له فارس څخه یې رااخیستی، د نړۍ لومړنۍ هلیکوپټره په ۱۹۴۰ز کال کې په امریکا کې جوړه شوه، دا ستر بدنې اولوتونکې وسیله، چې «XH-۱۷» نومېده، د پینځو الوتکو له ټوټو جوړه شوې وه.

د دې وسیلې اړخونه ۹متره لوړه او ۱۶متره اوږده، چې ډېره غټه وه او څرخ یې تر ۴۰مترو زیات قطر درلود، چې تر اوسه د هلیکوپټرې تر ټولو لوی څرخ ګڼل کېږي.

دا هلیکوپټره د الوت درې خدمې لرې او د جېټ دوه ټوربو ماشینونه پکې کار کوي، چې تر ټولو لوړه چټکتیا یې په ساعت کې ۱۴۵کیلومټرو ته رسېږي. «XH-۱۷» تر ۶۴کیلومټره شعاع پورې الوتلای او ۴زره متره لوړېدای شوه.







www.taknaz.ir


FORCE
1842
www.taknaz.ir

## په نړۍ کې تر ګردو د ښه خوب لرونکې نجلۍ، چې ۶۴ورځې ویده وه

یوه امریکایۍ پېغله د خوب له یوې نادرې روږدتیا ځورېږي، چې سېنډروم «ښه خوب» یې بولي. د خوب اوږده دوره یې ۶۴پرله پسې ورځې ویدېدل دي.

د تکناز د رپوټ له مخې، چې له مهر څخه یې رااخیستی دی، د پنسیلوانیا اوسېدونکې ۱۷کلنه نیکول دلین وایي، چې په دغه موده کې، چې د دې ناروغۍ له کبله ویده وه، د شکرانې جشن، کرېسمېس – د عیسوي کال نوې ورځ–، د ملګرو کلیزې او ان دېزني ښارګوټي ته د کورنۍ لومړنۍ سفر یې لاسه ورکړی دی.



وېکي د نیکول مور وایي، لور یې ۱۸تر ۱۹ساعته هره ورځ ویده وي، چې خوب ته یې راویښوي، نیکول په خوب کې په لاره روانه وي او بېځې یې څه په یاد نه وي.

ډاکتران وایي دا د خوب په نادره ګډوډۍ، چې کلین-لوین نومېږي، اخته ده.

پر دې سندروم اخته کسان پر ډېر خوب سربېره، په ویښه کې نورې نښې هم رابرسېره کوي، چې په هغو کې لالهاندي، توهُم، ماشومانه کړنې او همدارنګه ډېر خوړل دي.

پر دې ګډوډۍ اخته وګړي، په داسې خوبونو اخته کېږي، چې د خوب تر اوږدې دورې ورسته یې دا حالت ښه کېږي. دا ناروغي په نرانو کې ډېره خوره ده او معمولاً په ځوانۍ کې له منځه ځي.

تر اوسه د دې ناروغۍ لامل موندل شوی نه دی؛ خو پوهان داسې ګڼي، چې د مغز یوې برخې ناسم چلن د دې ناعادي ویدېدلو اصلي لامل کېدای شي. دا سنډروم هېڅ منل شوې درملیزه لاره نه لري او یوازې کله-کله ناروغ ته مُحرک درملونه ورکوي، چې د خپل خوب دورې منظمې کړي.

## د نړۍ تر ټولو ځیرک انسان

څرنګه چې د معمولي انسانانو د ځیرکتیا ضریب د ۸۵ او۱۱۵ ترمنځ وي، داسې سړی، چې د ځیرکتیا ضریب یې ۲۵۰وي، بېخي نابغه ګڼل کېږي.

ویلیم جېم سایډېس، د تاریخ تر ټولو ځیرک انسان و، چې په یو کلنۍ کې یې لیکل وکړای شول، په ۵کلنۍ کې یې د نړۍ پر پینځو دود ژبو خبرې وکړای شوې او په ۱۱کلنۍ کې د هاروارډ پوهنتون ښووان شو.




سایډېس په ۱۸۹۸کال په امریکا کې پیدا او په ۴۶کلنۍ کې مړ هم شو.

ده د ریاضیاتو او ژبو په زده کړه کې خارق العاده وړتیا درلوده. د لومړي ځل لپاره یې د مغز د وختي ودې په اړه نوم د ژبو پر سرونو وګرځېد او بیا پر خپل ذهن د راټمتیا/تمرکز له کبله ډېر مشهور شو؛ خو پای یې ځان د وګړو له سترګو ګوښه کړ، ریاضیاتو یې زړه وروواهه، ریاضیات هم وروسته پاتې شول او پر څو پور/مستعارو نومونو یې لیکنې کولې. د ده بله ځانګړتیا دا ده،چې په ۱۸میاشتنۍ کې یې د نیویارک ټایمز ورځپانه لوستلای شوه. په ۸کلنۍ کې پر ۸ ژبو ګړېده. په زړه پورې یې دا، چې په خپله یې د Vendergood په نامه نوې ژبه رامنځته کړه.

هېره مو نه شي، چې د نابغه‌و انساناو د ځیرکتیا ضریب د ۱۵۵او ۲۰۰ترمنځ وي؛ خو سایډېس په دې برخه کې د نړۍ ترګردو ځیرکو ریکارډ مات کړی دی. بده نه ده، چې د پر دې هم پوه شئ، چې د ګالیله د ځیرکتیا ضریب ۱۸۰ اټکلوي او د مایکروسافټ پوستغالو شرکت د بنسټګر بېل ګېټس د ځیرکتیا ضریب هم ۱۶۰ دی.

## د واورې کرېسټال

دا لاندې د واورې د یوه کرېسټال انځور دی. ښايي چې موږ ته دومره په زړه پورې نه وي؛ خو دا انځور د ښکلو هنرونو، طراحۍ او ګرافیک مینوالو ته بېخي ډېر زړه‌راښکونکی دی. همدومره بس ده، چې له شپږ واړو لوریو څخه د موازي لیکو د تېرېدو ځای په ځیر سره وکسئ او د دې انطباق پر هېښوونو پوه شئ. د واورې کرېسټالونه په خپل کرېسټالي جوړښت کې، بېخي د هندسي رسمونو پر پله روان دي او دا خبره د اُکسیجن او هایدروجن د عناصرو کېمیایي زاويې په اړیکو پورې او د کنګل د کرېسټالي شبکې د ننه اوبو مالیکولي(هایدروجني) اړیکو پورې اړه لري. د الله(ج) د خلقت یوه هېښونه دا ده، چې د خلقت له پیله تر پایه، د کنګل شوې واورې هېڅ دوه کرېسټالونه یوه او بل ته ورته او یو ډول موندلای نه شو. په واقعیت کې دا کرېسټالونه انحصاري دي او هېڅکله بیا نه‌راځي او د واورې د کرېسټال لپاره د بېخي بې شمېره کرېسټالونو بڼې انګېرلای شو.

په پاس شکل کې د کرښو د سره پرې کولو او تنګ ځایونه کتلای شئ





د واورې هر څومره کرېسټالونه، چې وګورو او وڅېړو، په پای کې به پاس ورته پایلې ته ورسېږو. خو تل مو بویه دا خبره په یاد وي، چې له صفر څخه د چاپېریال د تودوخې په مازې لوړېدلو سره د دې کرېسټالونو بڼه بدله او وېلې کېږي.



## لمر

لمر، د لمريز نظام په منځ کې يوه ستره روښانه کتله ده، چې د ځمکې رڼا، تودوخه او نورې انرژئ ورپوره کوي. دا ستورى ښېښې کورټ له غازه جوړ شوى دى. ددې غاز ډېره برخه داسې ده، چې له مقناطيسي ځواك سره حساسيت لري. دا ډول غاز د همدې حساسيت لپاره ډېر ځانګړى دى. پوهان پلازما ورته وايي. ۸سيارې او سپوږمۍ يې، لسګونه زره واړهستوري او څو ټرېلیونه شهاب ډبرې د لمر چاپېره چورلي/تاوېږي. لمر او دا ټول جِرمونه په لمريز نظام کې دي. ځمکه په منځني واټن کابو ۱۴۹،۶۰۰،۰۰۰ کيلومټره واټن کې يې خوځېږي.



د لمر شعاع (د مرکز او سطحې تر منځ واټن) کابو ۶۹۵،۵۰۰ کيلومټره او د ځمکې د شعاع نږدې ۱۰۹ چنده راځي.

د لمر يوه برخه، چې موږ وينو، د سانتي ګرېډ کابو ۵۵۰۰درجې توده ده. ستورپوهان د ستورو تودوخه د کېلوين/Kelvin په نامه واحد کچ کوي او لنډ يې (K) ليکي. يو کېلوين په دقيق ډول د سېلسيوس له ۱درجې يا د فارنېهايټ ۱،۸درجو سره برابر دى؛ خو له کېلوين سره د سېلسيوس واحد توپير، د هغوى د پيل په ټکي کې دى. د کېلوين د مقياس واحد له وچ صفره، چې د سانتيګرېډ ۲۷۳.۱۵- درجو سره برابر دى، پيلېږي. له دې مخې د لمر د سطحې تودوخه K۵۸۰۰ او د لمر د زړې/هستې تودوخه تر ۱۵میلیونه K څخه زياته ده.

د لمر انرژي د هغه د هستې په تل کې د اټومي ترکيبونو د غبرګون په وسيله لاسته راځي. په يوه ترکيبي غبرګون کې د اټوم دوې هستې له يوې او بلې سره ملګرې شي او نوې هسته جوړوي.

دا ترکيب پر انرژئ د هستې د اجزاوو بدلېدو سره، انرژي توليدوي. لمر د ځمکې غوندې مقناطيس لري. پوهان د يوه آسماني جرم د مقناطيسي ډګر په پام کې نيولو سره، د غه جرم مقناطيسي ځانګړتياوې سپړي.

مقناطیسي ډګر هغه محدوده ده، چې د یوه جرم په وسیله ټوله نیول شوې فضا او د هغو شااوخوا نوره زیاته فضا پکې راځي.

پوهانو هغه محدوده، چې مقناطیسي ځواکونه پکې پېژندل کېږي (لکه د قطب‌ښودونې په وسیله)مقناطیسي ډګر بولي. فیزیك پوهان د یوه آسماني جرم مقناطیسي ځانګړتیا د مقناطیسي ډګر د قدرت په وسیله ښیي. دا ځواك له هغه ځواك سره برابر دی، چې یو مقناطیسي ډګر یې پر یوه مقناطیسي جسم لکه د قطب‌ښودونې ستنه کاروي. د لمر عمومي مقناطیسي ډګر توان د ځمکې د مقناطیسي ډګر یوازې دوه چنده دی؛ خو د لمر مقناطیسي ډګر په وړو سیمو کې په شدت سره راتم دی، د هغو د مقناطیسي ډګر تر عمومي کچې د ۳۰۰۰ ځله زیات معادل قدرت سره. دا سیمې د لمر بڼې جوړوونکې او د هغو د سطحې ترکیباتو او اټموسفېر، یانې هغې سیمې، چې موږ یې وینو، رامنځته کوونکې دي. کابو سړې سیمې او د لمر خاپونه، ډېر د لیدو وړ اورغورځونې، چې هغو ته لمریزې ژبې وایي او د لمر د خول لمبو د لمر د بڼې ټوله سطحه جوړه کړې ده.

لمریزې ژبې په لمریز نظام کې تر ټولو سختې چاودنې او اورغورځونې دي. بیا د لمر د خول لمبې چې شدت یې تر ژبیو کم دی او ډېره زیاته ماده پکې پرته ده. د لمر په خول کې یوازې یو اورغورځوونکی د ۲۰بیلیونو ټنو شااوخوا ماده په فضا کې خپرولای شي. د سربو یو مکعب چې هره ضلعه یې ۱،۲کیلومټره وي، داسې جرم لرلای شي.

لمر ۴،۶بیلیونه کاله مخکې پیدا شوی دی او د دې لپاره چې تر ۵بیلیونو کلونو پورې په همدې بڼه پاتې شي، اړین سوَن توکي لري. نو له هغو څخه د لمر کچه هومره لویېږي، چې په تر ټولو لوی سره ستوري نامه بدلېږي. هغه وخت خپلې بهرنۍ پردې په پورته اچولو سره له لاسه ورکوي. هغه څه چې له لمره په راتوییدو کې پاتېږي، د سپین لنډي سړي/کوتوله په نامه یوه جرم بدلېږي او سوکه-سوکه خپله رڼا بایلي، په پای کې د ژوند نوي پړاو ته ننوځي، د یوه تت – ساړه جرم په بڼه، چې کله-کله ورته تور لنډ سړی/کوتوله وایي، بدلېږي.

«وَالشَّمسُ تَجرِی لِمُستَقَرٍّ لَّهَا ذَلِكَ تَقدِیرُ العَزِیزِ العَلِیمِ»

او لمر(هم دوی ته داسې نښه ده) چې پرله پسې د خپل تمځای په لوري رهي دی، دا د قادر او پوه خدای تقدیر دی.

«وَالقَمَرَ قَدَّرنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّى عَادَ كَالعُرجُونِ القَدِیمِ»

او سپوږمۍ ته مو پوړونه جوړ کړي دي، (کله چې دا پوړونه ووهي) په پای کې «د خرما د زړې لیندۍ ډوله ژېړې ځانګې» غوندې شي.

«لَا الشَّمسُ یَنبَغِی لَهَا أَن تُدرِكَ القَمَرَ وَلَا اللَّیلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِی فَلَكٍ یَسبَحُونَ»

نه لمر ته ښایي، چې سپوږمۍ ته ورسېږي او نه شپه تر ورځې مخکې کېدای شي او هر یو په خپله لاره کې لامبوزن دي.(یس سورت:۳۸-۴۰ ایتونه)

## په قرآن کریم کې د مېږیانو د خلقت اعجاز او عجایب

### په قرآن کریم کې د مېږي د ځان دفاعي سیستم کشف یوه نوې معجزه

د قرآن کریم د کلامي معجزو تر څنګ،چې محمدصلی الله علیه و آله والسلام، د هغو په وسیله مشرکان مبارزې ته راوبلل او له دوی څخه یې وغوښتل، چې د هغو غوندې یو آیت راوړي؛ خو دوی رانه‌وړای شو. په قرآن کریم کې ډېرې علمي معجزې دي، چې الله (ج) محمد (ص) ته هغه یوزره‌او څلور سوه کاله وړاندې وښودې. دا معجزې نن کشف شوې او د ایمان راوړونکو ایمان ورسره لاټینګېږي. دا د قرآن کریم د الهي والي لپاره اثبات دی. مېرمن واډیا اُومراني/Wadea Omrany په قرآن کریم کې یوه نوې خبره موندلې ده. دا وایي، چې موږ د نمل سورت په ۱۸آیت کې نوی علمي کشف وکړ. دا نوې معجزه هغه څه دي، چې مېږي په ۱۸ آیت کې وویل او نني علم د له یوه او بل سره د مېږیانو د اړیکو ډول کشف کړ، په تېره هغه شېبه، چې یوه خطر د مېږیانو د اوسېدو ځای ګواښي.

موږ هڅه کوو، هغه جملې چې په قرآن کریم مېږي ویلې دي، راوسپړو او زیار باسو، چې څه هغه وویل، له نویو علمي موندنو سره تړاو ورکړو او تر نني علمه د قرآن کریم د استناد وړاندېوالی وښیو، چې څوارلس پېړۍ وړاندې یې بیان کړ.



الله (ج) د نمل سورت په ۱۸آیت کې فرمایي: { حَتَّى إِذَا أَتَوا عَلَى وَادِي النَّمل قَالَت نَملَةٌ يَا أَيُّهَا النَّملُ ادخُلُوا مَسَاكِنَكُم لَا يَحطِمَنَّكُم سُلَيمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُم لَا يَشعُرُونَ }

"چې د مېږیانو درې ته ورسېدل، مېږي وویل: اې مېږیانو خپلو مېږتونونو ته ننوځئ، نه چې سلیمان او لښکر مو تر پښو لاندې نه کړي او هغه پخپله خبر نه وي."

په پاس آیت کې مېږي نږدې پېښېدونکی خطر چې مېږیانو ته په کمین کې دی، په څلورو پرله پسې پړاوونو کې داسې شرح کوي::

۱- ″اې مېږيانو″ دا د خطر لومړی اعلان دی، چې مېږی يې ورکوي، چې ژر د نورو مېږيانو پام ورواړوي. نور مېږيان، چې دا پيغام واوري، ودرېږي،چې له هماغه مېږي، څخه نور پيغام واخلي.

۲- ″خپلو مېږتونو ته ننوځئ ″ دلته د پيغام ويونکی، خپل پيغام په نورو جملو سره اوږدوي او نورو مېږيانو ته وايي، بويه څه وکړي. موږ دا اړيکه چې نني علم کشف کړې ده، د دې ليکنې په دويمه برخه کې وينو (چې د مېږيانو ترمنځ د اړيکو په اړه ده.)

۳- ″ نه چې سلېمان او د ده لښکريان مو تر پښو لاندې چيختاړ کړي″ په دې جمله کې مېږی خپلو مخاطبينو ته د دې خطر دليل وايي او دا هغه څه دي، چې موږ يې نن د علمي څېړنو په وسيله زباتوو.

## د خلقت عجايب

### وريځې او د باران اورښت

شيګرې/باران د الله (ج) يو ستر نعمت دی، چې د نړۍ په ډېرو برخو کې د وريځو په وسيله اوري. دهمدې آسماني برکتونو له کبله سيندونه، چينې، دېوالونه او سمندرونه له اوبو ډکېږي او په ځمکه کې د ژوندي سرو ژوند پر مخ ځي. د وريځو د جوړښت او باران اروښت د څرنګوالي په اړه د علي کرم الله وجهه په خطبه کې لولو:

«الله (ج) وريځې راپيدا کړې، چې د ځمکې مړې برخې راژوندۍ شي او راز-راز ګياوې رازرغونې شي. نو د وريځو سترې او خورې-ورې ټوټې يې سره ونښلولې، چې سختې وخوځېدې، وريځې چې پر يوه او بله لګېدې، برېښناوې په ځلېدو شوې او د سپينو غر-غر، راغونجو وريځو څخه هيڅ کم نه شول. بيا يې پرله‌پسې وريځې راولېږلې، چې ځمکه يې



راپوښله او بادونو له وريځو څخه د باران پی راولوشلې او تېزې يې ښکته ځمکې ته

راوارتولې. ورپسې هم راکوزې شوې، پر ځمکه یې تګ وسولاوه او چې څه یې پر شا کړي وو، لاتویې کړل، داسې د ځمکې په وچو-سپېرو برخو کې راز-راز بوټي راوټوکېدل او د غرونو پر لمنو شنه وابښه راشنه شول.»

## ځمکه، غر او سیند

د حضرت علي کرم الله وجه په خبرو کې د خلقت د عجایبو په اړه لولو:«د الله(ج) د قدرت او سترتوب نښې او د ده د خلقت د ظرافتونو هېښتیاوې، دا دي، چې د ځپاند سیند له اوبو او د ډېرو ماتوونکو ځپو څخه یې وچه راپیدا کړه او پر طبقو یې ووېشله. بیا یې طبقې له یوې او بلې رابېلې کړې او اووه اسمانونه یې پیدا کړل، چې د ده په امر سره ودرېدل او په ټاکلو واټنونو کې کلک شول. همداسې یې ځمکه پیدا کړه، چې شین او روان سیند پر خپلو اوږو وړي. ځمکې الله(ج) ته د شکایت پر ځای سر ټیټ کړی او ورته تسلیم ده. بیا یې بېلکې/پرښې، غونډۍ او ستر-ستر غرونه راپیدا کړل، هغه یې په خپله غېږه کې ټینګ ونیول او په خپلو مېشتغالو کې یې آرام کړل. نو غرونه په هوا کې او ریښې یې په اوبو کې ننوتې. غرونو له ټیټو او هوارو ځایونه سرونه رابوخ کړل او لږ لږ لوړ شول، ریښې ښې د ځمکې په زړه کې وغځولې. څوکو هم سر آسمان ته پورته کړ او څوکې یې اوږدې شوې، چې د ځمکې د ځمکې سروېږدي او د هغو ساتونکي مېږوي وي. بیا ځمکه د هغو سختو خوځېدنو څخه راتم شوه، چې کولې یې، چې خپل اوسېدونکي ونه مېنجوي او څه یې چې پر شا سپاره دي، ونه لوېږي یا له خپل ځایه وانه ارتیږل شي.»

## د آسمان پیدایښت

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي:«الله(ج) پرانیسې، ټیټه او لوړه فضا او پراخ آسمانونه بې له دې چې پر څه باندې ولګېږي، منظم کړل او د هغو چاودونه یې سره وروستل... او لمر یې د ورځې د رڼا نښه او سپوږمۍ یې په تته رڼا د شپې د تیارې لپاره پیدا کړه. بیا یې هغوی دواړه د خپل حرکت په لاره کې وخوځول او د دوی دواړو حرکت یې ډېر په ځیرکۍ سره کچ کړ، چې په ټاکلو درجو کې حرکت وکړي، چې د شپې او ورځې ترمنځ توپیر وي او سره وپېژندل شي او د هغو په تګ او راتګ سره، د کلونو شمېر او د وخت کچ کول شوني شي. ورپسې یې د هر آسمان په فضا کې هسک پیدا کړ او ځلېدونکې، ښکلې ملغرې او ستوري پکې ولګول... او ټول ثابت او ټینګ ولاړ او ګرځېدونکي او لالهانده، راکوزیدونکي او ختونکي او اندېښمننونکي او خوشحالوونکي ستوري یې خپلو امرونو ته تسلیم کړل.»

## د پرېښتو ځانګړتیاوې

پرېښتې، د الله (ج) مخلوقات دي، چې د دوی په پیدایښت کې ډېرې هېښتیاوې شته او ډېر انسانان پرې خبر هم نه دي. علي کرم الله وجه د پرېښتو په اړه فرمایي: «الله (ج)، پرېښتې په راز-راز بڼو او بېلابېلو بڼو سره پیدا کړې او هغو ته یې وزرونه ورکړل؛ دوی چې تل ترتله د الله(ج) د جلال او عزت په تسبیح بوختې دي او د خلقت د هېښتیاوو هېڅ پدیده هم په ځان

پورې نه ترې او د پدیدو په هغو هېښتیاوو کې، چې د الله (ج) ځانګړی خلقت دی، دعوه نه کوي.»

د دې خطبې په بل ځای کې راغلي دي: «الله(ج) پرښتې د وحې امینانې وګرځولې او د پیغمبرانو ته د خپلو پرېکړو امر او نهې لېږاره، له دوی څخه کار واخیست... د شپو ورځو تېرېدو مرګ ته ورنه وستلې، د شک او شبهو غشو یې په ایمان کې خلل رانه وست. شک او ګومان یې د یقین غولي ته ورننه نه وت، په زړونو کې یې د کینې اور لمبې ونه کړې، حیرانتیا او لالهاندئ له هغه ایمانه، چې لري یې او په زړونو کې یې چې د الله(ج) کوم هیبت و، رابېلې نه کړې.»

## د لومړني انسان پیدایښت

بل ځای د لومړني انسان د پیدایښت د هېښتیا په اړه راغلي دي:

«الله(ج) د ځمکې له بېلابېلو برخو، کلکو او نرمو، خوږو او تروو، څخه خاوره راغونډه کړه. بیا یې اوبه پکې واچولې، چې سوچه خټه ترې جوړه شوه، په لنده بل سره سرېښناکه شوه، چې له هغو څخه یې شکلي او له یوه او بل سره نښتي او بېل غړي پیدا کړل. بیا وچه کړه،چې کلکه شي. بیا یې همداسې وچوله، چې کلکه شوه او په ټاکلي وخت او ټاکلي برخلیک سره د انسان غړي بشپړ شول. هغه مهال یې چې روح پیدا کړ، په هغه کې یې وپوکه، چې په ژوندي انسان واوښت، چې د فکر ځواک لري، چې دی هلو-ځلو ته اړباسي او داسې فکرونه یې موندلي دي، چې په نورو موجوداتو کې تصرف کوي. انسان ته یې غړي او لاس وپښې ورکړې، چې د ده په چوپړ کې وي، داسې وسیلې یې ورکړې، چې په ژوندانه کې کار ترې واخلي. د بېلولو ځواک یې ورکړ، چې حق او ناحق، سم او ناسم سره بېل کړي. د ځَکَلو، بویولو حسونه او د رنګونو او بېلابېلو جنسونو د توپیرولو وسیله یې ورکړه. الله(ج) انسان د راز-راز رنګونو، ورته او جوړجاړي لرونکو شیانو، متضادو ځواکونو، د سړو، تودو، لندوالي او وچوالي مِزاجونه یې پکې کېښودل.»

## هېښوونکي اختلافونه

د آسمان، ځمکې او سیند پیدایښت، د شپې او ورځې اختلاف، په رنګ، نژاد او ژبه کې د انسانانو توپیر دا ګرده‌سره د لوی خالق قدرت، پوهه او تدبیر راښیي، چې هر حقیقت‌پلټوونکي انسان ته د یوه یوازني پیداکوونکي پر شتون- چې د حق او حقیقت بشپړ څرګندوی دی- لار ښیي.

علي کرم الله وجه فرمایي:«که له خپله فکره کار واخلې، چې د خلقت پر رازونو پوه شې، تا ته به څرګند دلیلونه ووایي، چې د واړه مېږي پیداکوونکی هماغه د خرما د سترو ونو پیداکوونکی دی، هغه ځیرتیا ته چې د هر څه په پیدایښت کې یې جلا-جلا ایښې دي، د هرې بېخې اړینې پدیدې په خلقت کې پېچلي توپیرونه او بېلابېل والی شته... نو په لمر، سپوږمۍ، ونې، بوټو، اوبو، ډبرو/تیږو/ګټو، د شپې او ورځې اختلاف، د سیندونو یاغیتوب، د غرونو ډېرښت، د غره د څوکو لوړوالي، د ژبو او کلمو توپیر کې، چې د لوی پروردګار روښانه نښې دي فکر وکړه. نو افسوس پر هغه چا، چې د تقدیر خاوند ونه مني او د تدبیر له خاونده مخ واړوي.»

## د شپې مرغی، آسمانځکالی

حضرت علي رضی الله عنه، د آسمان ځکالي د پیدایښت د هېښتیا په اړه ویلي دي:«د لوی پروردګار د صنعت ښکلاوې او د ده د خلقت هېښونې، هماغه د آسمانځکالي په پیدایښت کې پېچلي حکیمانه رازونه دي. د ورځې رڼا چې هر څه غوړوي، د دوی سترګې ورتړي؛ د شپې تیاره، چې هر څه پر خوب ویدوي، د دوی سترګې پرانیزي... د لمر رڼا، آسمانځکالي د ځلېدونکو رڼاوو په ګڼوالي کې له تګه رانیسي او په خپل تیاره کور کې پټېږي، چې آسمانځکالی په روښانه رڼا کې ګرځېدای نه شي. نو هغه د ورځې د سترګو کسي په سترګغلیو کې پټې کړي، شپه ورته داسې څراغ وي، چې د هغو د تیارې په رڼا کې خپله روزي لټوي؛ د شپې توروالی یې سترګې نه بندوي او د ډېرې تیارې له کبله له تګ او زیاره نه لوېږي. سهار چې لمر له خپله مخه پړونی ایسته کړي او سباوون شي، د لټکو ځالې پرې رڼا شي، آسمانځکالي سترګې سره ورولي او پر هغه څه چې د شپې یې موندلي دي، سبانۍ/قناعت کوي.»

## د آسمانځکالي وزر

د اسمانځکالي د وزرونو د پیدایښت په اړه د علي (رض) په ویناوو کې لولو:

«هغه خدای پاك اوسپېڅلی دی،چې شپه یې آسمانځکالو ته د ورځې غوندې رڼا او د خوړو موندلو مهال شپېه وګرځوله، ورځ یې د شپې غوندې د آرامی او ویدېدلو مهال وټاکه، د الوتلو لپاره یې داسې د غوښو وزرونه ورکړل، چې الوتو ته د اړتیا پر مهال، کار ترې واخلي. دا وزرونه د غوږونو د کرپندوکو غوندې دي، چې بې بڼکو دي، اصلي رګونه نه لري؛ خو د هغو د رګونو ځایونه او نښې ښې څرګندې لیدلای شي.

الله (ج) آسمانځکالو ته دوه وزرونه ورکړي، نه دومره نري دي، چې مات شي او نه هومره کلك دي،چې پرې درانه شي. دوی الوزي؛ خو چیچي یې پرې نښتي او مور ته یې پناه وروړې وي. که راکوز شي، له مور سره راکوزېږي او که پاس خېژي، له مور سره هسکېږي. له میندو څخه نه راجلاکېږي، تر هغه چې د چیچي بدن غښتلی او وزرونه یې د الوتلو ځواك ومومي او پوه شي، چې د ژوند لاره کومه ده او خپلې ګټې وپېژني. نو هغه ذات ډېر پاك دی، چې بې له کومې نمونې څخه،چې له مخکې ورته پاتې وي، د هستی هر څه پیدا کړل.»

## د ملخ بدن او لاس و پښې

علي کرم الله وجه د ملخ بدن او لاس و پښو ته د پام په ترڅ/ضمن کې د هغو د پیدایښت د هېښتیا په اړه داسې فرمايي:«که خوښه دې وي د ملخ د هېښتیاوو په اړه وغږېږه، چې الله(ج) دوې سرې سترګې او د ځلېدونکې سپوږمی غوندې دوه کسي پیدا کړل، پټ غوږونه، له بدن سره یې مناسبه خوله ورکړه. ملخ غښتلي حواس او دوه مخکني غاښونه لري، چې بوټي پرې راشوکوي، دوه لور ډوله پښې لري، چې شیان پرې رانیسي. د کروندګرو زړه ترې چوي او د شړلو وس یې نه لري؛ که څه هم چې ټول سره یو لاس شي. ملخان سرې سترګې کښتونو ته ورځي او چې څه ته یې زړه وي، خوري یې؛ خو چې ورته ګورې ټول بدن یې د یوې نرۍ غچې ګوتې هومره نه دی.»

## د مېږي پيدايښت

علي کرم الله وجهه د مېږيانو د پيدايښت هېښتياوو په اړه وايي:

«دمېږي هغه واړه وجود ته وګورئ، چې د هغو خلقت د انسان په سترګو او فکر سره نه درک کېږي. ورته وګورئ، پر ځمکه څه وړ ځي او د خپلې روزۍ موندلو لپاره هلې ځلې کوي. هغه دانې خپل کور ته راوړي او بېل ځای کې يې ساتي. په تاوده موسم کې د ژمي لپاره زيار ګالي. چې ننوځي راوتل نه هېروي. د مېږي روزي تضمين شوې او د خپلې طبعې خواړه يې پيدا شوي دي... که د خوراك په مجرا او د هاضمې سيسټم لاندې-باندې غږي او څه يې چې په ګېډه کې دي له غضروفه نيولې تر ګېډې او په سر کې يې سترګې او غوږونو کې فکر وکړې، د مېږي په پيدايښت کې به هېښ-پېښ شې او د هغو په پېژندنه کې په ډېر وکړ ېږې. نو هغه ذات ډېر لوی دی، چې مېږی يې پر پښو او لاسونو ودراوه، د بدن سکښت يې کلك کړ، د هغو په پيدايښت کې، هېڅ بل ځواك مرسته ورسره ونه کړه او يوه مخلوق هم مرسته ورسره ونه کړه.»

## د طاووس هېښووونکي رنګونه

طاووس ډېر ښکلی مرغه دی، هر ليدونکي يې چې ووينې لومړی هېښووونکې رنګوَنې ته ورپام شي. علي(رض) د طاووس د پيدايښت عظمت داسې بيان کړی دی:

«په خلقت کې تر ټولو هېښووونکی مرغه، طاوس دی، چې الله (ج) په ډېره ثابته موزونه بڼه پيدا کړ وزرونه او بڼکې يې په خورا ښکلو رنګونو ورسينګار کړې؛ ښکلي وزرونه، چې بڼکې يې پر يوه او بله پرتې دي، لکی يې داسې راوتلې، چې ته وا طاووسې ته ورځي، همداسې يې غوړولي دي... که د طاووس بڼکو رنګونه د ځمکې له ورشو او بوټو سره تشبِه کړې، وبه وايې: د ګلونو ګېډۍ ده، چې د راز-راز پسرلنيو ګلونو له غُنچو څخه جوړه شوې ده، که يې د جامو له ټوکر سره ورته وګڼې؛ نو پر ستنو جوړو شويو يمني پردو غوندې رنګارنګ دي او که يې ګاڼو سره ورته وبولې، هغو راز-راز غميو ته ورته ديو چې د نقرې په ډنډو کې په ملغرو سره ښکلې شوې دي.»

## د طاووس بڼکو توييدل او راشنه کېدل

علي کرم الله وجه د طاوس بڼکو د توييدو او راشنه کېدو په اړه فرمايلي دي:

«د طاووس بڼکې، د هغو غنچو غوندې خورې ورې دي، چې د پسرلي باران او د لمر تودوخه يې په لوييدو کې دومره ونډه نه لري، تر ټولو هېښووونکې خو يې لا دا ده،چې هر کله په ټاکلې موده، کې کُوريز/بڼک تويونه کوي او بدن لغړوي. بڼکې يوه په بلې پسې تويېږي او نوې راټوکېږي. د طاووس بڼکې د مني پاڼو غوندې تويېږي او بېرته وده کوي او سره نښلي، چې بېرته خپله مخکنی بڼه او ښکلي رنګونه ومومي، بې له دې چې د نويو او تويو شويو تر منځ توپير راشي، يا ځای پر ځای رنګ رازرغون شي. که د طاووس بڼکو ته په ځير وګورئ، يوه شېبه به د ګل سوروالی، بله شېبه به د زبرجدو(يو ډول غمي يا قيمتي ډبرې دي) شينوالی، کله به د سوچه سروزرو سوروالی درته ښکې وبرېښي. رښتيا! چې ژور فکري هوښونه او زيارکښ عقلونه، څرنګه په پديدو کې دا ټول موجود حقايق درک کولای شي او څرنګه ستايوال دا ټولې ښکلاوې په نظم کې بيانولای شي؟»

## د طاووس د غاړې ښکلاوې

د طاووس په هر غړي کې ډېرې هېښتیاوې شته. علي(رض) په خپلو خبرو کې د طاووس د غاړې په اړه فرمايي:«د طاووس پر غاړه د د هواري پر ځای يې شين بخون ګېڼلی کاکول راټوکېدلی دی، دا بوکوالی يې د ښکلې او ګېڼلې کوزې غوندې دی. له مرئ تر ګېډې پر ښکلو رنګونو سينګار شوی يا د يوه ځلېدونکي ورېښمين ټوکر يا رنې هنداري غوندې دی،چې پر مخ يې پرده راپرته وي، جوړه شوې ده.د غاړې چاپېر يې داسې دی، ته وا تور پړونی دې پرې خور کړی دی، چې رنګ رنګ يې سمسور او ډېر دی، ته وا له شنه پاخه رنګ سره،چې د غوړ د چاک تر څنګ يې بېله جلا لري. داسې لړ رنګ موندلای شو،چې د طاووس په بدن کې دې نه وي، يا په رڼوالي، ښوی والي او پر جامه سينګار او ځلا ترې زياته نه وي.»

## د ځمکې ښکلاوې

علي(رض) د ځمکې د ښکلاوو په اړه فرمايي:«ځمکې پر ښکلو باغونو، ټول يې خوشحالی او ښېرازئ ته وروبلل دي او د ګلپاڼو نازکې جامې يې اغوستې دي، هر ليدونکی يې هېښ کړ او په خپلې وياړمنې ښکلا او ګاڼو وسينګاره، د هر ليدونکي زړه يې يووړ... الله (ج) د ځمکې په ګوټونو او چاپېره، هغوی ته چې زړه يې وي د هغو تر پراخو واټونو تېر شي ژورې درې، لارې او نښې پيدا کړې.»

## د مچانو په اړه نوي حقیقتونه

### په قرآن کریم او نبوي سنتو کې د مچ په اړه نوي حقایق




کلونه مخکې یوه ملحد ویلي دي،چې اې مسلمانانو، دا څرنګه رښتیا ګڼئ، مچ چې ناروغۍ لېږدوي، په هغو کې روغتیا وي؟ دا یوه بې منطقه مسأله ده او عاقل انسان یې نه مني.

رښتیا خو دا ده،چې هغه مهال نه پوهېدو، چې څرنګه ځواب ورکړو؛ ځکه چې د ملحد فطرت او خوی بوی خو مادي دی، پر غیبي نړۍ ایمان نه لري؛ لاچې مادي لمس وړ دلیلونه غواړي. دوی پر هغو تجربو نه پوهېږیو چې مسلمانانو کړې دي. له دې مخې بله لاره نه لرو، چې د مچ په اړه هغه نوي حقایق راواخلو، چې لوېدیزیانو په خپلو څېړنو کې موندلي دي.

د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د حشرو د زهرضد موادو په اړه تجربې پیل شوې. په اسټرالیا کې مېرمنه ډاکټر«جوآن کلارك» هغه لوېدیزۍ وه، چې دې خبرې ته یې مخ وروااړاوه او د تجربو په پای کې پوه شوه، چې د مچ په بهرنۍ برخه کې داسې زهروژونکي/پادزهر شته، چې د ځینو ناروغیو درملنه کولای شي. له دې کبله یې اعلان وکړ، چې په مچ کې روغتیا ده.

هر چا په دې اړه نظر ورکړ؛ خو تجربې کول همداسې روان وو، تر دې چې ځینو پوهانو په دې اړه بحثونه وکړل او پوه شول، چې مچان چې ډېرې ناروغۍ لېږدوي؛ د ناروغیو درملنې لپاره تر ټولو ښه زهروژونکي مواد هم له ځان سره لېږدوي؛ د ناروغیو د لېږدوونکو غوندې نه دي.
د دې مسألې شتون یوه منطقي خبره ده؛ ځکه چې مچ پر خپل بدن ډېرې مضرې باکټریاوې

لېږدوي، چې خپل ژوند پرمخ بوتلای شي؛ له دې مخې په کار ده، چې د دې باکټریاوو ضد مواد هم ولېږدوي او دا توکي چې الله (ج) زیات کړي دي، د دې لپاره دي، چې له ده سره پر وېروسونو د اخته کېدو او ناروغېدو مخه ونیسي.

رااخیستې وینا:

څېړونکي وايي:مچان د ناروغیو ډېرې باکټریاوې، وېروسونه او مېکروبونه لېږدوي؛ خو جوخت ورسره د خپل جسم پر مخ د دې مېکروبونو ضد توکي هم وړي. له مچ څخه د زهروژونکو توکو د لېږې کولو ښه لاره، هغه په مایعاتو کې ورټېټول دي، دا نوې موندنه ده، چې څېړونکي یې هک پک کړي دي؛ دوی خو بېخي داسې هیله نه درلوده،چې ناروغي او درمل دواړه په یوه مخلوق او هغه هم په مچ کې ومومي. پوښتنه دا ده: آیا دا هماغه شی نه دي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم څو پېړۍ مخکې ښودلي وو؟

څېړونکو ناڅاپي وموندله، چې د دې توکو یا هماغو زهروژونکو د لېږې کولو ښه لاره په مایع کې د مچ ورټېټول دي؛ ځکه چې زهروژونکي د مچ پر بهرني مخ او وزرونو وي.

هو دا خبرې په دې وروستیو کلونو کې راپیدا شوې او چې لوېدیز پوهان یې په اړه غږېدل، هغه یې ډېر عجیب وبلل او خوله یې وازه ورته پاتې شوه؛ ځکه چې دوی ته نوي او نادر معلومات اېسېدل.

نن روسي ډاکټران زیار باسي، چې پر مچ نوې درملنه پراخه کړي؛ ځکه چې ورمعلومه شوه، چې په مچانو کې داسې ډېر زیات مواد دي، چې د ناروغیو په درملنه کې تر دودیزو او لرغونو درملنو په روغتیا او درملنه کې مرسته کوي. دوی وايي، چې د طب په نړۍ کې به دا نوې درملنه اوښتون/انقلاب راولي.

پر دې بنسټ موږ دوه علمي حقیقتونه لرو:

۱- د مچ په بهرنۍ برخه کې زهروژونکي مواد دي، چې مېکروبونه او وېروسونه وژني.

۲-د دې زهروژونکو موادو د لاسته راوړلو ښه لاره په مایعاتو کې د مچانو ورټېټول دي. حضرت محمد(ص) په یوه حدیث کې دا دوه حقیقتونه راغلي دي:

(إذا وقع الذباب فی شراب أحدکم فلیغمسه ثم لینزعه، فإن فی أحد جناحیه داء وفی الآخر شفاء)" ستاسې کوم یوه په څښاک کې چې مچ ولېده، په اوبو کې یې ډېټ کړئ، بیا هغه څښاک وڅښئ؛ ځکه چې د مچ په یوه وزر کې خوږ او په بل کې درملنه/روغتیا ده."

دا نبوي حدیث د دې لپاره دی، چې په خوړو کې چې مچ ولوېږي، هغه ونه غورځوو، همدومره بس ده،چې پهاوبو کې یې ډېټ کړو، چې د مېکروب ضد توکي یې پکې ووځي. خو ډېر ملحدان نه یوازې پر دې حدیث تعجب نه شول؛ لاچې پر هغه یې چې د رحمت له نبي(ص) څخه اورېدل شوی، ملنډې ووهلې. خو نن موږ وینو، چې څېړونکي بې له دې چې پوه شي، د حضرت محمد(ص) وینا بیا راوړي.

پروفیسر جان الوارز براوو، د توکیو پوهنتو استاد وايي: نور شیان هم شته چې انسان یې ومني په مچ کې روغتیا ده. پر همدې بنسټ به ژر ووین،چې د ناروغیو ډېر غوره درمل به مچانو څخه راوایستل شي.

همدارنګه د امریکا د متحدو ایالتونو څېړونکي هڅه کوي، چې له مچانو څخه په ګټې اخیستلو د روغتیا نوې لاره ومومي او ډېنګار کویو چې په مچ سره درملنه په نړدې راتلونکې کې ښه غوره او علمي خبره ده.




رااخیستې ویناٖ:

حشره پوهانو په خپلو نورو څېړنو کې د مچ د زړه او انسان د زړه ترمنځ پر ډېر ورته والي ټینګار کړی دی. دوی هڅه کوي، چې د بوډاګانو د زړه ناروغۍ درملنه له مچانو څخه په ګټې اخیستلو سره وکړي. دا یانې دا چې په مچ کې د زړه ناروغیو درملنه هم شته.

د څو میاشتو کې د آبرن پوهنتون څېړونکو د مچ په لاړو کې د پروټینو د شتون خبره کړې ده. دا پروټین ښایي چې د پوټکي زاړه ټپونه او پرهرونه چابک راجوړ کړي.

په دې وروستیو وختونو کې د ستنفورډ پوهنتون څېړونکو وویل: لومړی ځل یې وموندله، چې په مچ کې داسې ماده شته، چې د انسان د بدن دفاعي سیسټم پیاوړوي.

مېرمنکلارک وایي: "موږ په داسې شېبو کې د زهروژونکو په اړه خبرې کوو،چې تر دې مخکې یې هېڅ تمه نه درلوده."

خو دې څېړونکې او نورو یې د مچ په وزرونوکې د روغتیا په اړه د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) ۱۴۰۰کاله وړاندې خبرې هېرې کړې دي.

ددې پر ځای چې دا سړی د نبي کریم(صلی الله علیه وسلم) تعبیر ته حیران شي، د مچ په وزرونو کې د روغتیا شتون او د دې توکو د لېږې کولو، یانې په اوبوکې د مچ د ډوبولو په وسیله د زهروژونکو توکو لاسته راوړلو پر څرنګوالي حیرانېږي. دا خبرې څو کاله مخکې موندل شوې؛ خو دا حدیث د حضرت محمد(ص) د ریښتیاینې شاهد او د هغوی د ادعا ځواب دی،چې د محمد(ص) حدیثونه یې له اسطورو او افسانو ډک بلل؛ ځکه چې کومه خبره یې له خولې وتله، هغه د لوی الله(ج) له خوا حق خبرې وې.

پایله: اې زما ملحده ملګریه، ایا پر دې حقیقتونو چې وړاندې شول، د هغو څېړونکو پر حقیقتونو چې د دوی له څېړنو او تجربو مخ اوړلای نه شو، قانع شوې؟ آیا زړه دې د حق پیغام په موندلو سره خشوع وکړه؟ آیا د اسلام په اړه د ې خپل نظر واړاوه؟

## د مرغانو پیدایښت

دهغو مرغانو په هګۍ کې چې د هګۍ اچولو له لارې زیږي، درې مایع شته: سپین، ژیړ او نطفه. له نطفې څخه خو چوچوڼی کیږي، ژیړ یې (د چوچوڼي) خواړه دي، چې یوویشت ورځې خواړه ترې وخوري. د دې خوراکي مایع لړه برخه داسې جوړه شوې،چې په دې موده کې، چیچی یوه شیبه هم وږی نه پاتیږي او د هګۍ خاشه ژیړ هم نه پاتیږي. د هګۍ په پای کې، یو تش ځای ښکاري،چې هلته د چوچوڼي د سا لپاره هوا زیرمه شوې ده. په ریښتیا چې یو داسې قدرت شته،چې هغومره هوا یې په هګۍ کې اچولې، چې چیچی یې د خپل ژوند



پرمخ بیولو لپاره ګټه ترې واخلي؛ دا یوازې او یوازې د لوی حکیم الله(ج) قدرت دی.

بله خبره دا، چې د کورنیو چرګانو چوچوڼي چې له هګۍ راوځي، وزرونه او بڼکې یې راشوې وي؛ خو د نورو مرغانو؛ لکه: کوترې، بلبل او چوخکې او په ټوله کې د هغو مرغانو چیچي، چې په هوا کې الوځي،د سرې غوښې یوه ټوټه وي، چې بې وزره او بڼکې له هګۍ راوځي. پلار او مور یې بویه یوه موده بیل خواړه ورکړي او ویې پالي، چې وزر او بڼکې یې راوشي او د الوتلو شي. دا په خپله یو نظم او حساب راښیي او هغه دا، چې کورنۍ چرګانې الوتلو ته اړې نه دي؛ خو نور مرغان بویه سوکه-سوکه د الوت سبک ومومي. له دې مخې حکیم خدای(ج) هم د دوی د خوړو برابرول د دوی د مور او پلار پر اوږو وراچولي او هم یې په هماغه پیل کې دوی ته د الوت وس ورکړی نه دی، چې ځان وکړوي. نو دوی بویه یو څه وخت ودریږي، چې د الوتلو بشپړ ځواک او وسیلې ومومي.

# په ژويو کې د خلقت هېښتياوې

د پیشو پیشنګوري، چې وشي، سترګې یې پټې وي او یو څه موده په همدې حال ژوند کوي؛ خو د سپي کونګري د پیشو پر خلاف، چې کېږي، هماغه شېبه یې سترګې پرانیستې وي. دا د



یوې ځانګړې سنجونې او حساب کیسه راته کوي.د پیشو ګېډه پر وېښتانو ډکه ده، چې د تیونو سرونه یې پکې پټ دي. نو که د پیشنګوري سترګې هماغه وخت خلاصېدای، د پی‌رودولو په شېبه کې به دې وېښتانو سترګې ورژوبلولې. خو د سپي ګېډه، چې د غولانځې په برخه کې لغړه ده او د کونګري سترګو ته یې په رودلو کې زیانه ستونزه نه راولاړوي.

بله خبره دا، چې د کوښک لرونکو ژویو؛ لکه: غوا، مېږې او اسپو بدن، د غوږ له څوکو نیولې د کوښو تر سره او د لکۍ تر اخېره په وېښتانو او وړیو پټ دي؛ خو د مخې پښې یې تر تخرګونو پورې د پینځو ریالونو په کچه بې وېښتو او وړیو دي؛ خو په اوښ او زرافه کې دا دوه ځایونه هم وېښتان لري. د دې حساب راز او د چارې حکمت داسې ښودل شوی:

د دې ژویو بچیان، چې د مېندو په ګېډه کې وي، د مخ پښې یې مخې ته راایستلې او سر یې د دواړو په منځ کې ایښی وي او هغه دواړه بې وېښتو ځایونه، د دوی د دوو سترګو دواړو خواوو ته وي؛ که وېښتان پرې وای، سترګې به یې ورژوبلې او خوږولای. د همدې لپاره، الله (ج) هغه دواړه ځایونه ګنجي کړي دي. خو په اوښ او زرافه کې د دوی د غاړې اوږدوالي له امله یې سر تر مخکنیو پښو لږ مخکې وي او د مخکنیو پښو له تخرګونو سره موازي نه وي. څرنګه چې سترګو ته یې زیان نه اوړي، تخرګونو یې په وېښتو پټ دي. په دې توګه، ښه نه ده،چې موږ هم له خپله لوری په پاک زړه ووایو:«فَتَبارَکَ اللّه ُ اَحسَنُ الخالِقین»

# د اوښ د خلقت عجایب

## اوښ خلقت

قال تعالی : (أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الإِبِلِ كَيفَ خُلِقَت {١٧} وَإِلَى السَّمَاء كَيفَ رُفِعَت {١٨} وَإِلَى الجِبَالِ كَيفَ نُصِبَت {١٩} وَإِلَى الأَرضِ كَيفَ سُطِحَت {٢٠} فَذَكِّر إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ {٢١} لَّستَ عَلَيهِم بِمُصَيطِرٍ {٢٢}[ الغاشية ].

«آیا دوی اوښ ته نه ګوري، چې څرنګه پیدا شوی دی؟ او آسمان ته نه ګوري، چې څرنګه اوچت شوی دی؟ او غرونو ته نه ګوري، چې څرنګه مېخ شوي او نېغ ولاړ دي؟ او ځمکې ته نه ګوري، چې څرنګه پلنه او پراخه شوې ده؟ ته ورم/پند ورکړه او یاده یې کړه؛ ځکه چې ته یوازې ورم ورکوونکی او یادوونکی یې او بس، تر پر دوی برلاسی او واکمن نه یې.»

په ژوندي سرو کې د اوښ کورنۍ تر ټولو وړه ده. له دوه بوکامي او څلور بوکامي اوښانو پرته د دې ژوندي سرو څلور نور ډولونه شته. د اوښ خلقت یو عجیب شکل دی، چې له رازونو ډک دی.

د اوښ غوږونه: د اوښ غوږونه واړه او پر ګڼو او سرېښ وښتانو پټ دي، چې د شګو او رېګونو د ورننوتو مخه نیسي.

سوږمې/د پزې سوري: د سوږمې د ننه سوري پوټکی یې ډېره پلن دی، چې شګې او رېګونه ورننوتلای نه شي؛ خو د سا له هوا څخه نم او لنده‌بل رااخلي او زېښي.



### سترګغلي (زېرمې):

د سترګغلو بانه یې ګڼ او سره نښتي دي، چې سترګې ته له شااوخوا څخه د رېګونو او شګو د ننوتو مخه نیسي.

## د اوښ پښې:

د اوښ پښې په طبیعي ډول اوږدې دي، ښه زور لري، بدن یې لوړ ساتي، د ځمکې له دوړو او ناولتیاوو څخه خوندي وي.

## د اوښ خپرې/د پښو تلې

د اوښ د پښو تلې پلنې دي، داسې یوه پوټکي پوښلي دي، چې په ریګونو او شګو کې نه ننوځي او پښې له د تېرو او تودو شګو څخه هم ساتي.

**معده:**

د اوښ په کولمو کې د اوبو د زېرمې سلولونه دي. دا سلولونه د په کولمه کې د پرتو خوړو ډېره برخه اوبه زېرمېښي او بدن ته یې زېرمه کوي. (ځکه یې خوشایي ډېر وچ دي.)

## د اوښ اوږده غاړه:

په قرآن کریم کې الله(ج) اوښ ته زیات ارزښت ورکړی دی؛ ځکه چې دا ژوی پر عربانو ډېر ګران و. اوښ چې اوږده غاړه لري، د بېدیا او دښتې وچ او اغزن بوټي او ورشوګانې خوړلای شي او همدارنګه لوړې ونې وخوړلای شي. همدا لوړه غاړه یې له ځمکې څخه په ولاړېدو کې مرسته ورسره کوي. په حقیقت کې دا په خپله یو راز دی، چې الله(ج) په دوی کې پیدا کړی دی.

د چو کېدو پر مهال یې زنګونه، څنګلې او ټټر د تکیې ځایونه ده، چې له کلک ډبل مړه پوټکي څخه جوړ دی. دا پوټکی تودوخه خنثی کوي، بدن یې له ټپي کېدو ژغوري، که څه هم تې لرونکی دی. د تودوخې په لوړېدو سره یې د بدن مقاومت ډېر بدلېدای شي. د بدن تودوخه یې له ۳۴تر ۴۱درجو پورې بدلېدای شي.

تودوخه چې لوړه شي، د ده د بدن تودوخه هم لوړېږي، له همدې کبله، تر ټاکلې تودوخې پورې د ځان سړولو لپاره خوَلو کولو ته اړتیا نه لري او د اوبو په لګولو کې سپما کولای شي. د ننه خوله یې کلک او ټینګ پوټکی لري، چې د بېدیا او دښتې وچ او اغزن بوټي پرې خوړلای شي او نه ټپي کېږي. په بوکامونو کې یې انرژي زېرمه کېږي. سره له دې چې د پوټکي وازده یې له تودوخې سره مقابله کولای شي، ملا یې نرۍ ده، د نیمې ورځې د لمر هغه سوزنده تودوخه یې یوازې د بدن پر یوه وړه برخه ښه په زور کې لګېدای شي. د لګېدو په شېبو تر غرمې مخکې یا وروسته، چې لمر شېوه/ریب لګېږي، که مجبور وي په لمر کې وي، مخ یا شا لمر ته کړي او پر ځمکه خور شي.

دا هم په خپل وار د سوزنده لمر د لګېدو مخ نیولای شي. په دې توګه اوښ هغه ګرمي زغملای شي، چې نور ژوي وژني.

کولمې یې لګېدلې زیاتې اوبه بېرته اخلي (ځکه یې ادرار ټینګ/غلیظ وي). وړین پوټکی یې نرم او نری دی. هم د ګرمۍ مخه نیسي او هم بدن سړوي. بلې خوا ته د اوښ وړۍ په ډېرو هېوادونو کې په ښه بیه خرڅېږي، چې کلکې کېږدۍ او یا فرشونه ترې جوړوي،چې تودوخه راټیټه کړي.

چې میتیازې کوي، لکۍ شوروي، چې پر ښېنو یې وروشیندل شي. په دې ډول لندولو سره ځان سړوي. ګېډه یې ډېره لویه ده، تر ۲۰۰ لېټرو اوبه ځښلای شي. پر دې سربېره د اوښ ښېنې په طبیعي ډول اوږدې او غښتلې دي.

په هغو کې د اوبو د زېرمې سرچینې او سوري هم شته، چې د اوبو ځښلو پر مهال یې ډکوي. د وینو لارې یې د بدن په ژورو برخو کې نه دي؛ لاچې د غاړې، ښېنو او اړخونو تر پوټکي لاندې دي. له همدې کبله د بدن ډېره تودوخه د بدن سطحې ته لېږدوي. سره رګونه یې ان په هغو شېبو کې چې اوبه بېخي وروچې شي او په اټکلي وضعیت کې چې د خپل واقعي حَجم دوه سوزه زرمه برخه هم ورپاتې وي، بیا هم د بدن بېلابېلو برخو ته اکسیجن رسولای شي. اوښ په واقعیت کې د دښتې او بېدیا لپاره جوړ شوی، یانې د ګرمۍ، اوبو کمښت، ریګ او شګو لپاره. ځینې وایي، د خدای د شتون لپاره دلیل نه وینې. قرآن کریم دوی د طبیعي پدیدو مطالعې ته وربولي. د مطالعې لپاره د نورو ژویو له منځه د اوښ غوره کول، په دې مانا دي، چې په ده کې بېل شیان شته. زموږ د ننني پوهې پر بنسټ هم چې د اوښ د بیولوژیکي سکښت په اړه یې لرو، په واقعیت کې همداسې ده او وینو چې د اوښ د پیدایښت په جوړښت کې ماغزه، فکر او حساب او کتاب پراته دي، چې پر رازونو یې د هغه خالق پوهېږي.

خو ېخوا وګړو فکر کاوه، چې اوښ ډېر زغم ولري، دا نه چې په هغو کې یې بېلې خبرې لیدلې.

په۱۹۸۴ او ۱۹۸۵کې چې د افریقا په لویه وچه کې وچکالي راغله، هلته د اوښانو د غذایي خوندیتوب ارزښت جوت شو، د هغو سیمو ډېر پر وړیو پټ ځاروي مړه شول؛ خو اوښان روغ پاتې شول او هم هغه وګړي له دې قحطۍ او وچکالیه روغ ووتل، چې د روزۍ وسیله یې اوښان وو. د نړیوالې روغتیا ادارې د ځانګوالو د خپرو شویو څېړنو له مخې، په اوښانو کې پرتو ګټو ته پام، چې په عربي خاوره د څومیلیونه وګړو او په اروپا، امریکا او افریقا کې د لسګونو میلیونو وګړو زړه دی، چې اوښان واخلي، په دې توګه به د اوښانو د تولید او صادرولو ډېر رنګین بازار جوړ شي. د نړۍ په ډېرو سیمو کې اوښ د لېږد-رالېږد وسیله ده او خوراکي توکي پرې صادر او واردېږي، د ماشین پر ځای کار ترې اخیستل کېږي. همدا لامل شوه، چې د افریقا وګړو د اوښانو په تثبیت پیل وکړ، چې د داسې پېښو پر وړاندې ودرېږي.

## د بېدیا بېړۍ

اوښ ساتنه د عربي ټاپووزمې په وچو او ګرمو شګو کې او د ختیځې اوشمالي افریقا په بېدیاو کې د عربانو له اوږده تاریخي ژوند سره اړه لري. دوی د تاریخ په بهیر کې د اوښانو غوښې خوړلې دي، له وړیو او پوټکي یې ګټه اخیستې ده او په جګړو او لارو کې یې اوښان بېولي او راوستي دي. پوښتنه دا ده، چې اوښان ولې د نورو اهلي ژویو په پرتله او د اوښانو اوږدې غاړې ته په کتو، چې د ونو ځانګې او بوټي وخوري، د اوښ ګټورو ځانګړتیاوو ته دا ژوی د نړۍ په ټولو برخو کې، د هغو له ډلې په اروپا کې، لږ پام ورته شوی دی؟پر دې سربېره د هغو سیمو وګړي وایي، چې په خلیج په څنډه عربي هېوادونو کې د نفتو کشف، چې د دې سیمو وګړي یې شتمن کړي دي، د اوښ د روزنې انګېزه په دې سیمو کې (د اوښ روزنې د یوې اسلي سیمې په توګه) کمزورې کړې ده.

دوی وايي دې سيمو ته چې ګاډي او د لېږد-رالېږد نورې ماشينې وسيلې چې راغلې، اوښ هم د لېږد-رالېږد د وسيلې په توګه خپل ځای وبايلود. له دې ټولو ځانګړنو سره، په منځني ختيځ کې زيات شمېر وګړي د يوه دود په توګه اوښان ساتي، هڅه کوي،چې همداسې يې وساتي. د اوښ ځغلونې لوبه چې د بلاليو او اميرزيو عربو تر ټولو راښکونکې بوختيا ده، هر کال تر مخکې لا زياته خوندوره وي او په څو عربي هېوادونو کې کېږي. نړيوالې ټولنې چې د ماشومانو له خوا پر اوښ ځغلونه نيوکه وکړه؛ د اوښ ځغلونې لوبې جوړوونکو د سورو پر ځای له روباټه کار واخيست.

## د اوښ شيدې

ښايي تر ټولو تازه څواکمنوونکو خوړو په توګه بازار ته راووځي او د سالمو خوړو د پلورونکو مغازې ترې ډکې شي.

نړيوالې ټولنې وغوښتل، چې د اوښې شېدې دې پر لوېديځ وپلورل شي. دا شيدې له B او C ويټامينو څخه ډکې دي او د غوا تر شيدو ۱۰واره زياته اوسپنه لري. د اوښ شيدې چې تر معمولي شيدو لږې تروې غونډې دي، په عربي خاوره کې ښې په درز کې لګول کېږي او د ايګدګ/پنېر جوړولو لپاره ډېرې مناسبې دي. په برېټانيا کې د خوراکي توکو تر ټولو مهمو وېشونکو د دې محصول خرڅلاو ته لېوالتيا ښودلې ده.

پر معدني توکو او ويټامينو سربېره، څېړنو ښودلې ده، چې د اوښ په شيدو کې د بدن ساتو توکو/پادتنونو شتون، ښايي د چنګاښ/سرطان، ايډز، الزايمېر او د ث هېپټايټ/تورژېړي غونډې ناروغيو په درملنه کې ګټور پرېوځي. ورسره جوخت د ډيابېټ/شکر او زړه ناروغيو د اغېز په راټيټولو کې يې پر نقش هم څېړنې روانې دي. د نړيوال خوراک سازمان ويلي دي: د ملګروملتونو د خوراک مټ، په عربي هېوادونو کې د اوښ د شيدو څښلو په فرهنګ کې ليدل کېږي.

توليدوونکو يې غوښتي دي، چې لوېديځ ته د دې محصول پلور پيل کړي. دا سازمان هيله من دی، چې مرستندويې ډلې او پانګوال د دې بازار په پراختيا کې مرسته وکړي. د دې سازمان يو مسؤل وايي: "دا محصول ډېره ستره وړتيا لري. شيدې پيسې دي."

په دې محصول پورې تړلې يوه ستونزه، چې تر اوسه هواره شوې نه ده، له ډېرې لوړې تودوخې سره يې نه جوړجاړی دی او د هغو د لګولو د وخت زياتولو لپاره ډېر فعاليتونه وشي. ځينو روغتياپوهانو وويل: "د اوښ شيدې د خوړو د رژيم لپاره ښايي ګټوره زياتونه وي؛ ځکه چې کلسيم او B ويټامين لري، د غواوو تر معمولي شيدو لږ سپورې دي."

"په دې توګه دا شيدې د غوا تر شيدو ګرانې دي، داسې خوند لري، چې ښايي ډېرو وګړو ته خوند ورنه کړي.(أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الإِبِلِ كَيفَ خُلِقَت) «آيا دوی اوښ ته نه ګوري، چې څرنګه پيدا شوی دی؟!

د اوښ پيدايښت يو ډول معجزه وه، چې ستر خدای (ج) د خپل سترتوب له مخې پيدا کړی دی، چې له حقه مخ اړوونکي له خپلې ګمراهۍ څخه راوګرځي. د شکل له مخې هم يو عجيب شی دی، چې اوښ ليدونکی ورته تعجب شي.



ببر د پیشو ډوله ژوندي سرو له ډلې څخه دی، چې ټول اوږدوالی یې ۳،۳متره او وزن یې تر ۳۰۰کیلوګرامو زیات د دې ځانګې تر ټولو ستر ډول ګڼل کېږي.

دا ژوندي سری ډېرې غښتلې عضلې او زوروړې پښې لري. بدن یې لک او نارنجي ځلېدونکي وېښتان لري، عمودي تورې لیکې یې دي. د نارینه ببرونو وجود تر ښځو غټ دی او همدارنګه د نارینه ببر د باړخوګانو/غومبورو وېښتان تر ښځې لوړ دي. ببرونه ښکاریان او خپلواک ژوندي سري دي. ډېر ماهر دي، ان په یوه چټک ځغاست سره خواړه ښکار کولای شي. هغه ژوندي سري، چې ببرونه یې خوري: وحشي ېږې/سرکوزي، هوسی، مېښ کټی(۱)، اهلي غوایه او ځینې نور تې لرونکي دي. دا ببرونه ډېر ښه لامبوزن هم دي. کله-کله دا ژوندي سري د شپې ۲۰کیلومټره لاره وهي او په یوه ټوپ سره ۱۰متره الوځي؛ خو تنه یې چې غټه ده،نو نوي په سلو کې ښکارونه یې ناکام وي.

## بنګالی ببر

بنګالي ببر نوع د ببرونو تر ګردو زیات شمېر او سایبیریایي تر ټولو ستره نوع ده. د دې ژوندي سري په ۹ نوعو کې ۳ یې، په هغو کې مازندرانی ببر ورک دي او ۶نورې نوعې یې هم د ورک کېدو له ګواښ سره مخ دي. د دې ژویو تاریخي خاوره د رودان او قفقاز له منځه د اسیا تر ډېرو ختیځو او سوېلي برخو پورې وه؛ خو دا خاوره یې اوس په زښته ډېره راکمه شوې ده.

نران او ښځې یوازې یوځای کېدو پر مهال څو ورځې له یوه او بل سره وي. ښځې ببرۍ له ۱۰۳ تر ۱۰۵ورځو امېدوارۍ وروسته دوه یا درې بچیان زیږوي. دا بچیان تر څو کلونو له مور سره اوسېږي.

---

[1] - اېرانیان بوفالو ورته وایي، وړې پر وېښتو ډکې مېښې دي.

په ټوله کې د نارينه ببرونو وزن له ۲۰۰ تر ۳۲۰کيلوګرامه دی او ښځې يې له ۱۲۰تر ۱۸۰ کيلوګرامه وي. په نرانو کې منځنی ونه ۲،۶ تر ۳،۳ مترو پورې او د ښځو له ۲،۳ تر ۲،۷۵مترو وي.

ببرونه که زاړه وي او خواړه موندل ورته سخت وي يا که په هغه ځای کې چې خپل بچيان لويوي، خواړه لږ وي، پر انسانانو وردانګي. د ببرونو ډېره خوښېږي، چې له شا څخه بريد وکړي؛ ځکه چې ځينې هندي کليوال، چې د ببرونو د اوسېدو سيمې ته نږدې ژوند کوي، د مخ ماسکونه له شانه تړي.

**د ببر نوعې**

سايبيريايي ببر

د مازندران ببر

بنګالی ببر

چينايی ببر

سوماټرايی ببر

زوړ ببر

## پړانګ



پړانګ د پيشو ډوله ژوندي سرو د کورنۍ غړی دی. د پيشوډولو په منځ کې تر ټولو کوچنی ژوی دی، چې زمری، ببر او جګوار يې درې نور غړي دي. د دې پړانګانو استوګنځی پخوا

له سوېلي افریقا نېولې بیا تر کوریا پورې په ټوله افریقا او آسیا کې خواره وو؛ خو چې استوګنځي یې ونړېدل او ښکار شلو، د دې ژویو خاوره هم بېخي راکمه شوه او نن د پړانګانو تر ټولو ستر ګڼوالی د سوېلي افریقا بېدیا ده. آی یو سي اِن/IUCN دا ژوی د هغو د ټولي او د ژوندانه د محدودوالي له مخې په هغو نوعو کې راوستلی دی، چې د ورک کېدو له ګواښ سره مخ دي. خو له دې ټولو سره-سره د پړانګانو ټولی د خپلو خپلوانو نوعو، یانې زمري، ببر او جګواره ډېر دي او تر نورو یې د خوندیتوب وضعیت غوره دی.

پړانګ د نورو پیشوډولو په پرتله لنډې پښې، وتلی بدن او ستره کوپړۍ لري. له جګوار سره ډېر ورته دي، دومره توپیر یې دی، چې تر هغو کوچنی او ډنګر دی. پوټکی یې په ګل ډوله خاپونو پوښلی و، چې د جګوار خالونو ته ورته دي.

د ژویو په نړۍ کې د دې نوعې لویه بریا، تر یوه بریده د فرصت موندونکي ښکار وړتیاوې، له بېلابېلو استوګنځیو سره یې جوړجاړی کول، په ساعت کې ۵۸کیلومتره چټکه ځغستا، په خوله کې ستر ښکار په لېږد سره پر ونه ختو کې بې ساري ځواک لري او همدارنګه یې په غلي تګ کې ډېر مهارت لري. پړانګ کابور تر هر ښکاري ژوي، چې پر ښکار ګوزاره کوي او مطلوب استوګنځي یې له باراني ځنګلونو نیولې تر بیاباني سیمو پورې توپیر لري.

### د پړانګ نوعې

افریقایي پړانګ، د سوېلي افریقا بېدیا

د آمور پړانګ، لېرې منځنی ختیځ روسیه، د کوریا ټاپووزمه او شمال ختیځ چین

عربي پړانګ، د عربستان ټاپووزمه

هندي پړانګ، د هند ټاپووزمه

هندوچینایي پړانګ، د آسیا سوېل ختیځ

د جاوا پړانګ، جاوا، اندونیزیا

د شمالي چین پړانګ، د چین شمال

ایراني پړانګ، منځنی آسیا، قفقاز او ایران

سریلانکایي پړانګ، سریلانکا

## پیشپړانگ

**پیشپړانگ (عربي نوم یې فهد دی) پشپړانگ یا یوز** (په انگرېزي ورته چیتا/**Cheetah** وایي)

د دې ژوندي سري علمي نوم دی، شمزۍ لرونکی تي لرونکی دی، غوښه خور دی، د پیشوډولو د کورنۍ غړی دی.



د دې پیشوډولي بدن د څوم میلیونو کلونو په بهیر کې دا نوع بشپړه شوې ده، چې دا ژوی په ساعت کې ۱۱۰کیلومټره چټکتیا سره وځغستلای شي. د چیتا چټکتیا د منډې له پیله درې‌نیمې ثانیې وروسته په ساعت کې ۱۰۰و کیلومترو ته رسېږي، چې د لوبو تر ډېرو ګاډو هم زیات چټک دی. نریو غړیو، اوږدو ډنګرو پښو، لږ پراخ خو ژور ټټر، وړې ظریفې او ګردې کوپړۍ چیتا د ځمکې پر مخ په تر ټولو چټک ژوندي‌سري بدل کړی دی. چیتاوې له نورو پیشو ډولو څخه په آسانۍ توپیرېدای شي. دا خبره یوازې د ده پر بدن د خالونو له کبله نه، لاچې نرۍ او راښکلی بدن، کوچنی سر، پاس رابندې سترګې، واړه غوږونه او تر یوه بریده پلن، دی پیشو ډولو څخه رابېلوي.

معمول خواړه او ښکار یې هوسۍ (په تېره ټامسون هوسۍ)، ایمپالا، آنتیلوپان او نورو کوښې لرونکي ژوي دي. زیات وزن یې تر ۴۰کیلوګرامو پورې دی. یو بالغ نر په څو ورځوکې په یوازې سر یو ځل ښکار کوي. خو بچي‌لرونکې چېتا نږدې هره ورځ ښکار کوي. خو نور پیشوډوله چې د شپنې ښکاریان دي، چیتاوې بیا تر ډېره د ورځې فعاله وي او تر ډېره د سهار په سباوون او لمرلوېده کې خپلو سمڅو ته ځي. په ښکار کې یې چل او تکتیک پټېدل او ښکار ته ورنږدې کېدل دی، هغه مهال چې د خپل ښکار ۳۰متری ته ورسېږي، په ډېرې چټکتیا سره د هغو خوا ته وردانګي. د ښکار شانیونه په منځني ډول شل تر دېرشو ثانیو وي. په مدومره موده کې ۱۶۰متره واټن وهي.(لوړه کچه یې ۵۰۰متره ده). ورپسې بیا نو په ښکار پسې نه ورځي. په ښکار کې یې د بریا ضریب پنځوس په سلو کې اټکل شوی دی. د ورځنیو خوړو کچه یې په منځني ډول پهورځ کې دوه کیلوګرامه ده، چې ډېر نه دي. د سر او بدن اوږدوالی یې د ۱۱۲تر ۱۳۵سانتي مترو دی، لکۍ یې له۶۶تر ۸۴سانتي مترو اوږدېږي، وزن یې له ۳۹تر ۶۵ کیلوګرامو اټکل شو ید. (د نرانو تنې یې تر ښځو ۱۵په سلو کې غټې وي). په طبیعت کې یې ټول عمر ۷کاله ښودل شوی؛ خو داسې ښکاري چې ډېر عمر به یې ۱۲کاله وي. په بندخونو کې یې عمر تر ۱۶کلونو هم ښودل شوی دی. ښځې په هرو دوو کلونو کې یوه پلا بچې زیږوي او نران په ۳کلنۍ بالغېږي. په طبیعت کې چیتاوې په دوو حالتونو لېدل کېږي:

کورنۍ ډله او سرلَوي/لالهانده/سرګردان نران. سرلوي نران معمولاً وروڼه وي او تر ډېره دوه یا درې کسیزه ډله جوړوي؛ ښځې به نادره پېښه وي، چې یو نر دې یوازې واوسېږي. دا

ډله له یوه او بل سره وي، یو ځای په ښکار پسې وځي او معمولاً یې د ژوند محدوده د څو ښځمنو په وسیله راجوړه وي. تر زیږون مخکې یوه ښځه چیتا یو داسې مناسب ځای، چې معمولاً لوړ واښه پکې وي، غوره کوي، او له ۲۵۰تر ۳۰۰ګرامو پورې له یوه څخه تر شپږو بچې زیږوي. دا بچې تر زیږونه ۱۴تر ۱۶میاشتو د مور تر پالنې لاندې وي او ښځه چیتا یې د ښکار له وخته پرته یوه شېبه هم یوازې نه پرېږدي. په درې یا څلور میاشتنۍ کې بچی له تي څخه بېل او د ښکار خواړه ورکول کېږي. نران د میندو د بچیانو په پالنه کې هېڅ لاسوهنه نه کوي. بچیان یې تل له یوه او بل سره ساتېږي کوي او پر هغه ژوندي ښکار، چې مور یې ورته راوړي، د ښکار چلونه زده کوي، که څه هم دا بچې له ښکار سره همداسې مینوال پاتېږي، ځوان چیتاګان د تاندې ځوانۍ په شېبو کې،چې له موره جلا شي، شپږ میاشتې له شونو خطرونو څخه د خوندیتوب په پار، له یوه او بل سره پاتېږي؛ خو تر دې پړاوه وروسته خوینډې له ډلې بېلېږي، خو ورونه له یوه او بل سره یو ځای خپل ژوند پر مخ بیایي.

## جعفري مار



جعفري مار د زهرجنو افعي مارانو په ډله کې راځي، چې د افريقا، منځني ختيځ، هند او سريلانکا په وچو سيمو کې پيدا کيږي. د ګوابښ ټاکلې نښه لري، د بدن يوه برخه موښې او د «هيس ډوله» خبروونکي غږ په ډول غږ باسی. دوی په هغو ډله پورې اړه لري، چې په نړۍ کې د مارچيچنې د زياتو پيښو پړه يې پر غاړه ده. همدا اوس د دې مارانو ۸ډوله پيژندل شوي دي.

**ځانګړتياوې:**

دا ماران نسبتاً لنډ دي، غټان يې تر ۹۰سانتي مترو زيات ښېخي نه غځيږي. سر يې لنډ، پلن، ګلاب شکله او له غاړې رابېل دی.



پوزه يې لنډه او ګرده ده؛ خو سترګې يې بيا لږ غټې او راوتلې دی. سر يې په وړو، نامنظمو او نيمو-نيمو پوښلو رېګيو پټ دی، چې ښوی او يا پوښلې کېدای شي. بدن يې لږ لوړ، نری، استوانه يي شکله ده. د شا فلسونه يې تر ډېره زرورقي رېګی لري. له دې سره يې، رېګی په لاندېځنو اړخونو په يوه ۴۵درجې رابېلې زاويې سره او راوتلی مرکز، چې غاښن دی، لري. لکی يې هم لنډه ده.

## جغرافيايي سيمې:

دا ماران په پاکستان، هند، سريلانکا، د منځني ختيځ په ځينو برخو او په افريقا کې د استوا کرښې په شمال کې موندل کېدای شي.

## خواړه:

د اکیس ډوله مارانو د خوړو په اړه ډېر لږ معلومات شته. ویل کېږي، چې د خوړو عادت به یې ډېر سره بېل وي او دا شیان پکې راتلای شي، خو په دوی پورې اړوند نه شي؛ په دې شیانو کې ملخان، چینجي، حلزون، غوې، لړمان، زرپښي، څونګښې، لټکان، کربوړي، خزندې (په هغو کې نور ماران)، تې لرونکي او واړه مرغان او ... راتلای شي.

## د مثل تولید

د جعفري مار ډېر ډولونه د هغو مارانو غوندې دیو چې په افریقا کې موندل کېږي، هګۍ اچوي، خو هغه ماران چې په هند کې موندل کېږی، هغه بچي زیږوي.

## اسمان ځکالی/چرمي شاپرک



هماغسې چې درمعلومه ده، اسمانځکالي تي لرونکي دي، په واقعیت کې یوازني تي لرونکي چې وزرونه لري او الوتلای شي. د اسمانځکالي وزرونه له نورو الوتونکو سره توپیر لري او بل ډول جوړ شوي دي؛ خو د اسمانځکالو د وزرونو پوټکی د چرمي ټوکر غوندې دی، ارتجاعي(لومړي حالت ته بېرته راګرځېدنې) ځانګړتیا لري، چې وزرونه یې لاسونه او ګوتې خوځوي، د هډوکو په اوږدوالي، راوایستل شي. بلې خوا ته یې وروګورئ، وګورئ، چې د اسمانځکالي د بدن شاوخوا وزرونو څومره په ترتیب او مهارت سره پېچلي دی.

د نورو تي لرونکو غوندې، اسمانځکالي هم غابښونه او وېښتان لري، د خپل نسل د ژوند د ادامې لپاره چوچونې زیږوي. یوه آسمانځکالې چې ماشوم راوړلو ته تیاره وي، د کېښناستو لپاره ځای داسې منظموي، چې له سره په عمودي ډلو راځوړنده وي، د دې لپاره، چې د زیږون په شېبه کې خپل بچی په خپله لکی راونیسي.

ډېره موده د آسمانځکالي چوچوڼی يې مور پالي. مېنډې آسمانځکالي خپل چوچوڼي له ځان سره نېږدې ساتي، د خپلو چوچوڼو د تودو او خوندي ساتلو لپاره د هغوی چاپېرې خپل وزرونه پرې خوروي.

د شپې چې اسمانځکالی په خوړو پسې وځي، يو چوچوڼی د مور په وېښتانو پورې ونښلي او ورسره ځي. د آسمانځکالي چوچوڼي وزن چې درونډ شي، مور يې بيا په خوړو پسې يوازې ځي او بيا خپل چوچوڼي ته ځالې ته خواړه راوړي. دا کار تر هغه کېږي،چې د ځوان اسمانځکالي پر زوکړه څلور اونۍ تېرې شي، په خپله ښکار وکړای شي او له خپلې مور سره په خوړو موندلو پسې له کوره ووځي.

ښايي اسمانځکالي په ساړه موسم کې پسرلی او ژمی کډه شي، په غارونو کې ځانونو ته سرپناوې او پر ژمني خوب ويده شي. په ژمني کې د اسمانځکالو وزن زياتېږي او پر بدن يې د وازدې يوه پرده خورېږي. که اسمانځکالی د پسرلي تر راتګ او تودوخې مخکې له ژمني خوبه راويښ شي، ښايي له لوږې ومري؛ پوهېږئ، چې ولې؟

ځکه چې د اسمانځکالو د بدن مېتابولېزم داسې دی، چې ويښ وي، د خوړو زېرمه يې ډېره چټکه لګول کېږي او خلاصېږي.

۷۵٪ اسمانځکالي بې شمزيو حشرې خوري. ځينې يې ماشې او نورې حشرې چې اسمانځکالي يې هره ورځ خوري، وبه يې نه منئ. يو اسمانځکالی هر شپه د ۱۰۰۰ تر ۳۰۰۰ حشرې خوړلای شي!
په تودو سيمو کې، يوازې لږ اسمانځکالي کوچنۍ ځونګښې، کبان يا الوتونکي خوړلای شي. نور اسمانځکالی د ګلانو ګبين/شات څښي، د ګلانو ګرده او شيره خوري او يا هم مېوې خوري. د امريکا په مرکزي او سوېلي تودو او ملايمو سيمو کې، يو ډول وينخواره اسمانځکالي شته، چې د تي لرونکو او مرغانو وينې يې خواړه دي. خو هېره مو نه شي، چې د اسمانځکالو يوازې يو ډول داسې دي.

اسمانځکالي په عملي ډول بې ازاره او لږ ليدوني ژوي دي. تر دې چې پوهانو د اسمانځکالو چلن د «لويو وزرلرونکو موږکانو» سره ورته ګڼلی دی.

اصولاً مرغان تر الوتو وروسته يو ځای کېښېني، خو اسمانځکالي يو ځای راځوړندېږي. مرغان د وېدېدو په شېبه خپل وزرونه راټولوي؛ خو اسمانځکالي يې بيا تر ځان ورتاووي.

## د بيضې[۱] سرطان

د بيضې سرطان چې يوازې په نرانو کې دی، د پروسټاټ سرطان غوندې نادر دی. دا سرطان د نورو ټولو سرطانونو غوندې، دلته هم د بيضې د سلولونو غيرطبيعي وده راپيدا کوي، چې په بيضه کې د خطرناك پړسوب لامل کېږي. د بيضې پړسوبونه (تومورونه) دومره دي، چې خورېږي نه او يوازې د نارينه و ۱تر ۲ سلنه خطرناك پړسوبونه جوړوي. څرنګه چې دا

[۱] – خوټه، مايه

پړسوبونه ډېر نه خپرېږي؛ خو ددې لپاره چې زلمیان ډېر پرې اخته کېږي، نو مهم دي. داسې چې د بیضې پړسوب په ۲۵تر ۳۴کلنو نرانو کې تر ټولو زیات خپرېدونکی دی. د بیضې سرطان په ښي اړخ کې تر کیڼه اړخه لږ خپرېږي او په ۱ تر ۲ سلنو پېښو کې دوه اړخیز دی.

څرنگه چې د بیضې سرطان په یوه بهرني غړي کې رامنځته کېږي؛ نو د بیضې سترېدو ته مو چې پام شو، په مازې څېړنه یې پېژندلای شو. پر خپل وخت تشخیص او چټکې درملنې سره یې ښه کېدو ته هیله شته.




## د جذام ناروغي

د لرغونو ناروغیو په ډله کې تر ټولو یوه لرغونې او پېژندل شوې یې د جذام ناروغي ده.

جذام په دې څو زره کلونو کې په انسانانو کې وېره او ډار خور کړی دی، په چیني، مصري او هندي تمدنونو کې یوه پېژندل شوې ناروغي وه. یو شمېر وگړي، چې د زرگونو کلونو په بهیر کې د دغه ناروغۍ له کبله په جسمي کمزوریو او د هغو لاعلاجه ښو بدلېدلو څخه ځورېدلي دي، له شمېره وتلي دي. له پخوا زمانو راهیسې ټولنې هغه یو لاعلاجه او تباه کوونکې ناروغي گڼله. ټولنې به له دې مسألو سره سخت غبرگونونه ښودل، پر دې ناروغۍ ډېره اخته وگړي، په خپله د دې ناروغۍ په پرتله، له دې عکس العملونو وېرېدل.

## سېل، نرۍ رنځ یا توبرکولوز

نرۍ رنځ یا سِېل ساري ناروغي ده. دا ناروغي یوه ساري لنډمهالې یا اوږدمهالې ککړتیا ده، چې لومړی پر اوریو برید کوي، خو ښايي نورو غړو ته هم ورشي. د ماشومتوب نرۍرنځ، معمولاً د اوریو په منځنۍ برخه کې وي؛ خو ښايي نورو خواوو ته هم وغځېږي او پېښې وراوړېدې کړي. په لویانو کې بیا نرۍ رنځ معمولاً بېلوډي/پوښتورگې او اورۍ نیسي. یو وخت نرۍ رنځ راکنټرول شوی و؛ خو چې ایډز، بېوزلي او د الکولو ناوړه استعمال او نورو

درملو له کبله یې بېرته سر راپورته کړی دی. د  دې ناروغۍ باکټریاوې مېکوباکټریوم توبرکلوزېس یا د کُخ باکټریا نومېږي؛ څکه چې په ۱۸۸۲ز کې الماني پوه پروفیسور رابرټ کُخ کشف کړې.

دا باکټریا په هوا کې پیدا کېږي، سپور نه لري، بې حرکته او میله ډوله ده. ډېر ناروغي زیږوونکي ډولونه یې د اسیدوالي د مقاومت له مخې پېژندل کېږي؛ خو د تودو ساپروفیټو ډېر ډولونه یې بیا مثبت دي.

## د پوټکي ناسور (سرطان)

د پوټکي سرطان (د پوټکي د سلولونو غیرطبیعي وده) معمولاً د بوټکي په هغو برخو کې راپیدا کېږي، چې د لمر وړانګې پرې لګېږي؛ خو د بدن په نورو برخو کې یې هم د راپیداکېدو شونتیا شته.

د پوټکي سرطان، داسې ناروغي ده، چې پړسېدلي سرطاني سلولونه د پوټکي په بهرني پوړ راخیژي. پوټکی مو بدن د تودوخې، نور، ککړتیا او ټپیدو کې څخه ساتي. پوټکی همدارنګه اوبه، غوړ او Dویټامین په بدن کې زېرمه کوي. پوټکی ګن اصلي ټوونه او د سلولونو بېلابېل ډولونه لري. د پوټکي پاسنی پټ اپیدرم نومېږي، چې ۳ډوله سلولونه لري: د پوټکي پر مخ فلس ډوله پلن سلولونه، چې فلسي سلولونه نومېږي، ګرد سلولونه، چې پایه سلولونه نومېږي او ملاسېټ نومي سلولونه، چې ستاسو د پوټکي رنګ ټاکي.

## د موریانو ژوند او عجایب

د موریانو په عجیب، منظم او دوه درې سوه میلیوني هېواد کې، چې وګورې، له یوې او بلې سره یې اړیکې وګورې، پر دې حقیقت به دې سر خلاص شي، چې موریانې هم غږېږي او هم خپله بېله ژبه لري. که دې عجیب دوه درې سوه میلیوني هېواد کوم ګواښ وګواښي، سملاسي ټولې موریانې نظامي ګوماریانو یا افرادو په وسیله خبرېږي او له ګواښ سره جګړې ته توره راوباسي.

د موریانو ځاله چې نیمه په ځمکه کې او نیمه د ځمکې پر مخ ده، مخروط ډوله ده، له شپږو تر اتو مترو لوړه ده، له لېرې ځایه ښکارېږي. په دې هره ځاله کې یوه یوه ملکه وي، چې نږدې تر ۱۵کلونو ژوندۍ وي او هر کال یې اولادونه ډېرېږي؛ دا څکه چې ملېکه په هرو دوو ثانیو کې یوه هګۍ اچوي. د موریانو ودانۍ څو پوړه ده، چې د بشري ودانیو پر خلاف یې ور د عمارت پر سر وي. د موریانو د ودانۍ کورونه او پوړونه داسې جوړ شوي:

دویم پوړ: د کارګرو اوړنۍ خوبخونه.

دویم پوړ: اوړنۍ د خوړو خونه.

څلورم پوړ: غله کوټ.

پینځم پوړ: د سرتېرو خونه.

شپږم پوړ: د ملکې اوړنی استوګنځی

اووم پوړ: د سبو/ترکاریو کوټ

اتم پوړ: د پي لرونکو ژویو غوجل. (موریانې د ونو تورې ماشې (شت) بندیانې کړې، له ځان سره یې ځالې ته بوځي، هلته یې ساتي او د دې ماشو له شیرې او تولیدشوې عصارې څخه، ګټه اخلي.

نهم پوړ: د ماشومانو کوټه

لسم پوړ: لوبغالی

یولسم پوړ: روغتون او روغتیایي بنسټونه

دولسم پوړ: د کارګرو ژمنی خوبخونه او مړستون/هدیره

دیارلسم پوړ: د ملکې ژمنی استوګنځی

## د ساتونکو موریانو بدلېدل او ستړي مشي

ځالې ته د ننوتو وره ساتونکي پیره کوي، یوه شېبه بې پروایي نه کوي. دا واړه سرتېزي، چې مازې خطر احساس کړي، نور راخبروي. ساتونکي په ټاکلو دقیقو واټنونو کې بدلېږي-رابدلېږي، له دې ځایه راته زباتېږي، چې موریانې د وخت معلومولو پوهېږي. همدارنګه له نزاکت او ادبه هم بې برخې نه دي، یوه او بله چې ویني، سره نږدې شي او پرې یوې او بلې پوزه ورسولوي. ته وا غواړي یوه او بله وپېژني یا سلام او ستړي مشي وکړي. بیا خدای پاماني وکړي او خپله لاره وهي.

## موریانې څرنګه د خطر اعلان کوي

د دې لپاره، چې موریانې نور پر خطر خبر کړي، د خپلې لرګینې ځالې پر دېواله سر وهي؛ نو د ونې په تشه ساتنخونه کې انګازې خپرې شي او نورې موریانې ورخبرېږي. دارکوبان مرغۍ چې غواړي، د موریانو خوندور خواړه وخوري، څو ځله مښوکه پر ورسته ونه وهي، د موریانو په ځاله کې لکه مخکې مو چې وویل هغسې انګازې خپرې شي او موریانې په دې ګومان چې خطر یې ګواښي، د ځالې له یوې خوا په تېښته پیل وکړي؛ خو دارکوب یې په خپله وړه او سرېښناکه ژبه لاره وربندوي او خپل نرم او غوړ دام نور هم ورته پراخوي.

## له وړیو سره خبرې اترې

موریانې د مېږیانو غونډې په ټولو چارو کې له یوې او بلې سره لاس وړي. دا همکاري د دوی ټولو ترمنځ مخامخ او دقیقې اړیکې راښیي. د بېلګې په ډول: د موریانو په ټولنه کې نېستمن نشته. یانې وږي له مړو سره اړیکه ټینګوي او خپله نیسي له هغو سره شریکوي. هغه

خمیره چې د خوړو تیاروونکي ماموران یې له لرګو څخه جوړوي، مخکې تر دې چې پوره سهل/هضم شي، له لسو بېلابېلو معدو تېرېږي پر ډېره صحیح قاعده وېشل کېږي. موریانې چې هر څومره ډېر وړي وي، «د ټولنې معدې» تر محتوای لږ خپلو نورو ته ورکوي او پر ځای یې مسافرینو ته تر ډېره هضم شوي خواړه په لاس ورځي. که یوه موریانه دېره وړې وي، له هغې موریانې سره چې تر دې بدتره وړې ده، مخ شي، بې ځنډه خپله یوه ندازه خواړه چې په معده کې یې دي، هغې ته ورکوي. په دې توګه د موریانو په ټول هېواد کې د خوړو شرایط یوشان دي. د مړو موریانو تر څنګ وږې موریانه نشته. د دوی په هېواد کې نېستمن او بډای نشته. دوی پر دې ډېر هوښیار او ساده ډول سره، د بشپړې ټولنې بنسټ اېښی دی. پر دې برسېره بده نه ده، چې پوه شو، د مېږیانو او غومبسو/زامبورانو د ټولنې جوړښتونه هم کټ مټ همداسې دي.

## د ژویو نړۍ عجایب

د خلقت او طبیعت عجایبو ته چې ګورې، سړی په فکر کې واچوي او د الهي پېژندنو ژورې ور ورته پرانیزي. ډېرو انسانانو ته د پېژندګلوۍ لومړی پړاو پر محسوسو طبیعي چارو پورې رااېسار دی. په طبیعي پدیدو کې ګرځېدل-راګرځېدل په انسان کې پوښتنې او ولې؟ څرنګه؟ او څله؟ راولاړوي، چې له عقل او آسماني پیغمبرانو له ښوونو څخه په ګټې اخیستلو، الهي پېژندګلوۍ او یقین ته ورسېږي. لیدل، اورېدل او هره پدیده، د استقرایي دلیلونو جزیات جوړوي، چې په هغو کې فطري عقل متعال خالق وپېژني، پر حکیم او علیم خدای ایمان یې له غوغا څخه پاک زړه کې قوي کړي.

قرآن کریم فرمایي: (وَ اللّهُ خَلَقَ کُلَّ دَابَّةٍ من ماء فَمنهُم مَن یَمشی عَلی بَطنه وَ منهُم مَن یَمشی عَلی رجلَین وَ منهُم مَن یَمشی عَلی أربَعٍ یَخلُقُ اللّهُ ما یَشاءُ إنّ اللّهَ عَلی کُلِّ شَیءٍ قَدیرٌ)؛

«او الله(ج) دی، چې هر خوځېدونکی په پیل کې له اوبو څخه پیداکړ. نو ځینې یې پر ګېډه پر لاره ځغلېږي، ځینې یې پر دوو پښو ځي او ځینې نور یې پر څلور پښو ګرځي. د الله(ج) چې څه ته خوښه شي، پیدا کوي یې، بېشکه الله(ج) پر هر څه لاسبری او واکمن دی.»

په دې مبارک آیت کې د خلقت د نظام پر یوه مهمه څېره او د توحید تر ټولو روښانه دلیلونو سره؛ یانې د ژوند او د هغو راز-راز مسألو ته اشاره کوي. سره له دې، چې د هغو ټولو اصل اوبه دي؛ خو بېل-بېل او عجیب خلقت یې دی.

یوه ډله یې پر ګېډه ځغلېږي، ځینې یې پر دوو پښو ګرځي او بل ډول یې هم پر څلورو پښو ګرځي او دا ټول بس همدومره نه دي؛ لاچې دا ژوند راز-راز فوق العاده څېرې لري. په پای کې هم فرمایي:«الله(ج) چې هر څه ته اراده وکړي، پیدا کوي یې؛ ځکه چې پر هر څه لاسبری او واکمن دی.»

د طبیعت پر هېښتیاو او عجایبو د لاسبري کېدو تر ټولو غوره انګېزه، د قرآن کریم مبارک آیتونه دي؛ خو نننی انسان یې یوازې پر څو ځنډو پوه شوی دی.

په دې لیکنه کې د ژویو نړۍ ظرافتونو په لنډې کتنې سره، د خلقت څلاوې انځوروو، ګوندې وي، چې د دې ټولو ښکلاوو او عجایبو خالق تل وستایو او بنده‌ګي یې وکړو.

تر ټولو لوی ژوی اوبرنګ وال، دا ځانګړتیا ځانته وربېله کړې ده. ددې ژوي اوږدوالی کابو ۳۰/۴۸ متره او وزن یې ۵۰ټنه دی. په خواشینی سره چې د ننني ښکاریانو ناوړه چلن د اوبرنګو والونو نسل له ګواښ سره مخ کړی دی.

تر ټولو لوړ ژوی زرافه ده، چې ونه یې ۱-۶مترو لوړه ده، (منځنی لوړوالی یې یو دوه پوړیز کور دی) چې دا امتیاز یې ګټلی دی.

تر ټولو اوږد عمر؛ ځینې ژوي ترانسانانو ډېر اوږد عُمر لري. غټې کیشپ/شمشتۍ تر دوو سوو کلونو زیات ژوند کوي.

## تر ټولو پڅ تي لرونکی:

د درې ګوتیز لټ سرکوزي، د حرکت او عمل چټکتیا په ساعت کې له ۹۱/۵متره ده.

## تر ټولو ګړندی مرغه:

سوېفټ/Swift په نړۍ کې تر ټولو چټک الوتونکی دی. یو ډول یې چې په آسیا کې اوسېږي، په ساعت کې تر ۱۶۱کیلومترو زیات چټک الوزي. دا چټکتیا له چټکو اورګاډو سره برابره ده.

## تر ټولو جګ غږ:

د غږ کچ کولو واحد «ډېسیبل» دی، د اوبو یو نهنګ د ۱۸۸ډیسېبل په توان سره د سمندر په تل کې غږ تولیدولای شي. دا غږ تر اوبو لاندې په ۸۵۰کیلومټرۍ کې اورېدل کېږي.

## د ځغاستې د ډګر اتل:

د ځناورو د منډې اتل پیشپړانګ/چیتا دی. دا ځناور په ساعت کې په ۹۹/۸ کیلومټره ځغستلای شي. دا چټکتیا له ده سره مرسته کوي، چې هوسا غرنۍ وزه ښکار کړي. هو، پیشپړانګ په همدې چټکتیا سره زیات واټن وهلای نه شي او ژر ستومانېږي.

## تر ټولو غټ مرغه:

شترمرغ الوتلای شي، د هغو یو علت یې ستره تنه ده. دا مرغه تر ۲/۴۴متره ونه او ۱۵۰کیلوګرامه وزن لري.

## تر ټولو کوچنی مرغه:

تنه یې د قند د یوې پټاسې هومره دی. دا وړه مرغۍ، د ګبین‌مچیو مچۍ خوره مرغۍ نومېږي؛ ځکه چې بدن یې د ګبینو د یوې مچۍ د بدن هومره دی.د مښوکې له څوکې د لکۍ تر پایه یې اوږدوالی ۳ تر ۶ سانتي متره دی. د دې مرغۍ د اوسېدو لومړنی چاپېریال کوبا دی.

## تر ټولو ډېر کډوال مرغه:

په مرغانو کې د شمالي قطب سمندر چلچلونه د کډوالۍ اوږده لاره وهي.د دې مرغانو د کډوالۍ لاره د شمالي او سوېلي قطب تر منځ ده. دوی په هر سفر کې د ۱۹۰۰۰کیلومتره په شااوخوا واټن الوزي.

## تر ټولو اوږد مار:

اناکوندا/Ncond یا (د اوبو بُوآ)چې د سوېلي امریکا په سیندونو او ناولیو اوبو کې اوسېږي، ۱۱متره اوږد دی. دا مار زهري نه دی؛ خو د ښکار تر بدنه راچاپېر شي، چې په زور سره یې دمه ورایساره کړي.

## تر ټولو ستر خرطوم:

د هاتي دماغ تر یوه انسانه هم لوړ دی او ۱/۹۸متره ته رسېږي. هاتي له خپل اوږده دماغ یا خرطومه ګټه اخلي. دی خپل خرطوم له اوبو ډکولای او ځان پرې لمبولای شي. د ځمکې له مخه خواړه رااخیستلای، د ونو لوړې څانګې راغوځولای او پر خوله منډلای شي، چې د دې ژوي تر ټولو ښکلي او هنري کارونه دي. هاتي له خپل خرطومه د فاع په شېبو کې هم ګټه اخلي او دښمن پرې محاصره کوي.

## د ژویو شمېر:

څومره چې له استوا څخه د قطب خوا ته مخ پر وړاندې ځو، د ځینو ژوندي‌سرو شمېر زیاتېږي. پېنګوین، ګېدړې، وال او ... په دې ډله کې راځي.

د غوا لید: غویی ړوند غوندې دی او یوازې د خپلو سترګو پر وړاندې شنلي حرکاتو سره غبرګون ښیي او خشمېږي. په دې خبره کې د شنل رنګ څه ونډه نه لري.

## د مور/موریانې وزن:

د نړۍ د ټولو موریانو وزن د ټولو انسانانو د وزن لس چنده ده.

## د موږک میتیازې:

د موږک میتیازې د لمر تر بنفشو وړانګو ځلېږي. همدا چاره د موږک له ښکاري سره مرسته کوي.

## د کانګورو حرکت:

دا ژوی که څه هم غښتلې پښې لري او ډېر چټک ځغلي؛ خو پر شا تللای نه شي.

## تر ټولو زهري ژوی:

د یو ډول سمندري ناوې زهر تر دوو دقیقو په کمه موده کې خپل قرباني له پښوغورځوي.

## په سلو زهري مارانو کې:

د نړۍ یوازې دېرش په سلو کې ماران زهري دي.

## د لړم دښمن:

لړمان یوازني ژوندي سري دي،چې راډیواکټیو وړانګې پرې اغېز نه کوي.جالبه یې لا دا، چې د لړمان د سر قاتلان بیا دوه دي: یو د سار مرغانو یو ډول او بل غومبسه/مچۍ.

## د موریانو ملېکه:

دا ژوندي سرى تر خپل نارینه انډیواله لسځله ستره تنه لري.

## د هاتۍ دامېدوارۍ موده:

دوه کاله وي.

## الوتونکى کب:

یو ډول کب د خپلو وزرونو په مرسته د اوبو سر ته راوځي او یوه نیمه دقیقه په هوا کې الوزي، چې پر خپل ښکار برید وکړي.

## د بویونې ورته حسونه:

د مېږي او سپي د بویونې حسونه بېخي سره ورته دي.

## روغوونکې لاړې:

د یو ډول وینخوري اسمانځکالي له لاړو څخه داسې درمل جوړ شوي، چې د مغزي سکتې مخه نیسي.

## د همځېلي غوښه:

خواړه چې نه وي، قوي تمساح هم خپله کمزورې همځېلې/همنوع خوري.

## د مار نېښ:

د مار سر چې غوڅ شي، له نېښه یې بېغمه کېدای نه شو؛ ځکه چې هغه د سر تر غوڅېدو وروسته نیم ساعت پورې ښکاري چیچلای شي.

## حیرانوونکى لید:

د جُغد(۱) لید قوت د انسان ۸۰چنده دی.

## لږ خوب:

ډولفینونه او هاتیا په شپه اورځ کې یوازې دوه ساعته ویدېږي.

---

[۱] – وحشي حرام‌غوښې مرغه، په غارونو او بېدیاوو کې اوسېږي، پلنه څېره، پرته مښوکه له سترګو سره بنکې لري، چې غوږ غوندې ښکارېږي.

## د حرکت حوصله:

د ستر کیشپ/شمشتی تر ټولو زیاته چټکتیا په دقیقه کې څلور نیم متره ده، چې سوی دا واټن تر نیمې ثانیې په کمه موده کې وهي.

## تر ټولو ځیرک ژوی:

چمپانزه (انسان ډوله لویه بیزو) اورانګوتان، ګوریل(انساډوله تر چمپانزې وړه بیزو)، بیزو، سپی، پیشو، راکون، یېږه/سرکوزی، هاتي او اس تر ګردو ژویو ځیرک او هوښیار دي.

## بېرنګه نړۍ:

سپیانو ته نړۍ بېرنګه او ماته ښکارېږي. دوی نږدې لیدي دي(سترګې یې یوازې نږدې ځای لیدلای شي، لېرې نه ویني) او یوازې ایرې رنګه سیوری بېلولای شي.

طبیعي هوا سړول: د هوا پاکوالی د هاتي د غوږ دنده ده. د هاتي د بدن تودوخه هم د غوږ په زور متعدلېږي. د دې ژوي د غوږ د سطحې لویوالی د بدن د تودوخې په راټیټولو کې بېله ونډه لري.

## د زړه لوړ ضربان:

د مچۍ خوري مرغه د زړه ضربان په دقیقه کې ۱۰۰۰ځله دی.

## خلاصې خولې:

د سپي او پیشو غوندې ژویو تېزې ساوې د دوی د بدن د تودوخې په لېرې کولو کې مرسته کوي. په توده هوا او د غپا په شېبه کې، چې د سپي خوله خلاصه وي، د بدن تودوخه او ګرمي یې کمېږي.

## زیات خواړه خوړل:

د ډېرو ژویو د بدن تودوخه د هغوی د خوړو له خوړلو سره نېغه اړیکه لري. داسې،چې که د انسان زړه وي، د دا وړ مرغانو هومره خواړه وخوري، باید په یوه ځانښت کې لږ ترلږه لس کیلو خواړه یو ځای وخوري.

## د سینجاقکونو هېښتیاوې:

سینجاقګونه،چې په هغو ځایونو کې چې هوا او اوبه یې ښې وي، ډېر پیداکېږي. ښکلي، ځمکني، هوایي، اوبي، سمندري، ژوي دي. سینجاقکونه د اوږي له څو ورځو پرته چې له خپلې انډیوالې سره وي، نور ټول عمر یوازې اوسېږي.

سینجاقکه، چې امېدواره شي، دخپلې لکۍ د پای په واږه انبور سره په اوبو کې د ولاړ پوزي/درګې ډډ سوری کوي او څو بېخي وړې هګۍ د هغو په منځ کې وراچوي. تر څو اونیو وروسته د سنجاقک بچیان له هګۍ څخه راوځي او د اوبو تل ته ورټیټېږي.هغوی بېخي د یوې ستنې د سوري هومره، ابرېډوله رنګ، ډېرې وړې پښې او لاسونه لري. په شا کې یې راوتلي برخه لیدل کېږي، چې د ننه پکې د سنجاقک وزرې جوړېږي، چې د اوبو دا کوچنی ژوندي‌سری یوه ورځ پر هوایي الوتونکي واړوي.

د سینجاقک نوی زیږېدلي چیچی، ځان د ګلونو او خټو په بېخ کې پټوي، چې د اوبو له ژویو خوندي پاتې شي. زیږېدلی سینجاقک د لامبو لپاره بېله وسیله لري،چې یو لامبوزن هم هغسې وسیله نه لري – انسان، جېټ چورلکه جوړه کړې؛ خو تر اوسه یې سمندري جېټ جوړ کړی نه دی – هغه د لامبو په شېبه کې د یوې تر اوبو لاندې جېټ غوندې ګرځي. د زیږېدلي سینجاقک په وجود کې وړه کڅوړه ده، چې لهاوبو ډکېږي؛ بیا یې هغه اوبه د دارې غوندې د خېټې له پایه وځي او دا کوچنی زوکړَی، په اوبو کې پر مخ ولي.

دسنجاقک زوکړی، ماهر ښکارځن او چټک قصاب دی، چې لومړی د اوب د تل چینجي ښکار کوي او بیا یې د لکۍ په واږه انبور سره ټوټه کړي او تېروي یې.

دا زوکړی چې لږ لوی شي، د بدن پوټکی یې نه غټېږي؛ ځکه د تنګوالي او بندیتوب احساس کوي، پر پوټکي زور وروکړي، زوړ پوټکی له سره او غاړې وشکېږي/وشلېږي او دا ژوی په یوه ډېر پاسته او تازه پوټکي ترې راووځي.

زوکړی سنجاقک، چې په اوبو کې اوسېږي، څو پوټکي اچوي. چې راغېټ شي، اوبه یې پر تن درنېږي. سوکه-سوکه ځان د یوې ګیاه ډډ ته رسوي او له هغه څخه راپورته کېږي، د اوبو له نړۍ راوځي او د هوا نړۍ ته راځي.

د لمر په تودوخه کې، د پانې یا ونې په سیوري کې پروت وي او بیا یا زوړ پوټکی اچوي او یا نوی پوټکی پرې راڅرګندېږي. په داسې حال کې چې دوه جوړه واړه او نرم وزرونه یې پر وجود راپیدا شوي دي، د لمر تودوخه یې وزرونه کلکوي. وزرونه په چټکۍ سره وده کوي، لوی او ځواکمنېږي او دا سمندري جېټ، د وچې الوتکه شي، الوت ته تیاره وي، چې وزرونه یې وغوړېږي، الوځي.

سینجاقکونه ګړندي ښکارزن دي،چې خپل خواړ په هوا کې ښکار کوي. د لید ځواک یې بې جوړې دی او په هوا کې الوتونکې حشرې ځارلی شي او خپلې چړې‌والې پښې د خوړو په بدن کې ورښخوي.

## د سږي رازونه:

د سږي د سر تر ټولو مهمه اناتومیکي ځانګړتیا د هغو په غوږو پورې اړه لري. د دې ژوي د غوږ تر لاله پوټکي لاندې د عروقو پراخه شبکه ده، چې د تودوخې په تنظیمولو کې ستره

ونړه اخلي. دا لاله ډېره نرمه او حساسه ده؛ چې له هغو ځخه باید د سوی نیولو یا راټینګولو لپاره کاروانه خلو.

سترګې یې د سر کچې په پرتله لویې او د لید شااو خوا ۱۹۰درجې زاویه لري. د سترګو د کسي د پراختیا ځواک یې زیات دی، چې له همدې کبله د دې ژوي د لید حساسیت د انسان ۸چنده دی. د سوی درېیم سترګغلی لید وړ وده کوي او د خوب په شېبو کې د سترګو له ننه برخې ځخه راخوځېږي او د قرینې مخه پټوي.

د سوی غابښونه تل وده کوي. مخني غابښونه یې د کال په اوږدو کې له لسو تر دولسو سانتي مرتو وده کوي؛ د غابښونو نارغي؛ له حده زیاته وده، بدشکله او تېروبېر غابښونه په سویو کې تلپاتې پېښې دي.

## د بې مصالحې پله جوړول:

د جګړه مارو مېږیانو د ډله ییز کار په اړه یوه علمي څېړنه ښیي،چې ځینې دغه مېږیان کندو ته د رسېدو پر مهال، د نورو مېږیانو د تېرېدلو لپاره، له ځانه پُل جوړوي. پوهانو ولیدل، چې مېږیان په ناهمواره سیمه کې ګرځېدل، له یوې برخې مېږیانو ځخه د کندو په پټولو او د نورو مېږیانو له تېرېدو سره د مرستې لپاره کاراخیستل کېږي، هو د دې چارې لپاره مېږیان غوره کېږي؛ ځکه چې باید د هر سوري او کندې د سرترسره پټولو لپاره ښه وجود ولري.

## تر ټولو ګران/محبوب مرغه:

د مینې مرغه(Budgerigr) د طوطیانو د کورنۍ یو کوچنی غړی بلل کېږي. دا ښکلې مرغۍ په اسټرالیا کې اوسېږي. په ۱۹ او ۲۰ پېړۍ کې د دې مرغانو زرګونه جوړې نورې لویو وچو ته ولاړې او ډېر ژر پر کورنیو ګرانې شوې. ښکلا، زړه وړونکی غږ، د غږ د پېښو وړتیا، ټولنیز طبیعت، اسانه ساتنه او لږ قیمت، د مینې مرغه پر تر ټولو ګرانو/محبوبو مرغانو بدل کړی دی. راز-راز شنه، ژېړ، نیلي رنګونه لري، چې سترګې خوند ترې اخلي. د مینې مرغه په ۳میاشتینۍ کې بالغېږي. په ډېرو بالغو نارینه مرغانو کې د مخ غټوالی د مښوکې هومره، روښانه نیلي، یا بنفش او په بالغو ښځینه‌و کې قهوه یي وي – په نابالغو کې دا رنګ جوت نه دی – چې د ناروغۍ یا بوډاتوب په شېبو کې ورو-ورو رنګ بایلي. د مینې مرغۍ په هر وار ۴تر ۶هګۍ اچوي. په ۱۴تر ۱۶ ورځو کې له هګیو ځخه چرګوړی راوزي او له زېږونه ۲۴ تر ۲۸ ورځې وروسته هم ځاله د چرګوړو خوندي کور دی. په دې موده کې چرګوړي په مور پورې ډېر تړلي وي. د مینې مرغه ډېر ژر اهلي کېږي او د کور له چاپېریال سره روږدی کېږي.

## پر دېواله یا پیشتول/چت د حشرو د تګ راز:

د پوهانو د نظریاتو له مخې، هغه حشرې چې پر پیشتول ګرځي، تر پلو لاندې سربښناک خاپونه پرېږدي. په نسکور ډول پر لاره تګ، سربښناک ځواک او داسې بېلې وسیلې، غواړي، چې د ځمکې له جاذبې سره مقابله وکړي. د حشرو د پښو د پای پلنه برخه معمولاً دومره ده، چې پر پیشتول باندې د سربښنېدو اړینه فضا برابره کړي.

د حشرود پښو په پای کې سربښناک پټ چې پر ډېرو نریو او مېږده/میده وېښتو پټ دی، پولیویلي(Pulilli) نومېږي.د دې وېښتانو څوکې د وړې چړې غوندې او تر نورې برخې پلن دی، چې له دې کبله د نسکور تګ لپاره اړین او غوره شرایط ورته برابرېږي.

تر دې مخکې پوهانو ویلي وو، چې د دې وېښتانو انحنا(منحني توب) پر پېشتول د حشرو د سرېښنېدو لامل ګرځي. په رښتیا سره دوی پر دې ګروهمن وو، چې همدا وېښتان غوړه او سرېښناکه قندي ماده ترشح کوي.

خو اوس د آلمان مکس پلانک (MPlnck) انسټېټیوټ یوې څېړنیزې ډلې، تر درې سوه پر زیاتو حشرو،چې پر پشتول ګرځي، څېړنې کړې دي. لاسته راغلې پایلې ښیي، چې دا ټولې حشرې از له ځانه د ښنو یو سرېښناک خاپ پرېږدي. ستنېسلاوګورب(Stnisl Gorb) د دې څېړنیزې ډلې مشر وایي:«موږ داسې ګومان کوو،چې دا حشرې له ځانه یوه ماده راتوږي؛ خو تر اوسه سل په سلو کې ډاډه نه یو.» ګورب د دې ډلې د څېړنو پایلې د ژوندپوهې د ازمېښتونو په نړیوال کلني کنفرانس کې کوي:

سمه ده، چې حشرې پر پېشتول د تګ لپاره سرېښناکې پښې غواړي؛ خو دا سرېښناک توب بویه دومره نه وي، چې حشره پکې ونښلي او ونه خوځېدای شي. د حشرو پښې داسې نوکان لري، چې له دېوال یا پېشتول څخه په رابېلېدو کې ورسره مرسته کوي.

حشرې پر پشتول له نښلېدو څخه د مخنیوي لپاره، راز-راز چلونه کوي؛ لکه: تاو-راتاوېدل، زوراچول او د پښو سره بېلول. پر غوړه مایع د وېښتانو د څوکو د منحني والي ترکیب، له حشرې سره مرسته کوي چې په نسکور حالت کې هم پر سم لوري پَل واخلي.

# د جاپاني زلميو او پېغلو عجيبه او غريبه تفريح + انځورونه



د خبريالانو ټولنه د ان ټي وي له خولې ليکي: په دې نوي ګام کې جاپاني زلمي او پېغلې پلاستيکي جراحانو ته ورغلي، چې په وچولو/تنديو کې يې سليکاني توکي ورپېچکاري کړي، چې د پړسېدلي وچولي خوند وڅکي.

د رپوټونو له مخې په جاپان کې د دې چارې مينوال زلمي او پېغلې ورځ په ورځ ډېرېږي او په دې برخه کې اندېښنې، چې دا توکي دوی ته خطرناکېدای شي، زياتوي.




د ويلو ده، چې دا توکي په وچولي کې تر ۲۴ساعتونو پاتېږي او تر هغې وروسته د سړي وچولی خپل لومړي حالت ته ګرځي.



# د نړۍ تر ټولو کوچنی سپی

د خبریالانو مرکز: د دې لپاره چې ژوي په خپله نوع کې تر ټولو لوی او یا تر ټولو واړه وګڼل شي، اړ دي چې تر یوې ټاکلې لویې کچې لوی او یا تر یوې وړې واړه وي. د بېلګې په ډول د سپیانو تر منځ جګ یې باید له ۲۰سانتي مترو کوچنی وي، چې تر ټولو کوچنیو په ډله کې راشي.




«ساني» د داسې سپي نوم دی، چې نن یې څښتن «آناپل» په دې لټه کې دی، چې د هغه نوم د ګینس ریکارډونو په کتاب کې راشي. د دې سپي وزن یوازې ۴۵ګرامه او لوړوالی یې ۶سانتي متره دی.

ساني یوازې د یوه ګرځنده ساده کوچني موبایل هومره دی. دا سپی له مېرمن پل سره په لهستان کې اوسېږي او د ژویو ډاکټرانو یې ویلي دي، چې تر دې به لوی نه شي.

آناپل وایي: «دا سپی چې وزیږېد، دومره ډېر کوچنی و، چې د ژوندي کېدو توان یې نه درلود؛ خو ژوندی پاتې شو او اوس هڅه کوم، چې نوم یې د ګینس ریکارډونو په کتاب کې وکاږم. دی وایي، به کور کې مو بویه ډېر پام وي؛ ځکه ښايي پرې کېنو یا یې په ناپامی کې تر پښو لاندې کړو.






ساني اوس د نړۍ تر ټولو کوچنی سپی دی؛ خو باید یو کلن شي، چې نوم یې د ګینس ریکارډونو په کتاب کې ولیکل شي. تر اوسه دا ریکارډ د «بوبو» په نامه د یوه سپي په لاس کې دی، چې ۱۱سانتي متره لوړوالی لري.

# د نړۍ تر ګردو ستر میلیونران

په ۲۰۱۱کال کې د نړۍ د ۱۲۱۰کسو میلیاردرانو نوملړ خپور شو، چې ډاډه یم، ټول هغه مشهور وګړي، چې تاسې یې پېژنئ، تر ټولو شتمن وګړي نه وو.

په دې منځ کې د پېژندل شویو وګړو؛ لکه: بېل ګېټس، وارن بافت، لېري الیسون، نوموړنه تر لسو غورو میلیاردرانو ټیټ وو.

همدارنګه د مارک زوکربرګ نوم ۵۲، داستین ماسکووېنز ۴۰۲ کس، د دې نوملړ تر ټولو زلمیان وو، د سل کلن سویسي والټرهافېنر نوم هم ۲۶۸ و، چې د دې نوملړ تر ګردو زوړ سړی و. خو په دې وګړو کې یو یې هم، تر ټولو شتمن نه و، د نړۍ تر ګردو شتمنو بېلیونرانو نوموړنه دلته درته اخلو:

## کارلوس اسلېم هرو، ۷٤ بیلیونه ډالره شتمني:

دا ۷۱کلن مکزیکی سړی، دوه کاله پرله پسې، د نړۍ تر ټولو شتمن کس ګڼل شوی دی. دی د تملکس شرکت مشر او په لاتینه امریکا کې د موبېل بېسیم امریکایی خاوند دی. په مکزیک بازار کې د ده ۲۰.۵ میلیارده ډالره ونډه، د ده د شتمنۍ د زیاتېدو لاره ده



## بېل ګېټس، ۵۶بېلیونه ډالره شتمني:




بېل ګېټس خو ټول پېژني، د مایکروسافټ شرکت خاوند دی او له خپلې مېرمنې ملېنډا سره یې ګډ ۳۰میلیارده ډالره ګټه د ګېټس خیریه بنسټ ترسره څار کړې. دی یوه روغه سوداګري لري.

## وارن بوفت، ۵۰ بیلیونه ډالره شتمني:

دی په خپل نامه یانې بوفت د یوه برند بنسټګر دی. بوفت په خپلو ونډو کې په ۱۵سلنه ودې سره، د برکشایرهاتاوي پېرژندل شوی شرکت شاته کړای شو او ۳میلیارده ډالره ګټه یې وکړه. دی د شمالي برېلنګټون اوسپنیزې لارې خاوند او د ببېل ګېټس



غوندې په بشري چارو کې مخکښ دی.

## برنارډ آرنولټ، ۴۱ بیلیونه شتمني:

۶۲کلن آرنولټ د لویي ویټن شرکت مدېر او د «ډمپرېګنون» برند او «Heuer» سرېښن خاوند دی، د اروپا تر ټولو شتمن کس په توګه یې خزانه، په نړۍ کې درېیم ځای لري. د لوکس



قلمونو لپاره یې طرحې ۱۳.۵میلیارده ګټه وروړسوله.

## لاري اليسون، ۳۹.۵ بیلیونه ډالره شتمني:

د امریکا په جام کې د کېښتۍځغلونې تر ټولوستره ورزشي جایزه لري. څرګنده خبره ده، چې الیسون، په سانفرانسېسکو کې د ۲۰۱۳کال د کېښتۍ ځغلونې یو ګټونکی به وي. خو د ده اصلي پانګه او شتمني د «اوراکل» پوستغالو شرکت دی، چې د ده دی او ونډې یې ۳۰په سلو کې زیاتې شوې دي. الیسون په تېرو ۵کلونو کې ۹۶۰میلیونه ډالره د خپل شرکت له ونډو څخه شتمني ترلاسه کړې ده؛ خو په دې وروستیو کې د سختو اقتصادي زیانونو له کبله دا کچه یوه ډالر ته راټیټه شوې ده. د ده د غوښتنې پر بنسټ، تر مړینې وروسته به یې ۹۵سلنه شتمني یوه خیریه بنسټ ته ډالۍ شي.



## لکشمي مېټال، ۳۱.۱ بیلیونه ډالره شتمني:



دی د نړۍ د پولادو تر ګردو ستر شرکت مشر دی. د پولادو سوداګري د مېټال کورنۍ ۶۱کلن میراثي کار دی او دا کسب د ده په کورنۍ کې په ۷۰یمه لسیزه کې پیل شوی دی. د پولاد بازار ښه کېدو له مېټال سره دومره مرسته وکړه، چې یوازې په ۲۰۱۰کال کې ۲.۷میلیارده ډالره خالصه ګټه وکړي. د ده شرکت د ۲۰۱۲کال المپیک پارک لپاره یوه ۱۱۵متري مجسمه جوړه کړې وه.

## آمانسیو اورتګا، ۳۱ بیلیونه ډالره شتمني:



دی د مډ شرکت مشر او د نړۍ په ۷۷هېوادونو کې د ۵زره پلونځیو، د زارا او ستراديواريوس سوداګریزو برندونو څښتن دی. هو ۸۷سلنه شتمني یې د اېنډېټېکس سوداګریز برنده په لاس ورغلې ده. مېرمنه او لور یې هم له ده سره د مډ د طراحۍ او ښځو اړونده برخه کې فعالیت کوي.

## دې مېره خو پېښې هم پر ګونډو کړې + انځورونه

وایي په نړۍ کې دوو غبرګونیو په بېلوبېلو نژادونو سره د پیدایښت شونتیا په میلیون کې دوه ده! یانې یانې دوه ځله پېښېدنه یې څلور په زرمیلیارده کې کېږي! خو دا مېرمنه او مېړه په دویم زیږون کې د دوو غبرګونو خاوندان شول، چې نژادونه یې سره بېل دي، چې په خپل کور کې دا پېښې پر ګونډو کړې.



# د سمندر خطرناک ژونديسري

څرنګه چې پوهېږئ، سمندر شکلی ځای دی او جوخت ورسره خطرناک ژوي هم پکې اوسېږي. په پای کې بويه څير وو، په سمندر کې چې خوند اخلو، په تېره د لامبو په شېبو کې مو دې خطرناکو ژويو ته پام وي:

## ۱-مارکب:

مارکبان تر ډېره د مرجاني ډبرو په سوريو او چولو کې پټېږي، د مارکب تېره غاښونه جدي زيانونه اړولای او د دې ژوي د خولې له لارې د بوينېدو او ژوبلېدو لامل شي.



## سمندري زمری:

سمندري زمری روزلای شو، همداسې دا ژوی پر انسان برید هم کولای شي، په کلیفورنیا او سانفرانسېسکو کې د سمندري زمري د برید څو پېښې خپرې شوې دي.



.

د سمندري زمري چلن د وړاندوينې وړ نه دی، ښايي ناڅاپه برید وکړي.

## ۳-د پلن برېښنايي کب يو ډول:



د دې کب لکۍ چې د يوه غشي غوندې ده، زښته ډېر خطرناک زهري توکي لري.

## ٤- د تروو اوبو تمساح:

په نړۍ کې يو تر ټولو وحشي ښکارزن دی. د دې ژوي بهېه/ونه تر شپږو مترو زياته او وزن يې شاوخوا ۱۵۰۰کيلوګرامه دی.

خواړه يې بيزوګانې، کانګورووان، مېښ کټې، ګنجي کبان او ان انسانا دي، لومړی خواړه په غاز نيسي، فلجوي يې بيا يې خوري.



## ۵-زمری کب:

دا وړ کب، چې د اکواريوم لپاره ډېر د خوښې وړ کبانو کې راځي؛ خو زهري اغزي لري. که څه هم انسان وژلای نه شي؛ خو سرخوږی، کانګې او د سا ستونزې رازيږولای شي او ښايي دا نښې تر څو اونيو وغځېږي.



## ٦-سمندري مار:

له مارانو څخه د انسانانو وېرې، دوی د خطرناکو سمندري ژویو په ډله کې درولي دي؛ خو په حقیقت کې دا سمندری ماران په سمندر کې په پټه ژوند کوي. هر څنګه چې وي، د دې مارانو زهر په رښتیا چې وېروونکي دي؛ څکه دوی په یوه نېښ سره ښکار بې حسه او په څو ثانیو کې له پښو غورځولای شي.



## ٧-پو کوونکی کب:

دا کب وژونکي زهر لري، چې تر سیانورو/سیانېدریک اسید/ تر ټولو وژونکي زهرو، ډېر قوي دي، چې تر مرګ وړاندې د انسان ډوبوي. عجیبه خبره یې بیا دا ده، چې په جاپان کې ځینې ماهر کب پخوونکي د کب غوښه له زهرو راجلا کوي او خوندور خواړه ترې پخوي.



## ۸-ډبر کب:

د خطرناکو کبانو په لیکه کې د دې کبانو راوستل دوه دلیله لري:

لومړی دا چې دا کب د نړۍ په زهري کبانو کې راځی او دویم دا، چې دا کب د ډبرې غونډې دی، هوسا/اسانه ځان تری تم کولای شي.

که څه هم چې دا کب بېخي لږ بریدون کوي؛ خو پښه بویه پرې کېښږدو، د دې کب زهر د لنډمهاله/موقت فلج لامل کېږي، که ژر یې درملنه ونه شي، سړی وژني.



## ۹- ببري ګنجی کب:

ببری ګنجی کب د ډېرو ژوندي سرو یو پېژندوی ښکارزن دی. دا ګنجی معمولاً کبان، فکونه، الوتونکي، واړه ګنجیان، مرکب کب، کیشپان/شمشتي او دلفینونه خوري.

ان د دوی د ځینو په ګېډو کې د انسان د لاس جوړو شویو شیانو؛ لکه: زاړه لېږد-رالېږد وسیلو ټوټې، او د دې وسیلو پلېټونه پیدا شوي دی. ښایي د لږ ژورو سمندرونو په پرښو، کانالونو او بندرونو کې له انسانانو سره مخ شي. ببري کنجی یو ستر ښکارزن دی، چې ۵ متره اوږدېدای شی. وزن یې کابو یو ټن دی.



## ۱۰-سمندري ناوې:

دا ببېخي خطرناك ژوی دی. څرنګه چې د استرالیا په سواحلو کې یې ۶۰کسه ووژل، په درېیو دقیقو کې انسان وژلای شی. پر دې سربېره په پرتګال کې یې یو بل ډول شته، چې نېښ یې د تالندې خوندې احساسېږی.



# عجیب او وېرووونکي انسانان (انځورونه)












# د درو پښو خاوند سړي ډېر جالب عکسونه، چې وبه يې نه منې

فرانچسکو لنتېني په ۱۸۸۹ کال کې وشو. چې وشو دوې پښې يې وې، درېيمه يې غځېده. ټولې يې درې پښې او شپاړس ګوتې دي. مور او پلار يې ونه مانه، تروري يې د معلولو



ماشومانو کور ته ولېږه. فرانچسکو د يوه ماشوم په توګه له خپله بدنه سخته کرکه کېده او ډېر به په کور کې و. د معلولو ماشومانو په کور کې چې اوسېده، پر لاره ګرځېدل، پر کنګل سکي کول او له مزي الوتل يې زده کړل. چې اته کلن شو، له ايټاليا يې امريکا ته بوت، په کسب او کار لګيا شو، څه موده وروسته د Ringling سپورټي ننداري ته ولاړ، ورپسې يې د ترزا موري په نامه له يوې نجلۍ سره واده وکړ، څلور بچيان يې ترې وشول. په پای کې د ۱۹۶۶ز کال په سپټمبرکې په ۷۷کلنۍ د فلوريډا په ښار کې ومړ.

## د ښځې ښوروا

يوه امريکايي پخليګر ومنله، چې مېرمنه يې د ايشېدلو/خوټېدلو اوبو په دېګ کې اچولې ده. ډېوېډفاينز امريکايي پخليګر تازه ومنله، چې په ۲۰۰۹کال کې د يوې کورنۍ شخړې په پای کې يې، چې د خپلې مېرمنې لاس، پښې او خوله وروتړل، هغه يې د ايشېدلو اوبو په يوه دېګ کې اچولې او پخه کړې ده.

۴۹کلن ډېوېډ وېنز په محکمه کې ومنله، چې د خپلې ۳۹کلنې مېرمنې «ډان» جسد يې د ۲۰۰۹کال په وروستيو کې په ايشېدلو اوبو کې دومره پرېښی دی، چې يوازې کوپړۍ يې پاتې شوې ده. د ويلو ده، چې په هماغه ۲۰۰۹کال کې، دې پخليګر پوليسو ته د خپلې مېرمنې د تښتول کېدو خبر ورکړی و.

پای

دوشنبه، ۱۳۹۵/۸/۱۷

کابل

# لړلیک

سرلیک مخ


په نړۍ کې عجیبه دوه سري ژوي ........ ۱
مرغان ........ ۲
د نړۍ په تاریخ کې لومړني هوايي مسافرین ........ ۳
د ژویو د پیدایښت عجایب ........ ٤
د مثل د تولید له رازه ډک کنټرول ........ ٤
تر زیږون وروسته نظم ........ ۷
هضم ........ ۷
د زړه او سږو د کارونو عجایب ........ ۱۰
مېږیان ........ ۱۱
خطرناک ژوي ........ ۱۳
د بدن د خبرداري نښې ........ ۱٦
عجایب ........ ۱۹
پېښې ........ ۲۰
د نړۍ نیکه ........ ۲۱
د اوښکو پر ځای وینې او کاڼي ........ ۲۱
د خوګ دوه بچیان ........ ۲۲
تر ټولو چټک مرغه ........ ۲۳
مچۍ ډوله مرغۍ ........ ۲۳
د الوتونکو بیزوګانو یو نوی ډول ........ ۲٤
د آرنولډا رافلېسیا (ArnoldiRafflesia) بوټی ........ ۲٤
ماندرین ........ ۲٥
ګلابي سیندګی ........ ۲٦
ځلوبښت څراغه(قندیل) سوسن ........ ۲٦
د نړۍ تر ټولو لوی د ولې بورا ........ ۲۷
دولفینونه څه په خوب وینې؟ ........ ۲۸

کړوپ شوی ځنګل ........ ۲۹
شمالي ساتونکې جزيزه ........ ۲۹
سور ځنګل ........ ۳۰
له ونو ډک ځنګل ........ ۳۰
د هويا باکيو (Hoia-Baciu) ځنګل ........ ۳۱
د وودا پخوانی ځنګل ........ ۳۱
شپه بلېدونکي مرخېړي ........ ۳۲
د Vibrio Harveyi باکټرياوې ........ ۳۲
مرکب کبان ........ ۳۳
سمندري مرجانونه ........ ۳۳
د شپې ځلېدونکي چينجي ........ ۳٤
وحشي پيشوګانې چېرته پيداکېږي؟ ........ ۳٤
وحشي يا صحرايي پيشوګانې: ........ ۳٤
په تې لرونکو کې د حنجرې ډېر چټکې عضلې په آسمان ځکالو کې دي ........ ۳۵
تورې کرګدنې ښځې له منځه ولاړې ........ ۳۵
دوه ميليونه او پينځه سوه زره کلن موجود ........ ۳٦
د نرم تنانو يا مولوسکا ډله ........ ۳۷
د نيګارا د ځړوبې پر سر په طناب باندې سړی تېرېږي ........ ٤٤
په نايجيريا کې د ادرار يا ميتيازو په وسيله برق توليدېږي ........ ٤۵
کوپر د نړۍ تر ټولو د لوړې ونې خاوند سپی ........ ٤۵
فضا ته د پيغام مخابره کول ........ ٤٦
په افريقا کې د غټ تنو او پرديو موجوداتو هديره ........ ٤٦
يوه عجيبه او غريبه فتوای ........ ٤۷
مشهور پيری نيوونکی ........ ٤۷
د ايران شيطان لمانځونکي ........ ۵۱
د نړۍ د عجيبو ژويو نوملړ ........ ۵٤
د امريکې پر شکلې ملکه باندې يې د پلار د تېرې په اړه ددې خبرې ........ ۵۷
د ۲۰۱۲کال د نومبر۱۸ په نړۍ کې پېښې او بوختياوې. ........ ۵۸
آجر بر مسلکي ګارګر ووينئ: ........ ۵۸

په پاریس کې د شکلات له جنسه د ۵ ټنه بیزو انځور ........ ۵۸
درنا او غر له لارې له لرغونو ودانیو څخه د مرغانو لېرې کول: ........ ۵۹
یېږې (خوګان) د غرمې د ډوډۍ پر سر باندې بیا سره اوښتي دي ........ ۶۰
په چین په هوايي ننداړتون کې آیروبیکې الوتکې ........ ۶۰
د ۱.۲ کیلومتره کېک په وسیله د ګېنس ریکارډ مات شو ........ ۶۰
یو آلمانی په آپارتمان کې یوه وري ته شیدې ورکوي ........ ۶۱
دا د ۳۵ قرغېزي ناویانو او زومانو د واده د مراسمو انځورونه دي ........ ۶۱
د مسکو په هیولای کې څپه ییزې سیالۍ ........ ۶۱
د اوبو پر سر او پر دېوالونو باندې تلونکی سړي انځورونه ........ ۶۲
ګوګل ........ ۶۲
د پرون بېوزله د نن بډایان ........ ۶۲
یاهو او تګلارې یې ........ ۶۳
اینټل یو ډېر پرمختللی غوږی جوړ کړ ........ ۶۳
د میکروسافټ آته (۸) وینډوز ........ ۶۳
د ایټالیا د سېنټ مارک برَج ........ ۶۴
د برېښنا تولید ........ ۶۵
احمقانه نظریه ........ ۶۵
د ژویو لس حیرانوونکې جنګي وسلې! ........ ۶۶
د ټایلنډ هکپکوونکي سمڅې او غارونه ........ ۷۲
د ترکیې پاموکل ........ ۷۲
دجنوبي قطب د اربس د غره کنګلي برجونه ........ ۷۲
د متحده ایالتونو د نوادا د فلاې اورغورځوونکی ........ ۷۳
د کاشاکاټووه ټېنټ کَمُرونه (ګټې) ........ ۷۳
ګرنډ کنیون (لویه ژوره دره)Grand Canyon ........ ۷۴
لویه مرجاني پرښه Great Barrier Reef ........ ۷۵
ریو دې ژانیرو ........ ۷۵
د ریو ښار د سیندغاړې ........ ۷۶
د مسیح مجسمه ........ ۷۶
د اېورېسټ غر ........ ۷۷

قطبي شَفَق .......... ۷۸
نوري سیارې .......... ۷۹
د وېکټوریا څړوبې .......... ۸۰
د سکندريې سمندري ډېوه .......... ۸۱
د چين دېوال .......... ۸۳
اياصوفيه يا حاجيا سوفيا .......... ۸۵
تاج محل .......... ۸۶
د تاج‌محل د ودانۍ او بڼ جوړونه .......... ۸۸
د مانش ۵۲کيلومتري کانال .......... ۸۹
سي اِن ځلی .......... ۸۹
د امپاير سټېټ ودانۍ .......... ۹۰
د ګُلډِن ګېټ پُل .......... ۹۱
د پانامې کانال .......... ۹۲
د دُووَر تنګی .......... ۹۴
چيچن ايتزا .......... ۹۵
ماچوپېچو .......... ۹۶
مايا .......... ۱۰۱
د مايانو تاريخ .......... ۱۰۲
مايايي هنر: .......... ۱۰۹
د مايانو رياضيات: .......... ۱۱۳
د مايانو ستورپوهه (نجوم) .......... ۱۱۴
په چېچېن اېتزا کې د کراکول رصدخانه .......... ۱۱۴
نننی مايان .......... ۱۱۶
اورشليم يا بيت المُقَدَّس .......... ۱۱۸
د پاڼې لکۍ وال کربوړی .......... ۱۲۳
شين ملخ .......... ۱۲۳
شنه قيفي ګياه: .......... ۱۲٤
سټېک/خلی/لرګی .......... ۱۲٤
پاڼې لرونکی سمندري ښامار: .......... ۱۲٤

د شیطان ګل شین ملخ: ........ ۱۲٤
د سمندر پاڼېز ښامار: ........ ۱۲٤
څونګښ کب ........ ۱۲۵
پاڼېزلړم کب ........ ۱۲۵
ختیز کیشپ/شمشتی ........ ۱۲۵
افریقایي حشره خور ګل Africana Hydnora ........ ۱۲٦
د تیتان ګیاه(titanum Amorphophallus) ........ ۱۲۷
وُلېمیا نوبېلېس ګیاه Wollemia Nobilis ........ ۱۲۸
وېلوېتسشا مېرابېلېس ګیاه Welwitschia mirabilis ........ ۱۲۹
ډراکا ګلېپټوډان ګیاه Drakaea Glyptodon ........ ۱۳۰
وُلفیا انګېستا ګیاه Wolffia Angusta ........ ۱۳۰
اورغورځوونکي ........ ۱۳۱
په اسیا لویه وچه کې فعال اورغورځوونکي غرونه ........ ۱۳۲
په اروپا لویه وچه کې اورغورځوونکي غرونه ........ ۱۳۲
د کاراییب سیند حوزې د سیمو اورغورځوونکي ........ ۱۳۲
د مکزیک تر کویر لاندې کرېسټالي سمڅه/غار ........ ۱۳۳
د (لبنان) جیتا غار ........ ۱۳۳
تر ټولو ښکلي ځمکې لاندې دالانونه ........ ۱۳٤
کنګلي (یخي) غارونه ........ ۱۳٤
واورین پړانګ ........ ۱۳٦
پېتر پړانګ ........ ۱۳٦
سره ګیدړه ........ ۱۳۷
د ماجېلان پېنګوین ........ ۱۳۷
همالیایي لېوه ........ ۱۳۸
د نارکوندام ښکرمښوکي ........ ۱۳۸
فلامېنګو ........ ۱۳۹
پانډا ........ ۱۳۹
قُطبي يږه/خوګ ........ ۱٤۰
آرووانا ........ ۱٤۰

مارخور ................................................................................................ ۱۴۱
د اپوربسټ دارې ................................................................................................ ۱۴۱
«پاموکاله» (Pamukkale) ................................................................................ ۱۴۲
د سویلي افریقا د بلایدرپور دره ........................................................................ ۱۴۳
د برازیل ایلا دا کوییمادا ................................................................................ ۱۴۴
د جاپان، میاکه جیما ........................................................................................ ۱۴۴
د مارشان ټاپوګانو، بیکینی آتول ........................................................................ ۱۴۵
هستوي وړانګې او کوسه ګان(کب ماران ................................................................ ۱۴۵
د سکاټلنډ ګرینارد ............................................................................................ ۱۴۶
د متحدو ایالتونو، فارالون ټاپوګان ........................................................................ ۱۴۶
رمري ټاپو .......................................................................................................... ۱۴۷
د خطر ټاپو ........................................................................................................ ۱۴۸
د مادغاسکر اورپالي ............................................................................................ ۱۴۸
د نړئ تر ټول لوړبیه ګلونه ................................................................................ ۱۵۰
فرانکشتاین ګلونهShenzhen Nongke ................................................................ ۱۵۰
د کینابالو سره زرKinabalu Gold of .................................................................. ۱۵۰
د ناوې ګل ګېډئ ................................................................................................ ۱۵۱
د پړانګ نقش واله سمندري ناوې ........................................................................ ۱۵۲
وزر لرونکی الوتونکی کب .................................................................................... ۱۵۲
پیرانا .................................................................................................................. ۱۵۳
تر ځمکې لاندې نړئ .......................................................................................... ۱۵۳
نادر کبان ............................................................................................................ ۱۵۴
تر ټولو کوچنی ځونګښه ...................................................................................... ۱۵۴
د نړئ تر ټولو ستر ۲۲۷کیلوګرامه مار .................................................................. ۱۵۵
لاس او پښې لرونکي ماران .................................................................................. ۱۵۵
ګاندو (Crocodylus palustris) یا پیت پزې (لنډپوزې) تمساح .............................. ۱۵۵
کړه تنه ګیا .......................................................................................................... ۱۵۶
د نړئ تر ګردو ښکلې درې .................................................................................. ۱۵۸
د مارانو استوګنځې .............................................................................................. ۱۶۱

د زهرو له مخې د مارانو ډولونه ........ ۱۶۱
د خلقت عجايب ........ ۱۶۲
د خلقت عجايب او د اسلامي نړۍ هېښتياوې ........ ۱۶۲
د هېښوونکو ژونديسرو د خلقت عجايب ........ ۱۶۳
په ګېنس کې د نړۍ تر ټولو جګ سپی ........ ۱٦٤
د اطلاعات موندلو لپاره د دې وزيرې ځان پلورنه ........ ۱۶۵
لس کلنه نجلۍ امېدواره شوه! ........ ۱۶۶
د رنګه مرخېړيو زړه وړونکې انځورونه، چې تر اوسه مو ليدلي نه دي ........ ۱۶۷
جګغاړې نجلۍ!! ........ ۱۶۷
د نړۍ تر ګردو جوړو شويو ډاروونکو کېکونو انځورونه ........ ۱۶۹
له زړو بوټونو او پايزار څخه د ګلدان لپاره د ګټې اخيستلو انځورونه ........ ۱۷۰
د امريکا تر ټولو خطرناک نااټومي بمب ........ ۱۷۲
د آسيا تر ټولو ښکلې سيندغاړې چېرته دي؟ ........ ۱۷٤
د بېديا په منځ کې ريښتينی جنت ........ ۱۷۵
نور نو پوښتنې مه کوئ، پخپله يې وګورئ! ........ ۱۷۷
د نړۍ د سياستوالوتر ټولو مشهورې غيراخلاقي اړيکې ........ ۱۷۸
ژوند ته هيله منتوب له دې نجلۍ زده کړئ!! ........ ۱۸۳
د يوې له منځه تلونکې قبيلې تر ټولو پېژندل شوې مېرمنه! ........ ۱۸۳
د يوه ماشوم نادره او عجيبه ناروغي چې تل خاندي!! ........ ۱۸٤
په لومړۍ کرښه کې د يوې سرتېرې زيږون ........ ۱۸۵
يوې امريکايۍ په ناخبرۍ کې له خپل پلار سره واده وکړ! ........ ۱۸۶
له آسمانه د جسد رالوېدل او د وګړو وېره! ........ ۱۸۷
تر انشټاينه ځيرکه نجلۍ! ........ ۱۸۸
قطري سوداګر د مايکل جَکسن له خور سره واده وکړ ........ ۱۸۹
ځکه شکايت او طلاق چې مېرمنه مې مخکې بدرنګه وه! ........ ۱۹۱
په اروپا کې لومړنۍ ښاروالله چې پړونی يې پر سروي ........ ۱۹۲
بې سترګو ماشوم ........ ۱۹۲
نارنجي ماشوم ........ ۱۹۳
دا ماشوم له ګرمۍ څخه مري ........ ۱۹۳

یو هلمک هر کال ۵واره مري .................................................................. ۱۹۳
په ۲۰۰۷کال کې د ټکنالوژۍ او علم پرمختګونه ........................................ ۱۹۴
له ۴۷پورېزې وړانی څخه رالوېدل ........................................................... ۱۹۶
په بدن کې له ۱۱اوسپنیزو سیخونو سره ژوند ............................................ ۱۹۷
۱۱۸ ورځې بې زړه ژوند ...................................................................... ۱۹۸
یو ړوند په یوه غاښ بینا شو ................................................................. ۱۹۸
د دوو بچیانو له غوره کولو څخه ژغورېدل .................................................. ۱۹۹
تر سر غوځولو وروسته ژوند .................................................................. ۱۹۹
د مخ کوشېرول .................................................................................. ۲۰۰
د یوې غښې په نېښ سره ژغورنه ............................................................ ۲۰۰
دې سړي ۷۰کاله نه اوبه څښلې او نه ډوډۍ خوړلې ..................................... ۲۰۱
د انسان د زړه هېښوونکی انځور .............................................................. ۲۰۲
د نړۍ تر واړو زوړ ژوندی ژوندي‌سری ...................................................... ۲۰۳
قهوه ............................................................................................. ۲۰۴
چای ............................................................................................. ۲۰۵
په قرآن‌کریم کې کېمیا ........................................................................ ۲۰۶
د سیندو د اوبو برخلیک: ....................................................................... ۲۰۶
ټکه/تندر: ........................................................................................ ۲۰۶
په قرآن کې کېمیاوي رنګونه: .................................................................. ۲۰۷
په قرآن کې د لنګر څرخ خبره: ................................................................ ۲۰۹
د غرونو د پیدایښت ترتیب ..................................................................... ۲۱۰
د انسان د بدن ۱۵هېښوونکي رازونه! ........................................................ ۲۱۲
د مغزي سکتې د خبرداري پینځه نښې ........................................................ ۲۱۵
ورته کول څه ته وایي؟ ......................................................................... ۲۱۶
آیا کېدای شي، چې یوه ورخ ورته انسان جوړ شي؟ ....................................... ۲۱۷
۷عجیب ژوي چې تر اوسه مو لیدلي نه دي .................................................. ۲۱۸
د یوه غله ژوندي‌سري کشف، چې نیم ګیاه او نیم ژوی دی .............................. ۲۲۳
دا کور ګروپ/څراغ ته اړتیا نه لري ......................................................... ۲۲۴
د داسې ګیا موندل،چې موږک خوري ......................................................... ۲۲۵

په امازون کې د يوې ناپېژاندې قبيلې موندل ........ ۲۲۶
مېږی ........ ۲۲۷
تر ټولو وژونکې ژوي هر کال په نړۍ کې له درېيو تر پينځو ميليونو وګړي وژني ........ ۲۳۱
د امريکا او نړۍ تر ټولو لومړنی هليکوپټره ........ ۲۳۶
په نړۍ کې تر ګردو د ښه خوب لرونکې نجلۍ، چې ۶۴ورځې ويده وه ........ ۲۳۸
د نړۍ تر ټولو ځيرک انسان ........ ۲۳۹
د واورې کرېسټال ........ ۲۳۹
لمر ........ ۲٤۱
په قرآن کريم کې د مېږيانو د خلقت اعجاز او عجايب ........ ۲٤۳
د خلقت عجايب ........ ۲٤٤
ورېځې او د باران اورښت ........ ۲٤٤
ځمکه، غر او سيند ........ ۲٤٥
د آسمان پيدايښت ........ ۲٤٥
د پرېښتو ځانګړتياوې ........ ۲٤٥
د لومړني انسان پيدايښت ........ ۲٤٦
هېښوونکې اختلافونه ........ ۲٤٦
د شپې مرغۍ، آسمانځکالی ........ ۲٤۷
د آسمانځکالي وزر ........ ۲٤۷
د ملخ بدن او لاس و پښې ........ ۲٤۷
د مېږي پيدايښت ........ ۲٤۸
د طاووس هېښوونکې رنګونه ........ ۲٤۸
د ځمکې ښکلاوې ........ ۲٤۹
د مچانو په اړه نوي حقيقتونه ........ ۲۵۰
د مرغانو پيدايښت ........ ۲۵۳
په ژويو کې د خلقت هېښتياوې ........ ۲۵٤
د اوبو د خلقت عجايب ........ ۲۵۵
ببر/ ببر شېر ........ ۲۵۹
بنګالی ببر ........ ۲۵۹
پړانګ ........ ۲٦۰

پېشپړانګ ........................................ ۲۶۲
جعفري مار ........................................ ۲۶٤
جغرافیایي سیمې: ........................................ ۲۶٤
خواړه: ........................................ ۲۶۵
د مثل تولید ........................................ ۲۶۵
اسمان ځکالی/چرمي شاپرک ........................................ ۲۶۵
د بیضې() سرطان ........................................ ۲۶۶
سېل، نری رنځ یا توبرکولوز ........................................ ۲۶۷
د پوټکي ناسور (سرطان) ........................................ ۲۶۸
د موریانو ژوند او عجایب ........................................ ۲۶۸
د ژویو نړۍ عجایب ........................................ ۲۷۰
تر ټولو زهري ژوی: ........................................ ۲۷۲
د سینجاقکونو هېښتیاوې: ........................................ ۲۷۵
د سوی رازونه: ........................................ ۲۷۵
د بې مصالحې پله جوړول: ........................................ ۲۷۶
تر ټولو ګران/محبوب مرغه: ........................................ ۲۷۶
پر دېواله یا پیشتول/چت د حشرو د تګ راز: ........................................ ۲۷۶
د جاپاني زلمیو او پېغلو عجیبه او غریبه تفرېح + انځورونه ........................................ ۲۷۸
د نړۍ تر ګردو کوچنی سپی ........................................ ۲۷۸
د نړۍ تر ګردو ستر میلیونران ........................................ ۲۸۰
دې مېږه خو پېښې هم پر ګونډو کړې + انځورونه ........................................ ۲۸۳
د سمندر خطرناک ژوندي سري ........................................ ۲۸٤
عجیب او وېرروونکي انسانان (انځورونه) ........................................ ۲۸۹
د درو پښو خاوند سړي ډېر جالب عکسونه، چې وبه یې نه منئ ........................................ ۲۸۹
د ښځې ښوروا ........................................ ۲۹۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

تا قدرمن ته!

# عجایب

د بیلابیلو موضوعاتو:

ساینس

تیکنالوژی

هنر

ژویو

مرغانو

حشراتو

بوټو

ناروغیو

پېښو

او ....



په اړه راز-راز نوي او په زړه پوري معلومات

ژباړه او راټولونه: عبدالحق سلامزوی

کال: ۱۳۹۵لمریز